مکمل او مدلل

د زکوٰة مسئلې

د قرآن او سنّت په رڼا کښې

مؤلف:

مولانا محمد رفعت قاسمی

مدرس دارالعلوم دیوبند

پښتو ژباړه:

عبدالملک (حصیف)

خپروونکی

مکتبهٔ رشیدیه

سرکی روډ کوئټه، فون ۲۶۶۲۲۶۳۱

مکمل اومدلل

دزکوة مسئلي

دقرآن اواحاديثو په رڼا کې

مؤلف

د ديوبند دارالعلوم مدرس مولانا **رفعت** (قاسمي)

پښتو ترجمه **عبدالملک** (حصيف)

خپرونکي

رشيديه کتابخانه سرکي روډ کوټه

د کتاب پېژندنه

دکتاب نــــوم	**دزکوة مسئلې**
مــؤلـف	مولانارفعت قاسمی
پښتوژبــــاړه	عبدالملک حصیف افغاني

دکمپوزاوترجمې چارې: دنورالقرآن اداري دکمپوزاوترجمې څانګه
تصحیح اوډیزائن: دهمدې اداري خادم ابوخالدمولوي عبدالاحدمجروح

کـــــمپوزر	مولوي ثمرګل حنفي وردګ
همــــــکار	عبدالغفورمظلوم یار
خپرونــــکي	رشیدیه کتابخانه سرکي روډ کوټه
دچاپ کــــال	۲۰۰۷ / دمارچ میاشت
دچاپ ځــــای	لاهور
دچاپ شمیر	۱۵۰۰
چاپونـــکي	محمد ساجد - دموبائل شمیره / ۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴

عنوان — مخ

عنوان (ل) مخ

د عشرواجبېدلو دلیل

عنوان (ن) مخ

عنوان

مخ

عنوان (ف) مخ

عنوان (ق) مخ

عنوان (و) مخ

عنوان (ش)
مخ

عنوان (ت) مخ

ضروري یادونه:

یواځې لوی خدای ﷻ هغه ذات دی چې ټول کارونه ئې په پوره معنی بشپړ او مکمل دي. خوانسان هغه ناقص او بې توانه موجود دی چې هیڅ یو کار ئې هم بې نمګړتیا نه وي.

ګرانو لوستونکو! که تاسو ته دلیکنې، تصحیح، چاپ، جلد سازۍ او دا رنګه په هره برخه کې کومه غلطي په نظر درغله دمهربانۍ او بشري تقاضا له مخې یې موږ ته زموږ په نمبر یاادرس خبر راکړی. ترڅو په دوهم چاپ کښې ئې اصلاح کړو. او تاسو ته لوی خدای ﷻ اجر او ثواب درکړي.

د مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه لخوا
فون: 266223 -081
موبائیل: 7825484 -0333

دژباړن سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم:

الحمدلله المنزه عن الصحابی والاولاد.خالق المائع والجماد احمدحمداً یفوق الاعداد واصلی علی رسوله المبعوث الی جمیع العبادوعلی ال ومن تبعهم الی یوم المیعاد .

شایدزه دیوبنده په حیث دخپل خدای جل جلاله ددغه رنګه نعمتونو دشکراداء کولوتوان ونه لرم،اودهغه داداء دپاره داسي الفاظ ونه لرم چي ورباندي هغه رنګه شکراداء کړم څنګه چي حق دی؛خوداچي دقدرت په اندازه عمل دانسان مکلفیت دی،نوزه دخدای جل جلاله ډیرشکراداء کوم اودهغه حمدوایم چي زما په شان بي اهلیته چاته ئي دداسي یو کتاب دژباړي توفیق راکړچي دډیري مُدي راپه دیخوا دپښتوژبودپاره یوه داسي اړتیاوه چي هریوه ئي شیبه په شیبه دوررسیدلولارڅارله.

نوموړی کتاب(چي دهندمیشتي مدرسي(دارالعلوم دیوبند) تکړه استادمولنامفتی قاري محمدرفعت قاسمي صاحب ئي دراټولولو ،ترتیب اوڅیړني زیاتر ایستلی اوصرف دخپلو مسلمانوورونو دلارښووني اوپوهاوي دپاره ني مخلصانه عرق ریزي کړي ده) دوخت ډیروهغو پوښتنوته چي له انسان سره دزکوة اوصدقو په اړوند پیداکیږي په خپله زرینه علمي څولۍ کي ځوابونه راوړي دي. ډیرداسي څه شته چي ددي کتاب دلوړارزښت اوپه عوامواوخواصو کي دمقبولیت شاهدي ورکوي چي په مثال راوړلو کي ئي په اردوژبه کي دڅلورو لویوچاپونکواداروړقابت یادولای شو . دقاسمي صاحب دي زیاړچي له هري مسئلي سره ئي دمشهوروعلماؤ رحمة الله علیهم دتصانیفو(فتاوی ؤ) حوالي راوړي دي دکتاب شتمني له بي باوري څخه ژغورلي ده

اودهرهغه چادپاره ئي چي له شک سره مخ کيږي لورمراجع په ګوته کړي دي. ددغه کتاب په اردوژبه چاپ شوي جلدونه له څان سره دوخت دمشـــــهورو څيرولکه ددارالعلـــــوم دمفتـــــي اعظـــــم فقيـــــه العصرمولانامحمودحسن (قدس الله سراه) ددارالعلوم دمشرمولانامفتي نظـام الـدين (غفـرالله لـه) اودمولانـامفتي ظفيرالـدين صـاحب زړه راښکونکي تقريظونـه هـم لـري چـي پکښـي دقاسـمي صـاحب پـه کارونوباورڅرګند شـوی او دهغـه دخدمتونو پـه لـوړکچ سـتاينه شـوي؛ خودلته ددوئ يادلړله دي خاطره په څوتوروکي وشـوچي دکتـاب دحجمي زيادت مخنوی وشي. بايدووايم چي که څه هم دزکوة اوصدقو مسئلي په نـورو کتـابونوکي هم پـه زيـات شـمير مونـدلای شـو ،خوله دي املـه چي دپښتني ټولني په وګړوکي دچادپاره داګرانه،اوچادپاره بي امکانه ده چي دبيلابيلوژبود کتابونولـه خـورو ،ورو مضـامينو څخـه خپـل هـدف ترلاسـه کړي ددغـه کتـاب دپښـتو ته ژباړلواقـدام وشـو ترڅـودوئ دزکـوة دهـري پوښتني ځواب دپاره دغه يوکتاب ولټوي چي دژباړلوبارئي د(نورالقرآن علمي اداري) له خوا څخه زماپه اوږوواچول شو؛لهذا امانه يوداچي په دغه ترجمه کي،بلکه په ټولوکي له خپل هراړخيځ توان څخه کار اخيستي او هره لحظه مي په دي اړوند فکرکړی،خوبياهم له هغه يقين څخه ډيرليري والي احساسوم چي زمادکارد پوره والي اوسموالي په اړه به ترلاسه کيږي ،څکه چي انسان اوخطأ سره دوه نه بيليدونکي شيان دي. نوڅکه په دي اميديم چي کهٔ قدرمن نظرته مو په دغه کتاب کي څه زيادت يا کموالی درشي،نوداسلامي مسئوليت له مخي مونږ ور څخه خبرکړئ.

او په اخيرکي اړه بولم چي له دي بهير سره دډاکټر **سيف الرحمن** صاحب له هغو پرله پسي مرستو څخه مننه وکړم چي هيرول به ئي زمادپاره ناشکري وي.

دنورالقران اداري لخوا څوګرښې

لـه لـوی خـدای جـل جلالـه څخـه زیـات راضـي يـم چـي دقاسـمي صـاحب داتلسـو رسالو دپښتـوژباړي لړۍ پـوره كيـدونكي ده مايقيناً دانسـاني تـوان لـه مخـي داژبـاړه دتصحيح پـه نيت پـه كمپيوټر كـي ټكـي پـه ټكـي مطالعـه كـړه ، خوبياهم چاچي داكار كړي وي .هغه ته ښه معلوميږي چې دهرڅو مره كوشش باوجود غلطياني پاته كيږي . ځكه پرماداسي واقعه هم راغلي چي ټول كتاب مي تصحيح كـړي خوپـه غټ روښـانه عنوان كي غلطي راڅخه پاتـه شوي ده ،نوځرنګه چې مخكي ژباړن (حصيف صاحب) داعذر وړاندي كړي ،زه هم په څو ،څوځله داعذروايم اوغوښتنه مي هماغه غوښتنه ده چې موږ ته خبرراكړئ ترڅو په دوهم چاپ كي تكرارنه شي .اوبله خبره داهم كوم چي داكتاب يوه نوي ترجمـه ده چـي پـه لمـړي ځـل دپښتولوستونكووړونواوخويندومختـه وړانـدي كيږي ،نوزماله ټولو كتونكوڅخه داهيله ده چي يواځي په دي غاړه ونه باسي چي دكتاب سراوپاي اوڅه برخه فهرس دمصنف اوژباړن نوم وګوري اوبس. ځكـه پـه دي كتـاب كـي رشـتياهم داسـي جزيـي (وړي وړي مسـئلي) اوجنجـالي مسـئلي اونـادري مسـئلي راغلـي چـي پـه لويـو كتـابو كـي بـه ئـي مـوږ ډيـر پـه ګرانـه پيـدا كـوواوځان پـري پـوه كـو ومثلاً سـيدانو ته دزكـوة پـه اړه ،دګينـو زكـوة ، دمعـدنونوزكوة ،دمدرسودواسـتازيو وكالـت ، پـه ډاكخانـه كـي زكـوة لـيږل ، اوداسي نورچي په رشتياهم ديوه لوي عالم لپاره په لويو عربي فتاواووكي ئي پيداكول اوحكم راايسـتل يـو ګران كـار دي.نوره خبره نه اوږدوم صرف يوزيري لاهـم دركـوم چـي **دشرك اوبدعت** رسـاله دملاقـات اداب رسـاله دسفرمسـائل داوداسه مسائل داعتكاف مسائل د دي لړۍ اخيري رسالي دي ،چي دلوي خداي پـه مرسـته بـه پـه ډيـر لنـد وخت كـي لـه چاپـه راووزي - ستاسودښـې دعااوزياتومرستوپه هيله:-

دنورالقرآن اداري خادم

ابوخالد مولوي عبدالاحد(مجروح)

۲۰۰۷ميلادي كال دجنوري دمياشتي(۲۵)مه

دهجرت مينه پښتون اباد:كوټه

اهداء :

دټولو هغو مؤمنانو په نامه چې خاص دخدای جل جلاله دپاره دهغه له محتاجوا وبي وسه بندګانو سره په خپلو زکاتونو ،قربانیو او صدقو مرسته کوي ؛ اودهغو سپیڅلیو په نامه چې ترخپل سپیڅلي رب جل جلاله خپل ارمانونه اوځانونه قربانوي . (عبدالملک حصیف)

اعوذبالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٣٤ يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ

لنډ تفسير: يعنې كوم خلک چې سره او سپين زر جمعه كوي. او هغه د پاک خداى ﷻ په لاره كې نه لګوي ، نو هغه ته د دردناک عذاب زيرى وركړئ. د ولاينفقونها په لفظ كې دېته اشاره شوې ده چې كوم خلک چې يوه ضروري اندازه د دنياد الله ﷻ په لاره كې خرڅوي ، نو بيا هغه پاته راټول كړل شوى مال د هغه لپاره په ضرر كې نه دى. پخپله حضور صلى الله عليه وسلم په يوحديث شريف كې فرمايلي دي چې د كوم مال چې زكوة وايستل شي ، نو هغه په (ماكنزتم) كې داخل نه دى ، (ابوداؤد ، احمد وغيره) څرنګه چې څرګنده شوه چې د زكوة وركولو ورستو چې كوم مال پاته كيږي د هغه جمعه كول ګناه نه دي ، همدغه مسلک د جمهورو فقهاؤهم دي.

په ايت شريف كې ددغه دردناک عذاب تفصيل په لاندې ډول راغلى دى : يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ

يعني زكوة نه وركونكو ته به د قيامت په ورځ دا دردناک عذاب وي چې كله د هغو راټول كړل شوي سره او سپين زر د دوزخ په اور باندې ګرم كړل شي او بيا وربانديې د هغو تندي (تندې) څنګونه او شاګانې وداغلي شي او هغوته د ژبنى سزا وركولو په ډول وويل شي چې دا

هغه څه دي چې تاسو جمعه کړي ؤ د خپلو ځانونو لپاره ، نو خپله راټوله شوې شتمني وڅکئ – له دې څخه معلومېږي چې جزاء د عمل عين عمل دی – کومه شتمني چې په ناروا ډول تر لاسه شوې وه ، او بله په سم ډول تر لاسه شوې وه خوزکوة ورڅخه نه ؤ اداء شوی ، نو پخپله هغه سرمايه د هغو خلکو لپاره عذاب وګرزېدله.

په دغه ايت شريف کې د داغ لګولو لپاره د تندو ، څنګونو او شاګانو ذکر شوی دی – د دې دوې وجې کېدای شي . لومړی دا چې له دې څخه مراد ټول بدن دی. دوهم دا چې دغو ځايونو ته شايد په دې وجه خاص والی ورکړل شوی وي چې هغه بخيل انسان ته (چې خپل مال د الله ﷻ په لاره کې خرڅ کول نه غواړي چې کله يو غريب يا زکوة غوښتونکی راشي ، نو تر ټولو ړومبی د هغه په تندي کې د خفګان علامې ښکاريږي ، بيا له هغه څخه د نظر اړولو لپاره ښی او کيڼ اړخ بدلوي رابدلي ، خو که سربېره په هغه هم سوال کونکی لاړ نشي ، نو بيا ورته شا ورګرزوي نو ځکه تندي ، څنګونه او شاد دغه عذاب لپاره خاص کړل شوي دي . (معارف القرآن ۴ جلد ۳۷۳ مخ)

زکوة :

زکوة په لغت کې پاکي ،برکت او زيادت ته ويل کېږي ا د شريعت په اصطلاح زکوة د خپل مال د هغې ټاکلي اندازې چې شريعت مقرره کړېده بل مستحق مالک ګرزولو ته ويل کېږي ، د زکوة د لغوي او اصطلاحي معني له پوهاوي وروستو بايد په دې هم پوه شو چې دغه کار (يعني له خپل مال څخه د شرعي ټاکل شوې اندازې بل څوک چې مستحق وي مالک جوړول) د مال هغه برخه چې له اصلي مالک سره

پاته کېږي پاکوي. په هغې کې د پاک خدای ﷻ له طرفه برکت اچول کېږي ، او د هغه دغه مال يودا نه چې په دنياکې ډېرېږي بلکه پاک خدای ﷻ د هغه د اخيرت دورځې په ثوابوکې هم زيادت کوي . او دهغه مال خاوند له ګناهونو او نورو بدو کارولکه بخيلتوب او نورو څخه پاکوي ، نو ځکه دغه کارته زکوة ويل کېږي ، ((زکوة)) ته صدقه هم ځکه ويله کېږی چې دا کار د خپل مال د يوې برخې دورکونکي د ايماني دعوي د سمون او رښتنولی دليل دي.
(مظاهر حق جديد ج۲ - ۴۸۳مخ -کتاب الفقه -۱ ج ۹۵۸مخ)

د زکوة تعريف او تفسير :

په شريعت کې له زکوة څخه مطلب دا اخيستل کېږي چې (يوداسې غريب او محتاج څوک د خپل مال د يوې تاکلې شوې اندازې مالک ګرزول چې نه د هاشمي کونی (يعنې سيد)وي ، او نه له شرعي پلوه د هغه غلام وي ، او نه تر د غي ورکړي له مخه کوم دنياوي سازشونه او ګټې وي ، اونه دا د څه شي په بدله کې وي . (عالمګيري ۴ ج ۳ مخ بحواله تبيين الحقائق)

مسئله : مسلمان مستحق به په داسې ډول د زکوة د مال مالک ګرزوي چې د زکوة ورکونکي هر ډول ګټه اخيستنه له هغه ماله څخه قطعه شي ، دا وجه ده چې نه زکوة ورکونکی زکوة خپل اصل لکه ، پلار ، مور ، نيکه او انا ته ورکولای شي ، او نه يې خپلوفرعو لکه زوی ،لور لمسي او لمسی ته ورکولای شي - ځکه چې هغوته په ورکولو سره يې ګټه بېرته زکوة ورکونکي ته رسېږي . (درمختار ۲ ج ۲ مخ)

زکوة او د هغه ثبوت :

زکوة د اسلام له ارکانو څخه پنځم رکن ، يا د اسلام له بناؤ څخه پنځمه بناء ده چې په هر هغه چا باندي فرض عين دی چې د زکوة لپاره

تاكل شوي شرائط يې پوره كړي وي - (د زكوة تړول شرطونه او معلومات په راتلونكومخونو كې كتلاى شئ)

زكوة په هجري سنه (۲) كې فرض شوى دي چې په اسلام كې د هغه فرض كېدل په هرحال تړلوته معلوم دي د هغه فرضيت له كتاب ، سنت او اجماع څخه ثابت دي. پاک خداى ﷻ په خپل سپېڅلي كتاب كې د هغه په اړوند فرمايي (واتوالزكوة) يعنې زكوة اداء كړئ -

او په حديثو كې هم د زكوة د ګڼو حكمونو ثبوت شته. چې له هغو څخه د سرور كائينات دغه مبارک ارشاد يادولاى شو چې د اسلام بنياد پر پنځو شيانو ولاړ دى ، (چې له هغو پنځو څخه يو زكوة دي) همدا رنګه دغه حديث هم دى چې امام ترمذي د سليم بن عامر رضى الله تعالى عنه په روايت راوړى دى هغه وايي چې ((ماله ابو امامه رضى الله تعالى عنه څخه واورېدل چې هغه وويل چې ما د حضور صلى الله عليه وسلم د حجة الوداع تقرير اورېدلى دي چې پكښې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې له الله ﷻ څخه وويرېږئ خپل پنځه وخته لمونځ كوئ . كله چې د رمضان المبارک مياشت راشي نو روژه نيسئ ، د خپل مال څخه زكوة اداء كوئ او د خپل مشر فرمانبرداري كوئ ، نو تاسو به جنت ته داخل شئ)) سربېره پر دې نور هم د دغه مضمون لرونكي حديثونه شته - پاته شوه د اجماع خبره ، دغه تړول امت په دې خبره هم غږى دى چې زكوة د اسلام له پنځو بناء ګانو څخه يوه بناء ده ، چې د خاصو شرائطو لرونكى دي.

(كتاب الفقه ۱ ج ۸۵۹ مخ)

مسئله : درمختار او شامي نومي کتابونه ليکي چې په قرآن کريم کې د زکوة حکم له لمانځه سره (۳۲) ځايه راغلی دي – او دا چې بغير له لمانځه د زکوة يادونه څو ځايه شوې ده ، دا يې نه دي ليکلي.
(فتاوي دارالعلوم ۶ج ۱۴مخ)

څه وخت د زکوة په حکمونو پوهاوی فرض دی ؟

مسئله : انسان چې تر څه وخته د زکوة د نصاب خاوند نه وي ګرزېدلی (يعني اوه نيمي ۷ تولې سره زر چې ۸۷ ګرامه او ۴۷۹ ملي ګرامه کېږي ، اويا ۵۲ دوه پنځوس تولې سپين زر چې ۶۱۲ ګرامه او ۳۵ ملي ګرامه کېږي او يا د دغو د قيمت په اندازه نغدي روپۍ او يا د تجارت يا د بل څه سامان خاوند نه وي) نوتر هغه ورباندې په عملي ډول د زکوة حکمونه زده کول فرض او ضروري نه دي . خو د زکوة د فرضيت عقيده لرل په هر حال ورباندې فرض دي – او کله چې د دومره شتو خاوند شو چې زکوة ورباندې لازمېدو ، نو هغه وخت زکوة عملي زدکول ورباندې فرض شو – (په هغه وخت کې د حکمونو زده کولو) قيد ځکه ولګول شو چې د عقيدې تر حده خو هر چاته د زکوة د فرضيت اقرار ضروري دی.

زکوة څه وخت فرض شو ؟

د احاديثو او نبيانو څخه دا څرګندېږي ، او د اسلام د پنځو بناء ګانو د تاريخ په تشريح کې د دې تائيد دي چې تر ټولو له مخه پنځه وخته لمونځ د معراج په مبارکه شپه پر مسلمانانو فرض شو . بيا په هجري کال ۲. کې په مدينه منوره کې روژه فرض شوه ، او تر څنګ يې سرسايه ه فرض شوه ، تر ځوروژه لرونکی له چټياتو کارو او بې ځايه

خبرو څخه پاک شي ، او د هغې په سبب د اختر په ورځ د مسکینانو سره مرسته وشي. وروستو له دې څخه د نصاب او اندازو زکوة فرض شو . مګر په دې بندي کوم قطعي دليل نه دی چې د زکوة په اړوند دغه حدود (limitatid ns) په کوم کال کې تاکل شوي دي.
(فقه الزکوة ١ج -١٠١ مخ) (و فتاوي دارالعلوم ديوبند ٦ج ۴١ مخ)

د زکوة په فرضيت کې صحيح قول دا دی چې د هغه د امر نزول په اولينو حالاتو د اسلام کې شوی ؤ ، څرنګه چې د دې لپاره دليل د تفسير ابن کثير امام د سورة مزمل دغه ايت (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ) راوړی . ځکه چې دغه سورت د وحی د پيل له بالکل لومړنيو سورتونو څخه دي. په هغه کې د لمانځه تر څنګ د زکوة حکم هم دی البته د حديثو له روايتوڅخه داسې معلومېږي چې د اسلام په پيل کې د زکوة لپاره خاص نصاب يا خاصه اندازه تاکل شوې نه وه ،بلکه هر هغه څه چې د يو مسلمان له خپلو ضرورتو څخه به زيات شول هغه به يې ټول د پاک خدای ﷻ په لاره کې لګول. د نصابونو تاکل او زکوة د اندازې بيان له هجرت څخه وروستو په مدينه منوره کې شوی دی. او بيا د زکوة او صدقو د راکړې ورکړې نظام له حکمو سره د مکې له فتحې وروستو عملي شوي دي په دغه ايت کې د اصحابانو او تابعينو په اجماع د دغې واجبې صدقې د لګولو د ځای بيان دی ، کوم چې د لمانځه په څېر په مسلمانانو باندې فرض دي ځکه چې کوم ځايونه د لګښت چې په دغه ايت کې ښودل شوي دي ، هغه د فرضي صدقې د لګښت ځايونه دي . د رواياتو د صراحت په بناء په نفلي صدقو کې ډېره فراخي شته ، هغه په دغو اتو ځايونو د لګښت باندې راکوتاه شوي نه دي - (معارف القرآن ۴ ج ۳۹۴ خ)

د زکوة حکم په پخوانيوشريعتونو کي

د زکوة د دغي لوړ اهميت او گټورتيا په وجه د هغه حکم د پخوانو نبيانو په شريعتو کي هم د لمانځه سره سم ؤ. په سورت انبياء کې د حضرت ابراهيم او د هغه د زوی (حضرت اسحق) او د هغه د زوی (حضرت يعقوب عليهم السلام) د يادوني تر څنگ دا رنگه ارشاد مبارک فرمايل شوی دي (وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ۷۳)

ترجمه: او ولېږو مونږ دوی ته حکم د نيکي کولو (په خاص ډول) د لمانځه درولو او زکوة ورکولو.

همدا رنگه په سورت مريم کې د حضرت اسماعيل (عليه السلام) په اړوند ارشاد مبارک دي (وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ) او ؤدی چې امر بې کړې ؤ خپل اهل ته په لمانځه او زکوة سره) د قرآن کريم له دغه ايت نه څرگندېږي چې لمونځ او زکوة د همېشه لپاره د اسماني شريعتونو خاص ارکان او شعائر پاته شوي دي. خو د هغو د حدودو، ټاکنو او تفصيلي حکونو تر مېنځ فرق بيابله خبره ده - او دا رنگه فرق زمونږ د شريعت په اولينو او اخېرينو حالاتو کې هم ؤ د مثال په ډول د اسلام په پيل کې به هر فرض لمونځ دوه رکعته ؤ، خو وروستو بيا له سهاره بغير د نورو ټولو وختونو رکعتونه زيات شول. دغه رنگه تر هجرت له مخه په مکه مکرمه کې د قيام په زمانه کي هم د زکوة حکم ؤ چې د سورت نمل، سورة لقمان او سورة مؤمن په ابتدايي ايتوکي د ايمان د خاوندانو د لازمي صفتونو په ډول د لمانځه درولو او زکوة ورکولو يا دونه شوې ده. (معارف الحديث. ۴ ج ۲۳ مخ)

د مکي مکرمې په دور کې د زکوة مطلب

مګر د مکې مکرمې په دور کې د زکوة مطلب صرف داؤ چې د الله په محتاجوبندګانو باندې او دخير په نوروکارونو خپله ګټه ولګوله شي. د زکوة د نظام تفصيلي احکام هغه وخت نه ؤ راغلي، وروستو له هجرته په مدينه منوره کې په دغه دول زکوة راڅرګند شو ،نو کومو تاريخ ليکونکو او مصنفينو چې دا ليکلي دي چې د زکوة حکم تر هجرت دوه کاله وروستو، او په دغو دؤکالو کې راغلی دی د دې مطلب به غالباً دا وي چې د زکوة حدود تاکني اوتفصيلي حکمونه په دغه وخت کې راغلي دي. کنه د زکوة مطلق حکم خو په پوره يقين سره د اسلام په لومړنۍ دوره کې تر هجرت پوره له مخه راغلي ؤ، مګر د زکوة د نظام تفصيلي مسئلې، حدود او تاکني تر هجرت وروستو واقع شوې او په مرکزي دول خود راکړې ورکړې نظام په هجري کال (۸) کې قائم شو – (معارف الحديث ۴ج ۲۴ مخ) د اسلامي قانون په تاريخ کې مشهوره خبره دا ده چې زکوة په مدينه منوره کې فرض شوی دي نو له دې خاطره دا پوښتنه راپورته کېږي چې دغه خبره له هغو سورتونو سره چې په مکه کې نازل شوي دي څومره هم غږې ده. د دې پوښتنې ځواب داسې دی چې دزکوة يادونه چې کومه په مکه مکرمه کې په نازل شو سورتو کې شوي ده هغه بعينه دغه زکوة نه دي چې بيا وروستو په مدينه منوره کې فرض شوی دی چې ځانله تاکلي اندازه او معلوم حدود لري او دهغه د را يو ځای کولو او د هغه د سم لګښت ځايونو لپاره کار کونکي ولېږل شول او يو مشرتابه به د هغه د نظم چاري سنبالولې د مکې مکرمې په دور

کې چې کوم زکوة ؤ هغه مطلق ؤ او پکې حدود او قیود نه ؤ او د هغه مدار (راڅرخېدنه) د خلکو په ایمان ، د هغو په شعور او د هغو د وروركېلوی په احساس سره وه ، او هغه وخت به له مؤمنانو سره په نبه چلند کې کله کم لګښت کېدلو او کله به زیات .(فقه الزکوة ١ ج ٨٢- یوسف قرضاوي)
د مکې مکرمې په دوره کې د مسلمانانو اسلامي دعوت په انفرادي ډول ؤ او هغه د دغه دعوت په بناء له جامعې څخه پرې شوي او څانله څانله شوي ؤ ، خو کله چې مسلمانان مدینې منورې ته ورسېدل ، نو په یوتنظیم شوي ډول په ګډصورت سره راغلل او په مدینه کې د مسلمانانو د مشرتابه تشکیل جوړ شو ، او هغوی په سر دقدرت راغلل ،نو څکه خو بیا د اسلامي اساساتو او نورو هم په نوي صورت حال کې د عاموالي او مطلقیت ځای د حدلرلو او خاصوالي صورت غوره کړ او کوم څه چې پخواتر دې صرف د لارښوونې لپاره هدایتونه ؤ هغو د لازمیت او قانونیت ډول غوره کړ : او د دغو قوانینو د اجراء لپاره له ایمان او یقین سره سره له واکدارۍ او زور څخه کار اخیستل هم یوه ناعلاجي شوه . دغه رنګه مدینې منورې ته له راتلو سره سم د زکوة ډول هم بدل شو هغه په دې سره چې شارع (علیه السلام) (یعنې حضورصلی الله علیه وسلم) د هغو مالونو حد وټاکی په کوم کې چې زکوة ورکول فرض دي ، او د هغه د فرضیت شرطونه او د هغه لازمي اندازې یې معلومې کړې : د هغه د لګښت ځایونه یې په ډاګه کړل ، او د هغه نبه تنظیم او کاري دائرې لپاره یې د عمل لائحه وفرمایله.

(فقه الزکوة ١ج ٨٢ مخ)

د زکوة درې اړخونه

په زکوة کې د نېکۍ او ګټې درې اړخونه شته - یو دا چې په څه ډول بو مؤمن د لمانځه په قیام رکوع او سجدې سره د خپل خدای ﷻ په وړاندې د خپلې بندګۍ ، خوارۍ ، او عاجزۍ ښکارندوی په خپل وجود ، روح او ژبه سره کوي تر څود الله ﷻ خوشحالي ، رحمت او نزدیکت حاصل کړي - په همدغه ډول د زکوة په اداء کولو سره د هغه په دربار کې خپل نذرې مال په دغه غرض وړاندې کوي ، او د دې خبرې عملي ثبوت وړاندې کوي چې هغه څه چې له ما سره دي هغه زما خپل نه ، بلکه دا ټول د خدای ﷻ دي ، او په دې سره یقین هم لري. او د خدای ﷻ د رضاء او نزدیکت حاصلولو لپاره هغه قربانوي او نذرانه کوي. د عبادتونو په لړکې زکوة هغه عبادت دي ، او د دین او شریعت په خاصه اصطلاح (په عبادتونو) کې د بنده هغو عبادتونو ته ویل کېږي له کوم نه چې خاص مقصد او موضوع د خپل خدای ﷻ په حضور کې د خپلې بندګۍ او علویت د تړاو ظهور ، او د هغه په ذریعه د الله ﷻ رحم ، مهرباني او نزدیکت پیدا کول وي -

د زکوة دوهم اړخ دا دې چې د هغه په ذریعه الله ﷻ د غریبو او بې وسه بندګانو خدمت او مرسته کېږي چه له دې پلوه زکوة د اخلاقیاتو څخه یو مهم ترین باب دي. درېیم اړخ د زکوة د ګټورتیا دا دي چې هغه د ال د محبت او دولت پرستې چې یوه ایمان وژونکې او ډېره مهلکه روحي ناورغي. ده) علاج او د هغه په سبب نفس د هغوی له ناوړه اثراتو څخه پاکېږي. (معارف الحدیث ۴ ج ۲۰ مخ)

د زکوة يو بل مقصد

اسلام دانه غواړي چې دولت ديوې ډلې تر واک لاندي راشي يا به سوسايتي (ټولنه) کې کومه داسې طريقه پيداشي چې دولت په خزانو ، خزانو سره يوځای کوي بلکه اسلام د تل لپاره دولت په گردش او چلند کې غواړي ، او هغه بايد د قوم او ملک په ټولو خلکو کې خپور او ووېشل شوی و اوسي - همدا وجه ده چې اسلام د ورثاؤد تقسيم او اسهامو(برخو) قانون نافذ کړی دي . او د نرې د نورو قومونو په څېر يې د کورنۍ د يوه نفر په واک کې نه ده وراچولې - کله چې يو څوک له دنيا نه سترگې پټې کړي ، نو د هغه دولت (شتمني) (چې تر د غه وخته د يوفرد په لاس کې وه) اوس په وارثانو کې د وېش له امله په څوځايو کې خپرېږي - همدا رنگه بيا په يوا و بل پسې د هر وارث بيا بل وارث هم وي او دغه شتمني په پرله پسې ډول د وېشلو او خپرېدلو په حالت کې وي (حقيقت زکوة ٢٠ مخ)

له زکوة څخه دمنکر حکم

دزکوة دغه لوړ اهميت ته په نظر سره دفقهيد علم علماؤفرمايلي دی چې له زکوة څخه اودهغه له فرضيت څخه منکر کافر دی ،اوپه پوره ډول له اسلامه وتلی دی. په دغه سلسله کې امام نووي رحمة الله عليه فرمايلي دي چې که يوداسې څوک چې په ډيرنژدي وخت کې يې ايمان راوړی ؤ ،اوياخو يې ايمان پخواراوړي ؤخوله ښهر څخه ليرې په داسې غره ياځنگل کې پيداشوي اولوی شوي ووچې هلته يې دزکوة په اړوند معلومات نشوای تر لاسه کولای ، اوبيايې دزکوة له فرضيت څخه انکار کاوو . اوهغه يې نه اداء کاؤ ،نوهغه ته بايدلمړي

دزکوة دفرضیت وجي ، او بیادهغه اهمیت وروښودل شي ، خوکه له دې سره سره بیاهم یخپله وینا دانکار ولاړ ، نو په هغه دې د کفر حکم ولګول شي خوکه یو څوک په مسلمانه ټولنه کې اوسېدو او د زکوة په فرضیت باندې عالم ؤ خو د دې باوجود بیې نګار کاؤ ، نو دغه کافر کېږي او دربانديې به د مرتد حکمونه جاري کېږي یعنې لومړی به هغه ته ویل کېږي چې له دې خبرې واوړی او توبه وکاږي ، خو که بیايې هم توبه ونه کېښله ، نو ودې وژل شي. څکه چې د زکوة د فرضیت علم لازمي دي – او بیا دهغه د علم باوجود له هغه څخه انکار کول د الله ﷻ او د هغه د استاذي (ص) تکذیب دي (المجموع۵ج۳۳۴مخ) لنډه دا چې له زکوة څخه د منکرینو په اړوند ښکاره شرعي حکم موجود دي او اجماع هم په دغه قول سره ده (فقه الزکوة ج۱۳ مخ - کتاب الفقه ج۹۵۹ مخ).

له زکوة نه ورکونکوسره جنګ کول :

د اسلام مبارک دین صرف په دې سره بسوالی کړی نه دی چې له زکوة نه ورکونکو څخه دي مالي تاوان واخستل شي او یادې هغوی ته تعزیري (د ترټني) سزاګانې ورکړلي شي ؛ بلکه که یوه زورورهډله د سرغړوني په غوره کولو سره د زکوة له ورکولو څخه انکار وکړي ، نو اسلام مسلمانانو ته له هغوسره د جګړې حکم ورکړی دي. او د دغه فرض د اداء کولو لپاره یې له خان وژلو او وینو بهولو څخه منعه نه ده کړې – او حال دا دي چې داسلام راتګ د دې لپاره دي چې د انسانانو د ژوند ساتنه پکې وشي. خو هغه وینه چې د حق ژوندي کولو پخاطر وبهېږي هغه هېڅکله بې ځایه نه ضائع کېږي – او د الله ﷻ په لاره کې قتلېدونکي د خدای ﷻ په څمکه کې د عدل راوستولو

پخاطر مړه کېدونکي کله هُم نه مړه کېږي ؛ او هغه روحونه چې د الله ﷻ او دهغه د رسول (ص) د نافرماني په وجه ، او د هغودحق نه اداء کولو ، اوکړي وعدې نه پوره کولو په بناء له مینځه ځي هغه له دې وجې چې دوی هغه ساتنه چې اسلام ورته ورکړې وه د خپل بد چلند او بدي کړې لارې په وجه له مېنځه وړي. (فقه الزکوة ۱ج۱۱۱مخ)
د بغاوت او سرغړوني په ډول له زکوة څخه انکار کونکو سره جګړه کول په صحیحو حدیثونو او د اصحابانو له اجماع څخه ثابت ده.
وروستو له وفاته د حضور (صلی الله علیه وسلم) ، حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) له هغو عربو سره چې د زکوة په نه ورکولو به یې ټینګار کاؤ هم دغه کردار غوره کړ او لویو اصحابانو د هغه موقف تائید کړ او ورسره یې د زکوة نه ورکونکو په جګړه کې ګډون وکړ ، تر دې چې هغه شمېر اصحابان هم په دغه جګړه کې ورګډ شول چې په لومړی ځل د حضرت ابوبکر صدیق له نظر سره د جنګ په باره کې په یو نظرنه ؤ او په دغه ډول په اسلامي شریعت کې د زکوة له نه ورکونکو سره جنګ کولو یو ټولنیز ډول خپل کړ ، ځکه چې له هغو سره د جګړې کولو لپاره ده حضرت صدیق (رضی الله تعالی عنه) ډېر دلائل راوړل ، تر څو ډېرو اصحابانو د هغه دغه نظر تائید او په هغه سره د ټولو اجماع وشوه. (المجموع ۵ج ۳۳۴ مخ)

ولي حضرت ابوبکرصدیق له زکوة نه ورکونکوسره جنګ وکړ؟

له زکوة نه ورکونکوسره د حضرت صدیق (رضی الله تعالی عنه) جنګ غالباً له دې پلوه ډېر ارزښتناک وي چې په انساني تاریخ کې دا لومړی ځل ؤ چې یو حکومت او مشریزه د ټولنې د بې وسه وګړو او د مسکینانو او غریبانو د حقونو دورکولو لپاره جګړې کولو ته تیاره

شوې وه ، د داسې تاريخ په لمنه کې چې همېشه به د ټولنې زورورې طبقې کمزورې طبقې خوړلې او حاکمان او اميران به کله د غريبانو او مسکينانو په حال پسې نه ګرزېدل . بلکه ډېر ځله به دوخت حکومت د ښتمنې طبقې ملاتړکاؤ . (الاماشاالله) (فقه الزکاة ۱ ج ۱۱۵ مخ)

د اسلام او د غربت د مسئلې حل :

په څه ډول چې اسلام د ناداری د مسئلې حل ، او دبې وسه ، کمزورو محتاجانو د کفالت نظام وړاندې کړی دی ، نو د دغه مثل په هېڅ بل آسماني او انساني مروجه قوانينو کې نه تر سترګو کېږي ؛ او د اسلام چې په دغه بهير کې کوم دروزنې نظام او رهنمايې ورکړې ده ، او کوم قوانين او انتظامات يې ورته کړي دي او بيا يې د دغو قوانينو او انتظاماتو د اجراء او عملي کولو کومې قاعدې انسان ته ښودلې دي نو د دنيا په هېڅ بل قانون او مذهب کې د دې مثال نشته.

دا چې اسلام د غربت د مسئلې حل ته څومره توجه کړې ده ، او څومره زيات يې د دې خبرې اهتمام کړی دی ، نو دا اندازه له دې خبرې څخه معلومولای شو چې اسلام په خپل ډېر لومړني پړاو کې چې څوپه شمار مجبور او بې وسه مسلمانان يې لرل ، او د اسلام د بلنې د مبلولو د جرم په بدله کې به يې راز راز دردونه او ظلمونه په ځانو سېرول ، چې نه يې کوم سياسي وجود لاره او نه ورته کوم اقتدار حاصل ؤ په داسې حال کې يې د غريبانو په طرف پوره پام داړاؤ ، او قرآن کريم په دغه سلسله کې ډېر مهم هدايات وکړل ، کله به قرآن کريم د دغې مسئلې يادونه د (طعام مسکين) (خوراک ورکول مسکين ته) په الفاظو سره کوله او کله به يې د الله ﷻ له ورکړل شوي

رزق څخه بل ځاته د نفقې ورکولو نصیحت کاؤ ، او کله به یې د سوال کونکي او محروم د حق اداء کولو حکم درکاؤ او کله به یې د مسافر او مسکین د حق په اداء کولو ټینګار کاؤ او کله به یې بیا د (ایتاء زکوة) یعنې زکوة ورکولو عنوان غوره کاؤ .
لنډه دا چې په دغه ډول د مکې مکرمې د پیل په دوره کې قرآن کریم د مسلمانانو په روح کې دغه حقیقت ځای کړی دی چې د هر مسلمان په مال کې د غریب او محتاج لپاره لازماحق شته ؛ په هر ډول چې وی باید اداء کړل شي څکه چې دا نفلي صدقه نه ده چې ورکول او نه ورکول یې د انسان د خوښې کار دي. (فقه الزکوة ۱ج ۷۱مخ)

د زکوة فائیدې

(۱) نن سبا په ټوله نړۍ کې د ګڼون خبرې کېږي چې پکې د غریبانو د خلاصون او بهبود په نعرو وهلو سره دوی د شتمنې طبقې په خلاف یو خواته غورزول کېږي له دغه تحریک څخه به د غریبانو خبرېدل څه وخت کېږي ؟ . دا یوه ځانګړې موضوع ده مګر دلته غوړم دا ووایم چې د شتمن او غریب تر منځ دغه جګړه د دې لپاره پیدا کېږي چې شتمنه طبقه د غریبانو له هغو حقونو څخه خپلې اوږې خلاصې کړي که د ملک د شتمنو ځلوېښتمه برخه په غریبانو ووېشله شي ، او دا عمل د یو کم وخت لپاره نه بلکې د تل لپاره جاري وساتل شي او د امراؤ طبقه د څه ترغیب او حرص کولو او زور څخه بغیر د تل لپاره دغه فریضه اداء کړي ، او بیا دغه روپۍ په سم ډول په اړو او محتاجانو باندې ووېشلې شي ، نو کم وخت وروستو به تاسو وګورئ چې هېڅ یو غریب به له شتمن او امیر څخه شکایت ونه لري . او د

امیر او غریب تر مېنځ چې کوم جنګ دي او دنیا یې په دوزخ بدله کړېده ، دا به د دغه نظام په راتلو سره د خوشحالي او ارامتیا په ځای (جنت) بدل شي. زه صرف د پاکستان مسلمان ملت ته نه بلکه د ټولي نړۍ انسانانو او ټولنوته وایم چې د اسلام د زکوة د نظام په نافذولو سره دي د دغه کار برکتونه پخپلو سترګو ویني ، او د سرمایه لرونکو هیوادونو چې ځومره شتمني په عامه خلاصون کې په مصرف رسېږي هغه دي هم په دغه کار کي ورګډه کړي.

(۲) د مال او دولت حیثیت په انساني ژوندکې داسې دی لکه د وینې په بدن کي. که د وینې په ګرزېدو را ګرزېدو کې څه خنډ راشي ، نو د انسان ژوند له خطر سره مخ کېږي او کله خو د زړه د حملې په وجه ناڅاپه انسان د مرګ کندې ته لوېږي بس په همدغه ډول که د هیواد ګردش په انصاف سره نه وي ، نو د ټولني ژوند په خطر کې وي ، او هر وخت د زړه د ټکانونو د بندېدلو وېره وي.

پاک خدای ﷻ د حکومت د سم (منصفانه) وېش او عادلانه چلندلپاره ډېر زیات تدابیر اولاري چاري فرمایلي دي چې له هغو څخه یو هم د زکوة او صدقو نظام دي- تر څوچې دغه نظام په سم ډول نافذنه وي . او ټولني دغه نظام په پوره ډول منلی نه وي ، نونه د حکومت په انصاف چلېدلو فکر کېدای شي او نه ټولنه د ګډوډۍ او زوال څخه په امن کي ساتلي پاته کېدای شي.

(۳) که ټوله دنیا د یو بدن په څېر تصور کړو ، او ټولنه د هغه اندامونه وبولو نوموږ ته معلومه ده چې د کومې پېښې له امله په یو اندام کې وینه له راتولېدو وروستو ټینګه شي ، نو هغه بیادورستېدلو اویا دانو کېدلو په شکل ګرزي او بیا بهېږي دغه رنګه چې کله د ټولنې په

خلګو کې تر ضرورت زیاته وینه یو ځای کېږي ، نو هغه هم تینګېږي او بیاکله په زیادت خرڅي او عیش کولو کې وزي ، کله د محکمو او وکیلانو په ګرزېدو راګرزېدو کې ضائع کېږي ، کله په ناروغیو او روغتونونو کې په مصرف رسیږي ، کله بیا دلوړو ، لوړو ودانیو او کورونو په جوړولو کې بربادېږي .شان الهي ﷻ دزکوة او صدقو په ذریعه د دغوتناکو او خرابیو تد اوي ښودلې او فرمایلې ده کومې چې د دولت د یو ځای کولو په وجه د ټولني په بدن خېږي

(۴)له خپل ډول سره (یعني یو انسان) سره رسنه او همدردي کول د انسانیت تر ټولو لوی صفت دي ، د چا چې زړه د ځان په څېر د بل انسان د بې وزلۍ ، لوږي مجبورۍ ، او تنګ لاسۍ په لیدلو سره ونه دردېدیږي ، نو هغه انسان نه بلکه یو ځناور دي ؛ او څرنګه چې نفس او شیطان په داسې حالت کې انسان له انساني همدردي څخه منعه او لیري کوي ، نو څکه ډېر کم خلک د دې حوصله او برداشت کوي.

پاک خدای ﷻ له خپلو بې وسه بندګانو سره د مرستي په خاطر په شتمنو خلکو دا فریضه لازمه کړه تر څو د پاک خدای ﷻ د دغې فریضې په وړاندي د کوم ناپوه ملګري په مشوره عمل ونکړي.

(۵)هر چیري چې د ژوند کولو بنیاد په مالداري ولاړدي هلته د انساني اخلاقو او روزني په جوړولو او خرابولو کې هم د هغه ژور اغېزه وي ، کله وخت د شتونه لرل انسان غیر انساني خوځښت ته راکاږي او د ټولني د بې انصافي په لیدلو سره هغه د ټولني د ارامي دلوټلو بندوبست کوي ، کله د غلا ، لاري وهني او قمار په څېر حرکتونه پیل کوي او کله بیا دغربت او لوږي څخه د تنګېدو له امله له ژونده څخه دلاس اخستلو فیصله کوي . کله د نس ډکولو لپاره

خپل عزت او درننبت ليلام كوي . او كله بيا د لوږي اوناداري د
ختمولو لپاره ترخپل دين او خپل ايمان تېرېږي - په دې اړونديو
حديث شريف دي چې لوږه او نېستي انسان نزدي كفرته رسوي دغه
ټول غير انساني حركات له نېستي څخه رېبنه اخلي چې كله وخت
پوره كورنۍ بربادوي ، ددې حل لاره پيدا كول د ټولي ټولني زمه
واري ده او پاک خدای ﷻ ددغوبدو او تاوان رسونكو حركاتو د
مخنوي لپاره دزكوة او صدقو حكم فرمايلي دي

(۲)ددې برعكس خينې داسې خرابياني دي چې تر مناسب حد د مال
له زيات لگښت نه سرچينه اخلي . شتمن چې دكومو نخرو او
عبسياتو خيالونه وهي ، او كوم ډول غير انساني كارونه له هغو څخه
بېښېږي د هغود بيان ضرورت نشته پاک خدای ﷻ له مال او دولت نه
له پيدا كيدونكو اخلاقي بديو څخه انسانان د زكوة او صدقو په
ذريعه راگرزولي دي ، تر څو هغوی د غريبانو د ضرورتو نو احساس
وكړي او د غريبانو حالت د دوي لپاره هم يوپوره اولوی عبرت د ي

(۷)د صدقاتو او زكوةو په نظام كې يو دا حكمت هم دي چې د هغه په
سبب هغه غمونه اوافتونه چې په انسان باندې نازلېدونكي وي دفع
كېږي. په دې اړوند ډېر حديثونه راغلي دي چې د صدقې وركولو په
وجه بلاگاني ليرې كېږي او دانسان مال او بدن له افتونو څخه
خوندي كېږي.

(۸) د زكوة او صدقو يوه گټه داهم ده چې د هغو په اداء كولو سره په
مال او شتو كې بركت لوېږي : او په زكوة او صدقو كې بخل كول پر
انسان باندې د اسمانونو دروازې بندوي. په يو حديث شريف كې د
حضور (صلى الله عليه وسلم) ارشاد دی: حـ . كـ م قـ م حـ ؛كوة نه

اداء کوي ، نو پاک خدای ﷻ په هغه قوم باندي قحط او وچ کالي مسلطوي. او له اسمان څخه ورباندي د بارانو اورېدل بندېږي.
(طبراني – اپ کي مسائل ۳ج ۳۳۲مخ)

د خدای ﷻ فيصله :

د انسان مادي ضرورتونه د دې دنياله مادي شيانو سره تړاو ورکول يو قدرتي کار دي او داهم د پاک خدای ﷻ د حکمت يو ه کلکه فيصله ده چې د نيوي اسباب او وسائل دي د ټولو انسانانو تر مينځ په يو ډول ونه وېشل شي ، بلکه ضروري دا ده چې ځينې خلکو ته دي دژوند کولو لپاره دومره فرېمانه اسباب او وسائل ورکړل شي چې د هغو د ژوند کولو تر ضرورت ډېر زيات وي ، او نوروته دي بيا له دې نه دومره برخه ورکړله شي چې ورځني ضرورتونه هم ورباندې پوره نکړای شي. په دې اړوند د پاک خدای ﷻ ارشاد مبارک دي:
(نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا (۳۲آية)

ترجمه : او ددنيا د نظام او سمون په ځای ساتلو لپاره د غه تيټوالی او پورته والی بالکل ضروري – او لازمي شي دي مگر پاک خدای ﷻ د دغې فائيدې او نقصان په مقررولو سره دواړه ډلي د هغوپه حال پرېښودلي بلکه چېري چې يې له يود طرفه د زرگونو پيدايشي مصلحتونو لاندې دغه ټيټ والی او پورته والی راوستی دي همدغه خدای ﷻ د شريعت په ډول دا حکم هم ورکړی دي چې:
(فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ۲۴) د دوي په مالونو کې ټاکلې شوې برخه ده د غوښتونکو او محرومو خلکو لپاره (سورة المعارج ۲۴آيت)

يعنې د شتمنو په مالوکي د اړو او محرومينو لپاره ټاکلې برخه ده ځوک چې د دوی دغه حق نه اداء کوي ، نو گويا چې هغه د دوی د حق

غصب کونکي دي او په ناروا ډول يې د هغو په حق خېټه اچولې ده . لکه چې له يو حديث شريف څخه د اشارې په ډول دا خبره ښکارېږي ، حضور (صلی الله عليه وسلم) فرمايي چې څه وخت په يو چا باندي زکوة واجب شي . نو سمدستي په خدايي رجستر کي د هغه مال څلوېښتمه حصه په جلا ډول د محتاج او غريب مستحق په نامه ليکله کېږي . په داسي حال کې نور زکوة نه اداء کول (مستحق ته د خپل حق نه ورکول) نه دي . بلکه په دوهم ځل د مستحق تاکلې شوې برخه په خپل مال کې ورګډول دي. همدا رنګه يو بل حديث شريف دي (ماخالطت الزکاة مالا قطّ الاّ اهلکته)

ترجمه : د زکوة مال چې په هر مال کې ګډ شي ، نو هغه مال تر هغه نه پرېږدي تر څو يې هلاک کړي همدا رنګه په يو حديث شريف کې زکوة د مال خيری بلل شوی دي چې حضور (صلی الله عليه وسلم)

انّ هٰذه الصّدَقاتُ انّمَا هِیَ اَوْسَاخُ النّاسِ (مشکوة شريف-اج۱۵۷مخ)

يعني بېشکه دغه د زکوة مال د خلکو د مالونو خيري دي – څرنګه چې له دغه خيرې څخه د مالونو پاکولو په اړوند د پاک خدای ﷻ حکم دي (خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا)

ترجمه : ای محمد(ص) ته د هغوله مالونو څخه زکوة واخله او ته د هغو مالونه پاک کړه او د دوی باطن د زکوة په ذريعه پاک کړه.

(سورة توبه۱۰ سپاره۱۰۳ايت)

په ابوداؤد شريف کې د حضور (صلی الله عليه وسلم) ارشاد مبارک دي چي پاک خدای ﷻ زکوة څکه فرض کړی دي چې په هغه سره ستاسو نور مالونه درپاک کړي (مشکوة شريف اج۱۵۲مخ)

زکوة د مال خیری دي

څرنګه چې د ګني د شرې یا اوبو په ایشولوسره له هغه څخه ګوره یابوره جوړیږي نو تر پخېدلو لږ څه وروستو د خټې په شکل د هغې څه خیري راپورته کېږي چې ورڅخه لیري کول یې ضروري دي ، که له تولي شرې (د ګني څخه د ایستل شوو اوبو) څخه دغه خیري لیري نکړل شي نو ټول مال وربانديٓ خراب او بدشکله کېږي . همدغه رنګه کله چې د نصاب حد ته رسېدلي مال باندي یو کال تېرېږي ، نو د هغه خیری را پورته کېږي ، چې خبر یې حضور (صلی الله علیه وسلم) پخپله لیدلی او بیایې وموږته راکړی دي . که دغه خیري کوم چې په راټولېدلو ټولېدلو پخپله ځانته کړی شوي دي دوهم ځل په هغه کي ورګډ کړل شي ، نو ټول مال وربانديٓ خرابېږي او څرنګه چې د غوره مال په مارکېټ کې د خراب مال لپاره هېڅ بازار او اخستونکی نه پیدا کېږي همدغه رنګه د زکوة دغه مال د مالدار په ښو کارو کې نه لګېږي بلکه په ډول ډول ناځایې او هغو آفتو کې په مصرف رسېږي چې پخواتر دې یې امیدنه کېدی چې ورته په پورتني حدیث کې هم اشاره شوې ده او نورهم په دغه ډول احادیث موجود دي.

د شریعت له نظام څخه که صرف د زکوة امر په پوره ډول د عمل په ډګر واچول شي نو د دنیا تر نیمایي زیات غمونه او پرېشانیانې به خودبخوده له مینځه ولاړی شي شتمن چې کله د زکوة صدقې او یابل څه روپۍ غریب ته ورکوي اوپټي یې هغه ته ورسپاری ، نو د هغه غریب په زړه کې چې د شتمن له مال سره کوم حسد او بغض پروت دي هغه د تل لپاره نرم او ارام ګرزي – همدارنګه کله چې یو شتمن له

غريبانو سره نزدې وي او هره لحظه د هغو مشکلات او تکليفونه ويني ، نو د هغه په زړه کې خداى ﷻ ته د خپلي خوشحالي د شکر اداء کولو جذبه پيدا کېږي ، او په دې سره هغه د مال قدر پېژني (الترغيب ۲ج ۱۹ مخ)

په اخرت کې د زکوة نه ورکونکو پاى :

حضور(صلى الله عليه وسلم) يوارشاد مبارک دى چې زه د معراج په شپه په يو قوم تېرېدم ماوليدل چې د هغو په شرم ځايو باندې له مخکني او شانتي لوري څخه ځيرى ځيري کړې شوې توټې وې او د څارويو په ډول څرېدل –او خوراک يې له زقوم او د جهنم له ډبرو څخه وو ماپوښتنه وکړه چې دغه کوم خلک دي ؟ ؛ نو حضرت جبرئيل(ع) راته وويل چې دا هغه خلک دي چې له خپلو مالونو څخه به يې زکوة نه اداء کاؤ په دوى باندې خداى ﷻ ظلم نه دى کړى او ستا رب ﷻ پخپلو بندګانو ظلم کونکى نه دې د زکوة نه ورکونکو لپاره چې پاک خداى ﷻ کومې سزاګانې په اخيرت کې ټاکلې دي هغه له نورو سزاګانو څخه جلا دي. دغه عذاب خو به له حشر څخه پيلېږي – او کوم چې سخت مجرمين وي هغوته به د دغو حوالو له مخې تر مقدمې فيصله کېدوله مخه هم څه تکليفونه مخې ته راځي او حساب ورکولو ته به هم په ذلت او رسوايي کې راوستل کېږي. (ترغيب ۲ج ۱۸۲ مخ)

په يو حديث شريف کې د سرورې ثقليين (صلى الله عليه وسلم) ارشاد مبارک دي چې اسلام په پنځو شيانو ولاړ دي:

(۱)د دې خبرې شاهدي ورکول چې بغير له خداى ﷻ بل څوک لايق د عبادت نشته او محمد(صلى الله عليه وسلم) د هغه بنده او رسول دي

(۲)لمونځ کول

(۳) د رمضان المبارک روژه نیول.
(۴) زکوة ورکول.
(۵) د بیت الله شریف حج کول. (صحیح مسلم ۱ج ۳۲ مخ)
همدا رنگه په یو بل حدیث شریف کې دي چې یو چا د خپل مال څخه زکوة اداء کړ، نو هغه د خپل مال له شره څخه ځان وساتي.
(کنز العمال مجمع الزوائد ۱ج ۲۳ مخ)
په بل حدیث شریف کې راځي چې کله تاسو د خپل مال څخه زکوة اداء کړ، نو د زمه واری کوم بار چې ستاسو په اوږو پروت ؤ هغه لتا سو څخه ولو ېدو - (ترمذي ۱ج ۷۸ مخ)
او په بل حدیث شریف کې بیا داسې راغلي دي چې: خپل مالونه په زکوة ورکولو سره محفوظ کړئ، د خپلو ناروغیو علاج په صدقه ورکولو سره وکړئ - او د غمونود طوفان مقابله په دعا ګانو او عاجزیو سره وکړئ - (ابوداؤد)
په یو حدیث شریف کي راغلي دی چې چا دخپل مال څخه زکوة اداء نکړ په قیامت کې به دهغه مال د یوه بنوی مار په څېر راشي او د هغه په غاړه کې به د کلک ځنځېر په ډول وګرزي - (نسائي ۳۳۳)
چا ته چې پاک خدای ﷻ مال ورکړی وي او هغه یې زکوة نه اداء کوي، نو له هغه مال څخه به ورته مارجوکړل شي او د هغه په غاړه کې به ور واچول شي او ورته وایي به چې زه ستا مال یم او زه ستا خزلنه یم. مار چې هر کله په یو کور کي پیداشي، نو په توره شپه کې هغه کورته ورننوتل لا ځکه ډېر مشکل وي چې خدای مکړه ومونه چیچي - مګر د الله ﷻ استاذی فرمایي چې همدغه مال چې نن په خزانو او اوسپنیځو الماریو کې بنودل کېږي که ورنه زکوة اداء نکړل شي، نو

دقیامت په ورځ به ورنه مار جوړول کېږي او بیا به ستاسو په غاړه چارطرفه پېچل کېږي –په کور کې ننوتلی مارته خلک له دې وجې نه ورځي چې ناگنابه پرې راټوپ کړي او حال دا وي چې دلته ټوپ کول د مار یقیني نه وي هسې یو احتمال وی چې له دېخوا به پرې راغورزار شي او له هغې خوا به پرې راغورزارشي د دې نه یقین باوجود له دومره فکره او احتیاطه سره ورننوزي چې ورباندې د مار د هېڅ ډول حملې امکان پاتې نه وي : او د زکوة په نه ورکولو کې دغه یقین دی چې مار به د هغه په غاړه پېچل کېږي خو بیا هم دهغه له مونږ سره هېڅ غم نه وي ! فضائل صدقات (۲۳۲)مخ

په زکوة نه ورکولو سره دنیاوي عذاب :

د یو صحابي حضرت بریده (رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې حضور (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي چې هر قوم د زکوة اداء کول پرېږدي ، نو الله ﷻ ورباندې وچ کالي راولي ، او هر کله چې دوی له خپلو مالو څخه زکوة نه ورکوي ، نو حتما به ورباندې له اسمانه څخه بارانونه بندشي ، تر دې چې که څاروي نه وای ، نو یو څاڅکی به هم اورېدلی نه وای (ترغیب۲ج۱۹۰مخ فقه الزکوة اج۱۰۷مخ)

دوچ کالي افت پر مونږ خلکو دارنگه مسلط شوی دي چې اندازه یې نشته ، په زرگونو لاري د هغه د لیرې کولو لپاره کار ېږي یوه یې هم گټوره نه پرېوزي –کله چې پاک خدای ﷻ د څه گناه په وجه څه تکلیف یا غم راولېږي ،نو بیا په دې ټوله دنیا کې د چا په وس پوره ده چې له خپل ځانه یا بل څخه دغه تکلیف لیرې کړي ؟دا یوه داسې ناروغي ده چې د زکوة په لیري کولو سره لیري کېږي ، پاک خدای ﷻ راته دغه

ناروغي (آفت) هم ښوولې ده او د هغې سمه درملنه يې هم راته ښوولې ده چې که په رښتيا تاسو د اروغي له مېنځه وړل غوښتل ، نو ورته سمه تداوي (د قران او حديث په رڼاکې) غوره کړئ. (انفس مدقات ۱ ج ۱۵۱ مخ)

همدا رنګه يو حديث شريف دی چې ((په کوم مال کای چې زکوة پاته شي نو هغه ټول مال خرابوي)) د پورتني حديث شريف نه دوه مطلبه اخستی شو ؛ يو دا چې په مال کې چې د هغه زکوة پاته شي او ونه ايستل شي ،نو هغه زکوة د دغه مال د ضائع کېدلو او خرابي سبب ګرزي دوهم دا چې کوم څوک چې پخپله شتمن وي او هغه د بل چا څخه د زکوة مال وروا خلي او له خپل مال سره يې ګډ کړي ، نو د هغه ټول مال ورسره له مېنځه ځي. (فقه الزکوة ۱ ج ۱۰۸ مخ بحواله نيل الاوطار ۴ ج)

زکوة د مسلمان لپاره يو ساتل شوې ذخيره ده :

زکوة د مسلمانانو د ساتندوئي کارخانه ده. دغه د هغو لپاره پر اويډنټ فنډ يا هغه روپۍ دي چې د مامور له مياشتني تنخواه ګرزول کېږي او بيا د ماموريت په پای کې هغه ته بېرته ورکول کېږي دغه د دوی لپاره د بې کارانو د مرستي پانګه ده دغه د دوی د معذورينو ، مجبوزينو ، ناروغانو يتيمانو او کونډو لپاره د ساتنې ذريعه دی او برسېره پردې زکوة هغه شی دی چې د مسلمانانو فکر له سبا څخه په پوره ډول بې پرواکوي - له سبا ورځې نه بې پروايي په دې ډول کېدی شي چې نن ورځ ته شمن يې نوته له نوروسره مرسته وکړه . بله ورځ چې ته مجبور شې ، نو نور خلک به حتماله تاسره مرسته وکړي - تاته: به د دې فکر کولوضرورت نه وي چې که زه خوار شوم بيابه څه کوم ؟ که زه مړ شوم ، نو زمامېرمن او ماشومان به په

افتونو اخته وي . که ماته ناڅاپه کوم غم پېښ شو يعني زه ناروغ شوم ، يا مي په کورکي اورولګېدو ، يا مي په کور سيلاب راغی او يابل څه وشول ، نو ماته به له دغو تکليفو څخه د خلاصون لاره کومه وي ؟
له دغو ټولو فکرونو څخه د زکوة په اداء کولو سره ته ارامتيا ته خلاصېدای شې - په تاباندې صرف دومره کول دي چې په خپل له ضرورته زيات مال کي دوه نيم في صده د الله ﷻ د ساتندويي کمپنۍ ته د ساتلو لپاره ورکړه - دا وخت خو ستا دغه مال ته ضرورت نشته په هغه سره به دا وخت هغه خلک کډه وچلوي چې ورته ضرورت لري - خو کله چې بيا ته ورته ضرورت ولرې ، يا ورته ستا اولاد يا مېرمن ضرورت ولري ، نو نه يوادا چې ستا ورکړل شوی مال ، بلکه تر هغه زيات مال به بېرته درکړل شي . (فقه الزکوة ۲ج ۷۱۳)

سرمايه داري او زکوة

د سرمايه داري او اسلامي اصولو او نتائجو تر مېنځ پوره ضديت او ټکرتر سترګو کېږي . ځکه چې د سرمايه داري تقاضادا ده چې روپۍ دي سره را ټولې اووساتلي شي او د هغو دلاډ برولو لپاره دي له سود څخه هم کار واخستل شي تر څو د دغو ويالو له لاري خورې ورې روپۍ داټولي کړای شي او په يو تالاب کې جمعه کړای شي . خو اسلام بالکل د دې په خلاف حکم ورکړی دي چې روپۍ اول خو بايد جمعه نکړای شي ؛ خو که بيا ورنه جمعه جوړه شوه ، نو بيا بايد ورنه وخت په وخت زکوة وايستل شي تر څو هغه خلک هم يو څه ولري چې د غريبۍ شپې ورځې تېروي - او په دې سره د شتمنو او محتاجانو تر مېنځ فاصله را کمه کړله شي . د سرمايه داري په نظام کې د شتمنيو

ادلون بدلون مقید دي خو داکار بیا په اسلام کې په ازاد ډول تر سره کېږي. د سرمایه داري په نظام کې دا یو حتمي شی دي چې وارله مخه به خاص ستاسو اوبه په تالاب کې وي بیا به تاسو کولای شئ چې له هغه نه اوبه درواخلئ که داسې نه وه ، نو بیا تاسو یو څاڅکی اوبه هم ورڅخه نشئ در اخیستلای. د دې په مقابل کې د اوبو د خزانې په اړوند د اسلام قاعده بیا دا ده چې له هر چاسره تر ضرورت زیاتي اوبه (له اوبو څخه مقصد مال دي) وي هغه به ورڅخه یوه برخه (چې زکوة دي) را اخلي او هغه چاته به یې ورکوي چې هغه بالکل اوبه (مال) نلري. نو ښکاره خبره ده چې دوې طریقې د خپل اصلي طبیعت په لحاظ په پوره ډول له یو اوبل سره ټکردي ، او په یو منظم ژوند کې دواړه سره یو ځای کېدای نشي. (فقه الزکوة ۲ج ۷۱۴ مخ)

ایا زکوة یو اسلامي ټیکس (مالیه) دی ؟

زکوة ټیکس نه دی بلکه ډېر لوی عبادت د ي بعض داسې خلک دی چې زکوة یې په ذهن کې ډېر کم ارزښته ورغلی وي او دا د حکومت هغسې ټیکس بولي کوم چې په هر حکومت کې په مختلفو ډولونو باندې ټاکل کېږي – او حال دا دی چې زکوة د هېڅ یو حکومت لخوانه دي لازم کړاي شوي – او نه حضور(صلی الله علیه وسلم) د اسلامي حکومت د ضروریاتو د پوره کولو لپاره دغه کار کړی دي ، بلکه په ښکاره ډول په حدیث شریف کې ارشاد مبارک دی چې ((له شتمنو (مالدارانو) څخه دي مال راواخیستل شي او د محتاجانو او بې وزلو طبقې ته دي ورکړشي)) همدا رنګه دا فکر کول هم غلط دي چې زکوة ورکونکی په محتاجانو او نادارو باندې احسان بار وي

هېڅکله باید داسې ونشي . بلکه احسان به د محتاجانو یا زکوة قبلونکو لخواوي چې د دوی په ذریعه د شتمنو روپۍ د الله ﷻ په بانک کې جمع کېږي - د مثال په ډول که تاسو بانک ته د جمع کولو لپاره روپۍ سپارئ ، نو ایا احسان به ستاسو لخواوي ؟ نو داچې تاسو نشئ کولای په بانک احسان وبولئ همدغه رنګه تاسو نشئ کولای په مسکینانو باندې د زکوة احسان وبولئ - پخوانوامتونو چې به کوم مال د الله ﷻ په دربارکې د نذرانې په ډول وړاندې کاؤ ، نو دهغه استعمال هېڅ یو چاته روانه ؤ . بلکه هغې ته به سوځېدونکې قرباني ویله کېدله ؟ هغه ټول مال به د قربان ګاه په نوم یو ځای کې راټولیدي - نو بیا چې به ورته له اسمانه څخه اور راغی او هغه به یې وسوځل ، نو دابه د هغې قرباني د قبلېدو علامه وه او که به ورته اور رانغی او همداسې به پاته شوه ،نو دا به د هغه دردېدلو علامه وه پاک خدای ﷻ د محمد (صلی الله علیه وسلم) په امت باندې په خاص ډول دالوربېنه کړې ده چې شتمنو (مالدارانو) ته یې دا حکم کړی دي چې که تاسو کوم څه د پاک خدای ﷻ دربار ته وړاندې کول غواړئ نو هغه مسکینانو او مستحقینو ته ورکړئ - الله ﷻ په دغه لوی رحمت سره له یوې خوا د محتاجانو د ضرورت پوره کولو یوه ښه د زیعه پیدا کړه ، او له بلې خوایې د دغه مرحوم امت خلک له رسوایي څخه وژغورل - اوس صرف خدای ﷻ په دی پوهېږي چې څوک له پاک مال څخه صدقه (زکوة) ورکوي . او څوک داسې دي چې د نامه او شهرت پخاطر زکوتونه او صدقې ورکوي ؟ لنډه دا شوه چې زکوة ټیکس نه ، بلکه د خپل خدای ﷻ دربار ته یوه نذرانه وړاندې کول دي - نو ځکه خو پاک خدای ﷻ ورته په قران کریم کې قرض حسنه ویلې دي:

﴿مَن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ٢٤٥﴾ (٢پاره/سورة بقره)
دلته صدقي (هر هغه څه چې دخداى ﷻ د رضالپاره ورکول کېږي) ځکه په قرض حسنه سره تعبير شوې دي چې څرنګه چې د قرضواداءکول واجب دي دغه رنګه بايد د خداى ﷻ په رضاصدقه ورکونکى مطمئن شى چې د هغه ورکړل شوې صدقه به له زرګونو برکتونو سره هغه ته بېرته ورکوله کېږي. د دې مطلب دانه دی چې ګواکي خداى ﷻ د څه شى محتاج دې دا وجه ده چې صدقه د فقير لاس ته ترور تلو له مخه د پاک خداى ﷻ دربار ته رسېږي ، نو فقيرېې اصلاله زکوة ورکونکي څخه نه ترلاسه کوي بلکه د هغه خداى ﷻ له طرفه ورته ورکول کېږي چې خپل ټول مخلوق ته روزي ورکوي.
(آپ کې مسائل ٣ج ٢٣٨ مخ)
د زکوة او ټيکس تر مېنځ يو بل فرق دا دی چې حکومت له خلکو څخه ټيکس (ماليه) راټولوي او پخپلو کارونو يې لګوي ؛ مګر د اسلام دين زکوة په محتاجانو او غريبانو باندې تقسيم کوي ، اسلام د زکوة د لګښت لپاره اته (٨) کړۍ جوړې کړې دي. (حقيقت الزكوة ٥٨مخ)

د زکوة او ټيکس تر منځ بنيادي فرق

مسئله: د ټيکس (ماليې) اداء کول د زکوة لپاره کافي بلل ، يا دزکوة په اراده د زکوة روپى په ټيکس کې ورکول صحيح نه دي او نه کفايت کوي. د زکوة او ټيکس تر مېنځ ډېر لوى بنسټيز او ښکاره فرق دى ، دا چې زکوة يو عبادت دي . نو ځکه پکې نيت او اراده ضروري ده ، او دا چې مطلب ورنه د خداى ﷻ سره اخلاص او د هغه امر په ځاى

کول دي ، نو ځکه يې د لګښت لپاره خاص ځايونه ټاکل شوي دي – غير مسلمانوته او په ټوله نيزو (عام المنفعه) کارونو کې د هغه استعمال روانه دي . او چاته چې زکوة ورکول کېږي هغه به مستحق وي او د مالک جوړېدلو صلاحيت به هم ورسره وي ، د هغه لپاره يو ټاکل شوې اندازه ده او ددې لپاره چې زکوة ورباندې واجبېږي هم يو مقرر حد دی – بيا چې کله مال حد د وجوب د زکوة ته ورسېږي ، نو بيا بايد ورباندې يو کال تېر شي – همدا رنګه زکوة په خاصو مالونو باندې واجبېږي په هر مال باندې زکوة نشته – دا ټول هغه حکمونه دي چې له قرآن او حديث څخه ثابت دي چې پکې د لږ څه بدلون حق او ګنجايش هم چاته نشته مګر ټيکس بيا داسې نه دی ، هغه عبادت نه بلکه د حکومت سره مرسته ، يا هغه ته د رسېدونې ګټې معاوضه (بدل) دي . د هغه لپاره نه کوم ټاکلي تناسب او اندازه شته او نه پکې تعيين د مال شته نه د هغه لپاره څه نيت او اراده شته اونه يې د لګښت ځايونه هغه دي کوم چې د زکوة لپاره ټاکل شوي دي همدا رنګه د هغه لپاره د زکوة په څېر ټاکلي شرعي حد هم نشته بلکه ډېر خله د ظلم تر حده پورې لوړېږي . (جديد فقهي مسائل ۱۲۵مخ)

د زکوة او ټيکس تر منځ څرګند فرق

د زکوة او ټيکس تر مينځ خو تر هر څه لومړی او ښکاره فرق د هغو په نومونو کې دی . ځکه چې د زکوة د لفظ معنې پرورش او برکت دی . په اسلامي شريعت کې د مال هغې برخې ته چې زکوة ورکونکی يې محتاج ته ورکوي زکوة ويل کېږي . د هغه په اداء کولو سره د زکوة ورکونکي په نفس کې دا تاثير پيدا کېدل دي چې د هغه دغه مال

سراسر خیر او برکت دی او دغه د هغه مال ته پر مخ تګ ورکونکی او پاکونکی دي - په داسې حال کې چې د ټیکس (ضریبه) د لفظ مفهوم زور او الزام دی یعنې دغه یو هغه تاوان دي چې په زور او جبر باندې په مالدارانو خلکو اچول شوی دی ، نو ځکه خلک هغه یو بې حده لوی بار او د هغو په مالونو باندې اچول شوې جرمانه بولي د زکوة لفظ د خپلې پاکۍ برکت او ترقۍ د مفهوم تر څنګ د دې امر ښکارندویي هم کوي چې د مال څښتن چې کوم مال د پاک خدای ﷻ د حق اداء کولو څخه بغیر جمعه کوي هغه ناپاک دی او هغه شی چې مال پاکوي هغه زکوة دي . همدا رنګه زکوة د مال څښتن له بخیلتوب او حرص څخه پاکوي دالله ﷻ ارشاد دی (يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللّٰهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ۲۷۲) د بقرې سورة:

ایا د زکوة راټولول په حکومت باندې دي ؟

د دې پوښتنې (چې زکوة ټیکس نه دي بلکه خالص عبادت دي ، نو بیاولې د راټولو ، ویشلو او نورکارونه حکومت ته سپارل کېږي) لنډځواب دا دی چې اسلام ټوله معاشره (ټولنه) یو وجود بولي او بیا د هغې د نظم او کنټرول چارې اسلامي حکومت ته سپارې ځکه نو د هغو محتاجانو او غریبانو د ضرورتونو حل هم د اسلامي ټولنې د اقتدار قوې ته سپارل کېږي کوم چې په دغه ټولنه کې ژوند کوي - او د هغوی د دغه ضرورتونو د حل کولو لپاره د صدقواو زکوة و نظام رامنځته کړی شوی دي . نو څرنګه چې د دوی د مشکلاتو د حل تر ټولولویه ذمه واري د حکومت په غاړه ده نو ځکه د دغه کار لپاره خاص بندوبست کول هم د حکومت فریضه ده همدا وجه ده چې په

حدیث شریف کې هغه خلک چې د حکومت لخوا دصدقو او زکوةو د راټولو او منظم کولو لپاره ګمارل شوي وي د الله ﷻ په لاره کې له جهاد کونکي سره تشبیهه شوي دي (ابوداؤد ، ترمذي) په دغه حدیث کې له یوې خواد دوی د خدمتونو ستاینه کېږي ، او له بلې خوا ورته د ډېرې نازکې ذمواری احساس ورته ورکول کېږي یعنې که هغه دغه وظیفه چې د الله ﷻ په لاره کې ی جهاد بولي اداء کړي ،نو له خپلې ذمواریٔ نه به یې خپلې اوږې سپکې کړې وي او که یې له دغه مال نه د یوې پیسې په اندازه یو څه هم بې ځایه یعنې خیانت کړل ، نو دوی باید ښه پوه شي چې په الهي مال کې یې خیانت کړی دي او دا به د دوی لپاره د دوزخ اورته د ورتلو سبب جوړېږي څرنګه چې په یو حدیث شریف کې د حضور (صلی الله علیه وسلم) ارشاد مبارک دي ((کوم شخص چې ماپه کاروګماره او وظیفه مې هم ورته وټاکله نو که هغه بیا له دغه مال نه څه شی ور واخلي نو هغه به په مال د غنیمت کې خیانت کونکي وي. (ابوداؤد . اپ کي مسائل ۳ ج ۳۳۰ مخ)

ایا حکومتي ټیکس په زکوة کې ګنل کېږي ؟

پوښتنه : حکومت په تجارتی ګټو او د ځایونو (ودانیو) په کرایه بندې ټیکس اخلي ایا دغه په زکوة کې شمېرل کېدای شي او کنه ؟

ځواب : کومې روپۍ چې په ټیکس (مالیه) کې ورکولي کېږي هغه په زکوة کې نشي شمارل کېدای - زکوة باید په ځانګړی ډول اداء شي (فتاوي دارالعلوم ۲ج ۱۴۷مخ - شامي ۲ ج ۳۲ مخ)

ایاپه وارداتوباندي د حکومتي محصول په ورکولوسره زکوة اداکېږي ؟

مسئله، دا چې وارداتي محصول د هیواد د ضرورتونو درفع کولو لپاره دحکومت لخوامقررېږي او زکوة په مسلمانان باندي د پاک خدای ﷻ له طرفه یوه فریضه او عبادت دی ، نو ځکه خو په هیواد ته راتلونکو شیانو باندې د محصول په ورکول سره زکوة نه اداء کېږي ، او زکوة په جلاډول له خپلو شرائطو او حدووسره اداء کول فرض دي –
(اپ کې مسائل ۳ج ۳۸۷مخ)

د وخت حاکم او زکوة :

(۱) **مسئله** : که د وخت حاکم یو عادل مسلمان ؤ ، نو بیا ورسره د هر ډول مال د زکوة اخستلو حق شته . هغه دي له ټولو هیوادوالو زکوة راټول او په مستحقینو دي تقسیم کړي.
(۲)او که د وخت واکمن یو ظالم او یا غیر مسلم ؤ ، او بیا هېڅ حق نه لري چې له خلکو څخه د زکوة مالونه راټول کړي او که یې د زور له لاري دا کادوکړ، نو بیا دي زکوة ورکونکي وګوري. او که یې د زور له لاري دا کاروکړ، نو بیا دي زکوة ورکونکي وګوري چې که حاکم له دوی څخه اخستی مال په مستحقینو تقسیم کړ نو بیا دې دوهم ځل زکوة نه اداء کوي ؛ او که داسې نه ؤ نو بیا دوی ته پکار ده چې دوهم وار زکوة وباسي او پخپله یې په مستحقینو تقسیم کړي.
(۳) که یو چا له خپل مال نه زکوة نه اداء کاؤ ، نو د وخت واکمن ته پکار دي چې هغه بندي کړي او د زکوة غوښتنه ورڅخه وکړي – مګر په زور به ورنه مال نه ضبط کوي ځکه چې د زکوة د صحیح والي لپاره

نیت شرط دی – او دا ښکاره خبره ده چې که په زورسره ورنه مال واخستل شي ، نو هغه پکې د زکوة نیت نه کوي. (علم الفقه ۴ج ۳۱ مخ)

په ظاهري او باطني مالونو کې د زکوة حکم

مسئله : حکومت خو صرف د ظاهري مالونو لکه په کار خانو او میلونو کې د پراته مال د تجارت مال او په بانک کې د جمع شوې سرمايې زکوة راټولوي ، خود باطني مالونو زکوة به هر سړي پخپله له خپلې اندازې او حد سره سم اداء کوي . (آپ کی مسائل ۳ج ۳۴۱مخ)
ظاهري مالونه هغو مالونو ته ویل کېږي لکه په بانک کې جمعه شوې سرمایه ، په کار خانو او میلونو کې تیارېدونکی مال ، د تجارت مال او داسې نور . او باطني مالونه هغوته ویل کېږي لکه په کور کې نغدې روپۍ سره او سپین زر او داسې نور –

مسئله : اوس داسې زمانه ده چې مسلمانانو ته پخپله پکار ده چې خپل زکوة د شریعت له قاعدو سره سم وباسي او پخپله یې په مستحقینو باندې ولګوي همدا رنګه چې هر کله زکوة یا عشر واجب شي ،نو که سمدستي داسې څوک پیدا کېدو چې زکوة ورکېدل ورته صحیح ؤ نو في الحاله دې زکوة وباسي او که سمدستي څوک مستحق نه ؤ بیا دې هغه د امانت په ډول له ځانه سره تر هغه وخته وساتي تر څو یو مستحق پیدا شي او ورېې کړي په دغه زمانه کې چې کوم خلک دې نه تیارېږي چې د مقدس شریعت په قاعدو باندې عمل وکړي نو په دې سره هغوی ته د الله ﷻ له طرفه لوی اجر ورکول کېږي څرنګه چې په ګنو احادیثو کې هم دغه خبره په وضاحت سره راغلې ده. پاک خدای ﷻ دې مونږ ته توفیق راکړي . (آمین) (علم الفقه ۴ج ۴۱مخ)

د زکوة د واجبېدلو شرطونه :

د زکوة د واجبېدلو لپاره (۱۳) شرطونه دي چې

اول : دا دی هغه به مسلمان وي په کافر باندې زکوة نشته - دا فرق نه کوي چې هغه له اوله مسلمان دي او که يې له مرتد کېدلو وروستو اسلام راوړی دي - که مرتد (د اسلام له دين څخه وتلی) مسلمان شو ، نو په هغه باندې د ارتداد د زمانې زکوة اداء کول واجب نه دي - په څه ډول چې مسلماني د زکوة د واجبېدلو لپاره شرط دی همدغه رنګه د هغه د اداء صحيح والي لپاره هم شرط دي ځکه چې زکوة بغير له نيته صحيح نه دی او د کافر نيت نه کېږي -

دوهم : بلوغ دي ، په نابالغ باندې زکوة نشته.

دريم: پرليونی باندې زکوة نشته . همدا رنګه په هغه چا هم زکوة نشته چې د داغ يا په کوم بل مرض اخته وي او د هغه په سبب يې عقل خراب شوی وي - مګر که غير اصلي ليونی ؤ (يعنې تر بلوغ وروستو دغه تکليف ورته پيدا شوی ؤ) او د عقل د خرابي تکليف يې پوره کال ؤ ،نو بيا زکوة ورباندې نه دی فرض ؛ او که ليونتوب يې پوره کانه ؤ نو بيا هغه لغوه بلل کېږي او زکوة ورباندې فرض دي. او که اصلي ليونتوب ؤ (يعنې تر بلوغ له مخه ليونی وی) ، نو په هر حال معتبر دی يعنې که ټول کال نه ؤ ليونی هم زکوة ورباندې نشته ، د مثال په ډول يو څوک دي چې په ټول کال کې يو يا دوه واري ورباندي ليونتوب راځي نو په هغه باندې د دغه کال زکوة نشته - بلکه هغه وخت چې د هغه ليونتوب بالکل ختم شي نو له هغه ځايه د دغه کال پيل وبلل شي - (درالمحتار)

خلورم : دا چې هغه به د زکوة په فرضیت باندې پوه او خبروي او په اسلامي خاوره کې به وي. که یو څوک د زکوة له فرضیت څخه ناخبره ؤ او په اسلامي خاوره کې هم نه ؤ ، نو بیا ورباندې زکوة نشته –

پنځم : ازادي ده ، په غلام باندې (هغه که کاتب غلام وي او که مأذون غلام وي) زکوة ورباندې فرض نه دي . مکاتب غلام هغه ته ویل کېږي چې بادار په دې شرط ازاد کړی وي چې هغه دومره روپۍ وګټي او هغه ته یې ورکړي ، تر هغه پورې چې بادار ته یې هغه اندازه روپۍ ورګټلې او ورکړې نه وي نو هغه به غلام وي او هغه وخت چې دغه روپۍ یې ورورسولې بیا به دزاد وي – او مأذون غلام هغه ته ویل کېږي چې بادار اجازه ورته کړې وي چې څه وګټي او خپل مالک ته یې راوړي –(علم الفقه ۴ ج ۱۷مخ)

شپږم : دا چې هغه به دداسې شي د نصاب خاوند وي چې یو کال پاته کېدای شي . اوهغه شیان چې پوره کال پخپل حال روغ نشي پاته کېدای لکه تماتر ، کدوګان ختکي او نوره ترکاري او داسې نور نو په هغو باندې زکوة فرض نه دي بلکه عشر دي.

اووم : دا چې په هغه مال باندې چې زکوة یې ورکړي پرهغه به پوره یو کال تېرشوی وي بغیر له هغه ورباندې زکوة نشته.

اتم : دا چې د کال په سراو پای دواړو کې به مال په حد د نصاب کې وي. که څه هم د کال په مینځ کې کم شوی وي. خو که د کال په پیل یا پای کې تر نصاب کم وي نوبیا ورباندې زکوة نشته.

نهم : داچې هغه مال به له داسې قرضو څخه خلاص وي چې د بندګانو له طرفه یې غوښتنه کېدای شي – که څه هغه د خدای ﷻ قرض وي لکه

د تېرو کلونو زکوة ، عشر ، ماليه او داسې نور . که څه هم دا خو د الله ﷻ قرض دي خو امام دوخت کولای شي چې هغه طلب کړي . يا د بندګانو قرض وي ،لکه د مېرمنې ولور (مهر) ؛ که څه هم هغه داسې وي چې ژر اداء کول يې لازمي نه وي – کوم مال چې کېدای شي په دغه رنګه قرضوکې ختم شي او يا داسې وي چې که ورنه قرضونه اداء شي ،نوبيا حد د نصاب ته نه رسېږي نو له هغه مال څخه زکوة ورکول فرض نه دي. خو که د يو چا په ذمه باندې داسې قرضؤ چې د بندګانو لخواه يې مطالبه نشوای کېدای لکه د روژې کفاره يا حج ، نو په هغه باندې زکوة فرض کېږي – که په مېنځ د کال کې فرض پيښ شو ، نو داسې به بلل کېږي چې هغه مال له مېنځه لاړ ، تر دې چې که قرض غوښتونکی هغه قرض ورته وبخښي هم د زکوة ورکول ورباندې نشته . بلکه د راتلونکي کال پيل به بېرته له هغې ورځې څخه کوي په کومه کې چې ورته قرض بخښل شوي دي که له يو چاسره څو ډوله داسې مالؤ چې زکوة ورباند فرض (يعنی هر يو د هغو حد د نصاب ته رسېدلی وو) او هغه سړی قرضدار ؤ ، نو هغه بايد دغه قرض له هغه مال څخه اداء کړي چې زکوة يې کم وی ، او بيادې د هغه مال زکوة نه ورکوي : د مثال په ډول له يو چاسره د يو نصاب په اندازه سپين زر دي ، او د يو نصاب په اندازه وزې يا مېږې دي ؛ نو هغه ته پکار دی چې قرض د سپينو زرو د نصاب طرفته کړي . ځکه چې د سپينو زرو د نصاب زکوة په نسبت د وزو او مېږو د نصاب تر زکوة ډېر کم وي . او که قرض دومره ډېر ؤ چې د يو شي نصاب د هغه لپاره نه پوره کېدو ، نو بيا چې د هر څو شيانوپه نصابو سره د هغه اداء

کېدای شوای له هغومرو څخه دې اداء کړي. او بيا دي د هغوټولو زکوة نه ورکوي .(علم الفقه: ۴ج ۱۸مخ)

لسم : داچې هغه مال به د هغه له ضرورت اصلي څخه زيات وي د کوم چې هغه زکوة اداء کوي هغه څه چې د اصلي ضرورتونو لپاره دي په هغو شيانو باندې زکوة نشته. نو د دغې مسئلې له مخې د اغوستلو په جامو ،په هغه کور چې پکې اوسېږي ، په غلامانو او د سوارلۍ په اسانو او کور په سامانونو باندې زکوة نشته – همدارنګه په هغو کتابونو هم زکوة نشته چې د تجارت لپاره نه وي ، هغه که له عالم سره وي او که له جاهل سره او د کارګرانو په لوښيو او سامانونو لکه تبر ، ترښخ او داسې نورو هم زکوة نشته ، هغه که کارګرته ګټه رسونکي وي او کنه . او په هغو روپو باندې هم زکوة نشته چې د اصلي ضرورتونو لپاره ساتلي شوې وي خو په دې شرط چې هغه ضرورت به په همدغه کال کې پېښېدونکی وي او که هغه ضرورت په دغه کال کې نه بلکه په راتلونکي کال کې ؤ ، نو بيا په هغوروپو باندې هم زکوة فرض دي. (ردالمحتار)

يوولسم : دا چې مال به يې پخپل يا د خپل وکيل په واک کې وي. کوم مال چې په ملک او قبضه د چا کې نه وي ، يا يې په ملک کې وي خو په قبضه کې نه وي ، نو زکوة يې ورباندې نشته –نو د همدې مسئلې له مخې په هغه مال چې مکاتب غلام ګټلی دي زکوة نشته نه په غلام باندې اونه په بادار باندې ، ځکه چې هغه مال د مکاتب غلام په قبضه کې خو ده ، خو د هغه ملک نه دی ، او د بادار بيا په ملک کې دی خو په قبضه کې نه دي – همدا رنګه د مأذون غلام په ګټل شوي مال کې هم زکوة نشته – او په ګرو شوي شي زکوة هم نه په ګروي

اخیستونکي باندې شته او نه په ګروي ورکونکي باندې ځکه چې ګروي اخستونکی د هغه شي خاوند نه ،بلکه قابض (قبضه کونکی) دي ؛ او ګروکونکی د هغه شي قابض نه ،بلکه د هغه مالک دي . همدا رنګه هغه مال چې څه مده ورک ؤ بیا وروستو پیدا شو نو ترکومه وخته چې ورک وي د هغه وخت زکوة ورباندې نشته ځکه چې تر هغه وخته یې په قبضه کې نه ؤ همدا رنګه که مال په دریاب کې ډوب شوی ؤ او څه زمانه وروستو را وایستل شو ، نو د هغې زمانې زکوة فرض نه دی کوم چې هغه په اوبو کې ؤ - یو چا مال په ځنګل کې خښ کړی ؤ او ځای یې ورځخه ورک شو . څه مده رورستو هغه ځای ورته معلوم شو ،نو د هغې زمانې زکوة ورباندې فرض نه دی چې هغه پکې ورک ؤ ؛ خو که با چا پخپل کور کې مال (لکه روپۍ،سره او سپین زر او داسې نور) خښ کړي ؤ او بیا یې څه زمانه ځای ورک ،او وروستو پیدا شو ،نو د ورکوالي د زمانې زکوة ورباندې فرض دی ځکه چې دغه مال د هغه له قبضې څخه نه دی وتلی . دغه رنګه یو چاخپل مال له بل چاسره امانت ایښی ؤ او ورنه هېر ؤ چې ما خپل مال چاته امانت ورکړی دي . بیا وروستو ورمغلوم شو ؛ نو د هېرېدلو د زمانې زکوة ورباندې په دې شرط فرض نه دی چې هغه سړی به (چې امانت ورته ایښودل شوی دي) پر دی (ناشناخته) وي . او که داسې یو څوک ؤ چې د امانت ورکونکي ښه شناخته ؤ نو بیا د ورکوالي د زمانې زکوة هم فرض دي . همدا رنګه یو چابل چاته قرض ورکړل او قرض اخیستونکي په داسې حال کې انکار وکړ چې هېڅ یو شاهد او خط د قرضوپه ورکولو نه ؤ ، بیا څه زمانه وروستو هغه ومنل چې د فلاني پر مابانديې قرض شته ، نو د انکار د زمانې زکوة اداء کول

فرض نه دي. لنډه دا چې کله مال د چا له ملکیت او قبضې څخه وتلی وي ، نو زکوة يې هم ورباندې نشته. د زکوة فرض کېدلو لپاره دا شرط دي چې زکوة ورکونکی به د دغه مال مالک هم وي او قابض به هم وي.

دوولسم : دا چې له دغو دروصفتو څخه به ضروريو صفت په دغه مال کې وي (۱) نقدیت (۲) زیادت. (۳) نیت د تجارت.

په سپینو او سرو زرو کې نقدیت موجود يږي ، نو ځکه خو په هر حال په هغو باندې زکوة فرض دي. که نیت د تجارت يې پکې کړی وي او کنه او که هغه (سره یا سپین زر) د سکې په ډول وي او که په کوم بل ډول لکه ګېڼه یا لوښي او داسې نور. او مال چې هر څومره د لوړ قیمت وي که پکې د تجارت نیت شوی وي ، نو زکوة اداء کول يې فرض دي او که دغه نیت نه وي نو بیا نشته د تجارت نیت کول د اخیستلو پر وخت پکار دی. که له اخستلو وروستو بیا د تجارت نیت کوي نو هغه تر هغه وخته د اعتبار ورنه دی تر څو د تجارت په کولو پیل وشي – او که کوم مال د تجارت لپاره اخستل شوی ؤ او له اخستلو وروستو بیا دغه نیت ختم شو ، نو هغه مال بیا د تجارت نه دی او زکوة ورباندې نشته – او که په دوهم ځل يې بیا د تجارت نیت وکړ، ن ترهغه وخته يې دغه نیت د اعتبار وړ نه دي تر څو چې هغه خرڅ نکړي.

دیارلسم : دا چې په دغه مال کې به د بل چا حق لکه عشر او مالیه واجب نه وي. که په دغه مال کې عشر یا مالیه وه ، نو بیا پرې زکوة نشته ځکه چې دوه حقونه په یو مال باندې نه فرض کېږي (علم الفقه ۴ج ۲۱ مخ)

د زکوة د اداء کېدلو شرطونه :

د دې لپاره چې د زکوة ورکونکي زکوة اداء شي (۲) شپږ شرطونه دي:

(۱) مسلماني : کافر ته له خپله ماله څخه زکوة ایستل صحیح نه دي.
که یو کافر څوکاله مخکی لاد راتلونکو کلو نو زکوة اداء کړ او بیا
وروستو مسلمان شو ،نو مخته ورکړل شوی زکوة یې صحیح نه دي ،
وروستو له اسلام راوړلو به بیا زکوة اداء کي -
(۲) دوهم دا چې زکوة ورکونکی به عاقل وي . که لیوني یابل داسې
چا چې عقل یې خراب ؤ زکوة ورکړ ،نوزکوة یې نه دی اداء شوی -
(۳) دریيم : دا چې فقیرته د زکوة ورکولو پر وخت د زکوة نیت کول ؛
یعنې په زړه کې د دې نیت کول چې په ماباندې د دومره مال ورکول
فرض ؤ ،نو دادی زه یې د الله ﷻ د خوشحالۍ او رضاء لپاره فقیر ته
ورکوم . که یو چاوروستو له زکوة ورکولو څخه د زکوة نیت په داسې
حال کې وکړچې لا هغه مال له فقیر سره ؤ نو هم نیت یې صحیح کېږي
او که مال د فقیر له لاسه څخه وتلی ؤ ،نو بیا یې په نیت کولو سره
زکوة نه صحیح کېږي او دوباره به بیا زکوة ورکوي - که یو چا له خپل
مال څخه د زکوة مال جلا کړ او د جلاکېدلو پر وخت یې پکې د زکوة
نیت وکړ نودغه نیت یې کافی دی ، لازمه نه ده چې فقیرته د
ورکولوپروخت به بیا د زکوة نیت کوي -
(۵) پنځم : داچې هغه څوک چې زکوة ورته ورکول کېږي هغه به د دغه
مال پوره مالک گرزول کېږي .که یو چا څه پاخه کړل او فقیران یې
خپل کورته راوبلل او هغه یې ورباندې وخوړل او نیت یې پکې د
زکوة کړی ؤ نو زکوة یې نه دي اداء شوی. خو که هغه پاخه شوي شیان
فقیرته په داسې ډول په واک کې ورکړل شو چې هغه یې مالک شو او
فقیر یې د هر ډول واک او تصرف خاوند شو ،نو بیا زکوة اداء شوی دي.
(۶) شپږم : دا چې د زکوة مال به داسې چاته ورکوي چې مستحق وي . (علم الفقه ۳ ج ۳ مخ)

د زکوة د مال ضائع کېدلو حکم:

که په چا زکوة واجب شو . خو بيايې مال ضائع شو ،(نو سره له دې چې د زکوة د ورکولو وخت هم راغلی وي او د وخت دواکمن له خواورنه د زکوة غوښتنه هم شوې وي (خو په څه وجه يې ورکړی نه وي) د زکوة فرضيت ورنه ختم شو - خو که پخپله يې ضائع کړي ؤ ،نوبيا د هغه مال زکوة اداء کول ورته ضروري دي ، د مثال په ډول يوچاڅارويو ته وابنه او اوبه نه ورکولې نو څکه هغه مړه شول ،نو زکوة ورکول يې د هغه په ذمه پاته دي. که يو چا بل چاته قرض ورکړل او يا چاپه خواست ورنه د څه وخت لپاره څه دغوښتل او هغه ورکړل او ضائع شول ،نو دا په قصدي ضائع کولو کې نه راځي او زکوة يې هم له ضائع کېدلو سره ساقطږي. (علم الفقه ۴ ج ۲۹مخ و عالمگيري۲ج۴۰مخ)

په بې هوښه باندې د زکوة حکم:

مسئله : که يو څوک بې هوښه ؤ که څه هم پوره يوکال يې بې هوښي دوام کړی وي زکوة ورباندې په دې شرط واجب دی چې خاوند دنصاب به وي . (فتاوي عالمگيري ۴ج ۲مخ)

د ماشوم ، او لېوني د زکوة حکم:

مسئله : د شرعي نابالغ په مال کې زکوة واجب نه دي او د ماشوم غير مکلفيت په نص (د خدای ﷻ په قطعي حکم) سره ثابت دي او د لمانځه ،روژې او حج او نورو عبادتونونه وجوب پر هغه باندې دا هم يو دليل د زکوة دنه واجبېدلو دی. (فتاوي دار العلوم ۲ج ۲۳مخ)

مسئله : په حنفي مذهب کې په نابالغ او لېوني باندې زکوة واجب نه دی. لهذا د هغو له سرپرستانو څخه هم دغه مال د زکوة نشي غوښتل

کېدای ځکه چې دا صرف یو عبادت دی او ماشوم او لیونی د عبادت د حکم له خطابه وتلي دي – مګر د هغوله ماله څخه قرض او نفقه (مصرف د خوراک څښال پوښاک او د اسې نور) اداء کول واجب دي. همدا رنګه په دوارو باندې د ځمکې د محصول (پیداوار) لسمه برخه ، او سرسایه اداء کول هم واجب دي ، ځکه چې دغه له حقوق العباد (د بندګانو له حق) څخه شمېرل کېږي. او د لیوني په مال کې هم د ماشوم په څېر زکوة نشته. (الفقه علي مذاهب اربعه۱ج۹۲۰مخ. فقه الزکوة۱ج۱۴۲مخ)

مسئله : دنابالغو په هغه مالو کې چې د امانت په ډول یې له سرپرستانو سره پراته وي زکوة واجب نه دي. (فتاوي دار العلوم۶ج۷۳مخ. طحطاوي۱ج۳۸۹مخ)

مسئله : پر بالغانو باندې زکوة واجب دي او د بلوغ علامې نن صبا هر چا ته معلومې دي ، خو که کوم هلک یا نجلۍ چې د پنځلس کلنۍ عمرته ورسېدل ، او بیا هم د بلوغ څه علامه پکې ښکاره نشوه ، نو د پنځلس کلنۍ په وجه هغه بالغ بلل کېږي (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۴۴مخ)

د زکوة د وجوب لپاره هجري کال باید وشمېرل شي که عیسوي ؟

د پوره کال تېرېدلو مطلب دا دي چې زکوة تر هغه وخته پورې واجب نه وي تر څوله چاسره د هغه مال چې حد دنصاب ته رسېدلی وي یو کال پوره شوی نه وي. او له کال څخه مراد د سپوږمیځو میاشتو د کال حساب دي – انګرېزی کال د اعتبار ورنه دی ځکه چې په سپوږمیځ حساب کال درې سوه څلورپنځوس (۳۵۴ ورځې) کېږي ، او لمریزکال کله (۳۶۵) ورځې وي او کله لاتر دې هم یوه ورځ زیاته دي -(کتاب الفقه۱ج۹۹۴مخ)

مسئله : د زکوة په اداء کولو کې سپوږمیځ کال د اعتبار وړ دي . لمریزته اعتبار نشته. اول خو باید د سپوږمیځ کال په اعتبار اداء شي . او که یې د لمریز کال په اعتبار اداء کوي ، نو حتماًباید د لسو ورځو زیاتوزکوة اداء کړي (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۲ خ. وفتاوي عالمګیري ۴ج ۱۳مخ)

مسئله : د زکوة د حساب لپاره تاریخ معتبر دي ، په کوم تاریخ چې کال پوره کیږي په همهغه تاریخ باندي زکوة واجبیږي : زکوة چې هر وخت اداء کوي خو اعتبار د هغه تاریخ د وجوب دي – په راتلونکي کال کې هم په دغه تایخ زکوة واجبیږي په کوم تاریخ چې تیر کال واجب شوی ؤ. (فتاوي دار العلوم ۲ج ۷۵ مخ په حواله دمشکوة ۱۵۷)

مسئله اصلي حکم دادي چې په کوم تاریخ ته دنصاب خاوند شوي ئي ،نویو کال وروستو په هغه تاریخ په تاباندي زکوة فرض کیږي – او تر وخت پوره کیدو مخکې هم زکوة ورکول روادی او ورستووالی ئي هم روادي که تر مقرر تاریخ څه مخکې یا وروستو شي نو هم څه منغه نشته پکې. (آپ کي مسلنل ۳ ج ۳۶۸مخ - عالمکیري ۴ ج ۵ مخ)

د زکوة د کال شمارلو اصول :

په کوم تاریخ چې یو څوک د نصاب د اندازې د مال خاوند ګرزیدلی وي له هغه تاریخ څخه د سپوږمیځ کال په حساب د پوره کال په جریان کې چې څومره مال د هغه په ملکیت کې وي د هغه زکوة درباندې واجب دی. (آپ کي مسائل . ۳ ج ۳۶۷مخ)

مسئله : د شریعت مسئله دا ده چې د کال په هره میاشت کې چې په کوم تاریخ څوک د نصاب خاوند شي ،نو د یو کال تیریدلو وروستو

په دغه میاشت او دغه تاریخ ورباندې زکوة واجبیږي او دغه وخت یې اداء هم لازمیږي – (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۲۸ مخ)

که د نصاب له خاوند څخه وخت هېرؤ ؟

تاسو چې د سپوږمیځي میاشتي په هره نېټه د نصاب خاوندان شوي یاست د تل لپاره باید هغه نېټه د زکوة د حساب لپاره ټاکلي وي – په دغه تاریخ کې چې لتاسو سره د سپینو او سرو زرو ، د تجارت له مال څخه او نغدي هر څومره مال موجودي وي (که څه هم تر کال پوره کېدلویوه رځ له مخه مولاس ته درغلي وي) په هغو ټولو زکوة واجب دي – د زکوة حساب به همېشه په دغه نېټه کوئ خو که څه هم ژر اداء کول یې بهتر دي خو بیاهم دهغه خوښه ده چې ژرېې اداء کوي که ناوخته ، په مرګ باندې هېڅ باور نشته. که له یو چاسره د کال په منځ کې د پوره نصاب مال نهؤ خو چې د نصاب د پوره کېدلو د کال پای رارسېدو هغه بیا د نصاب خاوند شو ،نو هم زکوة ورباندې فرض دي او که په منځ د کال کې یې مال بالکل ختم شو ، نو بیا به د بل نصاب له خاوند کېدلو وروستو د زکوة کال پیل کوي – که چاته په سپوږمیځ کال کې هغه تاریخ یاد نهؤ چې هغه پکې د نصاب خاوند شوی دي ، نو له ژور فکر وروستو چې په کوم تاریخ د هغه غالب ګمان راغی له هغې ورځې دې د زکوة کال پیل کړي. (احسن الفتاوي ۴ ج ۴۵۵ مخ)

د کال پای ته رسېدل :

مسئله : هروخت چې د نصاب د خاوند کېدوله ورځې سپوږمیځ کال پای ته ورسېدو ،نو زکوة واجب شو ؛ د مثال په ډول یو څوک په اول د شعبان (برات) په اول دنصاب خاوندشو نودراتلونکي کال دشعبان

په اول چې له هغه سره هر څومره مال دي په هغه باندې زکوة فرض شو که څه هم داسې مال پکې ګډوي چې تر کال پوره کېدلو دوه ورځې یا دوه میاشتې ترمخه د هغه لاس ته ورغلی وي - لنډه داچې کوم مال چې د کال په منځ کې هغه ته راځي نو د راتلو له ورځې به یې کال نه پیل کوي بلکه د نصاب د پیل شوي کال له پوره کېدو سره به یې زکوة اداء کېږي- (آپ کې مسائل ۳ ج ۳۷۳مخ)

د تېرکال د زکوة نه اداء کولو په صورت کې به بل کال له څه وخته پیلوي ؟

پوښتنه : د تېر کال زکوة یې لا اداء کړې نه ؤ ،بل کال شروع شو ، نو د نوي کال حساب به په څه ډول کوي ؟

ځواب: په کوم نېټه چې اول کال پوره شوی دي په هغې نېټه باندې په هغه مال باندې د تېر کال زکوة فرض کېږي او له راتلونکې ورځې څخه دا روان کال پیل کېږي - (آپ کی مسائل ۳ ج ۳۷۸مخ)

ایا زکوة باید په رمضان کې اداء کړل شي ؟

مسئله : هر وخت چې د مال کال پوره شي نو زکوة ورکول یې بهتر دي ، او په هره میاشت کې کولای شئ چې زکوة اداء کړئ . د رمضان المبارک میاشت د دې لپاره څه خاصیت نه لري - خو که د چا د نصاب کال د روژې په میاشت کې پوره شو ، نو هغه دې په روژه کې زکوة اداء کړي. خو دا خبره شته چې د رمضان په میاشت کې زکوة اداء کول تر نورو میاشتو اویا (۷۰) ځله زیات ثواب لري. (فتاوي دارالعلوم ۲ج ۱۰۰مخ)

مسئله : د زکوة اداء کولو لپاره کومه خاصه میاشت یاورځ نشته البته بعض داسې میاشتې او ورځې شته چې د زکوة د ثواب په

زياتوالی اثر ولري. خو ښه داده چې په کومه مياشت کې چې فرض شوی دی په هغې کې بايد ادا ء هم شي. او دراتلونکي لپاره هم دغه مياشت مقرره کړای شي. (فتاوي دارالعلوم ۲ ج ۷۲خ بحواله شامي ۲ ج ۱۵مخ)

تر رمضان پورې د زکوة ځنډول څنګه دي ؟

مسئله : د زکوة په اداکولو کې د غلطېدلو يو ډول داسې دي چې د ډېرو خلکو دا عادت وي چې په رمضان المبارک کې زکوة اداء کوي ځکه چې دوی وايي چې په رمضان المبارک کې ديو فرض ثواب له اويا فرضو سره برابر وي او بيا په هر رمضان کې د حساب دغه سلسله جاري ساتي ، نو بيا کله داسې وي چې کوم کال د نصاب د خاوندکېدلوله وخته پيل شوی وي هغه تر رمضان المبارک دوه يادرې مياشتې له مخه پای ته رسېدلی وي ،نو هغه سرې د کال د ختمېدلو څخه ، د زکوة تر اداء کولو پورې ورځو زکوة هم اداء کړي اوبيا د راتلونکی وخت لپاره له يوه رمضان څخه بيا تر بل رمضان پورې سلسله جاري وساتي – او کله بيا داسې وي چې له رمضان المبارک څخه درې څلور مياشتې وروستو کال ختمېږي ، نو هغه د رمضان المبارک په مياشت کېد دزکوة په ايستلو سره داسې فکر کوي چې ژرمې له زکوة څخه غاړې خلاصې کړې ، مګر په دې کې غلطي دا ده چې دغه سړی چې په رمضان المبارک کې زکوة باسي هغه دهغه مال زکوة باسي چې دا وخت له هغه سره موجود دي ، او حال دا دی چې امکان شته چې څومياشتې وروستو چې د نصاب کال پوره کېږي مال تر دې زيات وي او په هغه زيات مال خو هم زکوة واجب دي . او د هغه چا زکوة چې کال د نصاب يې تر رمضان څو

مياشتي له مخه پوره کېږي (،خو هغه په رمضان المبارک کې زکوة اداء کوي) په داسې ډول غلطېږي چې که فرض کړو د نصاب کال د شعبان په اوله پوره شو هغه وخت له زکوة ورکونکی سره (۱۰۰۰) زر روپۍ وي چې زکوة يې (۲۵) روپۍ کېږي – او کله چې هغه زکوة اداء کوي ،نو د رمضان مياشت ده او له هغه سره اته سوه (۸۰۰) روپۍ دي چې پکې (۲۰) روپۍ زکوة کېږي نو دغه سړی په روژه کې (۲۰) روپۍ زکوة ورکړي ، نو پنځه روپۍ د هغه په ذمه پاته شوې دغه رنګه په دواړو ډولونو کې د هر کال په ختمېدلو سره دغه امکان شته.

که داسې فرض کړو چې پنځه کاله د (۵) روپو پاته کېدل جاري وي ،نو دابه داسې شي چې په پنځو کال کې يې د څلورو کلونو زکوة اداء کړي وي ،او ديو کال زکوة به ورباندې پاته وي نو ځکه داضروري ده چې کله د نصاب کال پوره شي نو خپل ټول مال ته دې حساب وکړي او د زکوة اندازه دې ورسره وليکي ؛ نو بيا ،که له هغه د نصاب کال له رمضان څخه له مخه پوره کېدو ، نو په رمضان کې دې د هغه تېر حساب له قراره زکوة ورکړي . اوکه له رمضان څخه وروستو د نصاب کال پوره کېدو ،نو بيا دې د زکوة هغه اندازه چې په روژه کې يې اداء کړې ده ورسره وليکي هر وخت چې کال پوره شو نو بيادې زکوة ته حساب وکړي که نور زکوة هم پاته ؤ هغه دې اداء کړي او که زيات يې ورکړی ؤ ،نو هغه دې د راروان کال په زکوة کې شمار کړي.(امداد مسائل زکوة له ۳۴ مخ څخه تر ۳۷ پورې)

د زکوة پخوانی نصاب او نوی وزنونه :

مسئله : د سپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه دي چې د وزن په اندازه دوه پنځوس نيمې (۵۰/ ۵۲) تولې کېږي – او د سرور زرو نصاب اوه

نیمې تولې سره زر دي. او که ګېنه د دوارو ډوله زرو وه نو بیا دې اول د سروزرو قیمت معلوم کړي او بیا دې هغه د سپینو زرو قیمت ته ورګډ کړي او بیا دې زکوة اداء کړي ، او په زکوة کې څلوېښتمه حصه ورکول واجب دي. (فتاوي دارالعلوم ٦ج ٤٣مخ)

مسئله : د سرو زرو نصاب اوه نیمې (٥٠ / ٧) تولې سره زر دي . چې دوزن اندازه يې اوه اتيا ګرامه او څلور سوه نه اويا ملي ګرامه (٨٧ ګرامه ٤٧٩ ملي ګرامه) کېږي – دا د هغه چالپاره چې ورسره صرف سره زروي. سپين زر ، د تجارت مال او نقدي روپۍ ورسره نه وي – همدا رنګه د سپینو زرو نصاب دوه پنځوس نیمې تولې دي چې د وزن اندازه يې شپږسوه دولس ګرامه او پنځه دېرش ملي ګرامه (٦١٢ ګرام ،٣٥ ملي ګرامه) کېږي – او داهم په هغه صورت کې چې صرف سپين زر وي او سره زر او د تجارت مال او نغدي روپۍ نه وي ، او که سرو او سپینو زرو سره نور د زکوة مال هم وي نو بیا دې تول قیمت کړل شي ، که تول د سرو زرو د (٨٧ ګرام او ٤٧٩ ملي ګرام) له قیمت سره ، یا د سپینو زرو د (٦١٢ ګرام او ٣٥ ملي ګرام) له قیمت سره برابر شو نو زکوة وربانديې فرض دي. (احسن الفتاوي ٤ج ٢٥٤مخ ، فقه الزكوة ١ج ٢٠١ مخ)

د زکوة کوم نصاب د اعتبار وړ دي ؟

مسئله : د سپینو زرو نصاب (چې زکوة وربانديې شته) دوه پنځوس نیمې تولې دی چې (٦١٢ ګرامه او ٣٥ ملي ګرامه) کېږي – ځکه چې په شریعت کې له دراهمو څخه وزن سبعه معتبر دي چې تصریح يې د فقهې د علماؤ په کتابو کې پیداکولای شي او وزن سبعه دېته ویل کېږي چې لس درهمه له اوو(٧) مثقالو سره برابردي او د يو مثقال

مشهور وزن څلورنیمي ماشې دي څرنګه چې د دې تصریح دېر ځایه
سه او لویو علماؤ دغه غوره بللې ده ، نو دوه سوه درهمه (۲۳۰)
ماشې کېږي او که هغه په (۱۲) تقسیم کړو نو خارج قسمت به یې
(۵۲نیمي) شي او دا دفقهي نصاب دي. (فتاوی دارالعلوم ج۶ص۷۹ په حواله رد المحتار ج۲ص۳۸)

د نصاب ، معنی څه ده ؟

نصاب د مال هغې خاصې اندازې ته ویل کېږي چې ورباندې شریعت زکوة فرض کړی دي د مثال په ډول په اوښانو کې د پنځواو پنځه ویشت عددونه اوپه وزوکي د څلوېښتو او یوسل یوویشت (۱۲۱) او نورو عددونه او سپینو زرولپاره دوه سوه درهمه او د سروزرو لپاره شل مثقاله. (عالمګیري ۴ج ۷مخ)

سپین زر د زکوة دمعیار ګرزولو وجه :

پوښتنه : په عام ډول چې مااورېدلي دي د زکوة لپاره شرطي نصاب (۵۲نیمي) تولې یا (۷نیم) تولې سره زر اویا دهغو د قیمت برابري ده ، نو پوښتنه دا ده چې که له یو چاسره نه سپین او نه سره زر وو صرف پنځه زره روپۍ ورسره وې ، نو هغه به په کوم نصاب عمل کوي – د سرو زرو په نصاب ، او که د سپینو زرو ؟

ځواب : ستا د پوښتنې په اړه په څو خبرو باندې پوهېدل ضروري دي . اول دا چې په کوم مال کې د څومره اندازې اداء کول واجب دي ؟او په کوم مال کې په څومره نصاب باندې زکوة واجبېږي ؟ دا خبري صرف په عقل اوقیاس سره نشي معلومولای بلکه د حضور (صلی الله علیه وسلم) ارشاداتو ته پکې رجوع کول ضروري دي – او دا لازمه ده چې حضور (صلی الله علیه وسلم) د کوم مال لپاره په څه ډول

نصاب تاکلی وي په هغه ډول اداء کړل شي او په هغه کې د لمانځه په
څېر دردولو او بدلولو گنجايش نشته-

دوهم: دا چې حضور (صلی الله عليه وسلم) د سپينو زرو کوم نصاب
(دوه سوه درهمه) او د سرو زرو نصاب(يو مثقال) مقرر کړي دي په
هغو کې د بدلون راوستل زمونږ حق نه دي . که د حضور(صلی الله
عليه وسلم) د زمانې او اوس د سرو او سپينو زرو تر منځ د قيمتونو
تناسب په ځای پاته وي اوکه نه وي لکه څرنگه چې د سهار د دؤو
رکعتونو پرځای څلور ، او د ماښام د دروورکعتونو پر ځای دوه يا
څلور رکعته کول زمونږ د خوښې کار نه دي.

دريیم: دا چې که له چاسره نغدی روپۍ وي او يا ورسره د تجارت
مال وي ، نو معلومه خبره ده چې د هغولپاره به له سپينو او سرو څخه
يو د نصاب لپاره معيار گرزوي. او پاته شوه دا خبره چې د سپينو زرو
نصاب به معيار گرزوي اوکه د سرو زرو ؟ د دې په اړه د امت حقيقي
فقها ؤ حکما ؤ دا فيصله کړې ده چې له دې دواړو څخه چې د هر يوه
سره نصاب پوره کېږي هغه به معيار گرزوي د مثال په ډول د سرو زرو
په قيمت نصاب . نه پوره کېدو نو د سپينو زرو حساب دې ورته
ولگوي ، او د دې دوه وجې دي ، او دا چې زکوة د دې لپاره دی چې
فقيرانو ته ورنه گټه ورسېږي او دوهم دا چې په هغه کې احتياط
زيات دی کله چې نقدي د سپينو زرو له نصاب سره پوره کېږي او
دوهم د سرو زرو سره نصاب نه پوره کېږي ، نو په دغسې حالت کې به
د احتياط تقاضا دا وي چې له هر يو نصاب سره پوره کېږي ، نو هغه
دې معتبر وگڼل شي.(آپ کی مسائل اوران کاحل ۳ج ۳۵۲ مخ)

که چاته دا معلومه نه وه چې څه وخت د نصاب خاوند شوی یم ؟

مسئله : که چا ته دا معلومه نه وه چې څه وخت د نصاب مالک گرزېدلی یم ، نو د غالب گمان په بنیاد دې فیصله وکړي یعنې هغه دې فکر وکړي چې په هر وخت یې د نصاب پوره کېدلو غالب گمان راغی له هغه وخته دې د زکوٰة کلونه پیل کړي – په غالب گمان جوړولو کې باید له ژور فکر او یا له نښانو د وخت څخه کار واخستل شي . او احتیاط په دې کې د ی چې د څه وخت دي زیات زکوٰة اداء کړل شي ، د مثال په ډول که غالب یقین یې په دوه نیم کاله ؤ ،نو د دریو (۳) کلو زکوٰة دي اداء کړي – همدا رنگه چې څومره زیادت کېږي هغو مره ثواب هم زیاتېږي.او د کموالي په صورت کې د عتاب وېره شته . (فتاوي دارالعلوم ۶ج ۴۴ خ بحواله درمختار ۲ج ۶مخ)

د غفلت په وجه د زکوٰة نه ورکونکي حکم :

مسئله : که د نصاب خاوند د غفلت په وجه د یو کال زکوٰة اداء نکړ ، نو بل کال به د تېر او روان ، دواړو کلوزکوٰة اداء کوي ؛ اداء به یې په داسې ډول کوي چې هر څومره روپۍ ، مال او نور د هغوزکوٰة دي له هغه قراره اداء کړي. او د روان کال چې هر څومره روپۍ ، مال او نور وي ، د هغو زکوٰة دی له خپله قراره اداء کړي .(فتاوي دارالعلوم ۶ج ۴۵ مخ بحواله درمختار ۲ج ۹ مخ

د نصاب خاوند چې د کال په منځ کې مال پیدا کړي ....

پوښتنه : له ماسره په کال کې څه روپۍ وې چې په چلند کې مې اچولې وې ، د کمکي اختر له میاشتې څخه بیا تر رجب پورې لس زره روپۍ له ماسره گټېه پاته شوه ، او په رجب کې تېوله آمدني (۳۵) زره روپۍ شوه ، نو ایا زه به د رمضان المبارک په میاشت کې د هغه لس زره

روپو زکوة اداء کوم او که به له (۳۵) زرو څخه هم زکوة باسم حال دادي چې د (۳۵) زرو روپو صرف درې میاشتې وتلې دي؟

ځواب : کله چې یو څوک د نصاب خاوند شو ، نو د هغه په نصاب باندې د کال تېرېدلو په بهیر کې چې هرڅومره سرمایه د هغه ترملکیت او قبضې لاندې راغلې ده په هغې ټوله باندې زکوة فرض دي – د سرمایې په هره هره برخه باندې جلاجلا کال تېرېدل شرط نه دي – نو ځکه په رمضان المبارک کې د هغې ټولې سرمایې زکوة په تاباندې واجب دي کومه چې هغه وخت لتا سره ده . (آپ کې مسائل ۳ ج ۳۵۲ مخ و [illegible])

په نغدو روپوکې د زکوة نصاب .

پوښتنه : که له یو چاسره د سرو اوسپینو زرو تاکلی نصاب نه وُ ، نو زمونږ په زمانه کې چې څومره نغدې روپۍ له یو چاسره وي ، نو زکوة پرې واجب دي ؟

ځواب : په دومره روپو باندې زکوة فرض دي چې ورباندې (۵۲ نیمې) تولې سپین زر اخستل کېدای شي د دومره اندازې نغدو روپو خاوند به د نصاب مالک بلل کېږي – او زکوة د مال څلوېښتمه برخه ایستل دي . (بهشتي زیور ۳ ج ۲۳ مخ بحواله درمختار ۱ ج ۱۳۴ . فتاوي رحیمیه ۳ ج ۳۱ . فتاوي محمودیه ۲ ج ۵۰ مخ)

له نغدو روپوسره په ګډه تر نصاب د کمو سروزرو حکم :

پوښتنه : که له یو چاسره (۲۸) زره روپۍ او شپږ تولې سره زر وُ ، نو د هغو سرو زرو به هم زکوة اداء کوي ، که صرف د نغدو روپو ؟

ځواب : په دغه صورت کې پر سرو زرو هم زکوة واجب دي ، په هغه ورځ چې د نصاب کال پوره شي د سرو زرو چې کوم قیمت دي له هغه

حسابه دي شپږ تولې سره زر هم په روپو کې ورگډ کړي او بیا دې ورنه زکوة وباسي -(آپ کي مسائل ۳ج ۳۵۲مخ)

سره زر چې تر نصاب کم وي :

مسئله : که له یو چاسره صرف سره زر ؤ هغه هم تر نصاب کم. نور څه لکه سپین زر نغدي روپۍ او بل داسې شی (چې زکوة ورباندې کېږي) نه ؤ ، نو تر (۷انیم) تولې (۸۷گرام . ۴۷۹ ملي گرا م) کم سرو زرو باندې زکوة نشته -(آپ کي مسائل ۳ ج ۳۵۹ مخ)

تر نصاب دکمو سرو اوسپینو زرو حکم

پوښتنه : له یوې مېرمنې سره گېڼه ده چې لږه د سرو زرو ده او لږه د سپینو زرو ، مگر دواړه تر خپلو نصابونو کم دي. نو د زکوة حکم یې څنگه دی ؟

ځواب : په دغه صورت کې د حساب په لگولو سره زکوة واجب دي. د مثال په ډول سره زر دې په قیمت کړي او بیا دې په سپینو زرو ورگډ کړي او بیا دې تولہ مجموعه وگوري که ورباندې د سپینو زرو نصاب پوره کېدو ،نو بیا زکوة واجب دي. (فتاوی دارالعلوم۲ج ۱۲۳مخ بحواله بحر الرائق ۲ج ۲۳۰مخ) یعنې د سروزرو قیمت دې وگوري که د هغو قیمت دوه پنځوس تولې د سپینو زرو کېدای شوای نو زکوة واجب دي.

(محمد رفعت قاسمي)

دیوشي دقیمت د لوړوالي په وجه نصاب ته د رسېدلو حکم

مسئله : که له یو چاسره د تجارت مال ؤ خو قیمت یې تر نصاب کم ؤ. څو ورځې وروستو یې قیمت لوړ شو او حد دنصاب ته ورسېدو ، نو

له کوم وخت څخه چې هغه حد د نصاب ته رسېدلی وي له هغه وخته به د نصاب کال پیل کوي.

مسئله : د هر څه ګټه چې ورنه د کال په دننه کې ترلاسه شوې وي ، هغه به د اصل سره ګډېږي او په اخیرکال کې چې د اصل زکوة ورکول کېږي د هغې ګټې به هم زکوة اداءکوي که څه هم وربانديې پوره کال نه وي تېر شوي. (علم الفقه ۴ج ۳۰مخ)

د دوؤ نصابونو حکم:

که له یو چاسره په داسې ډول د یو مال دوه نصابونه ؤ چې یو له بل سره نشوای ګډېدای ، د مثال په ډول د هغو څارویو روپۍ ورسره وې چې زکوة ئې ورکړی ؤ ؛ او څه روپۍ نورې وې بیا هغه ته له بل ځایه څه روپۍ نوري راغلې ، نو دغه روپۍ به له هغو روپو سره ګډوي د کومو چې کال ختم شوی دي یعنې که دوزو د قیمت د روپو کال مخته پوره شوی وي نو دغه روپۍ به له هغوسره ګډوي ، او که د دغو نورو روپو کال مخته پوره شوی ؤ نو بیا به یې له هغوسره ګډوي. (علم الفقه ۳ج۳۱مخ)

د نصاب د خاوند بې اجازې زکوة وراخستل:

مسئله : په یو چا باندې زکوة واجب ؤ ، مګر هغه ایستلی نه ؤ. نو محتاج ته د دې اجازت نشته چې بې له اجازې د مالک څخه د هغه له مال څخه د زکوة په نیت څه شی ور واخلي. که یو محتاج په داسې کار لاس پورې کړي . نو د مال خاوند ته دا حق شته چې واپس ورنه خپل مال واخلي که له هغه فقیر سره موجود وي : او که موجود نه وي نو فقیر به د هغه ضامن وي. (فتاوي عالمګیري ۴ج ۲۸ مخ)

د نصاب له خاوند څخه په زور زکوة وړل :

مسئله :که د کوم ځای مشران زکوة ، د قرباني پوستوکي او د سرسايې روپۍ جبرا له چا څخه اخلي ، نو دا کار هغوته روا نه دي.

(فتاوي دارالعلوم ۲ج ۲۸۲ مخ بحواله درمختار ۲ج ۴۲ ،فتاوی محمودیه ۱۱ج ۱۴۵مخ)

بعض ځايونه دا دستور او د خلکو تر منځ يو قانون وي چې د يوې کمېټې يا د کلي مشران او نور د نصاب له خاوند څخه په زور باندې زکوة اخلي او بيا يې تقسيم کوي ، او په شريعت کې داسې کول روا نه دي ، ځکه چې په زکوة کې نيت شرط دي او په دغه صورت کې د زکوة نيت هېڅ نه کېږي -(محمد رفعت قاسمي رح)

ضرورت اصليه څه ته وايي ؟

مسئله : کوم مال چې له يو چاسره وي نو هغه به د هغه له حاجت اصلي يعنې د ژوند له بنيادي ضرورتونو څخه علاوه وي لکه د اوسېدلو کور ، د بدن کپړې ، د کور په سامان د سوارلې په ځاروي (يا مشين ، موټر سايکل ، موټر اوداسې نور) د خدمت لپاره په غلامانو او په اصلحه باندې زکوة واجب نه دي. دغه رنګه د خوراک په شيانو او د ژوند کولو په لوښو باندې زکوة واجب نه دي ، خو په دې شرط چې د سرو او سپينو زرو به نه وي : دغه رنګه که جواهرات ، ملغلرې ، زمرود او ياقوت او نور ، که د تجارت لپاره نه وي ، نو زکوة ورباندې نشته همدارنګه د علم د خاندانو په هغو کتابونو باندې هم زکوة نشته کوم چې اصلا د مطالعې او ګټې اخستنې لپاره وي. پورتنې ټول شيان په ضرورت اصليه کې داخل دي.(فتاوي عالمګيري ۴ج ۷مخ د علم الفقه ۴ج ۱۴مخ)

ایا اولاد ته واده کول په حوائج اصلیه کې داخل دي ؟

مسئله : که اولاد بالغ وي ، نو واده یې په پلار باندې فرض نه دي – بلکه نارینه اولاد پخپله شرعا د خپل واده ذمه واردی . او که اولاد نابالغ وي ، نو په شریعت کې دهغه د نکاح (واده) نه ضرورت ظاهر دی . د اولاد واده په حوائج اصلیه ؤ کې داخل نه دی – صرف په هغه صورت کې چې اولاد نابالغ وي ، نو په پلار یې نفقه واجب ده ، هغه هم هغه وخت چې اولاد دومره څه په واک کې ونه لري چې ورنه خپله نفقه پوره کوي . او که اولاد مال ولري نوبیا یې نفقه پر پلار باندې لازمه نه ده ،بلکه د هغه له مال نه به یې ورکوي .

(فتاوي محمودیه ۳ج ۹۳ مخ بحواله زیلعي ۳ج ۲۲ مخ)

مسئله : که د چا اولاد معذور ؤ ،نو بیا یې نفقه پر پلار باندې واجبه ده ، (که بالغ وي او که نابالغ) ، نو ځکه صرف د هغه نفقه (د ژوند کولو ضروري مصرف) په حوائج اصلیه کې دي ، مګر واده او نور په حوائج اصلیه کې نه شمېرل کېږي . اونه د هغه واده او کوزده او نور څه د زکوة د وجوب مانع ګرزي . (کفایت المفتي ۴ج ۱۴۴مخ)

په کومو شیانوزکوة فرض دی ؟

پوښتنه : په کومو ، کومو شیانو زکوة فرض دي ؟

ځواب : په لاندې شیانو باندې زکوة فرض دي:

(۱) په سرو زرو باندې : چې اوه نیمي تولې (۸۷ ګرامه ، ۴۹۷ ملي ګرامه) او یا تردې زیات وي.

(۲) په سپینو زرو باندې : چې دوه پنځوس نیمي تولې (۶۱۲ ګرام ۳۵ ملي ګرام) او یا تردې زیات وي.

(۳) په هغو روپو او مال د تجارت باندې: چې قيمت يې له دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو سره برابر وي -

يادونه: كه له يو چا سره څه اندازه سره زرۋ، څه سپين، څه نغدې روپۍ او څه اندازه د تجارت مال ۋ او د ټولو ګډ ماليت دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ته رسېدو .نو په هغو باندې هم زكوة فرض دي - دغه رنګه كه له چا سره څه اندازه سره او څه سپين زر؛ يا څه اندازه سره يا سپين زر ۋ او څه نغدې روپۍ اوياڅه سپين زر او څه د تجارت مال ۋ، نو هغه به سره ګډ وي او بيا به ګوري، چې د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ماليت ورنه جوړېږي او كنه ؟ كه ورڅخه جوړېدو، نو زكوة واجب دي، او كه نه ورنه جوړېدو، بيا زكوة هم نه دي واجب. لنډه دا چې كه له سرو زرو، سپينو زرو، نغدو روپو اود تجارت له مال څخه د ددو شيانو ماليت د سپينو زرو د نصاب اندازې ته رسېدو ،نو په هغه باندې زكوة فرض دي -

(۴) سربېره په دغو شيانو په څرېدونكو (وابنه خوړونكو) پسونو باندې هم زكوة فرض دي او د مېږو، وزو، غوايانو، مېښو او اوښانو هر يوه ځانله، ځانله نصابونه دي.

(۵) د عشر د زمكې په پيدوار باندې هم زكوة فرض دي چې (عشر) ورته ويل كېږي. (آپ كې مسائل ۳ج ۳۵۴مخ. احسن الفتاوي ۴ج ۲۸۷ مخ. علم الفقه ۴ج ۳۲ مخ)

ايا هر كال زكوة شته ؟

مسئله: د كومو روپو او ګېڼو چې يو كال زكوة اداء شوى وي، كله چې بل كال پوره شي نو هم يې زكوة اداء كول لازم دي. د هر كال په

پوره کېدو سره يې بايد زکوة اداء شي - د دغو روپو او نورو څخه که په جريان د کال کې څه ګټه اخستله کېږي او کنه.

(فتاوي دار العلوم ۲ج ۴۷مخ . بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۳مخ - وکفايت المفتي)

په زکوة اداء کولو کې ځنډکول :

مسئله : کله چې په هغه مال باندې چې د نصاب تر اندازې رسېدلی او يا زيات وي پوره کال تېر شي ، نو سمدستي يې بايد زکوة اداء کړئ ، په ښو کارونو کې ځنډکول ښه نه دي ،داسی نه وي چې ناڅافي مرګ درباندې راشي ،اودغه امانت دې په ذمه پاته شي - خو که يو څا لاد تېر کال زکوة نو ؤ اداء کړی چې بل کال هم تېر شو ، نو هغه سړی ګنهکار شو او بايد توبه وکاږي او د دواړو کلونو زکوة اداء کړي. لنډه دا چې د عمر په تېرو کلونو کې موچې کوم زکوتونه نه دي اداء کړي ، هغه حتما اداء کړئ. (فقه الزکوة ۲ج ۳۶۲مخ بحواله فتح القدير ۱ج ۴۸۲مخ و امداد ومسائل الزکوة ۷۹مخ)

په زکوة کې د نيت حکم :

په هر حال چې وي نيت يو ضروري شی دي ، ځکه چې د يو کار د اثراتو او نتائجو ترتيب د نيت د لاندې کېږي نو ځکه خو يا بايد د زکوة اداء کولو پر وخت د زکوة نيت وشي ، او يا د زکوة د مال د جلاکولو پر وخت. که داسې وشو چې يو جا له خپل ځان سره دا نيت کړی ؤ چې زکوة به اداء کوم ، مګر هغه وخت يې په دغه غرض څه روپۍ يا مال له نورو څخه جلا نکړ بلکه د کال تر پايه يې سوکه ، سوکه ، لږ ، لږ زکوة ورکاؤ او په ټول دغه وخت کې يې (د زکوة ورکولو پر وخت او يا د مال ځانله کولو پر وخت) د زکوة نيت ونه کړ، نو زکوة يې نه دی اداء شوي. خو که داسې ؤ چې يو چامال بل چاته ورکاؤ او بل چاورنه په عين حال کې پوښتنه وکړه چې داڅه شی

ورکوي ؟ نو هغه ورته بغیر له فکر کولو ځواب ورکړ چې دا زکوة دی ، نو دیته نیت ویل کېږي ، او زکوة یې اداء کېږي – او که یې داسې وویل چې : زه چې تر اخېره د کال پورې ځومره صدقې کوم هغه ټولې دې د زکوة په نیت وي ، نو دا روا نه دي. (سراجیه)

مسئله : که یو چا د زکوة اداء کولو لپاره وکیل نیو ، نو د روپو یا مال ورکولو پر وخت نیت کول کافي دي – که نیت یې د وکیل د نیولو پر وخت نه بلکه د زکوة د مال د ورسپارلو پر وخت وکړ ، نو هم صحیح دي. (جوهرة النیره)

مسئله : په زکوة کې د زکوة ورکونکي نیت معتبر دي ، نه د هغه د وکیل (معراج الدرایه)

مسئله : اهل ذمه (هغه چې حکومت یې ذمه قبوله کړې وي) ته د زکوة د وېشلو ذمواري سپارله کېدای شي ، ځکه چې نیت خو د هغه چا معتبر او کافي دي چې هغه ته یې زکوة سپارلی دي. (محیط السرخسي)

مسئله : د یو چا نیت وکیل ته له روپو یا نورڅه ورکولو وروستو په داسې حال کې بدل شو چې هغه مال یا روپۍ لاد وکیل له خوا تقسیم شوې نه وي ، نو د غه مال یا روپۍ د هغه نیت په لاره ځي کوم چې وروستو شوي دي کله چې یو چا وکیل ته څه مال یا روپۍ د زکوة اداء کولو لپاره ورکړي او بیا مخته تر دې چې وکیل هغه تقسیم کړي د زکوة ورکونکی نیت بدل شو او ویې ویل چې د غه روپۍ زه په نذر کې ورکوم ، نو د غه رقم (د مال یا روپۍ) به په نذر کې شمارلې کېږي.
(سراج الوهاج)

مسئله : که د یو مسکین امانت له چا سره ؤو او بیا ورنه ضائع شول ، او هغه د دې لپاره چې له مسکین سره لانجه رانولاړه نشي د امانت په

اندازه مال یا روپۍ د زکوة په نیت مسکین ته ورکي ، نو د هغه زکوة نه دي اداء شوی -(فتاوي قاضي خان)

مسئله : یو چا بغیر له نیت څخه مسکین ته مال یا روپۍ ورکړي ،او وروستو یې پکي د زکوة نیت وکړ ، نو دا نیت یې په هغه حالت کې د اعتبار وړ بلل کېږي چې هغه مال یا روپۍ له هغه مسکین سره وي او که هغه مال یا روپۍ د مسکین له لاسه وتلې وې ، نو بیا پکې د زکوة نیت نه صحیح کېږي (معرج الدرایه . بحرالرائق . عیني . هدایه . فتاوي دالعلوم ۲ج ۷۹مخ)

مسئله : که یو چا دبل چاله طرفه پخپل سر دهغه له مال څخه زکوة اداکړ ، بیا خاوند ورته اجازه وکړه ، نو که د اجازې پروخت لا دزکوة مال یا روپۍ له مسکین سره وې ، نو زکوة یې ادا شوی دي او که د مسکین له لاسه تللې وي بیا یې زکوة نه دی وتلی .(سراجیه)

مسئله : که یو چا خپل ټول مال خیرات کړ خو د زکوة نیت یې پکې و نه کړ ،نو استحسانا د هغه له ذمې څخه زکوة ساقطېږي. یعنې د قیاس تقاضا خو دا ده چې بغیر له نیت څخه باید زکوة نه وای اداء شوی خو دا چې اوس له هغه سره هېڅ ډول مال پاته نه دي . نو ځکه تر دغه صورت لاندې زکوة د هغه له ذمې څخه ساقطېږي (عالمګیري ۴ج ۵مخ)

مسئله : د زکوة د مال جلاکولو پر وخت(له نوره ماله څخه) نیت کول هم کافي دي ، که څه هم دا کار د اوصولو خلاف دي ځکه چې مسکینانو ته د ورکولو پر وخت خوبې نیت ځانله ، ځانله وي – نو دا چې په هر وارکې نیت کول سخت کار دي . نو ځکه هغه نیت کافي بلل کېدای شي کوم چې د مال جلاکولو پر وخت یې کړی وي ، لیکن په

محض جلاکولو سره يې غاړه نه خلاصيږي ، بلکه فقيرانو ته په ورکولو سره به يې غاړې خلاصې شي. (فقه الزکوة ١ج ٣٣١ مخ)

بغير له نيت څخه زکوة ورکول :

مسئله : که يو چا بغير له نيت د زکوة څخه مسکينانو ته مال يا روپۍ ورخيرات کړې ، نو په دې سره زکوة نه اداکيږي او دغه خيرات شوی مال په زکوة کې نه شمېرل کيږي - (فتاوي دار العلوم ٦ج ٣٣٢ مخ)

او که چاټول مال خيرات کړ ،نو بيا يې زکوة له ذمې څخه ساقطيږي ، ځکه چې نور مال ورسره نشته. *(محمد رفعت قاسمي)*

آيا کور واله کولای شي چاته د زکوة په نيت څه ورکړي ؟

پوښتنه : که له يو چا سره د زکوة مال ؤ او د کور خلکو د زکوة په نيت ورنه يو څه چاته ورکړل ، او بيايې د نصاب خاوند ورباندې خبر کړ ايا زکوة يې اداء شوی دي او کنه ؟

ځواب : که د نصاب خاوند مخته ترورکېدلو د مال د خپل کوروالو ته د زکوة ايستلو اجازه ورکړې وه ، نو بيا زکوة اداء شوی دي. او که يې اجازه نه وه ورکړې نو بيا که تر هغه وخته پورې چې د نصاب له خاونده څخه اجازه اخستله کېدله دغه مال يا روپۍ له هغه مسکين سره وې نو بيازکوة اداء شوی دي او که د مسکين له لاسه وتلې وې ، نو بيا نه دی اداء شوی. (فتاوي دار العلوم ٦ج ١٠١ مخ بحواله در المحتار ٢ج ١٤ مخ)

ايا د زکوة او صرفې ثواب د ټولو کوروالو وي ؟

پوښتنه :که په يو کورکې نه يالس نفره وي او له دوی څخه د ټولو شيانو اختيار له يوه سړي سره وي او دغه اختيار د کور د ټولو غړيو

په خوښه سره ورکړل شوی وي ، نو که هغه زکوة یا خیرات کوي نو ثواب به یې د ټولو کوروالو سره ګډ وي او که به صرف د ورکونکي وي ؟

ځواب : کله چې زکوة یا خیرات د هغوله ګډ مال ځخه د هغو په اجازه سره وي ، نو ثواب به یې ټولو ته ورکول کیږي (فتاوی دار العلوم ۲ج ۳۴۰مخ)

مسئله : که زکوة اداء کړي خو هغه د څه شرعي عذر په وجه اداء نشي ، نو ثواب یې ورکول کیږي ، انّ الله لایضیع اجرالمحسنین) (الآیه) فتاوی دار العلوم ۲ج ۳۳۳مخ)

که یو څوک بغیر له اداء کولو د زکوة ځخه مړ شو :

پوښتنه : که د نصاب پر خاوند باندې د زکوة د مال اداء واجب شوې وه خو هغه اداء کړی نه ؤ او مړ شو او یو نابالغ ماشوم ورنه پاته شو ، نو آیا د هغه مېرمن کولای شي د هغه له مال ځخه زکوة اداء کړي ؟

ځواب : د مړي له وصیت ځخه بغیر ، د هغه له پاته شوي مال ځخه (چې د ټولو وارثانو سره ګډ وی) زکوة نشي ایستل کېدای . ځکه چې وارث یې هم نابالغ هلک دي (فتاوی دار العلوم ۲ج ۳۳۰ مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۹۸مخ)

د وفات شوي خاوند زکوة حکم :

مسئله : د وفات شوي خاوند زکوة د هغه په کونډه (مېرمن) باندې فرض نه دي ؛ د هغې د مرحوم خاوند په ذمه دي او هغه یې په نه اداء کولو سره ګنهګار دي – که وارثان یې د هغه له طرفه اداء کړي ، نو ډېره به ښه وي –(آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۷مخ او فقه الزکوة ۲ج ۳۸۰ مخ)

که یو څوک د زکوة واجبېدلو سره سم مړشو :

مسئله :پوښتنه: یو چادزکوة مال له خپل نور مال ځخه جلاکړ ، یا یې وکیل ته ورکړ خو تر اداء له مخه هغه مړ شو ، نو هغه مال باید څنګه شي ؟

ځواب: که مړي وصیت هم کړی وي ، نو بیا دې دغه مال (روپۍ وي که بل څه) په زکوة کې ورکړي. په دې شرط چې دټول مال تر دریمې برخې به زیات نه وي - او که یې وصیت کړی نه ؤ ، نو بیا به له هغه څخه په پاته شوي مال کې ګډل کیږي او په وارثانو به تقسیمیږي - هغه څوک چې مړي د زکوة وکیل ګرزولی ؤ یا یې اختیار ورته ورکړي ؤ د فقیر قائم مقام نه دي - او په چا چې زکوة واجب ؤ د هغه په مړینې سره دغه هم له مېنځه لاړ ، نو ځکه هغه ته د دغه مال په زکوة کې د لګښت اختیار نشته. (احسن الفتاوی)

ایا د مړي له مال څخه به زکوة اخیستل کیږي ؟

مسئله : له هغه مال څخه به چې له مړي څخه پاته شوی دي زکوة نه اخیستل کیږي - ځکه چې د زکوة لپاره نیت شرط دي ؛ او په دغه صورت کې نیت نشي کېدای. اوکه مړي د زکوة ورکولو وصیت کړی ؤ نو زکوة د هغه د مال له دریمې برخې څخه ور اخیستل معتبر دي . ځکه چې وصیت د مال په دریمه برخه جاري کیږي. خو که وارثانو یې غوښتل چې د هغه له ټول مال څخه دې زکوة اداء شي نو بیا یې له پاته شوي ټول مال څخه هم د زکوة اداء کول صحیح دي (درمختار ۲ج ۲۹ مخ عالمګیري ۲ج ۲۳ مخ

ایاکاغذي نوټ دمال په حکم کې دی ؟

شرعي قانون سرو او سپینو زرو ته خاصیت صرف په دې وجه ورکړی دی چې په ټوله دنیاکې هغه په یو ډول د زرو د معیار حیثیت لري. هغه خوړل کېدای نشي ، اغوستل کېدای نشي ، هوا ریدای نه شی، دهغوا همیت اوارزښت صرف په دې کې دي چې دهغوپه بدله کې نورضرورتونه نه پوره کیږي ،یو ګرام سره زر کولای شي ستاسود

ژوند ټول ضرورتونه پوره کړي – او کاغذي نوټ هم يو داسې شی دی چې تاسو کولای شئ په هغه سره ، سره زر واخلئ – نو د کاغذي نوټ چې کوم قانوني حيثيت دي ، هغه په پوره ډول د مال او ، شتمنۍ حيثيت دي . د ظاهري ډول او هيئت په وجه د هغه په ازربنت کې هېڅ فرق نه واقع کېږي . په قرآن کريم کې په لس ګونو ځايه خدای ﷻ د رزق يادونه کړې ده – والله يرزق من يّشاءُ بغير حساب ط – ورکوي رزق خدای ﷻ هغه چاته چې خوښه يې شي .(۲) (قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاء وَالْأَرْضِ) روزي درکوي خدای ﷻ تاسو ته له اسمان او ځمکې څخه.

هر لوستی سړی په دې باندې پوهېږي چې د قرآن کريم په ټولو آيتونو کې له رزق څخه مراد محض پاخه شوي خواړه ، سره، سپين زر او جايدادنه دي . بلکه مقصد ورنه هغه شيان دي چې انسان په بيلابيلو ډګرو کې ورته ضرورت لري . که له يو چا سره ، سره او سپين زر نه وي بلکه يو لک روپۍ ورسره وي ، نو هغه غريب نه دي ، هغه ته مالدار ويل کېږي – په دغولو ټوباندې د رزق اطلاق کېدای شي ځکه چې دغه کاغذي رسيد بې فائدې نه دي بلکه د هغه تر شادوخت د حکومت ضمانت دي نو ځکه هغه يوه سکه ګرزېدلې ده چې هر شی ورباندې د سترګو په رپ کې اخستل کېدای شي او نن سبا خو په عام رواج کې سره او سپين زر هم د هغه مينځي او غلامان دي ځکه چې د ژوند هر ډول سامان په هغو باندې اخيستل کېدای شي . خودا رنګه د پاک خدای ﷻ ارشاد مبارک دی (الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۲۷۴

ترجمه : کوم خلک چې د الله ﷻ په لاره کې ورځ او شپه ، پټ او ښکاره

خپل مالونه لګوي ، د هغو لپاره له الله ﷻ سره اجر دي د دغو عملونو د دوی. ایاانسان شپه او ورځ غریبانو ته سره او سپین زر ور وبښلای شي ؟ ایا په دغه ایت کې د مال اطلاق بغیر له دغو سکو (لوټونو) په کوم بل شي باندې کېدای شي چې ورباندې هرڅه اخیستل کېدای شي – په قرآن کریم کې بیا ،بیا د اموال لفظ استعمال شوی دي چې د (مال) جمع ده . مال هر هغه شئ ته ویل کېږي چې په بدله کې یې تاسو دژوند ضرورت پوره کولای شئ –نو تر دغه کاغذي نوټ زیات به بل داسې شی څه شی وي چې ورنه ذغه هدف په ښه ډول لاس ته راشي. لنډه داچې کاغذي نوټ مال بلل کېدای شي او د ژوند هر مشکل ورباندې حل کېدای شي. *(قاسمي)*

ولې سره او سپین زر ارزښت لري ؟

سره اوسپین زر دواړه قیمتي ، نادر او پاک شیان دي ، همدا رنګه پاک خدای ﷻ دوی د هر انسان لپاره دومره ګټور ګرزولي دي چې د انسان له اولین پیدا ایښت څخه دغه دوه شیان په انساني ټولنه کې د مال او نغدو او قیمتي شیان په ډول استعمالېدل نو ځکه شریعت داغه دواړه معدني شیان په فطري (پیدایشي) ډول زیادت قبلونکی شیان ګرزولي دي ، او په هغو باندې یې زکوة فرض کړی دي – هغه که د نغدي زرو په صورت کې وي او که ورځخه لوښي ، مجسمه د زینت شیان اویا کېښې او نور څه جوړشوي وي. (فقه الزکوة ا ج ۳۳۱ مخ)

هر چېرې چې انسان اوسېږي ،نو سره او سپین زر یې د پیدا کولووروستو د مالي کاروبارونو اوراکړې ورکړې لپاره عیار ګرزولي دي ، د دنیا د ټولو شیانو قدر او قیمت په دوی سره اندازه

کېږي – او د اجناسو (شیانو) په ادلون بدلون هم دوی بنیادي رول لري – نو څرنګه چې په انساني ودانیو او ابادیو کې سرو او سپینو زرو په همېشني ډول بنیادي ارزښت لرلی دي ،نو ځکه اسلام هم دوی ته دومره لوړ ارزښت ورکړی دي. (عالمګیري۴ج۲۰مخ)

ولې دسرواوسپینوزرودنصابونو ترمینځ دومره زیات فرق دی ؟

پوښتنه :که یوڅوک هر کال زکوة باسي ، نو بعضې مال خو به ختم شي د مثال په ډول په کومو روپو باندې چې تجارت نه کول کېږي او یا راشې ګېڼه وه چې د تجارت لپاره نه وي ، نو په هغو کې خو دکال په تېرېدو سره هېڅ ډول زیادت نه راځي نو که زکوة ورڅخه اداء شي خو همدغسې به پسې ختم شي ؟

ځواب : په ځواب کې موباید ووایم چې ستاسو دغه روپۍ خوهېڅ چاهم له تجارت څخه نه دي راګرزولې نو داچې تاسو وربانديې تجارت نه کوئ ، نو په دې سره خو شریعت ذموار نه دی – دغه رنګه سپین او سره زر چې په ګېڼو کې ورنه کار اخستل کېږي ، اصلاخو خلقتاً دوی هغه روپۍ دي چې د تجارت لپاره پیدا شوې دی ، نو داچې تاپخپله خوښه ورنه ګېڼه جوړه کړې ده په دې سره خو شریعت نه دی ملامت. کله چې ته وغواړې نو هغه په روپو بدلولای او تجارت وربانديې کولای شې. (امدادمسائل.۴۰مخ)

مسئله : اسلامي شریعت دمال په تاکل شوې اندازې باندې د زکوة په فرض کولو سره د انسان توجه دې ته اړولې ده چې هغه باید خپله سرمایه له ځانه سره کېنږدي ، بلکه په داسې تجارتونو کې یې بندې

کړي چې هغه ورکي پخپله هم ګټه وکړي او دټولني اقتصاد هم وربانديږ پرخ تگ وکړي.

مسئله : که له چا سره د نصاب په اندازه روپۍ يا ګېڼه موجوده وي ، نو زکوة وربانديږ واجبېدل له عقله سره هم په ټکرکي نه دي . ځکه چې يوڅوک چې د نصاب خاوند شي هغه ته په شريعت او عرف (رواج) دواړو کې غني (شتمن) ويل کېږي . او د عقل او غيرت تقاضا (غوښتنه) داده چې غني بايد د محتاجانوحال وپوښتي اوهغو ته څه ورکړي – (فتاوي دارالعلوم ۶ج ۵۳مخ)

د اسلام د زکوة له قانون څخه يو معلوم مقصد دا هم دی چې خلک روپۍ بېکاره پرېنږدي ، بلکه په څه کاروبار يا جايداد بانديږ يې ولګوي تر څو هيواد او خلک ورڅخه ګټه واخلي د نغدو روپو ښودل د ملک لپاره ښکاره تاوان دي – ځکه چې په دغو روپو او سرو ، سپينو زرو کې خو د ودېرښت صلاحيت (ځواک) موجود دی ، نو که څوک هغه وساتي او په څه شي يې ونه لګوي او کوم کار چې ورنه اخستل کېږي هغه ورنه وانخلي ، نودا د جمعه کونکي غلطي ده ، زياتوالی خود زکوة د واجبېدلو سبب نه دي په هغه مال کې پخپله صلاحيت موجود دی. *(رفعت قاسمي)*

د زکوة له وېږي څخه مسلمان ، غير مسلمان ليکل څنګه دي ؟

پوښتنه : يو چا يوې مېرمنې ته مشوره ورکړه چې که ته حکومت ته ځان غير مسلمانه وروليکې ،نو بيا زکوة درڅخه نه ګرزول کېږي ، ايا په دغه رنګه عمل کولو سره په ايمان څه اثر لوېږي او کنه ؟

ځواب : د يو چالپاره داسې عمل کول چې بل چاته ځان غير مسلم ورليکي دا کفر دي ؛ او له زکوة څخه د خلاصون پخاطر داسې کول ډبل کفر دي ، او چاته د کفر مشوره ورکول هم کفر دی. نو هغه چاته (چې د ځان د غير مسلم ليکلو مشوره يې ورکړې ده) پکار دی چې خپل ايمان او نکاح بېرته له سره څخه نوي کړي - او که کونډې ښځې د هغه په دغه کفري مشوره عمل کړی وي ، نو هغه هم بايد نوی ايمان راوړي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۳مخ)

له زکوة څخه د بچ کېدوپخاطر د مال هبه کول :

مسئله : که يو چا خپل مال بل چاته بغير له بدل اخستلو ورکړ ، اويوکال بعد يې ورنه واپس خپل مال واخست ،نو زکوة يې په مال ورکونکي باندې واجب دي ، اوله هبه کولو څخه مخته چې څومره وخت هغه مال له خپل خاوند سره ؤ هغه وخت به داسې ګڼل کېږي لکه نه چې وي تېر شوی - يعنې هغه به نه ګڼل کېږي ، د مثال په ډول يو چادومره مال چې پوره نصاب کېدوترلسو مياشتوپورې له خپل ځان سره وساتو او بيايې چاته هبه کړ ، او بيا يې له څوورځو وروستو بېرته ورنه واخست - نو داسې به نه کوي چې له دوومياشتو وروستو زکوة ورکړي. بلکه د بېرته رااخستلو له ورځې څخه به د زکوة لپاره نوی کال پيل کوي - او که يو څوک صرف د دې لپاره چې زکوة يې له زمې څخه ساقط شي دغه حيله جوړوي چې د زکوة د کال تر پوره کېدلو څو ورځې تر مخه خپل مال چاته هبه کړي او بيايې ورنه څه وخت وروستو بېرته راواخلي ، نو که څه هم د زکوة غاړه يې خلاصه شود خو دغسې کار کول مکروه تحريمي دی ځکه چې په دې کې د

محتاجانو تاوان دي ، او د هغو د حق ضائع کول دي او د زکوة دروازه بندول دي . (علم الفقه ۴ ج ۳۴ مخ)

مسئله : که د چاپه مال باندې پوره کال تېرشو خوزکوة يې لاورڅخه اداء کړې نه ؤ چې لاري وهونکو يانورو ورڅخه غلاکړ، او يايې په کوم بل ډول له لاسه ووتې ،نو زکوة هم ورته وبخښل شو او که يې پخپله خوښه ټول مال چاته ورکړ او يايې په کوم بل ډول پخپل اختيار سره ضائع کړ نو بيا چې وربانديې څومر اندزه زکوة واجب شوی دی هغه به اداء کوي ؛ ورته معاف نه دي. (بهشتي زيور ۳ ج ۲۷ مخ)

مسئله : که د يو چا د نصاب کال پوره شو ، له هغه وروستو يې خپل ټول مال خيرات کړ ، نو هم يې زکوة وبخښل شو. (بهشتي زيور ۳ ج ۲۷ مخ بحواله عدا لمحتار ۲ ج ۱۸ مخ)

مسئله : که له يو چاسره دوه سوه روپۍ وي ،له يو کال وروستو ورنه سل روپۍ ورکې شوې يايې خيرات کړې ،نو د پاته سلو روپوزکوة به اداء کوئ ، اودورکو يا خيرات شويو سلو روپوزکوة ورته معاف دي. (بهشتي زيور ۳ ج ۲۷ مخ بحواله مشکوة ۱ ج ۱۵۹ مخ)

که د سرو او سپينو زرو ځلوېښتمه برخه له پيسو څخه ورکړله شي نو د راتلونکي زکوة حکم :

پوښتنه :له ماسره (۸) تولې سره زر دي – او ماد (۸) تولو زکوة له پيسو څخه اداء کړ. راتلونکی کال پکې هيڅ ډول زيادت ونشو او د تېرکال د زکوة په ايستلو سره ،سره زر تر نصاب کم شوؤ يعني موجود خو اته تولې سره زر دي ،نو څرنګه چې ماد اتو تولو دزکوة ځلوېښتمه اداکړې ده ، نو د هغې ځلوېښتمې برخې په ورکولو سره حساب بدل شو او که به هر کال په اتو تلو باندې زکوة اداء کوم.؟

ځواب : لومړی کال چې لتاسره (۸) تولې سره زر وو او تاد هغوزکوة د جیب له روپو څخه اداء کړ ، او سره زر چې څومره ؤ هغومره پاته شول نو راتلونکی کال هم وربانديږ زکوة واجب دي – خو که دي سره زرپه زکوة کې ورکړل او په دې سره د سرو زرو اندازه تر اوه نیموتولو کمه شوه او له تاسره نور سامان نه ؤ چې زکوة وربانديږ وشي ، نو په دغه صورت کې بیا دربانديږ زکوة واجب نه دي –

مسئله : اګر دغه اندازه سره زر خو لتاسره دي او د کال تر پوره کېدو پورې به لتاسره وي ، نو څکه راتلونکی کال هم په هغو تولوبانديږ زکوة لازم دي – خو که دي د زرو څه برخه په زکوة کې ورکړه او له تاسره پاته سره زر په اندازه د نصاب نه ؤ ، نوپه هغه صورت کې به ګورئ چې که لتاسو سره نور داسې څه نه ؤ چې زکوة وربانديږ فرض کېدی لکه نغدي روپۍ تجارتي مال او داسې نور ، نو زکوة نشته ؛ او که په سروزرو برسېره بل هم داسې یوشی ؤ چې وربانديږ زکوة کېدی او هغه له سرو زرو سره په ګډه د نصاب اندازې ته رسېدی نو بیا زکوة وربانديږ فرض دي –(آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۵مخ)

مسئله : که چا یوکال د روپوزکوة اداء کړی ؤ ، او دومره روپۍ چې نصاب وربانديږ پوره ؤ تر بل کال پورې له هغه سره وي ، نو په راتلونکي کال کې به د هغو زکوة اداء کوئ ، او که ترزکوة کمې شوې نو بیا وربانديږ زکوة نشته. (کفایت المفتي ۴ج ۱۵۴مخ)

ایا په کاغذي نوټونو باندي زکوة شته ؟

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په زمانه کې درهم (د سپینو زرو سکه) هغه بنیادي او یواځنی شی ؤ چې تول د راکړې ورکړې

حسابونه به ورباندې کېدل – له هغه نه وروستو د سروزرو دينار هم دغه رنګه د شيانو د اخستلو لپاره د سکې حيثيت خپل کړ مګر د بر کاروبارونه به په دراهمو (د سپينو زروپه روپو) سره کېدل په هغه وخت کې بهرنۍ پرمخ تللې دنيا هم له دغوشيانو سره پېژندګلوي لرله ،نو ځکه چې هغه وخت شريعت په مالي اعتبار د راکړې ورکړې ،زکوة ، خيرات او نورو څومره تفصيلات بيان کړی دي هغه ټول د درهم له مخې بيان شوي دي . په هغه کې دوزن هم خيال ساتل شوی دي او د درهم ددي ارزښت هم په زکوة کې خاص اهميت لري. او دا وخت دنيا د درهم له چلند نه خلاصه شوې ده مګر ځای يې د وخت نوروسکو(روپيو) نيولی دي. لکه ، افغانۍ ، پونډيا شلنګ ، ډالر روبل ، لېره يادينار . ددوه سوؤ درهمو د ملکيت(چې ۵۲نيمي تولې سپين زر کېږي) په اندازه د موجوده سکو د ماليت په پوره کېدلو سره دغه سکې د درهم پر ځای درېږي. دغه رنګه په هر هيواد کې هر وخت د زکوة نصاب چالو او نافذ کېدلای شي. (فتاوي عالمګيري۴ج۲۰مخ)

مسئله : که له چاسره د پوره نصاب په اندازه نوټونه ؤ ،نو زکوة ورباندې واجب دي ، او زکوة يې په روپو سره اداء کېږي.(فتاوي دارالعلوم۲ج۸۳مخ)

مسئله : د فقهي د جمهورو علماؤ په نزد په کاغذي کرنسۍ (نوټ) باندې زکوة واجب دي. ځکه چې په عام کاروبار کې د سرو او سپينو زرو کارله دوی څخه اخستل کېږي ، او د سپين زرو په ځای د دوی راکړه ورکړه بې له څه سختۍ کېدای شي.(کتاب الفقه ۹۸۴ او فقه الزکوة۱ج۳۷۵ مخ)

د هرقانون څه ګڼې او سونونه وي ، د زکوة دغه کار نور بيان ته ضرورت نه لري ، چې چاته خدای ﷻ د هغوتر ضرورت زياته روزي ورکړې وي ، هغه بايد د خپل رزق(روزي)څه برخه د خدای ﷻ

هغوبندګانو ته ورکړي چې ورته لږ رزق ورکړشوی دي او د نور رزق محتاج دي ،د نوټ قانوني ارزښت چې هر څومره وي ،خو دازده کول پکار دي چې په دوی باندې دمال او دولت اطلاق کېدای شي او کنه ؟دا وخت د هر چانه اوروچې فلاني شتمن دي –د دې وينا په اورېدلو سره دېو چاذهن ته هم دا خبره نه ورځي چې له دغه سړی سره ،سره يا سپين زر دي څکه يې خلک شتمن بولي ،بلکه دا خبره يې په ذهن کې پيدا کېږي چې هغه روپۍ لري –نن سباخو بالکل زمونږ په هيوادونو کې د سپينو او سرو زرو د سکو پوښتنه هم نه راپوره کېږي ،څکه چې شتمني يا خود جايداد په شکل وي او يا دنوټو په شکل (رفعت قاسمي)

ولې په جمعه شويو نوټونو باندې زکوة شته ؟

مسئله : اصلا روپۍ د جمع کولو لپاره نه ، بلکه د کار او تجارت لپاره دي ، د روپو ساتل او کار ورباندې نه کول د اصل خلاف کار دي ، نو څکه که لچاسره پيسې وي نو زکوة ورڅخه نه ساقطېږي .(کتاب الفقه ج۲ ص۲۵۷)

ايا په سرکاري (حکومتي) ټکټونو باندې زکوة شته ؟

د پوستي ټيکټونو برخليک داسې دي چې هيڅ څوک هم داسې نه کوي چې خپلې روپۍ په هغو باندې ورکړي او بياهغه له ځان سره وساتي، که دغه ټيکټونه دوخت يو رواج وي ،نو خلک يې د ضرورت سره سم اخلي ، کله چې يې واخيست نو بيا ورنه کار اخلي ، نو څکه ورباندې د کال د تېرېدو پوښتنه نه را ولاړېږي ،او که کال ورباندې تېرهم شي دغه په ضرورت کې داخل ګڼل کېږي ، او که دغه ټيکټونه د لېږلو رالېږلو په کاروبار کې کارېدل ، نو زکوة يې هم له هغه زکوة سره ګډ بلل کېږي کوم چې په دغه کار وبار باندې لازمېږي ، او که

هغه د ذاتي لېږلو را لېږلو لپاره وي ،نو بیا خو ښکاره خبره ده چې له ضروریاتو څخه ګڼل کېږي. بالآخره په غیر تجارتي کتابو ، او د ذاتي او سپدلو په کورونو باندې هم زکوة نه واجبېږي (رفعت قاسمي)

هغه روپۍ چې د ضرورت لپاره وي د هغو حکم:

پوښتنه : له یو څاسره څوزره روپۍ جمعه دي اوکال هم ورباندې تېرشوی دي ،مګر هغه دغه روپۍ د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره ټولې کړې دي، ځکه چې نه کور لري ،نه د کورسامان لري نه یې لاتراوسه واده کړی دی. نو په هغه باندې زکوة فرض دي او کنه ؟

ځواب : زکوة ورباندې فرض دي ،خو که د کال تر پوره کېدو له مخه یې د کور جوړولو سامان یا د کور لوښي ورباندې واخیستل نو بیا ورباندې فرض نه دی. (احسن الفتاوي ۴ج ۲۹۱مخ بحواله رد المحتار ۷مخ)

مسئله : که یو چاد څه خاص مقصد لپاره دومره روپۍ ایښي وي چې نصاب ئي پوره ؤ او کال هم ورباندې تېرشو ، نو زکوة ورباندې واجب دي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۳مخ)

.ایا د کور دټولو شیانو زکوة د کور په مشر باندې فرض دي ؟

پوښتنه : زه د کور مشریم ، زمادواړه زامن کار کوي ، او زمادزامنو له ښځو سره دولس ، دولس ، تولې ګېڼه ده او زماله مېرمنې سره پنځه تولې ګېڼه ده او د پېغلې نجلۍ دواده لپاره مویوکال له مخه درې تولې ګېڼه اخستې ده. دغه رنګه نن صبا په ګډو کورنیو کې هم ګېڼه د هرې مېرمنې په ذاتي ملکیت کې شمېرله کېږي ، د یوې مېرمنې ګېڼه بلې ته نشي ورکول کېدای ، ایا په دغه صورت کې به زه د کور د ټولو ګېڼو زکوة اداء کوم ،اوکه به هر نفر د خپل ،خپل مال زکوة اداء کوي ؟

ځواب: د زکوة په واجب کېدلو کې د هر چاخپل ملکیت د اعتبار وړ دي ، ستاله مړندو (د زامنو له ښځو) سره چې کومه ګېڼه ده ، نو دا بایدوکتل شي چې د دغو ګېڼواصلي خاوند څوک دي ؟ که دغه ګېڼه د هغوپه خپل ،خپل ملکیت کې وه ،نو زکوة د هغوپه ذمه واجب دي ، اوکه هغه مال څه د مړندو اوڅه ستاد زامنو ؤ ،نو د هرچامال چې تر حد دنصاب پوري رسېدلی وي په هغوزکوة واجب دي . او دچامال چې حددنصاب ته رسېدلی نه وي په هغو زکوة واجب نه دي ،دغه رنګه هغه سره زرچې ستاله مېرمنې سره دي ، که د هغې په ملکیت کې وي او پکې د بل چاهېڅ حق نه وي ، نو وربانديې زکوة نشته ځکه چې صرف په پنځوتولوبانديې زکوة نشته . او که د هغې دغه سره زر ستاپه ملکیت کې وي نو د نوروامو الو تر څنګ د دغو مالوزکوة هم په تاباندې لازم دي . او هغه د لورلپاره دي تاسو ګېڼه اخستې ده هغه هم بايد معلوم شي چې تادغه سره زر دخپلي لور ملک ګرزولي دي اوکنه ؟ که هغه دي دلورملک نه وي ګرزولی (یعنې دا دې د دغو سرو زرو پوره خاونده نه وي ګرزلې) که ورسره نورې روپۍ نه وې ،نو زکوة وربانديې نشته.

(۲)اوکه نورې روپۍ هم ورسره وې ،نو بیاوربانديې زکوة واجب دي (آپ کي مسائل ۳ج ۳۵۰مخ)

د هر چاپخپل ملکیت باندې زکوة

پوښتنه : يو کور دی چې پکې درې ورونه ګډژوند کوي ، په يوځای خوراک سره کوي مګر ګټه يې سره جلاده ؛د هريوه له مېرمنې سره دوه نیم یادرې تولې سره زردي ؛که ټول سره يوځای شي نو نږدې اته نيمې تولې کيږي ، نو ايادوی به له دغوسرو زرو څخه زکوة باسي اوکنه ؟

ځواب : که له دوی سره نور داسې مال نه وي چې زکوة ورباندې فرض کېږي او حد دنصاب ته رسېدلی وي نو زکوة ورباندې واجب نه دی – ځکه چې د زکوة په نصاب کې د هر چاخپل ملکيت معتبر دي ، او دلته د يوي هم يو اځنی ملکيت د نصاب په اندازه نه دی .(البحر الرائق ج۲ ص۲۲۹)

په ګډګهول(کورنۍ) کې د زکوة حکم :

پوښتنه : زمونږ په کور کې دغه قانون دی چې ټول ورونه خپله تنخواه اوګټه راوړي او زمونږ مورته يې ورکوي ، اوبيا هغه ورباندې کور چلوي ؛ که له مونږ سره څه روپۍ اويا ګېڼه وه ،نو زکوة يې پرمونږ باندې واجب دي او که په والده (مور) مبارکه باندې ؟

ځواب : که هغه سره زر اودګټې روپۍ دومره وې چې که په ټولو ورونوو بشلي شي ،نو هر يو به د نصاب خاوند شي ، بيا زکوة واجب دي ، اوکه داسې نه وه بيا نه دي واجب .(درمختار ج۲ ص۵۸ مخ)

مسئله : که د څونفرو مال سره ګډوي ،او سره جلايې کړي اوهريوه ته دنصاب په اندازه مال رسېږي نوزکوة هم ورباندې لازم دي ، اوکه دغومره نه پوره کېدو بيازکوة نشته .(علم الفقه ۴ج ۲۸مخ)

که روپۍ مور اوپلارته ورکړلې شي نوزکوة به يې څوک اداء کوي ؟

زيد چې کومې روپۍ د مياشتنۍ خرچې په ډول خپل پلار (عمر) ته ورکړې ، او عمر دهغو مالک وګرزېدو بيا عمر يوڅه روپۍ سره ټولې کړې که څه هم له ټولولو څخه يې مقصد داؤ چې دغه روپۍ به زيد به ته په ښه ورشي ،نو دغه مال دعمر دي .که حد دنصاب ته رسېدلې وي او پوره کال هم ورباندې تېرشي ،نو زکوة يې هم په عمر باندې لازم دي .مګر که زيد د عمر له طرفه دعمر په اجازه د تېرې او

راتلونکې زماني زکوة اداء کړي ،نو زکوة يې اداء شوی دي ،زيد ته پکار دي چې عمر په دې خبر کړي چې زه د دغوروپود تېرې زمانې زکوة ادا کوم ،اودراتلونکي به هم اداء کړم ،نوته راته اجازه راکړه
(فتاوي دار العلوم ۲ج ۱۳۸مخ بحواله شامي ۲ج ۱۴مخ)

هغه مال چې د بل چاپه قبضه کې وي :

پوښتنه : د زيد مال د هغه د مور يا پلار ،ياد ورونو تر قبضه لاندې دي د بلوغ له پيل نه بيا تر دوه ويشت کلنۍ پورې ،اواوس هغه په خپل ټول مال باندې پوره د قبضې او قدرت خاوند شوی دي ،نو زکوة به څرنګه او ورکول به يې له کومه وخته پيل کوي .

ځواب : د راتلونکي لپاره به له هغه وخته د زکوة د کال پيل کوي څه وخت چې هغه ته خپل مال په قبضه کې ورغلی دي ؛ او دتېرو کلو زکوة وربانديې نشته (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۵۵مخ بحواله ردالمحتار ۲ ج ۴۸مخ)

د هغه مال چې پلار او زوی دواړو ګټلی وي زکوة په چا واجب دي ؟

پوښتنې : ۱.زيد خپل هغه مال چې ګټلی يې ؤ له خپل پلار سره ايښی دي اوټول اختيار د دغه مال له پلار سره دي ،نو زکوة يې په چاواجب دي ؟
۲. يومال پلار اوزوی په دواړو سره ګټلی ؤ او بيا د پلار تر پوره واک لاندې ؤاو هغه پکې تصرف کوي ، نو زکوة يې په چاواجب دي ؟

ځوابونه : ۱.څوک چې د مال خاوند دي په هغه باندې زکوة هم واجب دي يعنې په زوی باندې.
۲.اوپه دغه صورت کې څرنګه چې پلار ته د هر ډول لګښت اختيار دي ،نو ځکه د زکوة اداء کول هم دهغه په ذمه دي
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۰مخ بحواله هدايه ۱ج ۱۷۵مخ)

پر مسافر باندې دزکوة حکم:

مسئله : په هغه مسافر باندې چې خاوند دنصاب وي زکوة فرض دي ،ځکه چې هغه د خپل نائب په زريعه باندې په خپل مال کې د تصرف قدرت لري –(فتاوی عالمکيري: ۴ ج ۷ مخ)

ايا پر استعمالېدونکو ګېڼو باندې زکوة شته ؟

پوښتنه : ايا پر هغو ګېڼو باندې چې ښځې يې د پر وخت استعمالوي زکوة شته او کنه ؟ ځکه چې په هغو شيانو خو زکوة نشته چې استعمال يې جاري وي ،او ځينې عرب د دغه رنګه ګېڼو زکوة نه ادا کوي ،ځکه چې دوی وايي چې دغه دورځني استعمال شی دي ؟

ځواب : د امام ابوحنيفه رح په نزد په هغو ګېڼو هم زکوة شته چې استعمالېدونکې وي-(آپ کي مسائل ۳ ج ۳۷۴ مخ)

مسئله : په هغو سرو او سپينو زرو چې دنصاب اندازه يې پوره وي زکوة واجب دي ؛ هغه که استعمالېږئ او کنه ،

مسئله : نغدي روپۍ ګېڼه ،لنډه دا چې د سرو او سپينو زرو په هر شي اوسکه باندې وروستو هغه زکوةفرض ګرزي چې نصاب ته درسېدو يې کال پوره شي.که څه هم هغه روپۍ د ساتنې په نيت خنبې (دفن) کړای شوی دي او يا له استعمال څخه ليرې پاته شوې وي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۱۱۷ مخ-ردالمحتار ۲ ج ۴۲ مخ)

مسئله : د امام ابوحنيفه رح په نزد په ګېڼو باندې په هر حالت زکوة فرض دي ، که د ښځووي که دنارينه ګانو وي بس نو زکوة ورباندې فرض دي. (کتاب الفقه ۱ ج ۵۸ مخ)

د ورکې شوې ګېڼې زکوة :

پوښتنه : که له چاڅخه ګېڼه ورکه شي ،نو زکوة يې ورباندې لازم دي اوکنه ؟

ځواب : که هغه مال يې پخپله خرڅ کړ ،نوبيا ورباندې د تېرو کلونو زکوة هم واجب دي اوکه ورنه ورک شوی ؤ بيا ورباندې د تېرو کلونو زکوة واجب نه دي. اوکه له ورکېدلوڅخه وروستو بېرته پيدا شو ،نو بيابايد دا معلومه کړله شي چې که هغه تر کال پوره کېدلو وروستو بياپيدا شوی ؤ ،نو دورکېدلو د زمانې زکوة لازم نه دي ،اوپاته شوه د راتلونکي لپاره د زکوة خبره ،نو دهغه حکم دا دی که برسېره پردغه له دغه سرې سره له مخکي نه دغه قسم نصاب ؤ ،نو له هغه سره به په ګډه زکوة اداء کوئ اوکه تر نصاب کم ؤ نو بياورته د پيداکېدلوله وخته د يوکال پوره والی شرط دي – اوکه مخته تريوکال پوره کېدلو پيداشول ،نو بياهم بايددا معلومه شي چې له خاوند سره يې د دغه قسم نور مال هم شته اوکنه ؟ که نه ؤ ،نوبياچې يې د پيداکېدلو له ورځې څخه وروستو يو کال پوره شي بيا ورباندې زکوة لازمېږي – اوکه له خاوند سره يې نورمال هم ؤاوتول په ګډه د نصاب حدته رسېدو ،نود هغه زکوة دې له نورمال سره اداء کړي.(امدادالفتاوی۲ج۲۳مخ)

د ګېڼې د زکوة په اړندڅوپوښتنې :

پوښتنه :۱. يوڅاپه مختلفو وختونو کې مختلفې ګېڼې واخستلې ،نو زکوة ورباندې څه وخت فرض کېږي ؟

۲.په زکوة ورکولو کې د ګېڼې د اخستلو قيمت معتبر دي اوکه موجوده قيمت ؟

۳. د ګڼو په قیمت کې به د ملغلرو او غمو دقیمت او جوړولو اجرت هم لګول کیږي ،او که به ورته صرف د سرو زرو قیمت لګوي ؟
۴. که په ګڼو کې له زرو سره نور څه هم ګډوي ،نو زکوة ورباندې شته او کنه ؟

ځواب : په کومه ورځ چې ستالاس ته دغه مال درغلی ،چې سره ،سپین زر ،د تجارت مال او نغدې روپۍ وي ،یا له دوی څخه د یوې شي قیمت له (۳۵- ۲۱۲) ګرامو سپینو زرو سره برابر وي له هغې ورځې نه ته د نصاب خاوند ګرزېدلی یې ،د سپوږمیځې میاشتې دغه نېټه یا ده لره ،یو کال وروستو چې دغه ورځ راغله نو چې پکې له دغو څلورو شیانو څخه چې هر څومره مقدار لتاسره موجود وي په هغه باندې زکوة فرض دي که څه هم یوشی تر دغه تاریخ یوه ورځ له مخه ستاسولاس ته رسېدلی وي په دې شرط چې په دغه تاریخ نصاب پوره وي یعنې د ټولو شیانو ګډ قیمت د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو سره برابر وي

۲. په کوم سپوږمیځ تاریخ چې د زکوة کال پوره کیږي ن د هغې ورځې له قیمت سره سم به اداء کیږي

۳. صرف د سرو زرو په قیمت باندې زکوة نشته د ملغلرو او غمو په قیمت او د ګڼو د جوړولو په اجرت زکوة نشته

۴. د ګڼو په جوړولو کې چې نور شیان ګډ شوي دي دغه قسم ګډوئي ته به د خلوط مقراطي سرو زر قیمت لګول کیږي

مېرمن د نصاب خاونده ګرزېدل

مسئله : که مېرمن د نصاب خاونده وه نو د هغې د نصاب په وجه د هغې خاوند صاحب نصاب نشي کېدای او د هغې قرباني ،زکوة او نور د هغه په ذمه واجب نه دي.(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۵۰مخ بحواله هدایه ۱ج ۱۷۲مخ)

که د ښځې ګڼه وه او مېړه ئې قرضدار وُ...

مسئله : که ګڼه د مېرمنې وه او سړی قرضدار وُ ، نو د زکوة په برخه کې دغه قرض د ښځې نه بلل کېږي ،بلکه هغه به د خپلې تولې ګڼې زکوة اداء کوي ؛خو که دغه قرض په ښځه باندې وُ نو بیاد هغې بلل کېږي –
(آپ کي مسائل: ۳ج ۳۴۷مخ)

ایا د ښځې لپاره په زکوة کې د خاونداجازه ضروري ده ؟

مسئله : که ښځې ته ګڼه خاوند وراخستې وه یا یې ورته جوړه کړې وه ،او د ښځې ملک یې نه وه ګرزولې لکه څرنګه چې نن سباعادت دی ، نو د هغې ګڼې زکوة په خاوند باندې واجب دي.په ښځه باندې زکوة نشته.که خاوند یې زکوة اداء نکړي نوهغه ورباندې ګنهګار دي،د ښځې هېڅ ګناه نشته. او که ښځې ته د پلار لخوا دواده په سامان کې ورکړله شوې وه ،نو هغه یې خپل ملک دي اوباید پخپله یې دځه برخې په ورکولوسره ،یا دپلورلوله لارې زکوة اداء کړي. اوپه دغه صورت کې ورته د خاونداجازې هېڅ ډول اړتیانشته.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۱ مخ او ۴۸مخ بحواله درالمحتار ۲ج ۵۰۲ مخ)

مېرمنې د زیوراتوزکوة له څه شي اداء کړي ؟

پوښتنه : زیورات (ګڼې) خو د ښځوملکیت وي ،نو دهغود زکوة پېټې ولې په سړو وراچول کېږي ؟ اوکه مېرمنه یې پخپله اداء کوي ،نو له څه شي یې اداء کړي څکه چې له دوی سره خوبغیرله ګڼو نور هېڅ شی (یانغدي روپۍ) نشته ؟

ځواب : کومه ګڼه چې دښځې په ملکیت او قبضه کې ده د هغې زکوة هم پر هغه ښځه واجب دي خوکه خاوند ورسره نیکي کوله اود هغې

پر ځای یې زکوة اداء کړ، اویابنځې له خاوند څخه روپۍ واخستلې او په زکوة کې یې ورکړې نو په دې ډول یې هم اداکول صحیح دي .اوکه له دغوصورتو څخه یوهم نه کېدی ،نو بیا به له زیوراتو څخه زکوة ورکوي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۸۵مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۴۰مخ)

ایاد مېرمنې د ګینو زکوة پر خاوند لازم دي ؟

پوښتنه : د یوداسې سړی (چې ګټه وټه یې ډېرکمه وه) مېرمنې دواده پر مهال لس تولې سره زر دزیوراتو په ډول له ځان سره راوړل ،ایاپه خاوندیې دالازمه ده چې په هر حال وي د هغوزیوراتو زکوة اداءکړي ؟

ځواب : ځرنګه چې دغه ګېڼه د سړي نه بلکه دمېرمنې ده ،نو ځکه د دغو ګېڼو زکوة هم په هغې مېرنې واجب دي مېرمنې ته پکار دي چې له خپلو زیوراتو څخه دومره برخه په زکوة کې ورکړي څومره چې وربانديې واجب دی او د زکوة بار د خپل خاوند په اوږو وروانه چوي

مسئله : که له یوې مېرمنې سره د نصاب په اندازه ګېڼه وه ،نو زکوة اداء کېږي .(آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۵مخ)

د خاوند او مېرمنې د زکوة حساب :

پوښتنه : په واده کې چې انجونو ته کوم زېورات (ګېڼې) ورکړلی کېږي هغه د دوی ملکیت دي مګر زکوة یې د خاوندانو (مېړونو) له جیبه څخه اداء کوي ،نو که له خاوند سره هم څه داسې شی وي چې زکوة وربانديې فرض وي مګر تر نصاب کم وي .ایادوی کولای شي چې هغه د ښځو په زېوراتو کې ورګډ کړي اوبیاله هرڅه نه په ګډه زکوة اداء کړي. اوکه به یې هریو جلااداءکوي ؟

ځواب: د دواړولپاره ځانله ،ځانله حساب دي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۶مخ)

انجلۍ (ناوې) ته چې زېورات ورکول کېږي د هغوزکوة پر چالازم دي ؟

پوښتنه : د هلک (زوم) پلار چې په ناوې باندې کومې ګهنې اچوي دهغه زکوة پر چالازم دي ؟

ځواب : هغه زېورات چې د هلک د پلار لخواه په ناوې اچول کېږي هغه زمونږ په رواج کې د انجلۍ ملکيت نه دي ،نو ځکه زکوة د هلک په پلارباندې فرض دي. (فتاوى دارالعلوم ۶ج ۷۴مخ ،وكفايت المفتي ۴ج ۲۴۲مخ)

يادونه : دغه کتاب په اردوژبه د رفعت قاسمي صاحب لخوا ترتيب شوى دي او په غه مسئله باندې حوالې هم د هغوفتاواې ؤ دي چې جوړونکي يې اردوژبي دي ،نوځکه يې صرف د خپل رواج او عرف اظهار کړى دي او په هغو سيموکې چې رواج داسې وي چې دغه ګهڼه به دنجلۍ په ملکيت او قبضه کې وي ،نو هلته بيا د هغې ګهڼې زکوة په نجلۍ فرض دي.اود پښتنو په ډېروسيمو کې رواج هم داسې دي)
(مترجم-عبدالملک حصيف)

يوچادنجلۍ لپاره ګهڼه جوړه کړه او ورته ويې ساتله ،نو زکوة يې پرچافرض دي ؟

پوښتنه : يو چادخپلې لور دواده لپاره ګهڼه جوړه کړه او بيايې ورته ساتلې وه ،نوزکوة يې په نجلۍ باندې لازم دي اوکه دهغې په پلار يامورباندې؟

ځواب : که دغه ګهڼه يې بالکل د نجلۍ ملک ګرزولې وه ،نو د هغې زکوة د نجلۍ تر بلوغ مخکې نه پر پلار اونه پرمور فرض دي اونه پر نجلۍ باندې ؛ اوتر بلوغ وروستو بياپر نجلۍ فرض دي. اوکه يې د

هغې ملک نه وه ګرزولې ،نوبیاپه هغه چاز کوة فرض دي چې د هغې ګېڼې مالک وي – (فتاوی محمودیه۱۱ج ۱۳۲مخ)

انجلۍ ته چې والدینو (موراوپلار) کومه ګېڼه ورکړې وي دهغې زکوة په چافرض دي ؟

پوښتنه : د زید مېرمنې ته چې مور اوپلار کومه ګېڼه ورکړې ده دهغې زکوة به زید اداء کوي او که د هغه مېرمن ؟

ځواب : د دغې ګېڼې زکوة به د زید مېرمن اداء کوي ،پر زید باندې د دغې ګېڼې د زکوة اداء کول نشته ؛ اوکه زید شتمن ؤ او د خپلې بي بي له طرفه يې زکوة اداء کاؤ،نو کولای شي چې اداء يې کړي – او دهٔ بروکلونو زکوة په جلا جلا ډول لږ، لږ ورکول هم صحیح دي.
(فتاوي دارالعلوم ۲ج ۲۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۷مخ)

که په مهر کې ګېڼه ورکړله شوه ،نوزکوة به يې څوک اداء کوي ؟

مسئله : څرنګه چې دغه ګېڼه د مېرمنې مهر (ولور) کې ورکړله شوې ده نودا يې مالکه ده او زکوة يې هم د هغې په ذمه دي ،خاوند يې له زکوة ورکولو خلاص دي.(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۵۴مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۳مخ)

د عرف (رواج) مطلب

شریعت نارینه ته دغه ازادي ورکړېده چې مېرمنې ته کومه ګېڼه جوړوي هغه تر خپل ملکیت لاندې وساتي او د کم ،کم وخت لپاره يې مېرمنې ته ورکوي او بېرته يې ورنه اخلي ،اوياداچې په پوره ډول يې خپلې مېرنې ته وسپاري او هغه يې مالکه وګرزوي. په يو صورت کې هم شریعت په تاسو بندیزنه لګوي اوس به رواج ته کتل کیږي چې په کومه کورنۍ کې د ګېڼې په اړه هر ډول رواج وي هغه د همدي

مثالونو په بناء وي. له لسو څخه نبولې تر سلوپورې به داسې ښيني
شوې وي چې ورنه داخبره واضحه شوې وي چې د کورنۍ سرې خپلو
مېرمنو ته ګڼې دلندوخت لپاره ورکوي اوکه يې د تحفې په ډول - که
دغه ګڼه ورته د تحفې په ډول ورکوله کېږي نو مطلب يې داشو چې
مېرمن يې مالکه ګرزي. په داسې صورت کې که د کورنۍ هر غړي
مېرنې ته ګڼه ورکړي او دورکړي په وخت يې داخبره ده چې هغه د
مېرمنې ملک ګرزي ،اوكه خاوند نه غوښتلاى چې هغې ته دغه ګڼه
په تحفه کې ورکړي ،نو پرې لازمه وه چې دورکولوپروخت يې داخبره
سپينه کړې واى چې زه يې د کم وخت لپاره ورکوم که د عملي مثالونو
په بناء د کورنۍ خلک په دې پوهېږي چې لماسره چې کومې ګڼې
دي او ښځوته ورکول کېږي د تحفې په ډول نه بلکه د کم وخت لپاره
ورکړل کېږي نو ظاهره خبره ده چې د دغې کورنۍ کوم سړې چې خپلې
مېرمنې ته ګڼه ورکوي اوهيڅ ډول وضاحت نه کوي نو د هغه په
ارونددافکر کېږي چې د کورنۍ د پېژندل شوي رواج سره سم يې د
کم وخت لپاره ورکړې ده ،نه د تحفې په ډول .نو ځکه مېرمن د هغې
مالکه نه ګرزي.(رفعت قاسمي)

د انجونو لپاره په اخستل شوؤ سرو زرو باندې د زکوٰة حکم

پوښتنه : زمادرې لونې دي ماد هغودواده لپاره شل تولې سره زر
اېښې دي او سربېره پر زرو لوښې ،جامې او سامانونه هم دي ؛ اياپه
دغو شيانو به زکوٰة وي اوکنه ؟

ځواب : که تادغه سره زر دلونونوملک ګرزولې وي ،نو تر بلوغ پورې
پر دوى باندې واجب نه دي ؛اوله بلوغه ورسته چې هره يوه دنصاب

خاونده وه پر هغې باندي زکوة واجب دي ، اوکه دې دغه سره زر د هغوملکیت نه ؤ گرزولي ،نو بیا د دوی مالک ته یې اوزکوة یې درباندې فرض دي .او جامې ،لوښي او داستعمال نور شیان چې د دوی لپاره دي ایښي دي په هغو باندې زکوة نشته.(اپ کي مسائل ۳ج ۳۴۵مخ)

گېڼه د چاپه نامه کول له زکوة څخه د خلاصون لاره نه ده :

مسئله : که يو چانجلۍ د گېڼې مالکه وګرزوله نوتر هغه وخته پوري چې هغه بالغه شوي نه وي زکوة ورباندې نشته ؛کله چې هغه بالغه شي او دغه زر اورسره نوري روپۍ په ګډه حد د نصاب ته ورسېږي ،نو بياورباندي زکوة فرض دي .صرف دغه نيت چې زه به دغه ګېڼه د نجلۍ په جهيز(هغه مال چې د پلار کور وال يې د لور دواده پر وخت په هغې پسې ورکوي) کې ورکوم سړی له زکوة ورکولو څخه نه خلاصوي ،تر څو چې انجلۍ د دغې ګېڼې مالکه نه وي ګرزوله شوې ،او وروستو له دې چې انجلۍ د ګېڼې مالکه وګرزوله شي نو بيا بل چاته د هغې استعمال روانه دي .(آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۸)

اياد مهر تر وصول کېدلو رومبی زکوة شته ؟

پوښتنه : د ښځې مهر چې لاخاوند اداء کړی نه وي نوپه دغه صورت کې د ښځې په ذمه د مهر زکوة واجب دي اوکنه ؟

ځواب : د مهر د ترلاسه کولوله مخه په مهرباندې زکوة نشته.

(فتاوای دار اللوم ۲ج ۵۷مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۳مخ)

مسئله : د امام ابوحنيفه رح د مذهب د پيرويانوپه نذد د پوره مالک جوړېدلو معني دا ده چې مال به د هغه په قبضه کې وي - که يو څوک د داسې شي مالک وګرزېدو چې لايې هغه شی په قبضه کې نه ؤ ،لکه

دنبځې مهر ، چې لاد هغې ترلاسه نه وي رسېدلى ،نو په هغه مال باندې زکوة واجب نه دي.همدارنګه په هغه مال باندې هم زکوة نشته چې د يوچاپه قبضه کې وي او ملک يې نوي ،لکه د هغه چامال چې قرضدار وي ځکه چې مال خوظاهرا د هغه په قبضه کې دى ،خو ملک د بل چادي.(کتاب الفقه على المذاهب الاربعه۱ج۹۲۱مخ)

په هر (ولور) باندې مخته تر رسېدلو زکوة نشته ، له رسېدلو وروستو چې پوره يو کال په هغو روپو باندې تېر شي (چې ورباندې په دوه نيم پرسلوکې زکوة واجبېږي) ،نو بيا زکوة فرض دي ، او کومې روپۍ چې دکال په مېنځ کې په مصرف ورسېږي په هغوباندې زکوة نشته.(رفعت قاسمي غفرله)

مهر (ولور) لرونکې مېرمنې ته د زکوة ورکول

مسئله : د يوې مېرمنې مهر درې زره روپۍ دي ،مګر خاوند يې دومره غريب دي چې هغه نشي اداء کولاى ،نو دغې مېرنې ته هم زکوة ورکول صحيح دي. او هغې مېرمنې ته چې خاونديې شتمن وي مګر مهر نه اداء کوي اويامېرمنې ورته خپل مهر بخښلى وي ،هم زکوة ورکول صحيح دي مګر د کومې مېرنې سره چې دا اميد وي چې هرکله زه له خاوند څخه مهر وغواړم نو هغه مې مهر اداء کوي نو هغې ته د زکوة ورکول روانه دي.(امدادالمسائل زکوة۷۴مخ)

ايا د مېرمنې مهر د زکوة د وجوب مانع ګرزي ؟

مسئله : که يو څوک د نصاب خاوند شي ،نوزکوة به هغه وخت ورباندې فرض کېږي چې په هغه باندې دومره قرض نه وي چې که ټول اداء کوي ،نو د نصاب په اندازه مال به ورسره پاته نشي خو هغه قرض

چې د الله ﷻ وي لکه کفاره ،سرسایه ،حج اوداسې نور هغه ورځخه وتلې دي. (خلاصة الفتاوی۱ج۲۴۰مخ)

اوکه له چاسره د قرضوتر اداء کولو وروستو دومره څه پاته نشي چې نصاب ورنه پوره شي .نو په هغه باندې زکوة نشته په دغه بنیاد ویلای شو چې که د مېرمنې د مهر له اداء کولو وروستو نصاب موجود پاته نه ؤ نو زکوة واجب نه دي. اوکه په کمو سیموکې داسې ؤچې مهر دېر رواج نه ؤ یعنې دېر ځله مېرمنو هغه خپلو خاوندانوته وربخښلونودغه قرض بیاپه زکوة باندې اثرنه اچوي او زکوة واجب دي – په فتاوي عالمګیري کې راغلي دي چې که په سړي باندې مهر مؤجل (چې سمدستي یې اداء لازمه نه وي) وي او دهغه دږر اداء کولواراده نه لري نو دغه قرض دزکوة د وجوب مانع نشي ګرزېدلای. (فتاوي عالمګیري:۱ج۸۹مخ جدید فقهي مسائل ۲۲۴ مخ)

مسئله : د خاوند په زمه دمهر پوروا جب دي ،هغه که معجل (ژرغوښتونکی) وي او که مؤجل (ځنډیدلی) وي مګر خاوند کوشش کوي چې څومره ژرکېدای شي باید مهر اداء کړي او د دې لپاره روپۍ جمعه کوي ،نو دغه رنګه قرض مانع د وجوب د زکوة ګرزي که پر دومره روپو برسېره (چې مهر ورباندې اداء کېدای شي) له هغه سره نور مال دومره ؤ چې حد دنصاب ته رسېدلی ؤ نو په هغه باندې زکوة شته ،او که نه ؤ بیانشته .اوکه خاوند یې داداء کولو په کوشش کې نه ؤ اودایې پوره باور ؤ چې نه به یې اداء کوم ،نو دغه رنګه پور بیاد زکوة د وجوب مانع نشي ګرزېدلای (فتاوی محمودیه ۱۳ج۱۰۴مخ)

مېرمنې ته د مهر په رسېدلوسره د زکوة حکم :

که یوه نجلۍ چاته په نکاح کړله شوه او بیاورته ټول مهر راغلي اوتر یوکاله پوري د هغې په قبضه کې ؤله دې وروستو د هغې خاوند هغه له ورنږدې کېدلو (خلوت صحیحه) له مخه طلاقه کړه اوله ورکړل شوي مهر څخه یې نیمايي بېرته ورکړ ،نوکه هغه مهرد سرو اوسپينو زرو له قسمه څخه ؤ بیا به هغه مېرمن د ټول مهر زکوة اداء کوي. اوکه په نغدي ډول نه ؤنو بیابه دنیمايي مهر زکوة اداء کوي. (علم الفقه ۴ج ۲۳مخ)

په مهر کې د ورکړل شوې ځمکې د زکوة حکم :

پوښتنه : ماڅه ځمکه د تجارت په نیت اخستې ،اوس غواړم چې ټوله اویایوه برخه یې د خپلې مېرمنې د مهر په بدل کې ورکړم. آیا زماپه مېرمن باندې به د دغې ځمکې زکوة واجب وي .که چېرې هغې وباندې دکور جوړلو اراده لرله ؟

ځواب : ستاپه کورودانه باندې د دغې ځمکې زکوة فرض نه دی ، که یې ورته د تجارت نیت وي او که د کور جوړولو .خوکه یې د مهر په بدل کې له تاڅخه د اخستلو پروخت پکې د تجارت نیت کړی ؤ ،نو بیا وباندې زکوة واجب دي. (احسن الفتاوی ۴ج ۲۲۵مخ)

مسئله : د مثال په ډول د مېرمنې ولور لس خرواره غنم ؤ، د رسېدلو پروخت هغې پکې د زکوة نیت وکړ اوویې ویل چې دغه غنم به خورم نه ،بلکه تجارت به پکې کوم ،نو صرف د تجارت د نیت په کولو سره زکوة نه واجب کېږي تر څوچې تجارت یې تر سره نشي. (احسن الفتاوی ۴ج ۳۵، ردالمحتار ۲ج

ایاد استعمال پر ګېڼوزکوة شته ؟

مسئله : د سرو او سپینوزرو ګېڼه چې د نصاب تر حده ورسېږي بیاکه استعمالېږي اوکنه زکوة وربانديې فرض دي. (هدایه۱ج۱۷۷مخ)

پر اشرفۍ (دسروزرو سکه) باندي زکوة

پوښتنه : ایازکوة په دواړو ډولونو سرو او سپینو زرو کې شته او که د اشرفۍ د شکل په سرو او سپینو زرو کې ؟

ځواب : په دواړو باندې زکوة واجب دي یعني د ځېنو او اشرفیو دواړو په شکلونو باندې (چې تر اندازې دنصاب ته رسېدلي وي) زکوة فرض دي. (آپ کي مسائل ۳ج۳۲۵مخ)

ګېڼې ته د کچه شیانوورګډول اوغمي پکې لګول

مسئله : د زرو په ګېڼه کې چې غمي لګول شوي وي په هغوباندې زکوة نشته ځکه چې هغه ورڅخه لیري کېدای شي خو هغه کچه شیان لکه پتل اونور چې له سرو زر وسره ګډ شوي وي هغه د دوی په وزن کې شمارل کېږي، د دغه رنګه ګېڼې چې څومره بازاري قیمت وي په هغه اندازه دې زکوة اداء کړي. (آپ کي مسائل ۳ج۳۲۵مخ)

د هغې ګېڼې زکوة به څنګه اداء کوي چې نور شیان پکې اېښودل شوي وي ؟

پوښتنه : څه ګېڼه ده چې په کنډې شیانو ښایسته شوې ده او په ځینو کې غمي بند شوي دي که یې ورڅخه راباسي نو ګېڼه خرابېږي ،اوکه اندازه یې لګوینو نشي کولای سمه یې اندازه کړي .که سره زرتر نصاب کم ونو دهغه زکوة به له سپینو زرو سره ګډورکوي اوکه به د

دواړوزکوة جلااداء کي ؟ د سرو او سپينو زرو زکوة به له يوه شي څخه اداء کوي اوکه به د دواړوزکوة له خپل خپل جنس څخه اداء کوي ؟اوکه په زکوة کې ګېڼه ورکړل شي نو څه منعه پکې شته اوکنه ؟

ځواب : د هغو بايد لومړی سمه اندزه ولګوله شي او بيايې زکوة ورکړل شي ،مګر اندازه کونکي ته بايد دا وويل شي چې تر څو کېدای شي ،احتياط په نظر کې لره ،او په دغه صورت کې که سره زرقېمت کوي اوبيا يې سپينو زروته ورګډوي او له سپينو زرو څخه زکوة اداء کي داهم سمه ده اوکه يې له سرو زرو څخه اداء کوي هم سمه ده -لنډه دا چې د دوادړوزکوة له يوه څخه ورکول صحيح دي اود دوه نيم فيصدپه حساب دي زکوة ورکړي. په زکوة کې د زرو په ورکولو کې هيڅ منعه نشته. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۱۹مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۴۵مخ)

په کومه ګېڼه کې چې جواهر کارول شوی وي ؟

مسئله : که د سرواو سپينو زرو ګېڼه وه او جواهر پکې ،ښودل شوي ؤ ،نو د هغې ګېڼې زکوة به د سرو اوسپينو زرو په اندازه ورکول کېږي -يعني په جواهرو باندې زکوة فرض نه دي بلکه په سرو او سپينو زرو باندې زکوة فرض دي.(کفايت المفتي ۴ج ۲۲۹مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۴۲مخ)

د خالصوجواهرو د ګېڼوحکم :

مسئله : په جواهرو ،لکه زمرود ،لعل ،ياقوت اونوروباندې زکوة فرض نه دي ،په دې شرط چې هغه د تجارت لپاره نه وي.

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۳مخ)

مسئله : هغه ګېڼې چې صرف له جواهرو څخه جوړې شوې وي ،دهغو حکم دا دي چې که د تجارت لپاره نه وي ،نو زکوة وربادې نشته.

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۰مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۸۱خ .وفتاوي محموديه ۲ج ۷۱مخ)

مسئله : د سچه ملغلرو په هار او نورو شیانو باندې زکوة نشته ،خو که د تجارت لپاره ؤ بیاو رباندې شته . (بهشتي زیور ۳ ج ۲۵ مخ و رد المحتار ۲ ج ۱۳۱ مخ)

مسئله : له سرو او سپینو زور څخه بغیر ،په نورو شیانو باندې ،لکه جواهر ،مرجان زبرجد او الماسو څخه جوړو شوؤ ګېڼو باندې (چې سره او سپین زر ورګډ نه وي) زکوة نشته . (فقه الزکوة ۲ ج ۲۷۷ مخ)

په کوموزیوراتو کې چې عیب جن شیان لکه پتل او نور ورګډکړل شوي وي

پوښتنه : له ما سره چې کومې جوړې کړل شوې ګېڼې دي هغو ته دریمه برخه عیب جن شیان لکه پتل او نور ورګډ شوي دي ،ددغه رنګه ګېڼې زکوة په څه ډول اداء کېږي ؟

ځواب : په کومو کې چې تر نیمایي زیات سره زر وي ، نو هغه ګېڼه داسې ده لکه ټوله چې د سرو زرو وي ، او د خالصو سروزرو په ډول یې زکوة واجب دي . (فتاوي دارالعلوم ۷ ج ۱۱۵ مخ بحواله رد المحتار ۲ ج ۲۴ مخ)

مسئله : په فیروزه ،یاقوت او نورو باندې زکوة واجب نه دی . د هغو وزن به له ګېڼې نه جلا کوي او بیا به د سرو او سپینو زرو زکوة اداء کوي . (فتاوی محمودیه ۱۳ ج ۱۱۳ مخ)

یادونه : که یو چاد شوق لپاره الماس او جواهر له ځان سره ساتلي ؤنو زکوة یې ورباندې نشته ،مدارنګه که یې د زکوة نه د بچ کېدلو له خاطره دغه حیله جوړه کړه ،نو هم د شریعت په اعتبار د امام ابوحنیفه رح په نزد زکوة ورباندې نشته مګر څرنګه چې په دې سره د غریبانو حق له مېنځه ځي ، نو دغه نیت ته په کتو سره دا وېره شته چې خدای ﷻ دې هغه په دغه عمل سره ونیسي . (مولانا رفعت قاسمي)

د ګډوډو شیانو د زکوة حکم:

مسئله: د حنفي مذهب په نزد په ګډوډو شیانو کې هغه شی (چې په دغه ګېڼه کې سره ګډوي لکه پیتل ، سرول ، ترامه سره او سپین زر او داسې نور) معتبر دي چې اندازه یې زیاته وي. هغه که سره زر وي که سپین او که بل شی. اوکه له سرو زرو سره سپین او یا له سپینو سره ،سره زر ګډ ؤ ،نو د هغه قسم په اعتبار به یې زکوة اداء کول کېږي کوم چې ډېر وي.په دې شرط چې حد د نصاب ته به رسېدلي وي

(کتاب الفقه۱ج ۹۹۲مخ و رد المحتار۲ج۵۴مخ)

د سچه نقش لرونکو،او کچه نقشوکپړو د زکوة حکم

پوښتنه: د مېرمنو د لوړقیمته جامو (چې پکې سپین زر کارول شوي وي) زکوة باید څنګه اداء کړل شي څکه چې دا اندازه یې نشي لګول کېدای چې څومره زربه کاورل شوي وي ؟

ځواب : هغه زري ناروته چې په بنارسي اونورو کپړوکې ورنه کار اخستل شوي وي ،پخپله یابل داسې چاباندې چې پرې پوهېږي باید اندازه شي او زکوة یې اداء کړل شي.او د سچه سپینو زرو او نورو د نقلي نقش هم باید اندازه ولګوله شي-د هغو اندازه کول اسان دي د مثال په ډول د نقش دغه رنګه تان دي وتلل شي او بیا دې معلومه کړل شي چې وزن یې څومره دی لنډ داچې په دغه رنګه ځایو کې اندازه کافي ده ،خواندازه تر خپله وسه باید په داسې ډول ولګوله شي چې کموالی خو پکې بالکل ونه شي او زیادت که وشي اوکنه.

(فتاوی دارالعلوم۲ج۱۳۱مخ بحواله هدایه۱ج۷۷مخ)

مسئله : د استعمال په لوښو او جامو(کپړو) باندې زکوة نشته خو که پکې د سچه سرو یاسپینو زرو کارشوی وي نو بیا وربانډې زکوة

واجب دي .همدارنگه د تجارت په سامان او کپړوباندې هم زکوة واجب دي. (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۵۳مخ بحواله درمختار مع شامي ۲ج ۱۰خ)

مسئله : کپړې چې هر څومره لوړقیمته وي ،زکوة ورباندې نشته مگر که په هغوکې دسجه سرویاسپینو زرو اندازه دومره وي چې که ورڅخه بېل شي نو (۵۲نیمي) تولې سپین زر ورڅخه جوړشي ، نوپه دغوسپینو زرو باندې زکوة واجب دي : او که تر دې کم ؤ بیا ورباندې زکوة نشته. (بهشتي زیور بحواله جوهر النیره ۱۱۷مخ)

هغه شتمني چې دوارثانو لپاره ساتله شوې وي :

پوښتنه : یو چاځپل جایداد په خپل ژوند کې خرڅ کړاو دهغه روپۍ یې له ځان سره کېښودلې چې دهغه له مړینې وروستو بې دهغه وارثان ورواخلي . آیا په هغه باندې د دغو روپو زکوة واجب دي او کنه ؟

ځواب : فی الحال دغه سړی د هغومالک دي ، نو ځکه بې ورباندې زکوة واجب دي — (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۵۴مخ)

له مړي څخه په پاته شوې (میراث) کې د زکوة حکم

پوښتنه : یوې مېرمنې ته چې اولادونه هم لري له وفات شوي خاوند څخه نږدې څلویښت زره روپۍ پاته شوې .ایا په هغې باندې زکوة واجب دي ؟

ځواب : دغه روپۍ دې دشریعت له قانون سره سمې تقسیم شي .که دهریوه په برخه کې دومره څه ورسېدل چې نصاب پوره ؤ ،نو په بالغانو یې زکوة فرض دي او په نابالغو باندې زکوة نشته .(اپ کې مسائل ۳ج ۳۹۲مخ)

د تیروکلونو د زکوة حکم :

مسئله : د هغوکلونو د زکوة د اداء کولو لپاره چې نه دي اداء شوي دا وخت بل صورت بغیر له دې نشي جوړېدای چې په خپل خیال اوفکر

سره د هغو کلونو اندازه ولګوله شي (چې زکوة پکې نه دي اداء شوی) چې په هر کال کې نژدې څومره روپۍ موجودې وي. د څومره روپو خیال چې د هغه په ذهن کې ورغلی، د هغو زکوة ته دې حساب وکړي او بیا دې هغه اداء کړي. او احتیاط په دې کې دي چې اندازه باید په داسې ډول ولګوله شي چې د هغه په خیال کموالی پکې نه وي بلکه لږ څه زیادت وي. (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۳۷مخ)

که د تېرې زمانې زکوة معلوم نشو بیا باید څه وکړي ؟

پوښتنه : کله چې د زکوة درقم سم شمارلو کار د زکوة د واجبېدلو له مدې سره برابرول سخت شي (ځکه چې د سرو زرو د قیمت تر لاسه کول مشکل دي) نو بیا به زکوة څه ډول اداء کوي ؟

ځواب : په دغه صورت کې دا اندازه لګوله کېدای شي ، چې نژدې دومره روپۍ د زکوة به په ما واجب شوې وي ، خو د احتیاط په وجه دې تر اندازې څه زیاتې اداء کړي. ((آپ کي مسائل ۳ج ۳۲۷مخ)

که یوې مېرمنې دواده له زرو څخه دېرکلونه زکوة اداء نکړ ؟

پوښتنه : زماد واده لس کاله شوي دي اوزماله مېرمنې سره دواده له ورځې څخه بیا تر اوسه نژدې (۸۰ تولې سره زر دي او تر اوسه یې ځکه ورڅخه زکوة نه دی اداء کړی چې زمونږ آمدني دومره نه ده چې له ضرورت څخه زیاتې شي او زکوة وربانديې اداء کړو. نو زکوة یې څنګه کړو؟

ځواب : د دغو (۸۰) تولو سروزرو زکوة ستاپه ذمه نه ،بلکه ستا د مېرمنې په ذمه دي. که د زکوة اداء کولو لپاره روپۍ نه وي، نو له زرو څخه دې دومره څه په زکوة کې ورکړي چې زکوة وربانديې اداء کېږي. په هرحال د تېروکلونو زکوة ستاپه مېرمن باندي پاته دي. هرکال ته دي حساب وکړي څومره زکوة چې جوړېږي هغو مره دې اداء کړي. (اپ کي مسائل ۳ج ۳۴۸مخ)

زکوة به د اخستلو د وخت له قیمت څخه اداء کوي اوکه له موجوده قیمت څخه ؟

پوښتنه : د مال د هغه وخت له قیمت څخه به زکوة اداء کوي چې پکې اخستی یې دي اوکه د موجوده قیمت څخه ؟

ځواب : کوم قیمت چې د زکوة اداء کولو پروخت دي هغه د اعتبار وړي دي . او د زکوة حساب دادی چې یابه څلوېښتمه برخه په زکوة کې ورکړي او یا دهغې قیمت. (فتاوی دارالعلوم ۲ج۲۱مخ بحواله ردالمحتار ۲ج۳۰مخ)

مسئله : د زکوة په اداء کولو کې دهغه ځای قیمت معتبر نه دي چې زکوة ورکونکی پکې اوسي ، بلکه د هغه ځای د قیمت په حساب به زکوة اداء کوي چرته چې مال دي – او د کال ګرزېدل هم د هغه ځای معتبردي چرته چې مال وي – (احسن الفتاوي ۴ج ۲۲۸مخ)

د سپینو او سرو زرو زکوة به په کوم نرخ ورکوي . ؟

پوښتنه : د جوړو شوو او ناجوړو سرو زرو نرخونه خو سره جلاجلادي ،په کوم نرخ باندې باید زکوة ورکړل شي ځکه چې په بازار کې د اخیستلو قیمت یو ډول ، او د خرڅولو قیمت بل ډول دي . که مسکینانو ته په زکوة کې سره زر ورکړل شي نو په دې کې د دوی تاوان دي ، ځکه چې د بازار خلک یې ورنه په کم قیمت اخلي.

ځواب : په کوم قیمت چې دوکاندار هغه خرڅوي دهغه قیمت په لګولو سره باید زکوة اداء شي . او که مسکین ته په زکوة کې سره زر ورکول کېدل ،نو د تولو څخه دي څلوېښتمه برخه ورکړله شي او په دې سره هم زکوة اداء کېږي . دا بیا دفقیرکار اوخوښه ده چې په هر څومره قیمت یې خرڅوي . (فتاوی دارالعلوم ۲ج۱۲۴مخ بحواله رد المحتار ۲ج۲۰مخ)

که چاد سرو او سپینو زرو په قیمت سره زکوة ورکاؤ ،نو هغه قیمت باید ورکړي کوم چې د زکوة ورکولو په وخت په بازار کې دي - ځکه چې د اخستلو د ورځې د قیمت هیڅ اعتبار نشته . او په قیمت کې باید د خرڅولو قیمت یعنې هغه قیمت ورکړی چې په دغه ورځ ورباندې سره او سپین زر اخستل کېږي - (محمد رفعت قاسمي)

مسئله : د سرو او سپینو زرو په زکوة ، او عشر کې د هغه وخت قیمت معتبر دي په کوم وخت چې واجب شوی دي. خو په ځړېدونکو (لکه وزه مېږه غوا او نورو) کې د زکوة لپاره هغه قیمت معتبر دي کوم چې د اداء په وخت کې وي. (احسن الفتاوي۴ج ۲۲۸مخ)

که نرخ معلوم نه ؤ بیا باید څه وکړي؟

پوښتنه : که د زرو سم نرخ معلوم نه ؤ او زکوة ورکونکی اندازه د نرخ ولګوله او له هغه قیمت سره سم یې زکوة اداء کړچې درې یا څلور میاشتې له مخه وه ،نو زکوة یې اداء کېږي او کنه ؟

ځواب : اصلاخو داسې ده چې باید دهغه وخت د قیمت پیداکولو پوره زیار وایستل شي په کوم چې اداء کېږي. خو داچې د دریو (۳) یا (۴) میاشتو په مده کې زیات فرق نه پیداکېږي ،نو که په احتیاط سره په پورتنی طریقه زکوة اداء کړي .نو زکوة یې اداء کېږي.
(فتاوي دارالعلوم۲ج ۱۳۱خ بحواله رد المحتار۲ج ۳۰ مخ)

په قرضو باندې زکوة :

مسئله : که څوک چاته روپۍ قرض ورکړي نو دهغورو پوورباندې زکوة شته او کنه ؟

ځواب : د دغو روپو زکوة به وروستو له ور رسېدلو اداء کوي خو که مخته تر رسېدلو يې اداء کړي هم صحيح دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۴۵ مخ بحواله رد المحتار ۲ ج ۱۲ مخ)

مسئله : که ورکړل شوی قرض تنهايا له نورو موجودو روپو سره په ګډه د نصاب تر اندازې پورې رسېدی نو زکوة ورباندې واجب دی مګر اداء کول يې د قرضو تر رسيدلو وروستو لازمېږي او که تر دې له مخه چې ورکړل شوی قرض يې لاس ته ورسېږي زکوة ورکړي هم زکوة يې اداء شوی دي. او د زکوة په حکم کې هغه قرض چې د ضمانت په ډول يې په بدل کې څه شي اېښودل شوی وي او له نه اېښودل شوی سره هيڅ فرق نه لري – د دواړو زکوة وروستو له وصول کېدلو څخه لازمېږي – او ددې خبرې ځواب (چې د زکوة په ورکولو سره به ټول هغه نصاب له منځه لاړ شي کوم چې تجارت ورباندې نه کېږي) دا دی چې کله د زکوة په ورکولو سره روپۍ تر نصاب کمې شي هغه وخت تاسوله راتلونکي زکوة څخه خلاص شوئ او تر څو پورې چې د نصاب په اندازه روپۍ پاته وي ،نو د زکوة واجبېدل د عقل خلاف نه دي ،ځکه چې يو څوک د نصاب مالک وي هغه ته په شريعت او رواج دواړو کې غني (شتمن) ويل کېږي ، او د عقل او مېړانې تقاضا دا ده چې غني (شتمن) بايد د محتاجانو حال وپوښتي او هغوته څه ورکړي. (فتاودارالعلوم ۶ک ۵۲ مخ بحواله هدايه ۱ ج ۷۷ مخ)

کوم قرض چې سوکه سوکه وصول کېږي د هغه زکوة :

مسئله : کوم وخت چې څومره اندازه قرض وصول کېږي له هغو څخه بايد د تېرو کلونو زکوة هم اداء شي . او که د قرضو په بدل کې ورته

ځمکه ورکړله شوه نو هم خپل قرض يې ورته ورسېدلو او د تېرو کلونو زکوة ورباندې لازم دي. (فتاوي دارالعلوم ۲ج ۸۵مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۴۸مخ)

د کوموقرضوچې د بېرته لاس ته راتلو اميدنه وي :

مسئله :يو چاچې بل ته قرض ورکړي وي دهغه زکوة ورباندې تر بېرته لاس ته رواړلو وروستو واجب کېږي. نو ځکه خو د هغوقرضو چې دبيالاس ته راتلو اميد يې نه وي زکوة هم واجب نه دي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۷مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۱۲مخ).

که يو چا د قرضود بياتر لاسه کول اميد نه لرلو خو بياوررسېدل :

مسئله : څه وخت چې د قرض ورکونکی خپل قرض واپس لاس ته ورسېدل نو هغه وخت ورباندې د تېروکلونو زکوة ورکول هم واجب شو. او تر څوچې ورته رسېدلي نه وي تر هغه وخته يې زکوة هم واجب نه دی ،مګر هوڅوهره وخت وروستو چې ورتـه ورسېدل نو د تېرو کلونوزکوة يې واجب دي. فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۷مخ ردلامحتار ۲ج ۱۲مخ)

د قرضوزکوة د چاپه ذمه دي؟

پوښتنه : لس مياشتي له مخه زيد بکر ته شل زره روپۍ قرض حسنه ورکړې وې ، د اداء کول ومده يې معلومه نه وه ،بکر لس زره روپۍ په کور اخستلو اولس زره په کار بارکې بندې کړې ، د ګټې له روپو سره اوس زياتې شوې دي او (۱۳) زره شوې دي آيا په دغه صورت کې زکوة واجب دي ؟اوکه واجب دي ،نو په څه ډول ؟

ځواب : اصل خبره دا ده چې يو څوک چاته قرض ورکوي نو زکوة به يې د قرض ورکونکي په ذمه وي ،نه د قرض اخستونکي په ذمه. نو

زيدچې بکرته شل زره روپۍ قرض ورکړې دي د هغوزکوة د زيد په غاړه دي ؛ نه دبکر . له بکر سره چې کومه مجوعي سرمايه ده ،که په کار وبار يې لګولې وي او که يې ورباندې سره اوسپين زر اخستي وي ، له هغې ټولې څخه دي شل زره روپۍ جلاکړي .هغه پاته سرمايه که د (۵۲ نيمو) تولو سپينو زرو د ماليت په اندازه وه ،نو په بکر يې زکوة واجب دي – (آپ کي مسائل ۳ج وکفايت المفتي ۴ج ۲۵۱مخ)

که يو چابل چاته قرض ورکړل او هغه بيانه پرې کول :

پوښتنه : څوکاله له مخه راڅخه دوستانو څه قرض اخستي ؤ . د واپس کولو نېټه موسره نه وه ليکلې – څوځلي مي ورنه مطالبه هم وکړه ،پنځه کاله تېر شول خوبيا هم د اميد نښې نښانې نشته او اوس زه ورڅخه نااميده شوی يم او ورڅخه غوښتل مي پرېښي دي، اياپه دغو روپو باندې چې له ما سره نه دي زکوة شته اوکنه ؟

ځواب : په هغو روپو باندې چې چاته قرض ورکړل شوې وي زکوة لازم دي .خو دايې دخاوند خوښه ده چې د هر کال زکوة د کال له پوره کېدوسره سم اداء کوي اوکه د ټولو کلوزکوة له وصول کېدو څخه وروستو په يوه وار اداء کوي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۵۲مخ)

د قرض اخستونکي د انکارپه صورت کې د زکوة حکم :

مسئله :که يو څوک په قرض اخستلو باندې انکار شواو له قرض ورکونکي سره د قرضودورکولو شواهد هم نه ؤ ،نو مخته تر دې په قرض ورکونکي باندې لازم نه دي تر څو ورته خپل قرض رسېدلی نه وي، او تر وررسېدلو ورستوهم د تېرو کلونوزکوة نشته.

(درمختار ۲ج ۱۵مخ . احسن الفتاوی ۴ج ۲۷۲مخ)

که یو څوک د نصاب خاوند هم وي او قرض هم ورباندې وي :

پوښتنه : یو څوک دي چې دبل چاقرض ورباندې دي اوله هغه سره د نصاب په اندازه سره زرهم شته ،نو ایازکوة ورباندې شته اوکنه ؟

ځواب : چې قرض ورنه لیري کړې او بیاله هغه سره د سرو او سپینو زرو ګښې پاته شي ،هغه که کارول کېږي اوکنه که اوه نیمي تولې سره زرۀ . او یاترذې کمۀ مګر سپین زر یاد هغو ګښه . یا نغدي روپۍ وې ،یادتجارت مال ۀ او سره او سپین زر په ګډه سره دومره شو چې ورنه د سپینویا سرو زرو نصاب جوړېدو، نو زکوة ورباندې واجب دي ،اوکه دغومره نه ۀبیازکوة هم واجب نه دي. (فتاواي رحیمیه ۵ج ۱۵۵مخ بحواله هدیه۱ج ۱۳۲مخ)

که څوک د زکوة تر فرض کېدلو وروستو قرضدارشو:

مسئله : که یوڅوک د زکوة تر واجبېدلووروستو قرضدار شو ،نو زکوة ورته بخښلی نه دي. زکوة به اداء کوي.(احسن الفتاوی ۴ج ۲۵۱مخ)

مسئله : اصل خبره دا ده چې که له چاسره مال هم وي او قرض هم ورباندې وی نوهغه باید داخبره ځانته معلومه کړي چې که قرض ورڅخه لیرې کړي نو له هغه سره به نور دومره څه پاته شي چې نصاب ورنه جوړېږي (د ۵۲ نیمو) تولو سپینو زرو د قیمت په اندازه ، اوکنه ؟که د قرض له جلاکولو وروستو هم د نصاب برابر شته ورسره پاتي شول ، نو که قرض ورباندي اداء کړي او که یې نکړي زکوة ورباندي واجب دي. او که روسره پاتي نشول نو بیا ورباندې زکوة نشته.

(آپ کي مسائل: ۳ج ۳۹۹مخ)

ایا قرض اخستونکی د قرضوزکوة اداء کولای شي ؟

پوښتنه : زید بکرته دوه زره روپۍ قرض حسنه ورکړې ،بیا د دواړو په خوښه د کال په پای کې بکر د زید له طرفه زکوة اداء کړ، نو ایاله زید څخه زکوة ساقطیږي ؟

ځواب : که بل داسې څوک چې قرض یې نه وي اخستي اجازه واخلي اوبیا له خپلو روپو څخه د مال د خاوند له طرفه زکوة اداء کړي ، نوزکوة یې اداء شوی دي ، مګر بکرله زیدنه روپۍ قرض اخستې دي نو ځکه که هغه د زید له طرفه زکوة ورکوي نو دغه سود ګڼل کیږي او زکوة نه اداء کیږي او د زید په زمه زکوة پاته دی. (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۴۸مخ)

د مال د خاوند په اجازه د هغه له طرفه زکوة اداء کول :

مسئله : که یو چا د مال دخاوند په اجازه یاحکم سره د هغه له طرفه زکوة اداء کړ،نو زکوة یې اداء شو. (آپ کي مسائل ۳ج ۲۷۸مخ)

د مال د خاوند بې اجازې د هغه له طرفه زکوة اداء کول

مسئله : که یوچا بل چاته هیڅ هم ونه ویل ،او د هغه بې اجازې یې له خپله طرفه دهغه زکوة اداء کړ، نوزکوة یې نه دی اداء شوی. که هغه وروستو ورته اجازه ورکړي هم زکوة یې نه دی اداء شوی او څومره روپۍ چې یې د هغه له طرفه ورکړي دي د هغو دوصول کولو هم حق نه لري. (احسن الفتاوی ۴ج ۳۰۰مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲مخ . شامي ۲ج ۱۴خ)

د زکوة له مال څخه د قرضدار قرض اداء کول :

مسئله : که څوک چاته قرض وروبخښي ،نو په دې سره دهغه زکوة نه اداء کیږي، د دې صحیح صورت دا دی چې قرضدارته د زکوة روپۍ ورکړي او بیا یې په خپلو قرضو کې ورنه بیرته واخلي، که قرضدار

يې ببرته نه ورکوي نو د مال خاوند کولای شي چې خپل قرض په زور ورڅخه واخلي . او که له زکوة ورکونکی سره داوبره وه چې هغه به زکوة قبول کړي خو زماقرض به اداء نکړي نو قرض دارته دي ووايي چې ماته د دې ضامن ياوکيل راکړه چې زه تاته زکوة درکړم ته به له هغه څخه زماقرض اداء کوې. (احسن الفتاوي۴ج۲۵۰مخ)

دکونډې قرض په دې نيت اداء کول چې زه به يې له هغې څخه په زکوة کې راوګرزوم :

پوښتنه : يوه داسې کونډه ده چې زکوة ورکول ورته صحيح دي ، که يو څوک د هغې قرض په دې نيت اداء کړي چې له هغې څخه به يې د راتلونکي کال په زکوة کې وګرزوم. آيا داسې کول روادی او کنه ؟

ځواب : په دغه رنګه قرض اداء کولو سره زکوة نه اداء کېږي بلکه د هغې د قرضود اداء کولو طريقه داده چې څومره روپۍ ته دهغې کونډې په قرضو کې ورکوې هغه اول پخپله کونډې ته ورکړه اوهغه د دغو روپو مالکه وګرزوه اوبيا يې بېرته ورنه واخله اود هغې قرض ورباندې اداء کړه. په دغه ډول به ستازکوة او دهغې به قرض اداء شي (فتاوی دارالعلوم۶ج ۸۹ مخ بحواله رد المحتار۲ج۱۲مخ)

دداسې روپو زکوة چې مالک ته رسېدل يې يقيني وي :

پوښتنه : زه داسې کار کريم چې د کار د پای ته رسېدلو روپۍ د ډېروخلکو لخواواجب الوصول کېږي. ايا په هغوبه زکوة وي اوکنه ؟

ځواب : کارګرته چې کله تر کارکولووروستو حق الزحمة (مزدوري) ورسېږي نو هغه وخت يې مالک ګرزي ،نوکه ته د نصاب خاوند يې نو د نصاب د کال تر پوره کېدلو چې څومره روپۍ ستالاس ته ورسېدلې

د هغوزکوة اداء کړه اوکومي روپۍ چې په راتلونکي کال کې ستا لاس ته رسېږي د هغوزکوة به په هغه را روان کال کې اداء کوې
(آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۳مخ)

کوم قرض چې په قسطوسره ترلاسه کېږي د هغوحکم :

اوکه داسې قرض ؤ چې په قسطوسره تر لاسه کېدل (یعنې په کال یا میاشت کې د روپو تاکلې اندازه مالک ته ورکوله کېدله) نو داسې هم سمه ده چې څومره مال ورته رسېږي اوسمدستي دهغه زکوة اداء کوي . اوداهم سمه ده چې په یوځاي د ټول مال زکوة اداء کړي ، یاتر ور رسېدلوله مخه یا وروستو . (فتاوی دارالعلو ۲ج ۹۲مخ بحواله رد المحتار۲ج۱۵مخ)

ایاغریب ته د قرضوپه بخښلو سره زکوة اداء کېږي . ؟

پوښتنه :زما پر یو غریت باندې سل(۱۰۰) روپۍ قرضه ده ، که دا وخت زه دغه روپۍ دزکوة په نیت هغه ته بخښم؛ایازکوة به مي ادا شی کنه
ځواب : په دغه صورت کې ستازکوة اداء شوی نه دی ،د دې ښه لاره دا ده چې لومړی ته دغه سل روپۍ هغه ته دزکوة په ینت ورکړه او ددغوروپو مالک ئي وګرزوه او بیادي هغه دغه روپۍ بېرته تاته په اداء د قرضو کې درکړي ، په داسې ډول به ستا زکوة او دهغه قرض اداء کړي . (فتاوی رحیمیه۲ج۱۲مخ)

په قرض بخښلوسره د زکوة حکم :

مسئله : که د قرض ورکونکي یو کال وروستو خپل قرض اخستونکي ته وبخښی ،نو قرض ورکونکی به ددغه تېر کال زکوة نه باسي اوکه هغه څوک چې قرض ورته بخښل شوی دي شتمن (مالدار) ؤ ،نو هغه ته مال معاف کول به دا سي بلل کېږي لکه د مال هلاک کول. او قرض

ورکونکي به تېرکال زکوة اداء کوي ځکه چې زکوة د مال په هلاک کولو سره نه ساقطېږي (امدادمسائل زکوة ۵۹مخ . فتاوی عالمگیري ۲ج ۲۱مخ)

په ورکړل شوؤ قرضوکې د زکوة نیت کول :

پوښتنه : یو غریب سړي هغه قرض چې له بل چاڅخه یې اخستي وؤ بېرته نشورسولای ، اونه یې د رسولو امیدؤ ،نو ایاکه زه هغه قرض ورکړل شوې روپۍ هغه ته د زکوة په نیت ورپرېږدم ، نوزکوة به يې اداء شي کنه ؟

ځواب : کوم صورت چې تالیکلی دي په هغه کې ستازکوة نه اداء کېږي ،ځکه چې د زکوة د اداء پروخت نیت کول شرط دي.

مسئله : دغه روپۍ دې له هغه مسکین څخه یو ځلي وصول کړي بیا دې بېرته په نیت د زکوة ورکړي .(آپ کې مسائل ۳ج ۳۸۳مخ ،فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۰۱مخ بحواله درمختار ۲ج ۱۴مخ

هغه قرضدار چې خپله ذاتي امدني هم ولري :

مسئله : یو څوک دی چې دوه زره روپۍ یې له چاڅخه قرض اخستې دي او ورسره څه داسي سرمایه هم ده چې دهغه د خپل کاروبار څخه ترلاسه شوې ده چې هغه تر قرضو کمه ده ،نو داچې سرمایه تر قرضو کمه ده نوځکه پر هغه باندې زکوة نشته . (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۵۱مخ بحواله هدایه ۱ج ۱۷۷مخ)

دگروۍ پیسې چې پوره کال ساتلي شوې وي :

مسئله : یو چاد بل چاڅخه قرض واخستل اوبیایې د گروۍ په ډول خپله ځمکه یانور څه هغه ورکړل نو ښکاره خبره ده چې ځمکه ورکونکی قرضداردي . او له قرض دار سره که صرف دومره روپۍ وې چې یواځې قرض ورباندې اداءشي ،نوزکوة ورباندې نشته ،نوکه

له قرضدار سره د قرضو څخه علاوه نوري روپۍ یا ګېڼې د نصاب په اندازه نه وي ، نوصرف د قرضو د روپو زکوة وربانديې واجب نه دي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۵۳مخ)

یادونه : ګروي په پښتو اصطلاح کي هغه شي ته ویل کېږي چي قرض اخستونکی یې مقابل جانب ته په داسې ډول ورکوي چي دغه شی به تر هغه وخته ستا به واک کي وي تر څوزه ستا قرض واپس تاته رسوم.
(حصیف غفرله الله)

دګروشوي شي زکوة په چالازم دی ؟

دګروکړل شوي شي زکوة نه پر ورکونکي شته اونه پر اخیستونکي
.(فتاوي رحیمیه ۲جلد ۱۲مخ دشامی په حواله ۲جلد ۹مخ

دقرضو په نوم زکوة ورکول

مسئله : یو چادرنه قرض وغوښتل اوتاته دامعلومه وه چي یاخو هغه دومره تنګ لاسی دی چي بیا به کله هم قرض ادا نکړای شي اویادومره بدسړی دي چي که پورورکړم ،نو هغه یې بیابالکل نه اداء کوي دغه رنګه چاته که د قرضو په نامه زکوة ورکړل شي او په زړه کې ورته دزکوة نیت ولرل شي ، نوزکوة اداء کېږي ؛که څه هم قرض اخستونکی یې په دې نیت وراخلي چي ماته یې قرض راکړل.
(امدامسائل زکوة ۲۸مخ اوشامي ۱ج ۱۴مخ)

مسئله : د زکوة مستحق فقیر دوره غیرتمن دی چي که ورته معلومه شي چي دا دزکوة روپۍ دی نونه یې وراخلي ،اوکه ورته وویل شي چي قرض یې درواخله بیا یې وراخلي ؛ نوزکوة ورکونکی دي دغه فقیر ته ووایي چي دغه روپۍ قرض درواخله هر وخت چي خدای ﷻ درکړې هغه وخت به یې بیا راکړې اوپه زړه کې دی ورته دانیت

ونیسي چې دغه روپۍ زه دغه فقیرته په زکوة کې ورکوم ،نوپه دغه ډول زکوة اداء کېږي ؛ څه مده وروستو دي بیا ورته ووایي چې هغه روپۍ مادرته بخښلي دي ترڅو دهغه اطمنان وشي.(شامي۲ج ۳۵۲مخ)

که د قرضو (پور) ختلو امید نه وؤ :

مسئله : چاته مو قرض ورکړل خوبیا موورنه د بیاترلاسه کولو امیدختم شو .اویا شک پکې پیدا شوقرض اخستونکي یوه اوبله بهانه کوله ، نو ددغه رنګه قرضوزکوة تر وصول کېدلوله مخه لازم نه دی بلکه وروستوله وصول کېدلوبه یې اداء کوي اویاداچې څومره ورته وخت په وخت رسېږي دهغو دي زکوة اداء کوي.او دتېروکلونو زکوة وربانديې واجب نه دي. (امدادالفتاوی۲ج ۳۵مخ فقه الزکوة ۱۸۳مخ)

د تجارتي قرضوزکوة :

مسئله : که څوک د تهوک (عمده فروشي) په حساب مال خرڅ کړي او دقیمت دترلاسه کولو یې امید وي مګر دوخت په تېرېدوسره د دغوقرضو په وصول کېدلوسره په مالک بانديې د تېروکلونوزکوة اداء کول هم لازم دي .څرنګه چې نن سبا په عمومي ډول په تجارتونو اوکاروبارونو کې رواج دی . (ایضاح المسائل ۱۱۱مخ بحواله درمختار مع شامي۲ج ۳۰۵مخ)

قرضدارته دزکوة په ورکولوسره قرض وصولول :

مسئله :د زید په بل چابانديې روپۍ پور دي اوهغه قرضدارغریب دی ،نو که زید دارنګه حیله جوړوي چې دخپلو روپوزکوة را اخلي اودغه قرضدار ته یې ورکوي اوبیا یې له هغه څخه پخپلو قرضوکې بېرته اخلي ،نو په دغه طریقه به زکوة هم اداء شي او قرض به هم خالص شي (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۳۳۵مخ)

مسئله : زید دي قرض اخستونکی ته نوري روپۍ په زکوة کې ورکړي .کله چې هغه د دغوروپو قابض اومالک شو نو بیادي زید ورڅخه خپل قرض وغواړي .که يې قرضدار د قرضواداکولو ته تيارنه ؤ ،نوپه زور ورڅخه اخستل يې هم روادي. په دې کې هيڅ ډول منعه نشته.
(امداد مسائل زکوة ۴۳مخ فقه الزکوة ۱ج ۳۹۷مخ آپ کي مسائل ۳ج ۳۹۹مخ)

خو که په پورتني صورت کې قرض ورکونکی وېرېدی چې که د قرض اخستونکي لاس ته د زکوة روپۍ ورسېږي نو هغه ورباندې زما قرض نه اداکوي. اويابه له ماڅخه دزکوة د روپوله اخستلو سره وتښتېږي ، نو دد ې لپاره دوه صورتونه دي – لومړی داچې د قرض اخستونکي دي له خپلوانو ياشناخته ګانو څخه څوک د زکوة د وصول کولو وکيل کړي هغه وکيل دي د قرض اخستونکي له طرفه هغه مال قبض کړي اوبيا دي د هغه له طرفه د قرضوپه نامه هغه مال واپس قرض ورکونکي ته ورکړي ،نوپه دغه ډول به زکوة اوقرض دواړه اداء شي.
(درمختار مع شاي۲ج ۲۷۱مخ)

د هبې د مال د زکوة حکم :

مسئله : په هبه (هغه څه چې بلاعوض يعنې په تحفه کې چاته ورکړل شوي وي) کې قبلېدل لازم دی – له قبلېدلو وروستو يې هغه څوک مالک ګرزي چې ورته ورکړل شوي دي . اومخته تر قبلولو يې هغه مالک نه دی نو که هبه د داسې شي وي چې زکوة ورباندې لازمېږي نووروستو له قبلولو يې په قبلونکي زکوة لازم دی –

د حرام مال تفصيل اودزکوة حکم:

د حرام مال تفصيل دادي چې که هغه مال ټول يعني خالص حرام وي نوبياخوورباندې زکوة نه دي ځکه چې که دهغه اصلي مالک معلوم

وي نو واجب دی چې بېرته ورباندې ووېشل شي . اوکه يې مالک معلوم نه وي نوبيا دټول مال په صدقه کې ورکول واجب دي . اوکه حلال اوحرام سره ګډۀ نوبايد دا وکتل شي چې که حرام مال ورڅخه بېل کړ ي نونوربه د نصاب په اندازه پاته شي اوکنه - که د نصاب په اندازه پاتي کېدی نو په هغه باندې زکوة واجب دی اوکه نه پاتي کېدی بيا ورباندې زکوة نشته . (امداد الفتاوی ۲ج ۱۴مخ احسن الفتاوی ۴ج ۲۸۳مخ وفتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹مخ)

مسئله : په حرام مال کې د زکوة د وجوب اونه وجوب تفصيل څه په داسې ډول دی چې که له هغه سره نور حلال مال هم ؤ اوپه هغو کې يې حرام مال ورګډؤنود امام صاحب رح په نزد زکوة په هغه لازم دی اوکه له هغه سره نورحلال مال د نصاب په اندزه نه ؤنوزکوة ورباندې لازم نه دي بلکه په هغه باندې واجب دی چې ټول مال صدقه کړي : يعنې کله چې هغه مال مالکانو اويادهغو وارثانوته ويشل له امکان څخه بهر شي . (دمال صدقه کول هغه وخت کېږي چې مالک ياوارث ته رسېدل يې ناشونې وي) اوپه حرام مال سره مسجد جوړول صحيح نه دی او د مال مالک يا دهغه د وارث دنه پيداکېدلو په صورت کې د مدرسې طالبانوته صدقه ورکول روا دي .(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۸۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۳۳مخ)

ايا له حرام مال څخه بايد زکوة ونه ايستل شي ؟

مسئله : د زکوة نه ورکولو لپاره داعذر ويل چې زماخومال حلال نه دي او په حرام مال کې خوزکوة نشته غلط اوبې ځايه دی - حرام مال چې کله ستاسو په حلال مال کې ګډ شو نو په ملکيت کې داخل شو او دې ته ملکيت خبېثه ويل کېږي اود زکوة دوجوب لپاره ملکيت شرط دی د پاکۍ شرط پکې نشته ، پاکې د مال خو د قبوليت لپاره شرط دی

،نو له دې خاطره زکوة واجب دی خو مقبول نه دی. په دې صورت کې دغه پوښتنه راپورته کېږي چې بیادزکوة ورکولو ګټه څه ده ؟ ځواب یې دادی چې که زکوة اداء کړی نو له هغه عذاب څخه به خلاص شي کوم چې د زکوة په نه ورکولو سره دي. او که قبول نه شي نو په دې سره عذاب نشته بلکه له ثواب څخه محرومي ده نو ایا عذاب ورکېدل ، او ثواب نه ورکېدل یوه کمه خبره ده ؟ خو پخپله د حرامو د ګټلو چې کوم عذاب دی هغه له هرڅه څخه جلا دي. (اصلاح انقلاب ا ج ۱۵۲مخ)

د دې لپاره چې نورهم ښه پوه شئ د فقهي نورکتابونه لکه اردوفقه الزکوة ۲ج وګورئ.

د غصب او رشوت په حال باندې زکوة :

مسئله : په هغه مال باندې چې غصب شوی وي او یا په رشوت کې اخستل شوی وي زکوة نشته. د دغو مالونو که اصلي خاوندان ورک اوپیدا کېدل یې ممکن نه ؤ نو باید ټول خیرات کړي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۸۸مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۲۴مخ)

د دلالي په روپو باندې زکوة :

پوښتنه : زید دلالي کوي او اخستونکی ته وایي چې فلاني دومره روپۍ ورباندې راکولې مګر ماهغه ته ورنکړ هرڅوک د هغه په ترغیب سره شیان اخلي اوزید ته د دلالي اجرت ورکوي . د زید ددلالي دومره روپۍ شوي چې حد دنصاب ورنه پوره شو نو ایاپر هغه باندې زکوة شته اوکنه ؟

ځواب : په دغه صورت کې زيد د دروا غ ويلو په وجه ګنهګار دی او په حديث شريف کې راغلي دي چې په دغه رنګه خرڅولو کې برکت نه وي مګر زيد د دغو روپو مالک دی او زکوة ورباندې لازم دي.
(فتاوی دارالعلوم۲ج۹۴مخ بحواله هدايه۱ج۱۲۷مخ)

د نوکرۍ د ضمانت د روپو د زکوة حکم:

پوښتنه : يو چادې لپاره چې په نوکرۍ کې پاته شي له حکومت سره زر روپۍ دضمانت په ډول جمع کړلې تر څوچې دغه نوکر پخپله وظيفه کي وي دغه روپۍ ورته بېرته نه ورکولي کېږي ،خوکله چې دغه څوکۍ پرېږدي نوبيابيرته دغه روپۍ ورکولي کېږي ،نو پر دغورو پو باندې زکوة واجب دی اوکنه اوکه واجب دی نو وروستو له واپس کېدلو زکوة واجب دی اوکه د ټولو کلونو ؟

ځواب : د دغوروپوله واپس کېدلووروستوپه نوکرباندې د ټولو کلنوزکوة ورکول واجب دی که د دې فکر په وجه چې هغه وايي چې که زه له واپسي وروستود ټولو زکوة ورکوم نوتر هغه به زياتي شي له خپلو موجوده روپورسره د هغوزکوة ورکړي نو هم صحيح دي.
(فتاوی دارالعلوم۲ج۱۳۰مخ)

که يو چاته د زرو د ضمانت په وجه نوکرۍ پيدا کړې وه نو هغه هم داسې دی کله چې د روپو په ذريعه يې مال ترلاسه کړی دي ،نو د عقل په بناء هم په هغوزروچې دنوکري په ضمانت کې ورکړل شوي دي زکوة واجب کېدل پکار دي ،که هغه د نصاب برابرا وي. (محمدرفعت قاسمي)

په امانتو روپوزکوة:

پوښتنه : له ماسره د چاامانت پراته دي ايا دهغوزکوة اداء کول په مافرض دی اوکه د دغوروپوپه مالک باندې ؟

ځواب : د چاامانت چې له تاسره دی د هغوزکوة ستاپه ذمه نه ،بلکه د هغه چاپه ذمه دي چې دغه امانت يې تاته ایښې دي که هغه تاته اختيار درکړی وي نو بيا ته هم کولای شې له هغوروپو څخه زکوة اداء کړې . (آپ کي مسائل ۳ج ۳۵۲مخ کفايت الفتي ۴ج ۲۴۷مخ)

که له امانت روپو څخه حکومت زکوة وګرزوي ؟

پوښتنه : داسې سيمي او ښهرونه شته چې خلک يې د امانت په ډول له بل چاسره روپۍ جمع کوی اوبیا يې هغه په خپل نامه بانک ته ورکوي اوهلته يې ورته ساتي او وخت په وخت له هغو څخه د هغوخلکو په غوښتنه لږ.لږ له بانک څخه راباسي نو ايا حکومت داحق لري چې له هغو روپو څخه زکوة کاټ کړي ؟

ځواب : د چاچې امانت دي نو زکوة يې هم په هغه باندې واجب دي نو څرنګه چې حکومت په زور سره دغه رقم ګرزوي نو ځکه امانت ايښودونکي ته پکار دي چې هغوته د زکوة اداء کول اختيارورکړي. له اختيار ورکولو وروستو چې کوم زکوة ګرزول کيږي هغه به د امانت ايښودونکي له طرفه وي او له هغوڅخه چې يې څومره د زکوة روپۍ ګرزولې دي هغه به ورنه جلاکړئ اوباقي پاتي به هغه ته واپس ورکړئ (آپ مسائل ۳ج ۳۵۳مخ)

دغه مسئله په اسلامي حکومت کې د اسلامي بانکونو ده.

(محمدرفعت قاسمي)

تروا‌ړله مخه ورکړل شوؤ روپو زکوة په چالازم دي ؟

پوښتنه : د کرايې پر مکان يادکان باندې چې له کرايه دار څخه د ضمانت په ډول روپۍ وارله مخه اخستلې کيږي او هغه داسې دی چې

واپس مالک ته ورکول کېږي او د دغوروپو دمکان یادکان له خاوند سره دوه یادرې کلونه تېرشول نو ددغوروپو زکوة به څوک اداء کوي ؟

ځواب : څوک چې د دغوروپومالک دي هغه به زکوة اداء کوي ،د مکان یادکان په خاوند باندې زکوة د هغونشته بلکه زکوة يې د امانت اېښودونکي په ذمه دی او کومې روپۍ چې له کرایه ورکونکي څخه د بېرته ورکېدلو په شرط اخستلي شوې دي د دغو امانتو مالک کرایه دار دی نو د هغه زکوة هم دهغه په ذمه دی.
(آپ کي مسائل ۳ج ۳۵۳مخ)

او کومي روپۍ چې نن سباد پېشکي په ډول اخستلي کېږي او بېرته کرایه ورکونکي ته نه ورکولي کېږي . بلکه دمکان یا دکان خاوند د هغومالک وي روادي اوکنه ؟ دایو ځانګړی بحث دي که د دغه روپو په ورکولو کې دواپس کېدلو شرط نه ؤ ،نو بیایې زکوة دمکان یادکان پر مالک باندې لازم دي *(محمد رفعت قاسمي غفرله)*

له مړي څخه د پاته شوي مال زکوة په امانت ساتونکي باندې دی اوکه دمړی په وارثانو ؟

پوښتنه : هغه مال چې له مړي څخه پاته شوی دی تر اوسه په وارثانو باندې نه دی وېشل شوی اولاد هغه چاپه لاس کي دی چې امانت ورته ورکړل شوې دي او وارثان ټول بالغان دي د بعضو حصه مقرره او د بعضو لامقرره شوې نه ده ی،په همدې کې پوره کال ببرشو ،نو په دغه صورت کې زکوة د امانت ساتونکي په ذمه دی اوکنه

ځواب : ددغوروپو زکوة په هغه چالازم نه دی چې امانت ورته اېښودل شوې دی بلکه د روپو په مالکانو باندې لازم دی اوکه دغه مال سره یاسپین زر وي نو بیایې په هغه صورت کې چې هریوه ته

خپله برخه ورسېږي او هغه دنصاب په اندازه وي په اندازه د خپلې حصې زکوة لازم دي. (فتاوی دارالعلوم۲ج ۳۸مخ بحواله رد السحتار۲ج ۱۸مخ)

ايا له امانتو روپو څخه به زکوة اداء کوي ؟

پوښتنه : له زيد سره دمر څورو پی د امانت په ډول پرتې دي ، عمر کوم بل ځای ته تللی او زيدته يې ليکلي دي چې زماله امانتو څخه دزکوة فريضه اداء کړه ،نو زيد په . هغو روپوچې د زکوة وې په هغو باندې د ښې کتابونه واخلي او په زکوة کې يې ورکړی ؟

ځواب : په دغه طريقه دزکوة اداء کول صحيح دي ، او د عمرزکوة اداء کېږي . (فتاوی دارالعلوم۲ج ۴۷ مخ)

د ساتنې په روپو د زکوة حکم :

پوښتنه : زيد خپل ورور عمر ته پنځه سوه روپی د دې لپاره ورکړې چې ورته وېې ساتي او ورته وېې ويل چې ستاخوښه ده که د کاروبار په کولو سره ورنه ګټه اخلې اوکه يي دغسي راته ساتې ځلور کاله وروستو هغه روپی واپس زيد ته ورسېدې .نو ايا د هغو ځلورو کالوزکوة ورباندې واجب دي او کنه ؟

ځواب: د هغوځلورو کلونو زکوة ورباندې واجب دي.

(فتاوی دارالعلوم۲ج ۴۸ مخ بحواله رد السحتار۲ج ۱۲مخ)

په محکمه سره د ترلاسه کړل شوؤ زکوة حکم :

پوښتنه : يو چاپر قرضدار باندې په حکومت کې عريضه وکړه او محکمې ورڅخه ورته اوه (۷۰۰) روپی وصول کړې او د محکمې په جريان کې ځلورسوه روپی ولګېدلې ،نو اوس به د ټولو

(اوؤسوؤ۷۰۰)روپو زکوة اداء کوي اوکه به مصرف شوې ثلورسوه ورځخه جلاکوي ؟

ځواب : د ټولو روپو زکوة به اداء کوي او لګېدلې روپۍ به ورځخه نه جلاکوي. (فتاوی دارالعلوم۲ج ۱۵۷مخ)

که د ډګرۍ د پورته والي (ترفیع) په ذریعه مال میلاوشي د هغه زکوة به له کومه وخته باسي ؟

مسئله : هروخت چې ډګري. (ترفیع) وشوه ،نو له هغه وخت څخه په زید باندې زکوة لازم شو. او د زکوة اداء وروستو له وصول کېدلو لازمېږي.(فتاوی دارالعلوم۲ج ۹۹مخ)

د روپو زکوة:

پوښتنه : له زیدسره زر روپۍ دي او د رواج په بناهغه بایدپنځه سوه روپۍ په نوته(دبل چاد واده په خاصو مراسمو) کې ورکړي ،نو هغه به د څومره روپوزکوة اداء کوی ؟

ځواب : په دغه صورت کې پر زید باندې دټولو (یعنې ۱۰۰۰) روپو زکوة لازم دي. (فتاوی دارا لعلوم۲ج ۵۴مخ)

په هغو روپو باندې چې د حج لپاره ساتلې شوې وي زکوة فرض دي اوکنه ؟

پوښتنه : شپږکاله کېږي چې یو چادحج د اداء کولو لپاره روپۍ ځانګړې کړې دی خوسږ کال هغه غواړي حج ته لاړشي ،نوایاد تېروشپږوکلونو زکوة (د دغو روپو) ورباندې واجب دی اوکنه ؟

ځواب: د دغو روپوزکوة وربانديې واجب دي تر څو چې هغه روپۍ مصرف شوې نه وی ترهغه وخته پورې دټولو کلونو زکوة باید اداء کړي. (فتاوی دارالعلوم۲ج ۱۱۲مخ بحواله هدایه۱ج ۱۷۸مخ وفتاوی محمودیه ۱۳ج ۹۴مخ)

د حج لپاره په جمع شوؤ روپو باندې د زکوة حکم :

پوښتنه : یو څوک دی چې د رمضان المبارک په میاشت کې زکوة اداء کوي ،سږ کال اراده لري چې حج ته لاړ شي نو ځکه یې وارله منخه د حج روپی د داخلېدلو په ځای کې جمع کړې دي او امید دی چې هغه به د براة (شعبان) په میاشت کې حج ته لاړ شي ،نو ایا هغه به د جمع شوؤ روپو زکوة اداء کوي او کنه ؟

ځواب : د تلوراتلو کرایه ،د استاد اونورو د تنخواه لپاره چې څومره روپی ورکړل شوې دي په هغو باندې زکوة نشته او له هغه څخه زیاتي روپی چې د کرنسی په ډول حاجي صاحب ته واپس ورکولي کېږي د هغو په برخه چې تر رمضان المبارک له مخه مصرف شي زکوة نشته او په نورو پاتو باندې زکوة واجب دی (احسن الفتاوی۴ج۲۷۴مخ بحواله رد المحتار۱ج۷مخ)

د حج لپاره زکوة اخستل څنګه د ي؟

پوښتنه : یو څوک حج ته روان دي خو پیسې ورسره کمې شوې ،نو دا رواده چې د دغه پنډد پوره کولو لپاره د زکوة روپی ورکړلي شي ؟

ځواب : له چاسره چې خرڅه کمه وي هغه ته دحج لپاره دزکوة روپی وراخستل روانه دي خوکه د روانېدلو په وخت ورسره پوره خرڅه موجوده وه خو په لاره کي ورته داسې مشکل پېښ شو چې روپی ورکي ولګېدلې اوله کور یا کلي څخه دراغوښتلو هېڅ لاره نه وه نو هلته بیاورته د ضرورت په اندازه دزکوة روپی اخستل صحیح دي. (فتاوی محمودیه ۱۳ج ۹۴مخ)

....

....

....

چاته دومره زکوة ورکول چې حج ورباندې فرض شي :

پوښتنه : ایادابه څرنګه وي چې که خلک یوه عالم ته دومره زکوة ورکړی چې په هغه باندې حج فرض شي ؟ د شامي له عبارت څخه خو معلومېږي چې روادی ؟

ځواب : دومره روپۍ لا په زکوة کې یو نفر ته ورکول مکروه دی چې فقیر ورباندې مالک د نصاب ګرزي ،نوځکه خودومره زیاتي روپۍ یو ه نفر ته ورکول چې په هغه باندې حج فرض کوي په طریقه اولي سره مکروه دي د شامي له عبارت (منقطع الحاج) څخه مراد هغه څوک دي چې حج ته په لاره وی اوپه دغه سفر کي ورنه روپۍ ضائع اوهغه مجبورشي نوهغه ته دزکوة ورکول بلاکراهت روادی . هېڅ څوک باید دزکوة دومره لو یه اندازه وانخلي. (احسن الفتاوی ۴ج ۲۹۴مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۷۴مخ)

د زکوة روپۍ د حج کولو لپاره :

مسئله : که چا دزکوة روپۍ د داسې یو چاچې د نصاب خاوندنه ؤوملک وګرزولې چې هغه ورباندې حج وکړي او یایي په کوم بل ضرورت چې دهغه خوښه وي ولګوي نو داسې کول صحیح ي اوزکوة اداء کېږي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۷۳مخ)

مسئله : د خپل زکوة په روپو باندې خپل حج کول روانه دي مګر داسمه ده چې که فقیر د دغو روپو مالک وګرزول شي نو بیا که هغه ورباندې خپل حج کوي اوکه یې په کوم بل څه لګوي هغه یې خپله خوښه ده . لنډه داچې د زکوة په روپو کې داشرط دي چې فقیربه یې مالک ګرزول کېږي. بغیر له دې څخه زکوة نه اداء کېږي.

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۷۸مخ بحواله ردالمحتار ۱ج ۸۵مخ)

خو دومره زکوة يو نفرته ورکول چې هغه ورباندې د نصاب مالک گرزي هغه وخت مکروه دی چې هغه عيال ونه لري. (رفعت قاسمي)

يو نفرته دومره زکوة ورکول چې درباندې د نصاب خاوند کېږي:

پوښتنه: يو فقيرته دومره د زکوة روپۍ ورکول چې هغه دنصاب خاوند شي مکروه دی، مگر پوښتنه داده چې له دغه نصاب څخه کوم نصاب مراد دي؟ آيا هغه نصاب چې د زکوة د وجوب سبب گرزي او که هغه نصاب چې د زکوة اخستولو مانع گرزي

ځواب: له دې څخه مراد هغه نصاب دی چې د زکوة اخستلو منع کونکی دي. او دغه کراهيت هم هغه وخت دي چې دغه فقير عيال ونه لري. او که يې عيال لرلو، نو هغه ته له زکوة څخه دومره څه ورکول کېدای شي چې که هغه مال د هغه په عيال تقسيم شي نو يوهم ورباندې د نصاب خاوند نشي کېدلای (احسن الفتاوی ۴ج ۲۹۳مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۷۴مخ)

په حيصوباندې دزکوة حکم:

مسئله: حصې که په نيت د تجارت اخستل شوې وی يعنې معصد ورنه د هغو اخستل او خرڅول وي نو دحصو په ټول قېمت باندې زکوة واجب دي. او که د تجارت لپاره نه وي نو بيايې صرف په هغه اندازه باندې زکوة واجب دي کوم چې د تجارت په چلند کي وي. د کارخانو په ماشينونو او ځای باندې چې څومره روپۍ لگېدلې دي په هغوباندې زکوة نشته. (احسن الفتاوی ۴ج ۲۸۷مخ فقه الزکوة ۱ج ۳۶۹مخ)

په حصوباندې به زکوة په کوم قېمت سره وي؟

پوښتنه: يو چاد تجارتی کپنۍ څوحصې (برخې) واخستلې. کله چې کمپنۍ په کارپيل کاؤنو د يوې حصې قېمت پنځه سوه روپۍ ؤو او

هغه وخت چې هغه حصې اخستلې هغه وخت ديوې حصې قيمت زر روپۍ ؤو او دا وخت بیاد یوې حصې قیمت پنځه سوه روپۍ دی ،نو هغه به د کوم قیمت زکوة ورکوي ؟

ځواب : نوموړی به د اوسني قيمت يعنې پنځو سوؤ روپوسره سم زکوة اداء کوي. (فتاوی دارالعلوم)

ايا په حصوباندې په جلاجلاډول زکوة واجب دي ؟

پوښتنه : ټولي کمپنۍ د زکوة او عشر له جمعې څخه زکوة باسي او د زکوة فنډته يې نقل کوي اياوروستو له دې چې په مجموعي ډول د ټول کاروبار څخه زکوة وايستل شي بيا به په انفرادي ډول هم هر حصه لرونکی دوهم ځل زکوة باسي ؟

ځواب : که د حصه لرونکو له حصوڅخه يې زکوة وصول کړ،نو بياد دې ضرورت نشته چې دوي په انفرادي ډول هر يو د خپلې حصې زکوة وباسي ،مګر خبره په دې کي ده چې کوم زکوة چې حکومت يې کاټوي هغه صحيح دي اوکنه ؟ ډېر داسې علماء کرام دي چې دغه چاره تائيده وي او دزکوة داداء کېدلو فتوي ورکوي په داسې حال کې چې نور علماء کرام بيا د دې خلاف او هغه زکوة چې حکومت يې ګرزوي اداء شوی نه بولي . د دوي په نزد د دغو هر څه زکوة بايد د هغوخاوندان پخپله اداء کړي کوم چې حکومت کاټ کړي وي.

(آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۴مخ)

اياد حصو په اخستلو سره زکوة شته ؟

پوښتنه : زيد د يوې کمپنۍ پنځه لس حصې په پنځه زره روپيو واخستلې ،دهغوچې کومه کلنۍ ګټه وی هغه هر کال په حصه

لرونکو باندې وېشله کېږي ،نو آيا پرزيد باندې د پنځوزرو زکوة لازم دي او که ورباندې د کلنۍ ګټې زکوة لازم دي ؟

ځواب : پر زيد باندې د هغو پنځوزرو روپوزکوة هم فرض دي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۴۰مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۱۳مخ)

مسئله : که کمپنۍ تجارت کوي نوزکوة په هغوروپووا جب دي چې جمع شوې دي او که د کرايې د وصول کولو کمپنۍ وه نو بيا پر جمع شوی مال زکوة نشته بلکه په ترلاسه شوې ګټه باندې زکوة واجب دي
(کفايت المفتي ۴ج ۱۴۳مخ)

مسئله : په حصو باندې زکوة شته که کپنۍ تجارت کوی لکه کپړې ،لوښي سامانونه د ماشين ګېري اونورشيان سيمنټ خرڅوي نود حصوپه اصل رقم چې د هغو قېمت دي اود هغو په ګټو دواړو باندې زکوة واجب دی. اوکه کمپنۍ تجارت نه کاؤ بلکه صرف کرايه ترلاسه کوله ،لکه د بس کمپنۍ ،نو بيا دهغه په حصو باندې زکوة نشته يعنې په ګټه يې زکوة شته اوپه اصل رقم زکوة نشته. (فتاوی رحيميه ۲ج ۴مخ و آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۳مخ)

د حصو مختلف قسمونه او دهغوحکم :

مسئله : د شيانو د جوړولو د سامانو په لړکي چې کوم اصل ذکر شوی دی له هغه نه داخبره څرګنده شوه چې په کارخانه کي د حصه دار کېدلو دوه صورتونه دي . ياخو دداسې کارخانې شرکت دی چې کاريې دانه وي چې څه شی واخلی يايې خرڅ کړی لکه د اوربشو تهرېشر کول او غنم وړول يعنې د کار کولو په بدل کې صرف اجرت اخلي نو په دغه صورت کې صرف په آمدني (ګټه) باندې زکوة واجب دي ؛ اوکه داسې کارخانه وه چې پکې تجارت هم کېدلو يعنې خام مواد اخستل کېدل بيا شيان ورنه جوړېدل او بيا پلورل کېدل نو د

لګېدلي مصرف ورنه ایستلو وروستو د ټول کال په آمدني باندې او په خام او تیار شوي مال باندې زکوة واجب دي لکه د پمبې اخستل او کپړه ورځخه جوړول او د ګني اخستل او ګوړه ،بوره او نور ورځخه جوړول چې وروستو بیا پلورل کېږي ځکه چې دا وخت د دغه مال حیثیت د تجار د مال دي ، خو د کارخانې په ماشینونو ،ودانۍ اوسامانونو باندې زکوة نشته دلته چې د زکوة په اړوند کوم حکمونه اومسئلې بیان شوې دی داسې هم کېدی شي چې د ټولو برخه اخستونکو په نیت او اراده سره په یو ځای ورنه د زکوة روپۍ یامال بېل کړل شي او داهم سمه ده که هربرخه لرونکی پخپله حساب وکړي او د خپلې حصې په اندازه زکوة وباسي. (جدید فقهي مسائل ۱۲۳مخ)

مسئله : د کارخانو اوملو ،په حصو (برخو) باندې هم زکوة واجب دي چې دهغو اندازه د نصاب تراندازې رسېدلې وي او یاله نورو داسې شیانو سره چې زکوة ورباندې وي په ګډه سره حد د نصاب پوري رسېږي. خو د کار کولو ماشینونه ، سامانونه او نوربه ورځخه جلاکوي په هغو باندې زکوة نشته.

مسئله : د سرو ،سپینو زرو ، د تجارت د مال او د کارخانو اوکمپنیو د حصو زکوة به له هغه قیمت سره سم اداء کوي کوم چې د دوی د زکوة د کال د پوره کېدلو په ورځ وي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۴۱مخ)

په کمپنۍ کې د نصاب په برابر جمع شوؤ روپو باندي د زکوة حکم :

پوښتنه : ماځه روپۍ کمپنۍ ته ورکړې دي چې د ګټو او نقصان په بنیاد هره میاشت ګټه راکوي چې ورباندې زما د کهول چلاؤ او مصرف ډېر په مشکل پوره کېږي ، نو که زه له میاشتنۍ ګټې ځخه

زکوة باسم نو له لوړي سره مخ کېږم او که له اصل مال څخه يې باسم نو بيا دګټي اندازه کمېږي نو زه څرنګه وکړم ؟

ځواب : کومي روپۍ چې تاپه کمپنۍ کې جمع کړې دي که هغه د پوره نصاب په اندازه ياتردې زياتې وي نو زکوة يې ستاپه ذمه واجب دي - او د اداء کولو لپاره چې ئي هره لاره ته سمه اوښه بولې هغسې وکړه (اپ کي مسائل ۳ج ۳۵۷مخ)

په سرکاري او غير سرکاري کمپنيو د زکوة حکم :

مسئله : د کمپنيو په زکوة کې اختيار دي.په ټوليز، او جلاجلا دواړو صورتونو دزکوة اداء کول روادي. او کومي اداري او کمپنۍ چې په پوره ډول دولتي (سرکاري) وي دهغو په هېڅ حصه باندې هم زکوة نشته. او دکوموچې په څو حصې سرکاري وي او نوري شخصي وي. نو په سرکاري حصويې زکوة نشته. او په شخصي حصويې شته. په سرکاري مالونو باندې ځکه زکوة نشته چې هغه د چاپه شخصي ملکيت کې نه دي. (احسن الفتاوي ۴ج ۲۸۸مخ)

ايا د پلاټ (د خاصي کړل شوي ځمکي) زکوة د مارکېټ په خير دي ؟

مسئله : ځمکه ياپلاټ (ټاکل شوې ځمکه) واختسل شوه او د اخستلوپر وخت يې پکې د اخستونکی درې نيتونه ؤ ،کله به يې دا نيت ؤ چې خرخوم به يې (په دغه صورت کې هرکال دهغه په قېمت باندې زکوة فرض دي. اود هر کال د زکوة لپاره هغه قېمت معتبر دي کوم چې د کال پوره کېدلوپر وخت په بازار کې دي د مثال په ډول تاسو يوه اندازه ټاکلې ځمکه (پلاټ) په پنځوس زره روپۍ واخست او څوکاله وروستو د هغه قېمت او يازره روپۍ شو، نوداوخت به

تاسوزکوة هم د اويا زرو له قراره اداءکوئ اوکه څلورپنځه کاله وروستو يې قيمت پنځه لاکه شو نوهغه وخت به بيازکوة د پنځو لاکهو له قراره څخه اداء کوي) –اوکله به يې بيا دانيت ؤ چې ځای به ورباندي جوړوم اوپخپله به پکښې اوسېږم نوپه دغه صورت کې بيا ورباندې زکوة نشته . دغه رنګه که د اخستلوپه وخت نه د خرڅولو نيت ؤ اونه پکښې د اوسېدلو ،نو په دغه صورت کې هم ورباندې زکوة نشته. (آپ کي سائل ۳ج ۳۷۱مخ)

مسئله : د تجارت په نيت اخستل شوي ځکي او ځای او د خرڅېدلو په مکانو کي په موجوده ماليت باندی زکوة فرض دي ، په اصل سرمايه فرض نه دي ، (احسن الفتاوی ۴ج ۲۹۹ مخ)

د مکان په اخستلو باندې د لګېدل روپې زکوة :

پوښتنه : يوه مياشت له مخه مې مکان اخستی دی او دوه مياشتي وخت مې ورنه اخستی ؤ چې اوس زياتي ختمېدونکي دي بيعا نه (پېشکي) مې ورکړې ده نوداوخت به د زکوة اداء څه ډول وي ، ځکه چې اوس خو روپۍ زمانه دي بلکه د مکان د خاوند دي او دا وخت مکان زمادي. اياله هغو روپوڅخه زکوة اداء کړم کومي چې د مکان خاوند ته ورکوم ؟

ځواب : که دي تر زکوة اداءکولوله مخه د کان قيمت اداء کړنو بيا ورباندې زکوة نشته. او که د نصاب کال پوره شو اوتا لا د مکان روپۍ نه وې ورکړې بلکه څه وخت وروستودي په ټاکلي وخت اداء کولې نوبيا په هغوروپوباندې زکوة شته. (آپ کي سائل ۳ج ۳۷۲مخ)

په پلاټ باندې د زکوة حکم :

مسئله : که يو چاپلاټ (ځمکه) په دې نيت اخستې وه چې خرڅوي به يې ،نو بيا هغه د تجارت مال ګڼل کېږي او زکوة ورباندې واجب دي. اوکه يې د ذاتي ضرورت لپاره اخستې وه ،نوبيا ورباندې زکوة نشته .اوکه يې د اخستلو په وخت د خرڅولو اراده نه لرله ، وروستو يې د خرڅولو فيصله وکړه نوتر څوچې خرڅه شوې نه وي تر هغه ورباندې زکوة نشته (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۰مخ)

کوم پلاټ چې د استوګنځای لپاره وي :

پوښتنه : له ماسره يوه ټاکلې اندازه ځمکه ده چې ورباندې د کور جوړولو اراده لرم ايازکوةورباندې شته اوکنه ؟

ځواب : کوم پلاټ چې د دې لپاره اخستل شوي وي چې ورباندې د اوسېدلو کور جوړکړي ،نو په هغه باندې زکوة نشته .(آپ کی مسائل ۳ج ۳۷۰مخ)

ايا په تجارتي پلاټ زکوة شته ؟

پوښتنه :که يو څوک د مکانونو پلاټونه (د کورونو لپاره ټاکلې ځمکې) اخلي او خرڅوي ،نو ايا دا د تجارت مال دي ،او په ټول ماليت يې زکوة فرض دي اوکه صرف په ګټه باندې ؟

ځواب: که څوک د پلاټونو(ځمکې مکان او نورو) د اخستلو او خرڅولو کاروبار کوي او د خرڅولو په نيت پلاټ رانيسي ،نود دغو پلاټونو حيثيت د تجارت د مال په څېر دی او هرکال د هغو په ټول ماليت زکوة واجب دي.

مسئله: يو چاچې ځمکه، مکان ياپلاټ د خرڅولو لپاره اخستي وي په

هغـه بانـدې د هرکـال زکـوة واجـب دی هرکـال بـه د هغـه د قېمـت ثلو بښتمه برخه زکوة باسي. (آپ کی مسائل ۳ ج ۷۱مخ)

مسئله : هرپلاټ يامکان چې د تجارت په نيت واخستل شي (چې اندازه ئې د نصاب ته رسېدلی وي) نو هغه د تجارت مال بلل کېږي او زکوة ايستل يې واجب دي او هر شي چې د بېرته خرڅولو په نيت واخستل شي هغه د تجارت په مال کې داخل دي. (احسن الفتاوی ۴ ج ۳۹۵مخ)

کوم مکان چې د کرايې د چلولو لپاره اخستل شوی وي :

پوښتنه : يو چاد استوګنې له کور څخه بغير يوبل داسې مکان واخست چې په کرايه يې وکړي او روپۍ هم پکې بندې شي ، نو آيا په دغه مکان باندې زکوة شته او کنه ؟

ځواب : په دغه صورت کې د مکان په قېمت باندې زکوة نشته ،بلکه د کرايې روپۍ که دنصاب په اندازه يا تردې زياتې جمع شي اوکال هم وربانديې تېرشي ،نو د هغوزکوة اداء کول واجب دي.
(فتاوی دارالعلوم ۶ ج ۱۵۴خ بحواله ردالمحتار ۲ ج ۱۰مخ)

تر ضرورت په زيات مکان باندې زکوة :

پوښتنه : کله چې جائيداد يامکان ترذاتي ضرورت زيات وي اود کرايې امدني هم ولري نو زکوة به د جائيداد په قېت باندې وي او که په آمدني (کرايه) باندې ؟

ځواب : د جائيداد (ځمکې او مکان) په قېمت باندې زکوة واجب نه دي بلکه د کرايې امدني چې اندازې دنصاب ته ورسېږي يا زياته شي اوپه هغې اونوروهغوروپواومال چې له هغوسره دي پوره کال تېرشي نوبيا وربانديې زکوة لازم دي. (فتاوی دارالعلوم ۶ ج ۲۳۳خ ردمحتار ۲ ج ۱۰مخ آپ کي مسائل ۳ ج ۳۱۱مخ)

په هغوروپوچې مکان يې ورباندې اخستې دي زکوة شته ؟

پوښتنه : يو چاپه پنځه زره روپۍ مکان واخست ،خوبيا دكور والوخوښ نه شو نوځكه يې د بېرته خرڅولو اراده وكړه په دغه صورت كي د هغوپنځوزرو روپوزكوة واجب دي اوكنه ؟

ځواب : د دغوپنځو زرو زكوة واجب نه دي. تركومه وخته چې هغه روپۍ موجودي وې اومكان لاورباندې نه ؤ اخستل شوى تر هغه وخته پوري چې زكوة لازم ؤ(كه كال پوره ؤ او كه د كال تر پاى ته رسېدو كم وخت پاته ؤ. كله چې يې مكان واخست نوهغه وخت زكوة دهغه له ذمې څخه ساقط شو اوڅه وخت چې يې مكان خرڅ كړاو نغدي روپۍ لاس ته ورغلې نو په هغوباندې د يوكال په تېرېدوسره زكوة لازمېږي. (فتاوى دارالعلوم ٢ج ١٢٩ مخ بحواله ردالمحتار٢ج ١٠مخ)

مسئله : كومه ځمكه چې په ټېكه يعنې اجاره باندې واخستله شي او دهر كال يې ټاكلى اجرت وي ، نوكه د څوكالواجرت تر وخت له مخه وركړل شي نو دا صحيح دي او په دغوروپوباندې زكوة لازم نه دي. (فتاوى دارالعلوم ٢ج ٣٣٣مخ)

زكوة د ځمكي اومكان په ماليت باندې وي اوكه په امدني ؟

مسئله : د ځمكي اوجائيداد په ماليت باندې زكوة نشته بلكه په كرايه اوامدني باندې چې جمع شي اوپوره كال ورباندې تېر شي زكوة واجب دي ،اوپه ګېڼو اونغدوروپوهم زكوة واجب دى. په داسې ډول چې د روپو،ګېڼو اونوروشيانو څلوېښتمه برخه بايد په زكوة كې وركړله شي. (فتاوى دارالعلوم ٢ج ٥٠مخ بحواله رد المحتار)

ایا د استوګنې په کور اود کورپه سامان باندې زکوة شته ؟

مسئله : د استوګنې په کور، د اغوستلو په جامو ،د کورپه سامان ، د سوربدلو په څارویو ،په استعمالېدونکی اسلحه اوپه هغولوښو اودښایست په شیانوچې دښکلااوزینت لپاره کارول کېږي اودسرواوسپینو زرو نه وي زکوة واجب نه دي (کتاب افقه اج ۹۲۸مخ درمختار ۲ج ۱۴مخ)

په استعمالېدونکوشیانو زکوة

پوښتنه : ایا دآرام اواستراحت په شیانو لکه راډیو، تلوېزیون ، فریج ، دکالو وینځلو په ماشین موټرسایکل او نوروباندې زکوة شته اوکنه ؟

ځواب : دا د استعمال شیان دي په هغوباندې زکوة نشته ،مګر په هغوکښوباندې چې اندازې دنصاب ته رسېدلې وي زکوة واجب دي هغه که په اغوستلو کې کارول کېږي اوکنه. (اپ کی مسائل ۳ج ۳۷۳مخ)

مسئله : داسې لوښي لکه لوی د ېګچي چې دېر کله کارېږي هم په استعمالي شیانوکې داخل دي اوزکوةورباندې نشته .(آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۳مخ

ایا د مرغانو په فارم اودماهیانو په تالاب زکوة شته ؟

مسئله : د مرغانوبه فارم او دماهیانو د ساتلو د تالاب په زمکه ،مکان اوله هغوسره په تړلیو سامانونو باندې زکوة نشته د چرګانو او چوچنو (د چرګانو د بچو) د اخستلو پروخت که اخستونکی د هغو د بېرته خرڅولو نیت لرلو ،نو بیا د هغو په مالیت باندې زکوة واجب دي. اوکه د هغوپه ځای یې د هغودهګیو او بچیانو د خرڅولو نیت ؤ نو بیا ورباندې زکوة نشته. او د تالاب لپاره که یې ماهیان یا دهغود هګیو او بچیانود خرڅولو نیت ؤ نو بیا ورباندې زکوة نشته . او دتالاب لپاره که یې ماهیان یا دهغوبچي واخستل او هلته یې پکې

واچول نو دهغه پرمالیت زکوة فرض دي ، او که داسې نه ؤ بیانشته.
د چرګانو (مرغانو) په فارم او د ماهیانو د تالاب په آمدني باندې په هر حالت زکوة لازم دي (احسن الفتاوی۴ج۳۰۰مخ)

په لاندنیو شیانوباندې زکوة نشته

مسئله : هغه شیان چې له دریابو څخه راایستل کېږي لکه عنبر ، غمي یوډول خاص ماهیان او نور په هغوباندې زکوة نشته ،خو که ورباندې تجارت کېدو بیا زکوة واجب دي. (کتاب الفقه۱ج۹۹۸مخ)

مسئله : په جواهراتو لکه ملغلرو ، یاقوت ، زبرجد اونوروباندې زکوة نشته ؛ په دې شرط چې دتجارت لپاره نه وي .(کتاب الفقه۱ج۹۲۸مخ)

مسئله : که یو چامشک یازباد(یوخوشبودار شی دی چې له مشک بلاؤڅخه ایستل کېږي) پیداکړل اویایې ملغلري ، او نورتر لاسه کړل نو په هغه باندې زکوة نشته که څه هم تر اندازې دنصاب پوري رسېدلي وي .(کتاب الفقه۱ج۱۰۰۱مخ) اوکه یې تجارت ورباندې کاؤ ،نوبیا دتجارت په وجه ورباندې زکوة شته. (رفعت قاسمی)

ایا له سرواوسپینوزرو څخه په جوړشوؤ اندامو باندې زکوة واجب دي ؟

په بعض خاصو حالاتو کې د بعضي ګټوله خاطره د سرو اوسپینوزروڅخه جوړشوي اندامونه کارول کېږي ،لکه پوزه غاښ ،تش یاخراب شوي غاښونه له سرو یاسپینوزرو څخه ډکول ،د سرویاسپینوزروپه تارونو باندې دغاښو تړل او داسې نور . له دغوشیانو څخه بعض داسې وي چې په اساني سره ایستل کېدای شي اوله اول نه هغه په داسې ډول ترتیب شوي وي چې لګول کېږي او ایستل کېږي ، اوبعض دغه شیان بیا داسې وي چې په خپل ځای کې

کلک کړل شوی وي او په اساني سره نشي را ایستل کېدای ،بلکه په مستقل ډول لګول شوي وي کوم اندامونه چې ایستل کېدای شي لکه پوزه په هغوکې زکوة واجب دي چې مثل يې ګېڼې او نوردي . اوکوم چې داسې نه وي په هغوکې زکوة نشته ، ځکه چې د زکوة د وجوب لپاره دا ضروري ده چې مال به داسې وي چې د نشو نما او زیادت ګنجایش به لري او په دغه صورت خوښکاره خبره ده چې دهغه هيڅ امکان نشته . اوهم دا چې که هغه (سره یا سپين زر) د انسان يو اندام وګرزي چې له ځانه جلاکول يې امکان نه لري ،نودا د انسان په بنيادي ضروریاتو (حاجاتو اصلیه) کې داخل دی ،اوپه دارنګه شیانو باندې هم زکوة واجب نه دي. (جدید فقهي مسائل ۱۲۱مخ)

ایاپه میاشتنی تنخواه زکوة واجب دي ؟

پوښتنه : د خپلې تنخواه څومره فيصده په زکوة کې باید ورکړله شي ؟
ځواب : که بچت د نصاب تر اندازې ورسېږي اوپوره کال هم ورباندې تېرشي نوبيا ورباندې دوه نيم فيصده (۲نيم) په زکوة کې ورکول واجب دی اوکنه نو نشته.

مسئله : زکوة د تجارت په روپوباندې وي کله چې هغه د(۵۲نيم) دوه پنځوس نيموتولو سپینوزرو مالیت ته ورسېږي . اوکه هيڅ هم له ضرورت نه پاته شوې (یعنې بچت شوې)نه وې نوبيا ورباندې زکوة نشته .(آپ کي مسائل: ۳ج ۳۵۹مخ)

مسئله : د تنخواه روپۍ چې تر څو د چالاس ته رسېدلې نه وي ترهغه ورباندې زکوة نشته . کله چې هغه د خاوند لاس ته ورسېدلې بيابه ديوکال په پوره کېدوسره زکوة لازمېږي . اوکه هغه تر دغه له مخه

دنصاب خاوند ؤ ،نو كله چې د مخكني نصاب كال پوره شي له هغه سره به ددغې ترلاسه شوې تنخواه زكوة هم اداء كړي. (آپ كي مسائل ۳ج ۳۷۰مخ)

فنډ(يوځاى كړل شوورو پو) باندې د زكوة حكم :

مسئله : د كاركونكوله تنخواه څخه چې كومې روپۍ ګرزول كېږي بيا دحكومت لخواورسره څه نوري روپۍ هم ملګرې كېږي اود كار په پاى كي واپس كارګروته وركولي كېږي او دا يو انعام بلل كېږي چې د حكومت لخوادي ،نو د هغه د تېرو كلونو زكوة واجب نه دى. له وصول كېدلو وروستو چې ورباندې د نصاب پوره كال تېرشي هغه وخت بيازكوة لازم دي (فتاوى دارالعلوم ۲ج ۳۳۱مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۴۹مخ نظام الفتاوي ۱ج ۱۱۲مخ)

د فنډ(دروپو د جمعې) قسمونه او زكوة :

مسئله :د كارګرله تنخواه څخه ديوې برخې د حكومتي ګرزولو ،او دپراويټې ګرزولو تر منځ په نوعيت كې فرق موجود دي چې له امله يې په احكاموكې هم فرق پيداكېږي . د حكومت لخواپه جوړشوى هغه فنډ كې چې د كاركونكي د تنخواد روپو په ګرزولو ،ګرزولو سره جوړشوى دى د حكومت په قبضه كي وي او كارګر ورباندې قبضه نه لري ،نو څكه خو د كارګر په ملک كې هم نه دي او زكوة يې هم ورباندې واجب نه دى. او كارګر ته له رسېدلو وروستو يې هم په هغه باندې دتېروكلوزكوة نشته خو كه له دغه فنډ څخه كاركونكي د بېمې په كمپنۍ كې حصه واخسته ،نو د بېمې د كمپنۍ قبضه كاركونكي ته منسوبه ده اوكمپني داسې ده لكه وكيل او دوكيل قبضه د موكل(هغه چاچې وكالت يې وركړى دي) قبضه بلله كېږى ،نو داچې دغه داجرملک دګرزېدنو څكه ورباندې د هركال زكوة فرض دى . د

کمپنیو دغه فنډ (پراویډنټ فنډ) دهغویوې ځانګړي کمپنۍ ته ورکول کیږي چې هلته دټولو کارګرونمایندګان وي ،نو څرنګه چې هغه کمپنۍ بیادکارکونکو وکیله ده نو ځکه د کمپنۍ قبضه د کاکونکي قبضه بلله کېږي اوپه دې سره دغه روپۍ د کارکونکي ملکیت وګرزېدو او زکوة یې ورباندې فرض شو .(احسن الفتاوي۴ج ۲۷۰مخ)

مسئله که د فنډ دزکوة په سلسله کې که څوک په احتیاط اوتقوی سره عمل وکړی او دتېروکلونو زکوة هم اداء کړي دابه ډېره بهتره وي. اوکه داسې ونکړي نوګناه یې هم نشته .ځکه چې د امام ابو حنیفه رضي الله عنه قول داسې دی چې فنډکه جبري وي که اختیاري وي د زکوة په مسئلو کې د دواړو احکام یوډول دي (یعنې تر وصول کېدلو وروستو چې یوکال پوره شي بیا زکوة شته او دتېروکلونو زکوة نشته .(امدادمسائل زکوة ۲۲مخ)

مسئله : کله چې دغه دفنډ روپۍ کارګر یادهغه وکیل ته ورسېدلې نو دزکوة په مسائلو کې د امام ابوحنیفه رضي الله عنه په مذهب کې د هغوحکم او ضابطه په لاندې ډول ده:

۱.که د فنډ دروپو تر ور رسېدلو له مخه کارګر د نصاب خاوند نه ؤاو د فنډ روپۍ هم دومره نه وې چې له نوروسره ورباندې د نصاب خاوند شي نو بیا خود زکوة د وجوب هیڅ پوښتنه هم نه پیداکېږي.

۲. که بل نصاب ورسره نه ؤ اوپه دغو روپو د فنډباندې د نصاب خاوند شو ،نو د ور رسېدلو له ورځې څخه وروستو چې یې پوره یوکال تېر شوی نه وي تر هغه ورباندې زکوة نشته . او د کال پوره کېدلو وروستو هم په دې شرط زکوة شته چې تر هغه وخته پوري هغه دنصاب خاوند وي اوکه ترکال پوره کېدلو له مخه مال د هغه له لاسه

وؤتی اویاورنه غلو واخست اویاپه بل څه سره هلاک شواو. له هغه سره دومره پاته شو چې نصاب ورڅخه نه پوره کېدونو بیا زکوة واجب نه دي. لنډه داچې هر څومره مال چې (تر نصاب پورته وي) د کال په پای کې له هغه سره پاته وي په هغه باندې زکوة واجب دي. او په صرف شوي مال باندې زکوة نشته.

.۳. که دغه کار کونکی د فنډ د وروپو تر رسېدلو له مخه د نصاب خاوند ؤ اودفنډ روپۍ هم (که ترنصاب کمي وې او که زیاتې) راورسېدلې نو له پخواني نصاب څخه به جلانه شمېرلي کېږي بلکه کوم مال چې تر دې له مخه له هغه سره ؤدهغه کال د پوره کېدلو په ورځ دفنډ د ترلاسه شوورو‌پوزکوة اداء کول هم واجب دي که څه هم د دغواوسنو روپو د لاس ته راتلو صرف یوه ورځ تېره شوې وي. د مثال په ډول له یو چاسره د ۵۲نیمو) دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو دقیمت په اندازه یا تر دې زیاتي یعنې.۴. یا ۵.زره روپۍ وې او د کال دپوره کېدلو یې یوه ورځ پاته وه چې د پنډهم ورته زر روپۍ راورسېدلې ،نو هغه به په راتلونکي ورځوکې د.۵. یا ۶. زرو روپو زکوة اداء کوي

مسئله : که یوڅوک له اوله دنصاب خاوند ؤ اودکال ترپوره کېدلوڅلوریاپنځه میاشتې له مخه ورته د فنډ روپۍ هم راورسېدلې خوبیا څومیاشتي لانه وې تېري شوې چې د رپو ډېره برخه مصرف شوه ،نو دکال د پوره کېدلو په ورځ چې له هغه سره څومره مال پاته وي (په دې شرط چې حد دنصاب به پوره وي) د هغه زکوة دي اداء کړي. د صرف شوي مال زکوةورباندې نشته اوکه پاته مال تر اندازې د نصاب کم ؤ ،نو بیا ورباندې بالکل زکوة نشته.

مسئله : کارگر ته چې کومې روپۍ له دغه فنډ څخه د قرضوپه نوم ورکولي کېږي هغه د شریعت له نظره قرض نه بلکه د هغو قرضوچې د کارگرپه محکمه پاته دي د یو جز وصول کېدل دي.

(امدادمسائل زکوة ۲۲مخ بحواله جدید مسائل ۲۳تر ۲۲مخونه)

ایا په بانک کې په جمع شوی مال باندې زکوة شته ؟

مسئله : په بانک کې چې کومې روپۍ جمع کېږي د هغوحیثیت د امانتو په څېر دی د مال خاوند هر وخت چې وغواړي روپۍ وراخیستلای شي او پکې تصرف کولای شي د زکوة د وجوب لپاره د عملي قبضې ضرورت نشته بلکه که هغه پرخپل وخت د تصرف کولو په موقف کې وي ،نو حکما داسې بلل کېږي چې په قبضه کې هم دي ،مثال يې دا دی چې په اخستل شوي مال (سامان) باندې تر قبضې تېنگولوله مخه زکوة واجبېږي . ((المبیع قبل القبض الصحیح انه یکون نصابا) (المبسوط ۲ج ۱۹۰ مخ امام سرخسي

لهذا په بانک کې ساتل شوي روپو باندې پوره اودهرکال زکوة واجب دي. (جدید فقهي مسائل ۱۱۹خ)

ایا په (فکسډ ډپازټ) باندې زکوة شته ؟

مسئله : نن سبا په بانک کې د روپو جمع کولو یوصورت داسې دي چې ورته دبانک په اصطلاح (فکسډډپازټ) ویل کېږي چې روپۍ بانک ته د یوې ټاکلې مدې لپاره پوره کېدو وروستو د یوه اندازه سود په اخستلو سره واپس خپل خاوند ته سپارلي کېږي.

دامام ابوحنیفه رضی الله عنه په نزد د زکوة دوجوب لپاره ملک تام ضروري دي اوملک تام دادي چې لچاسره مّوم شي دي هغه به دده په

ملک کې هم اوپه قبضه کې به يې هم وي .که له دغو دوارو څخه يو پکې موجود نه ؤ نو زکوة واجب نه دي مګر د فقهاؤله نظرڅخه څرګندیږي چې يو څوک خپل سامان پخپله خوښه د بل چاپه قبضه کې ورکړی مګر ملکيت يې خپل وي ،نو په هغه باندې د قبضې نه لرلو باوجود زکوة واجب دي څرنګه چې له مخه تېر شوي دي چې په قرضو کې ورکړل شوؤ روپو باندې زکوة واجب دي ،نوله دې وجې په (فکسډډ پازټ) باندې هم زکوة واجب دي خومګر د ټولو کلوزکوة به په يوځای هغه وخت اداء کوي کله چې دغه روپۍ د هغوخاوندته ورسيږي . (جديډ فقهي مسائل ۱۲۰مخ بحواله کتاب الفقه۱ج ۵۹۱مخ)

ايا د بانک او نشورنس په ګټه باندې زکوة شته اوکنه

مسئله : په بانک او اشورنس (بيمه) باندې چې کومه ګټه ترلاسه کېږي هغه خو سود يقيني ډي خوډېر وخت قمارهم وي نو ځکه دا يوحرام مال دي ،څوک نشي کولای حرام مال په صدقه کې ورکړي او دا د ثواب کارنه ،بلکه د خيرد کارسپکاوی دي . حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي (لاصدقة في غلول) (ترمذي) د فقهي په مشهور کتاب (قنيه) کې ليکلي دي چې که پوره نصاب د حرام مال ؤ ،نو بيا وربانديې زکوة نشته ځکه چې هغه ته ضروري ده چې ټول مال خپل خاوند ته ورکړي اوکه هغه ته رسول يې امکان ونه لري بيا به ټول خيرات کوي ،اوکه د مال ډېره برخه حلاله او لږحرامه وه نو بيا په ټول مال زکوة واجب دي او مثال يې دا دی چې په داسې غصب شوي مال باندې زکوة واجب دي چې له خپل مال سره ګډشوی وي .(ولوخلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب الزكاة فيه) درمختار۲ج ۳۹مخ جديد۱۲۱خ)

په باونډ او نوروباندې زکوة شته اوکنه ؟

پوښتنه : له زید سره د خپلوضروریاتوپه پوره کولو سربېره داسې روپۍ دي چې باونډ (یوډول حکومتي کاغذ دي لکه فکس ډپازټ اونور) یې درباندې واخست یا یې هغه روپۍ بل چاته بلاسود قرض ورکړې نو حکم یې څه دي ؟

ځواب : په دغوټولو صورتو کي زکوة اداء کول واجب دي مګر د قرضود ورکولوپه صورت کې د قرضود وصول کېدلو څخه وروستو د تېرې زمانې زکوة واجب دي.(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۷مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲مخ)

د وزلوپه بدل کې چې کومې روپۍ ترلاسه شي د هغودزکوة حکم

پوښتنه : په ناڅاپې ډول زید موټر ،جهاز، ګاډي اویابل شي وواهه اومړشو، کمپنۍ د هغه مورپلاد ،مېرمنې یا ماشومانو ته دېرش زره روپۍ په بدل کي ورکړې ،نو دوي به له دغو روپو څخه زکوة باسي اوکنه ؟

ځواب : ماشومان چې ترکومه پورې نابالغ وي ،نو د هغود حصې په روپو زکوة نشته او کومه برخه چې له دغو روپو څخه د هغه مېرمنې او مور اوپلارته ورکوله کېږي په هغوچې پوره کال تېرشي نوبیاورباندې زکوة واجب دي اوماشومان چې هروخت بالغان شول له همدغې ورځې څخه ورباندې د خپلې برخې زکوة واجب دي .(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۴مخ)

د خښ کړل شوی مال زکوة :

پوښتنه : کومې روپۍ چې په زمکه چې خښې کړل شوې وي په هغوباندې زکوة واجب دي اوکنه ؟

ځواب : د دغو روپو څخه باید هرکال زکوة وایستل شي –

(فتاوي دارالعلوم ۲ج ۳۳۸مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲مخ)

د کانونو اودفن کړل شوؤزکوة :

مسئله : په ځمکه کې دننه په کانوکې چې کومي قدرتي خزانې دی هغه په درې ډوله دي يعنې درې ډوله شيان و رڅخه را ايستل کېږي

۱. هغه شيان چې په حرارت (ګرمولو) سره ويلېږي لکه سره زر سپين زراو داسې نور

۲. هغه شيان چې نرم او بهېدونکي وي لکه پتل اونور

۳. ډبري او هغه شيان چې نه په حرارت (ګرمولو) سره نرمېږي اونه پخپله بالذات نرم وي – په اور باندې دنرمېدونکو شيانو ډولونه دا دي لکه سره زر، سپين زر ، ترامه زېړ، سرول او نور په دغوکې د پنځمي برخې په اندازه زکوة فرض دي له کان څخه د دغو شيانو را ايستونکي که ازادوي که غلام وي ،که ذمي وي سړي وي اوښځه خو چې هر څوک وی دمال د پنځمي برخي په زکوة کې ورکولوسره هغه د پاته مال مالک ګرزي.

مسئله : که د پټې خزانې د را ايستلو لپاره دوؤنفرو په ګډه سره کوشش کاؤاو يوه ته پلاس ورغله نودا به صرف دهغه بلله کېږی .اوکه چاد کان کنبلوټيکه واخستله ،نو له کان څخه چې هغه څومره څه ترلاسه کوي د هغوټولو مالک را ايستونکی دی. (بحرالرائق)

دوهم ډول دا دي چې نرم دي لکه ، مالګه تېل پطرول .

او دريیم ډو ل هغه دي چې نه نرم وي اونه ويليکيدونکي وي لکه چونه ، ګچ ،کوئله ، جواهر او ياقوت او په دغو دوارو ډولو کې د تهذيب سره سم زکوة واجب نه دی اوپه سېماب (پاره) کې پنځمه برخه زکوة ايستل واجب دي.–

مسئله : كه يو چاپه اسلامي هيوادكې داسې يوځاى خزانه پيداكړه چې هغه د چاپه ملكيت كې نه ؤ لكه صحرا نوكه په پيدا شوؤسكوباندې د اسلاي بادشاهي نښانې ترسترګو كېدلې نو د هغې حكم داسې دى لكه په لاره د پيداكړل شي ، اوكه ورباندې د جهالت د دورې نښانې وې ،نو له ټولې څخه څلور حصې د پيداكونكي ده اويوه حصه به په زكوة كې وركوي.

مسئله : كومه خزانه چې د چاپه خپله ځمكه كې پيداشوه نو د فقهي د علماؤرح په نزد په اتفاق سره د هغې پنځمه برخه په زكوة كې وركول واجب دي.

مسئله : كه يو ځاى سامان (دمثال په ډول د كور سامان كپړي او غمي) پيداشول ، نو هغه هم د خزانې په حكم كې دي او د پنځمې برخي زكوة وركول يې واجب دي (فتاوى عالمكيري اردو ۴ج ۲۴مخ كتاب الفقه ۱ج ۹۹۲مخ).

ايا په كانواودتيلو په ذخيروزكوة شته ؟

مسئله : په كان او د مائعاتو لكه پطرولو اونوروهغوشيانو كې چې په قالب كې لوېدلاى شي خومګر بهېدونكي نه وي په هغوباندې پنځمه واجب د خو دزبق (سيماب) په معدن باندې سره له دې چې بهېدونكي دي پنځمه واجب ده ځكه چې دغه شيان كه له بل څه سره ګډ شي نوبيا پكي د انطباع (نقش ، چاپ جوړېدو) صلاحيت پيداكېږي . د صاحبينو رح په نزد په دغه رنګه معدن باندې په هرحالت كې پنځمه واجب ده كه په سركاري ځمكه كې وي اوكه پخپله ځمكه ، كور ، دكان يابل څه كې وي د امام صاحب په نزد په كور يادكان كې په پيداشوي معدن باندې پنځمه نشته . او د ذاتي

ځمکي په اړوند د امام صاحب دوه روايتونه دي - خو ترجيح پکي دوجوب روايت ته ورکړله شوې ده. که په سرکاري ځمکه کې معدن پيداکړل شو، نو پيداکونکي يې مالک ګرزي اوکه پخپله ذاتي ځمکه کې پيد اشو، نو د ځمکي خاوند يې مالک ګرزي
(احسن الفتاوی ۴ج ۲۸۸خ)

مسئله : د مائعو (بهېدونکو) شيانو لکه د خاورو تېلو، پطرول ،ګېس، مالګه اونور وپه ترلاسه شوي شی باندې زکوة نشته دغه رنګه په هغوشيانو باندې هم زکوة نشته چې نه په اور اونه مائع وي لکه چونا، ډبري، جواهرات او نوروباندې. خوسيماب (پاره) له دغه حکم څخه ايستل شوې ده. يعنې هغه که پيداکړل شوه، نوپنځمه يې په زکوة کې ورکول واجب دي ښکاره خبره ده چې په دفينه (خښ کړل شوؤ) کې هر هغه شی شامل دی چې له ځمکې څخه را ايستل کېږي .لکه سلاح ګاني، دکورني ژوند سامانونه او نور ،يعنې په دغو ټولو باندې پنځمه واجب ده. (کتاب الفقه ۱ج ۹۹۷مخ)

ايا د نذر په روپوزکوة لازم دي ؟

پوښتنه :يوچاد خپلي امدني دربيه برخه د پاک خدي ﷻ په لاره کي نذر کړه کله چې داسې يو اړاو محتاج ورته په مخه ورځي نو دهغه سره مرسته کوي نو ايا په دغو روپوبه زکوة وي اوکنه چې هغه د غريبانو لپاره او يادالله ﷻ په نامه ايښې دي ؟

ځواب : که يې په ژبه سره د نذرلفظ ويلي ؤ ،نو بيادغه نذرپوره کولورباندې واجب دي او حکم يې دادي چې زکوة ورباندې فرض دي مګر داپکي ضروري نه ده چې له نوروپوبه د هغوزکوة اداء کوي بلکه له هغوڅخه دي څلوښتمه په زکوة کې ورکړي .نوري دي د نذر په

مقصد خیرات کړي اوکه دغه ټولي روپۍ بغیرله نیت د زکوة څخه مسکینانو ته ورکړي هم د هغو څلوېښتمه برخه په زکوة کې شوه او پاته يې په نذر کې واجب دي چې دغه ټولې روپۍ به په نذر کې ورکوي اود هغوزکوة به له نورو روپو څخه اداء کوي. اوکه يې بغیرله نیت څخه ټولي روپۍ خیرات کړې نوهم زکوة پکي اداء شو مګر د زکوة په اندازه د نور نذر صدقه کول واجب دي

ایاپه وقف (بخښل) شوي مال کې زکوة شته ؟

په وقف (بخښل) شوي مال باندې هم زکوة نشته ځکه چې د هغه مالک نه وي دغه رنګه په هغه کښت باندې هم زکوة (عشر) نشته چې په داسې ځمکه باندې وي چې هغه د چاملکیت نه وي ، ځکه چې هغه هم مالک نه لري. (کتاب الفقه١ج٢١مخ-فقه الزکوة١ج١٧٧مخ)

مسئله : دغه رنګه له دغه حکم څخه هغه مال هم وتلي دي چې داسې وقف شوي وي چې د چالپاره ټاکل شوي نه وي لکه کوم باغ د مسجد یاسراي لپاره ،یاپه عام ډول مسکینانو او فقیرانو ته بېله ټاکلو وقف (بخښل) شوي وي ، نو ددغه باغ په میوؤ او نور پیداوار باندې زکوة (عشر) نشته خو که دغه وقف شوي ځمکه په ټېکه ورکړ له شوه او ورباندې کرونده (کرهڼه) وشوه نو ټېکه دار به د محصول (هغه چې له دغې څخه ترلاسه شوي دي) زکوة (عشر) ورکړي -(یعنې په وقف خو عشر نشته خوکله چې ټېکه دار په ځمکه باندې کرونده وکړه نوکوم څه چې دهغه په برخه کي ورغلي دي له هغوڅخه به عشر اداء کوي-(رفعت قاسمي)

ايا د زكوة په روپوزكوة شته ؟

پوښتنه : يو چاله خپل مال څخه زكوة چلاكړ مگر مستحقينو ته يې لانه ؤ سپارلى چې پوره يو كال ورباندې تېرشو ، نو آيا زكوة ورباندې واجب دي اوكنه ؟

ځواب : پر زكوة باندې زكوة نشته. (آپ كي مسائل ۳ج۳۷۰مخ فقه الزكوة۱ج۱۷۲مخ كفايت المفتي۴ج۱۴۳مخ)

ايا د چندي په روپوزكوة شته اوكنه ؟

مسئله : دمدرسې چنده (د مرستي روپۍ) چې جمع شي اوپوره كال ورباندې تېر شي ،نوهم زكوة ورباندې نشته (فتاوي دارالعلوم۲ج۴۹بحواله ردالمحتار۲ج۹مخ)

مسئله : د محلې (كلي يا كوڅې) هغه روپۍ چې د خلكوګډې روپۍ وى او د خلكو د ضرورت د رفع كولو لپاره راټولي شوې وى يا دمسجدروپۍ وي په هغوباندې زكوة نشته.(كفايت المفتي۴ج۲۵۰مخ)

مسئله : د مدرسې له مهتمم سره چې د مدرسې د روپو كومه جمع ده په هغوزكوة نشته. (فتاوى دارالعلوم۲ج۵۱مخ)

مسئله : كومې روپۍ چې د خير د كارونولپاره وركولي كېږى دهغوحيثيت د وقف د مال دي او هغه مالړد صدقه وركونكي له ملكيت څخه وزي ،نو ځكه يې په هغه باندې زكوة نشته. (آپ كي مسائل۳ج۳۷۲مخ)

په كومومدرسوكې چې دزكوة دروپو جمع جوړه وى هغې ته زكوة وركول څنګه دي ؟

پوښتنه : په بعضو مدرسو كې نژدې څلويښت زره د زكوة روپۍ جمع كېږي نو دغه رنګه مدرسې ته دزكوة په وركولوسره زكوة اداء كېږي اوكنه. ؟

ځواب : د مدرسې والو ته پكاردي چې د زكوة له روپو څخه په هم هغه كال كې كار واخلي ؛ او مدرسې د هرڅومره ډېر زكوة وركول صحيح

دي او څه منعه پکي نشته خوکه داسې وې چې د کلونو ، کلونو ، روپۍ يې سره ساتلې هغومدرسوته بايد زکوة ورنکړل شي ،بلکه هغو مدرسوته بايد زکوة ورکړل شي چې هلته ورته ضرورت وي او کارونه اخستل کېږي .(فتاوي رحيميه ۵ج ۱۲۳مخ - محموريه ۳ج ۷۵مخ

بې ضرورته زکوة اخستل :

پوښتنه : ۱- فی الحال دزکوة روپوته ضرورت نشته مګر د مدرسې د رغوني سموني په خيال وار له مخه زکوة اخستل کېږي اياداسې کول روادي او کنه؟

۲- که د مدرسې مهتمم د زکوة د وصول کولو لپاره حيله د تمليک جوړه کړي اوبيايې له ضرورت سره سمي کاروي نو دتحليل په حيله باندې زکوة اداء کېږي او کنه ؟

ځواب : د مدرسې د همېشوالي ،پرمخ تګ او ټينګښت پخاطر پورتني صورت غوره کول روادي

۲- په تحليل سره سمد ستي زکوة اداء کېږي . (فتاوی محموديه ۳ج ۳۹مخ بحواله هدايه ۱ج ۱۷۹مخ

په کمېشن سره د زکوة چنده وصول کول :

پوښتنه : د بر ځله په مدارسوکې د چندې له روپوڅخه په مقرره حصه باندې چنده غوښتله کېږي د بعضو مقرره تنخواه وي که دغه غوښتونکې روپې له مال د زکوة څخه ورکړل شي نو زکوة اداء کېږي او کنه؟

ځواب: د چندې په حصه باندې قاصد ياوکيل مقررول روانه دي. کوم زکوة چې مدرسوته ورکول کېږي هغه که په سم ځای کې ولګول شي نوزکوة اداء شوي دي اوکه داسې ونه شي نونه دی اداء شوی.نو ځکه

تاسو زکوة صرف هغو مدرسو ته ورکوئ چې ورباندې پوره باور د دې ولرئ چې هغه په سم ځای لګولې کېږي - (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۰۷ مخ)

مسئله : د چندې په ټولو سره د کمېشن اخستلو تفصیل داسې دی چې که داسې کارګروي چې تنخواه ولري نو د هغه د ښه کار کولو په وجه پر تنخواسربېره فیصدی کمېشن هغه ته د انعام په ډول ورکول روا دی مګر دغه کمېشن د زکوة له روپو څخه ورکول روانه دي بلکه د زکوة پیسې لازما باید په مدرسه کې جمع کړل شي او مدرسه باید له خپل امدادي فنډ څخه دغه کارګرته انعام ورکړي او که کارګر داسې نه وي چې تنخواه لري نو بیا په کمېشن سره چنده کول د اجارې فاسدېدلو په وجه روانه د دي . (هدایه ۳ ج ۲۷۰ مخ فتاوی دارالعلوم ۱ ج ۳۳۴ مخ فتاوی محمودیه ۱۳ ج ۱۰۲ مخ

زکوة او نور څه په زور اخستل :

پوښتنه : که څوک عشر او چنده په زور اخلي او بیا یې په مدرسه کې مصرفوي دا څنګه دي ؟

ځواب : په نفلي صدقو کې زور کارول روانه دي . (فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۳۳۸ مخ)

له اجازې بغیر د زکوة روپۍ لګول :

مسئله : له یو چاسره د مدرسې مهتمم د زکوة روپۍ ایښې وې هغه ته څه ضرورت پېښ شو او د مهتمم بې اجازې یې هغه روپۍ ولګولې او بیایې بېرته اداء کړې ،نو د هغه لپاره حکم دا دي چې داسې کول روانه ؤ خو له اداء کولو څخه وروستو هغه ورنه خلاص شو . (فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۳۳۸ مخ

دزکوة له روپو څخه کمېشن ورکول :

پوښتنه : یو څوک خپلو خپلوانو ته چې په بل هیوادکې اوسي زکوة لېږي . نن سبا د روپو په لېږلو کمېشن ورکول کېږي نوآیا دغه

کمېشن له زکوة څخه روکولای شي ؟ د مثال په ډول که هغه زر روپۍ ولېږي نو خپلوانوته يې اته سِوه (۸۰۰) روپۍ رسېږي ، نو دغه دوه سوه روپۍ به د زکوة بللي کيږي او که به د لېږونکی بللي کېږي ؟

ځواب :دغه دوه سوه روپۍ په زکوة کې نه ګڼلي کېږي نو ځکه لېږونکی بايد دوه سوه روپۍ نوري په زکوة کې ورکړی. (فتاوی رحيميه۲ج۱۰مخ

ولي د تجارت به مال زکوة واجب دی ؟

پاک خدايﷻ د انسان لپاره تجارت کول اوله هغه څخه ګټه ترلاسه کول رواګرزولې ده ، په دې شرط چې د حرام شي تجارت نه وي ، او په معاملاتو کې سچه والی ، امانت داري او نور اخلاقي اصول پرېښودل شي. اوپه تجارت کي دومره زياته مشغولتيا هم نه وي چې له امله يې انسان د اللهﷻ له ذکر او د اللهﷻ د حقونو له اداء کولو څخه غافل شي - داخبره هم بايد د تعجب وړ ونه ګڼله شي چې اسلام له تجارت څخه په ترلاسه کېدونکي مال باندې د نقدي زرو په څېر کلني زکوة مقرر کړی دي ترڅو د اللهﷻ د نعمتونو شکر اداء کړل شي او دهغه له بندګانو څخه د محتاجوبندګانو حق اداء کړل شي. او په عام المنفعه ګټوکې شرکت کي وشي کوم چې له هر زکوة څخه مقصد دي - په اسلامي فقه کې په تجارت باندې د زکوة حکونه هم بيان شوي دي ترڅوهر مسلمان تاجر ته دا معلومه شي چې د هغه په کوم مال باندې زکوة شته اوپه کوم نشته د فقهي علماؤ تجارتي دولت ته (عروض تجارت) ويلي دي او له دې څخه د هغومراد له نقدو زرو څخه بغير هر هغه سامان دي چې د تجارت لپاره تيار شوی وي هغه که هر قسم مال وي د مثال په ډول ماشينونه وي ، د استعمال سامان

وي ، کپړي وي ، دخوراک او څښاک شيان وي - ګڼې او جواهروي حيوانات که نباتات وي ،کوروي که ځمکه وي منقول وي اوکه غير منقول جايداد وي لنډه داچې هرهغه شی چې د ګټې حاصلولو په مقصد د اخستلو او خرڅولو لپاره تيارکړل شوي وي هغه مال د تجارت بلل کېږي غرض دا چې له چاسره چې د تجارت مال وي او پوره کال وربانديې تېرشي ، او قيمت يې د نصاب تراندازې رسېدلی وي ، نو په هغه باندې زکوة لازم دي يعنې د سامان د قيمت څلوېښتمه حصه يا دوه نيم فيصده ، کوم چې د نقدی زرو حساب وي -(فقه الزکوة ١ج ۴١۴تر ۴١۲مخ پوري)

اسلام نه يودا چې انسانانو ته د تجارت او محنت ترغيب وکړي دي بلکه تاجرانو (تجارت کونکي) ته يې د دې ترغيب هم ورکړی دي چې د تجارت مسئلې او دهغه علم زده کړي - نن سباخو د نړۍ په هره برخه کز دکومرس (comerc) په نامه پوهنتونونه موجود دي خو د دې هرڅه بنياد ترېولو له مخه حضرت عمر رضی الله عنه کړيده . د جامع ترمذي په يو روايت کي راغلي دي چې حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په دورکي اعلان کړي ؤ چې زمونږ په بازارونو کي دي صرف هغه تجارت(راکړورکړه) وکړي څوک چې له دين څخه خبر او د تجارت په مسئلو پوهېدونکي دي . بيا په وروستو کې هغه (رض) د دې لپاره خاصې ادارې په کار وګمارلې چې د وخت عالمان به ورته راتلل او تاجران به هم هلته راغونډېدل او بيا به تاجرانو له علماؤ څخه د خپل مشکل پوښتنې کولې . همدا رنګه حضرت امام مالک رح هم هغه عالم ؤ چې د ماخوستن د لمانځه څخه وروستو به د شپې تر دولسو بجوله تاجرانو سره په مدينه منوره کې ناست ؤ او

هغوته به يې د تجارتي راکړي ورکړي ، زکوة اونوروشيانو مسئلې ورښوولې .(محمدرفعت قاسي صاحب)

د تجارت د مال د زکوة شرطونه

د حنفي مذهب د پيروانو په نزد د تجارت په مال کې د زکوة واجبېدلو لپاره څو شرطونه دي:

۱. داچې د تجارت مال به د سرويا سپينو زرو له حسابه نصاب پوره کړی وي – او دا د زکوة ايستونکي خوښه ده چې د سرو زرو له قېمت څخه نصاب پوره کوي او که د سپينو زرو له قېمت څخه (يعنې د دوړو نصابونو څخه کولای شي . که د دو پنځوس (۵۲) نيموتولو سپينو زرو د قېمت سره سم د تجارت مال ؤ ، نو زکوة ورباندې واجب دي. او مال د قېمت لپاره به هغه ندازه لګوله کېږي کومه چې به دغه ښهر کې وي . او که دغه مال کوم بل غريب ځای ته لېږل کېږي ،نو بيابه دهغه شهر د قېمت په اندازه قېمت کې کوم چې هغه ته نژدې دي

۲. شرط دادی چې په هغه مال باندې پوره يو کال تېرشي – او په دغه ډول به دکال سراوپای په نظرکې نيول کېږي يعنې که يو څوک د کال په سرکې د نصاب مالک شو او دکال په مينځ کې له هغه سره مال تر نصاب کم ؤاو د کال په پای کې بيا حد دنصاب ته ورسېدؤنو په هغه باندې زکوة واجب وي ،لهذا که کوم څاروی د خدمت (سوارلی) لپاره واخستل شو بيا وروستو ورته د تجارت کولو اراده پيدا شوه ،نو هغه به مال د تجارت نه بلل کېږي تر څوچې په خرڅولو او يا کرايه ورکولو کې واقع نشي که يو چاد تجارت مال په دغه ډول په بل مال باندې بدل کړ، نو انحصار د نيت په اصل مال باندې دي – په هغه څه

پوري نيت ترلى نه دي چې هغه په بدل کې اخستى دى نو لهذا د تبادلې مال به د تجارت مال بلل کېږي او کوم نيت چې د اصل لپاره شوى دي هغه ورته کافي دي – خو که يې د بدلون پر وخت د هغه د تجارت اراده نه لرله ،نو بيا د تجارت مال نشي بلل کېداى.

۳- شرط دادي چې په هغه مال کې به دا صلاحيت وي چې د تجارت نيت پکې وشي ، نو که چاداسې ځمکه .واخستله چې په پيداواربانديې عشر ؤ اوپه هغې يې کرونده وکړه او پيداوارېې ورڅخه واخست ،نوپه هغه باندې زکوة عشر واجب دى ، زکوة وربانديې نه دي واجب. داحکم د خراجې ځمکې نه دي په هغې باندې زکوة (عشر) واجب نه دي که څه هم کښت يې نه وي کړى که له يوچاسره څرېدونکى څاروى ؤ اولاتراوسه يې کال پوره شوى نه ؤ چې هغه يې د تجارت اراده ختمه کړه او هغه يې د شيدويانسل دپرولو ياکوم بل څه لپاره پرېښودلواو هغه په په صحرايا ځنګل کې څرېدل پيل کړل نوددغه مال د تجارت کال ختم شو او له دغه وخته څخه هغه سائمه څاروى وګرزيدو اوله دغې ورځې وروستو چې يو کال پوره شي بيابه د سائمه څارويو په ډول ورڅخه زکوة باسي قېمت به ورته نه لګول کېږي – کتاب الفقه ۱ج له ۹۸۷ څخه تر ۹۸۹ پوري)

ولې د زکوة لپاره د کال تيريدل شرط دي ؟

شريعت نه د زکوة وجوب حکمرانانو ته پرې ايښى دي چې هر وخت وغواړي زکوة له خلکو اخستل پيل کړي او نه يې د بخيلانو خوښې ته پرې ايښى دي چې هر کله يې اداء کېدل غواړي هغه وخت يې اداء کړي بلکه اسلام زکوة د يوه محدود ټاکلى قانون لاندې د کلني او

ښتون سره تړلې دی او د دې لپاره يې کال ورته د اندازې په ډول ټاکلي دي چې په ټول کال کې دفصلونو ټول تغيرات بشپړېږي دمال لرونکي امدني پوره کېږي اود محتاجانوضرورتونه اوج ته رسېږي لنډه دا چې د يو کال مده داسې يوه له عقل سره سمه مده ده چې پکې د اصل زيادت يقيني کېږي - د تجارت ګټه او تاوان پته تاجر ته لګېږی او د څرکونکو څارويو نوي نسل دنياته راځي او واړه غټېږې امام ابن قيم رح فرمايي چې الله ﷻ ځکه زکوة په يو کال کې يو ځلي واجب کړی دي چې په يو کال کې د هر ډول فصلونو ميوي تياريږي او دغه مده ډېره ښه په انصاف ولاړه ده ، ځکه چې که په هره هفته ياهره مياشت کې زکوة واجب وای نودابه مالدارانو وروڼوته ډېر تکليف ؤ اوکه په ټول عمر کي يووار زکوة فرض وای نو بيا دفقير په ضررياتاوان تمامېدله ، نو ځکه يو کال ده د زکوة د وجوب لپاره يوه ډېره عادلانه مده ده . (فقه الزکوة ۲ج ۲۳۲مخ بحواله هدايه مجتهد ۱ج ۲۷۱مخ زاد المعاد ۱ج ۲۰۷مخ)

په څومره تجارت زکوة فرض دی ؟

مسئله : د زکوة د وجوب لپاره د زکوة په نصاب باندې د پوره کال تېرېدل يو شرط دي - که يو څوک د کال په پيل کي تر نصاب د کم مال خاوند ؤ ، بيا يې په هغه کم مال باندې تجارت وکړ چې هغه ګټه دومره شوه چې اندازه دنصاب ورڅخه پوره شو دکال له **تېرېدلو** وروستو په هغه باندې زکوة واجب شو اوکه د کال په پيل کې نصاب پوره ؤ بيا د کال په جريانَ کې د تجارت له کولو څخه هغه څه ترلاسه کړل چې دهغه مال له جنس څخه دي نو هغه مال دي (چې له خاوندد مال سره دي) په دغه ګټه کې ورکړي او دټول کال زکوة دي د

اصل مال اداء کړي په دي شرط چې له اصل مال څخه نصاب پوره وي څکه چې که اصل مال نصاب پوره کړي نو دهغه ګټه به د اصل مال په څېر بلله کېږي. (کتاب الفقه ۱ج ۹۲۵مخ)

له تجارت څخه د زکوة ایستلو طریقه

مسئله: د تجارت د مال اصل ته له قیمت لګولو سره د زکوة اداء کول واجب دی - اول باید خپل ټول تر قیمت وایستل شي اوبیا دټول قیمت سره یو ځای کړل شي هغه که د هر ډول مختلفومالونو(لکه کپړې ،د پتل سامان او داسې نور) وي دغه رنګه به هغه ګټه چې په دغه یو کال کې ترلاسه شوې ده هغه به هم دمال په قیمت ورګډه کړئ ،نوبیا به د ټولو زکوة اداء کړئ. خو په دي شرط چې تر نصاب کم نه وي -لنډ دا چې د زکوة وجوب په ټول کال کې دنصاب له پوره والي سره تړلي دي- (کتاب الفقه ۱ج ۹۹۴مخ)

مسئله: کله چې د زکوة د اداء کولو وخت شو ،نو تاسو خپلو نغدو اوتجارتي سامان ته حساب وکړي اودتجارت ټول سامان قیمت په نغدي ډول وټاکئ بیا په دغوروپو کې هغه قرض چې داسې چاته ورکړي دي چې ډېرغریبان نه دی هم ورګډ کړی - بیاله دغې ټولې مجموعې څخه هغه قرض چې په تاسې اداء واجبه ده جلاکړئ اوله پاته ټول قیمت څخه زکوة وباسئ. (فقه الزکوة ۱ج ۲۴۲مخ)

مسئله: که له یو چاسره څه اندازه سره زرڅ څه سپین زرڅ څه روپۍ وی اوڅه د تجارت مال خوپه یواځې ډول له یوه څخه هم نصاب نه پوره کېدی ،نود ټولوګډ قیمت دي معلوم کړی،که د دوه پنځوس نیموتولو سپینوزرو له قیمت سره برابر شو ،نو زکوة یې واجب دي.
(امدادمسائل زکوة ۴۸مخ کتاب الفقه ۱ج ۹۲۴مخ)

په څلوردوله قرضوباندې د زکوة حکم :

مسئله : په شریعت کې هغه شي یا روپوته چې د چاپه ذمه پاته وي قرض ویل کېږي اودزکوة د حکمونو په لحاظ قرض (پور) په څلور قسمه دي.

۱- هغه قرض چې بل چاته ورکړل شوی وي : تاجر هغه سامان چې دتجارت لپاره ؤ خرڅ کړی وي او د هغه قېمت لاورته رسېدلی نه وي. دغه روپۍ که ټولي په یوځای وصول شوې ،نود ټولو زکوة به اداء کوئ. او که څوکلونه وروستو روته ورسېدلې نو د ټولوکلونو زکوة به په یوځای اداء کوي او که دغه روپۍ لږ ، لږ وصول کېدلی ،نوڅومره اندازه چې وصول کېږی دهغودي زکوة اداء کوي

۲- دوهم صورت د قرضوپه داسې ډول دي چې د سامان قېمت ورباندې پاته وي خوهغه یوداسې سامان وي چې اصلا د تجارت لپارنه وی ،په هغه مال باندې هم زکوة هغه وخت واجب دی چې واپس د خپل خاوند لاس ته ورسېږي ،اوله وصول کېدلو وروستو د هغې ټولي مدې زکوة اداء کوي له کله څخه چې هغه دغه سامان خرڅ کړي ؤ ،خوله هغوروپوبه زاکوة هغه وخت اداء کوي چې ټولي په یوځای ورته ورسېږي ؛ دا چې کله سل (۱۰۰)کله دوه سوه ، کله څلور سوه ورته رسېږي په هغوباندې زکوة نشته ، دغه رنګه پاته روپوته (دین وسط) ویل کېږي.

۳- داسې روپۍ چې د کوم مال د بدلې په وجه په بل چاپورنه وي.لکه د مهر (ولور) ورپۍ چې هغه دمال په بدل کي په مقابل جانب باندې پورنه وي بلکه د بې ګناه مېرمني بدله وي په هغو باندې زکوة هغه وخت لازمېږي چې قبضه ورباندې وشي او د قبضې له وخته وروستو

وربانديِ پوره يو كال تېر شي او دفقهي په اصطلاح دغه رنگه قرض ته (دين ضعيف) ويل كيږي.

۴. په داسې قرضو چې بېرته ترلاسه كول اويا په داسې مال چې حاصلول يې ناممكن ياسخت وي هم زكوة نشته - او كه داسې پور وصول شو چې اميديې نه كېدى نو هغه به ورنه د ټولې مدې زكوة باسي - دفقهي په اصطلاح كې هغه ته (مال ضمار) ويل كيږي.

(فتاوى هنديه۱ج ۸۹مخ) د فقهي دغه احكام دخپل نوعيت په لحاظ نوي نه دي مگر نن سبا چې د بقايه جاتو اوپورونو كوم مختلف صورتونه د نوي ژوند د نظام او انتظام د طريقي په وجه رامينځ ته شوي دي د دغو اصولي احكاو په ذريعه په اسانۍ سره حل كېداى شي. (جديد فقهي مسائل ۱۱۸مخ)

په نغد او خرڅ شوي مال زكوة :

مسئله : د كال په پاى كې چې څومره نغدي روپۍ اود تجارت مال موجود دي په هغو ټولو بانديِ زكوة واجب دى او كومې روپۍ چې بل چاته د پور په ډول وركړل شوي دي په هغوهم زكوة واجب دى مگر زكوة به يې له وصول كېدلو څخه وروستو اداء كوي ،او كومې روپۍ چې وصول نه شوې دهغه زكوة ورته معاف دي ، او كوم مال چې د ټول كال په بهير كې خرڅ شوپه هغه باندې زكوة لازم نه دي ، اوكوم لوښئ (لكه د دكان سامان د كور سامان اونور) چې د تجارت په نيت نه وي اخستل شوي په هغوباندې هم زكوة نشته خو ،له دوي څخه هغه چې خرڅ كړل شي اودهغه د قيمت روپۍ په موجوده روپو كې گډوي ،نو دهغه به زكوة وركوي. (فتاول دارالعلوم ۲ج ۵۸بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲مخ)

ایاتاجر به د پور اونغدو دواړو زکوة اداء کوي ؟

پوښتنه : یو تاجر دي چې څه روپۍ یې په خلکو پور دي اوڅه روپۍ ورسره موجودی دی ؛نوآیاهغه به د دواړو ډولو روپو زکوة اداء کوي اوکه صرف د نغدو ؟

ځواب : هغه به دواړه ډولو روپو زکوة اداء کوي خو فرق پکي صرف دادي چې د پور زکو ة وروستو له ور رسېدلو په هغه باندې لازمېږي. او هغه وخت بیا د تېروخت زکوة هم ورباندې واجب دي.
(فتاوی دارالعلوم ۷ج ۱۵۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲مخ

ایا د زکوة لپاره دهري ورځي حساب کول ضروري دي ؟

مسئله: : هره ورځ د زکوة لپاره د حساب کولو ضرورت نشته په سپوږمیځ تاریخ کې یو ورځ د حساب کولولپاره وټاکئ اودټول د کان هغه سامان ته چې د خرڅېدلو وړوي حساب وکړئ اومالیت یې معلوم کړئ او بیاله هغه حساب سره سم زکوة اداء کړئ، په کوم تاریخ چې مود کال پیل کړي دي هر کال په هغه تاریخ ورته حساب کوئ.

ایا امدني ته هرکال حساب کول ضروري دي ؟

مسئله که په امدني کي امکان د کموالي اوزیاتوالي موجود ؤبیاورته هر کال حساب ضروري دي او که صرف یوه اندازه پیسې له چاسره اینښې وي یا زر ورسره اینبي ؤ او داسې امدنيْ ورځخه نه ترلاسه کېده چې زکوة ورباندې لازم شي ،نوبیا ورته صرف یو ځلي حساب کول کافي دیَ له هغه څخه وروستو دي هرکال دهغه حساب له مخي زکوة اداء کوي (فتاوي محموديه ۷ج ۲۵۵مخ)

د لږبچت زکوة بایدله کوم حساب څخه اداء شي ؟

مسئله : په دې اصل باید ځان پوه کړئ چې چاته دومره کم ،کم بچت لاس ته ورځي چې د هغه داټوله شوې جمعه د دوپنځوس نیموتولو سپینو زرو مالیت ته نه وي رسېدلې په هغه باندې زکوة واجب نه دي. او کله چې دهغه جمعه مذکور مالیت ته ورسېږي اوله قرضوڅخه هم خلاص وي ، نو بیا وربانديې یو سپوږمیځ (قمري) کال وروستو په دغه ورځ په هغه باندې زکوة واجبېږي – (آپ کي مسائل ۳ج)

پوښتنه : زکوة به دهغه قیمت له قراراه باسي کوم چې یې مال وربانديې اخستي دي او که دموجوده قیمت له قراراه ؟

ځواب : هغه قیمت د اعتبار وړ دي کوم چې د زکوة ورکولو په وخت کې دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۱مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۳۰مخ)

مسئله : په زکوة کي دشیانوهغه قیمت د اعتبار وړ دي کوم چې په عام ډول رواج دي ، د تجارت قیمت څکه د اعتبار وړ نه دي چې په هغه کې خاص تخفیف او رعایت موجود وي. هغه قیمت معتبر دي چې د عامو اخستونکولپاره وي. (امداد الفتاوي ۲ج ۲۴مخ)

مسئله : په زکوة کې به دتجارت د مال د خرڅېدلو قیمت ورکول کېږي. (احسن الفتاوی ۴ج ۴۹۹مخ)

کومې روپۍ چې د کال په بهیر کې زیاتېږي او کمېږي :

مسئله : د کال په پیل اوپای کې د نصاب پوره والی د زکوة لپاره شرط دي که په منځ د کال کي روپۍ یامال کم شي ،نوهغه د اعتبار وړنه دی دمثال په ډول له یو چاسره د کال په پیل کې درې زره روپۍ وې ،درې میاشتې وروستو روسره پنځه لس سوه (۱۵۰۰) پاتې شوې ،بیا

څلور میاشتي وروستو څلور زره شوې او د کال د پای ته رسېدو پروخت هغه د څلورنیمو زرو روپو مالک ؤ ،نوهغه به د څلورنیمو زرو روپو زکوة اداء کوي. د کال په مینځ کې که روپۍ کمي یازیاتي شوې هغوته اعتبار نشته. (آپ ک مسائل ۳ ج ۳۴۰ مخ فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۷۷ مخ)

مسئله : که یو څوک د کال په پیل او پای کې د مال خاوند ؤ او بیا په د کال مېنځ کي دنصاب تر اندازې کم شو ،بیاهم زکوة واجب دي دلږو ورځو د مال په کموالي سره زکوة نه معاف کېږي. خو که ټول مال ختم شو او له هغه وروستو یې نور مال پیدا کړ، نو بیا به له هغه وخت څخه د زکوة کال پیل کوي کوم وخت چي یې نوی مال ترلاسه کړي دي

مسئله : له یوچاسره دوه پنځوس نیمي تولې سپین زرؤ د پوره کال تېرېدلو له مخه دوه یا څلور تولې نورسپین زر یانه لس تولې سره زر ورته میلاو شول ، نو هغه اوسني لاس ته راغلي زربه جلانه شمېري ، بلکه کله چې د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو کال پوره شو نو له هغه سره به د دغوزکوة هم اداء کوي (امدادمسائل زکوة ۴۹ مخ بحواله احکام زکوة ۱۹ مخ)

تر بچت د زیاتو قرضوحکم :

پوښتنه : زید له کمپنۍ څخه شل زره ورپۍ قرض واخستلي او بیایې وربانديې کېږه واخستله دا وخت په زیدبانديې زکوة شته اوکنه ؟ په داسې حال کي چې د قرضو د اداء کولو په وجه د هغه بچت نشته ؟

ځواب : په دغه صورت کي چې د موجود مال په اندازه په هغه باندې پورپاته دي او بچت هېڅ نشته ،نوپه زید باندې زکوة واجب نه دي.

(فتاوی دارالعلوم ۲ ج ۲۵ مخ بحواله ردالمحتار ۲ ج ۹ مخ)

کومې روپۍ چې د کال په دولسمه میاشت کې مصرف شي

پوښتنه : له یو چاسره تر ضرورت زیاتي روپۍ وې کله چې په روپو لاپوره کال نه ؤ تېر شوی نوهغه ورباندې مکان ، سامان یا بل شی واخست ، نو په هغه باندې زکوة شته او کنه ؟

ځواب که کال لابدل شوی نه ؤ چې هغه ورباندې څه شي واخست (چې زکوة ورباندې نه ؤ) نو دهغو روپو زکوة ساقط شو .

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۰مخ بحواله هدایه ۱ج ۱۲۸مخ)

د کال غله چې تر یوکال زیاته شي :

مسئله : هغه غله (اوړه) چې د خوړلو لپاره وي او دومره اخستله شوې وی چې له یو کال خوړلو وروستو هم زیاته شي ،نوپه هغې باندې زکوة نشته .(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۲مخ بحواله عالمګیري –۱ج ۱۲۱مخ)

د نغدو روپو ،د تجارت ،موجود مال او قرضود زکوة حکم :

پوښتنه : یو تاجر دي چې نژدې لس زره روپۍ ورسره نغدي پرتې دي ،د پنځو زرو روپو ورسره تیار مال پروت دي ،اود درو زرو روپو مال یې په کارخانه کې پروت دي او نژدې پنځه زره روپۍ یې په خلکوباندې پور پاته دي چې کمي کمي وصول کېږي ،نوایا هغه صرف د هغوروپو زکوة ورکوي چې نغدي په صندوق کې وروسره پرتې دي اوکه به دمال او پور زکوة هم ورکوي ؟

ځواب : د نغدوروپو ، د تجارت د موجوده مال او دهغوروپو چې د قرض په ډول یې په خلکوپاته دي د ټولو زکوة اداء کول ورباندې واجب دي – خو هغه قرض چې په خلکو پاته دي چې کله وصول شي

نود تېرو کالو زکوة به يې هم اداء کوي - او که تروصول کېدلوله مخه د هر هر کال زکوة په خپل وخت اداء کړي نو هم صحيح دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۳۳مخ)

د کوم مال قېمت چې بدلېږي ، رابدلېږي :

پوښتنه : که د مال قېمت بدلېدی آن چې کله خودا خستلو تر قېمت هم ټيټېدی او د خرخولو بيې هېڅ لاره نه وه ،نو دهغه زکوة بايد څه ډول ورکړل شي ؟

ځواب : کله چې د تجارت په مال باندې پوره کال تېرشي نو کوم قېمت چې د کال پوره کېدلو پر وخت دهغه دي دهغه په حساب دي ځلو ښتمه برخه د زکوة اداء کړي که له نغدو څخه وي اوله موجوده مال څخه. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۴۵مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۳۰ مخ باب زکوة الغنم).

د تاجر لپاره د مال اخستلو قېمت معتبر دي اوکه موجوده قېمت ؟

پوښتنه : له تاجر سره مال دي هغه غواړي وروستو له تېرېدلو د يو کال څخه اوس د هغه زکوة اداء کړي ،نو دهغه مال به د اخستلو قېمت ته اعتبار ورکول کېږي اوکه د بازار د راکړي ورکړي قېمت ته ؟

ځواب : د زکوة د اداء کولو پروخت چې په بازار کې ددغه مال کوم قېمت دي دهغه قېمت له مخې به زکوة اداء کوي - هغه قېمت که د اخستلو تر قېمت زيات وي او که کم .(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۴۹مخ بحواله ردالمحتار ۴ج ۴۲مخ)

په قرضو روپو د تجارت کولو زکوة

پوښتنه : زيد له چا څخه دولس زره ورپې قرض واخستلې او تجارت يې ورباندې شروع کړ، ذاتي سرمايه ورسره هېڅ هم نه وه ، ايازکوة ورباندې لازم دي او کنه ؟

ځواب: دا وخت په زيد باندې زکوة لازم نه دي کله چې تر دولسو زرو دومره زيات (چې اندازې ده نصاب ته رسېدلې وي) حاصل هغه ته ورسېږي، نو بيا دهغو تر پوره زياتو زکوة اداء کول واجب دي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۴۱مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۹مخ)

په تجارت کې د نفع او خرڅ زکوة څنګه اداء کړي؟

پوښتنه: که يو تجار له زرو روپو څخه تجارت پيل کوي، اوکله چې يو کال وروستو ورته حساب کوي نو له هغه سره ديونيم زرو روپو مال موجودې اوتر څنګ يې ټول کال خپل خرڅ هم له هغو څخه کړې دي ،نو ايا هغه به د دغوموجودو او خرڅ شوؤ ټولو زکوة باسي اوکه به صرف د يونيم زرو روپو ؟

ځواب: اوس په هغه باندې د يونيم زرو روپو زکوة لازم دي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۴۵مخ بحواله هدايه ۱ج ۱۷۵مخ)

په خرڅېدونکی مال او دهغه په ګټه باندې زکوة:

پوښتنه: زمايو دوکان دي چې درې کاله کېږي چلوم يې خودغه درې کاله مې زکوة نه دي اداء کړي ،نو ايا د دوکان په ټول مال باندې زکوة لازم دي اوکه صرف دهغه په ګټه باندې ګټه باندې؟

ځواب: ستاپه دوکان په ټول مال باندې زکوة لازم دي هغه ته حساب وکړه او ګټه يې هم ورسره وګڼه او بيا دهرهر کال زکوة اداء کړه اوپه کور کې چې داسې شيان دي چې زکوة ورباندې شته د هغه زکوة هم ورسره اداء کړه ، د تېروکلونو د زکوة اداء هم ستا په ذمه ده ، هغو نوروته هم حساب وکړه او اداء يې کړه ، دکال په جريان کې چې کومې روپۍ د کور په شيانو او اوړو باندې لګېږي په هغو باندې زکوة نشته. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۶۱مخ)

دګوړئ زکوة به څه ډول اداء کوي ؟

پوښتنه : که چا دګوړي تجارت کاؤ هغه به يې زکوة څه ډول اداء کوي ؟

ځواب : د ګوړي ټول قيمت دي معلوم کړي او بيا دې څلوېشتمه برخه په زکوة کې ورکړي او يا دې پخپله ګوړه په زکوة کې ورکړي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۵۴مخ)

مسئله : که چاد زمکي لپاره تخم او کود (زراعتي سره) ساتلې وه ،نو په هغه باندې زکوة نشته. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۴مخ)

د مختلف النوع (چې ډول يې سره بدل بدل وي) مال زکوة :

پوښتنه : يو څوک دي چې د کپړې تجارت کوي ،له هغه سره د پنځو زرو روپو مال موجود دي ،او هغه چې خلکو ته کوم پورونه ورکړي دي له هغو څخه دپنځوزرو روپو وصول کېدل يقيني وي او د درو زرو روپو په وصول کېدلو کې شک وي او دوه زره روپۍ داسې وي چې د وصول کېدلو يې بالکل اميدنه وي.او په دغه تجارباندې څلور زره روپۍ قرض هم وي ،نو په دغه صورت کې د څومره روپو زاکوة بايد ورکړل شي ؟

ځواب: کومه اندازه مال او نغدي روپۍ چې دا وخت ورسره موجودي دي دهغوزکوة دي د پوره کال ه تېرېدلو وروستو سمدستي اداء کړي ، او کوم مال چې په پور خرڅ کړي شوي دي او روپۍ يې لاتراوسه په خلکو پور دي دهغو زکوة په وصول کېدلوسره واجبېږي څومره چې وخت په وخت ورته رسېږي د هغو دي زکوة اداء کوي او کوم قرض چې دهغه په ذمه دي هغه دې له موجود مال يا نغدو څخه جلاکړي ، او د نور دي زکوة اداء کړي. (فتاوی دارالعلوم ٦ج ۱۴۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج)

هغه مال چې سوداګرانوته حواله شي :

پوښتنه : ډېر تجاران خپل د تجارت مال سوداګرانو (کاروباريانو) ته ورکړي او دهغه قيمت اداء کېدل له قوي قرينو څخه تاکلي هم وي په دغه صورت کې هغه قيمت چې د دوي (اخستونکي او خرڅونکي) په زړوکې دي د زکوة لپاره نصاب ګڼل کېدای شي اوکنه ؟ ځکه ډېر وخت داسې وي چې کله هم تاجرانو ته مال راورسېږي هغه ټول کارباريان د قرضويا پورپه ډول ورړي.

ځواب : د دغه مال زکوة واجب دي مګر اداء کول يې وروستو له وصول کېدلو څخه واجبېږي اوپه کوم کال کې چې دغه روپۍ ورته ورسېدلې نو د تېرې زمانې زکوة اداء کول هم وربانديې لازم دي.
(فتاوی دارالعلوم ٢ج ١٤٧مخ بحواله ردالمحتار ٢ج ٤٨مخ)

دګټې زکوة به څه ډول اداء کوي :

پوښتنه : آيا تجار به هغه ګټه چې د کال تر پوره کېدلو له مخه يې کړې ده له اصل مال سره ګډوي اوبيا به زکوة باسي اوکه به صرف له خپل مال څخه باسي.

ځواب : په کال کې چې کومه ګټه ترلاسه شوې ده هغه به هم د کال په پای کې د اصل مال په زکوة ايستلو کې ورګډ ېږي.
(فتاوی دارالعلوم ٢ج ١٥٢مخ بحواله هدايه ١ج ١٥٧مخ کتاب الزکوة الخيل)

مسئله : د کال په پای کې چې د اصل مال او دهغه د ګټې په ګډه سره هر څومره ورپې شوې د هغوټولو به زکوة اداء کوي.
(آپ کي مسائل ٣ج ٣٦١مخ وکفايت المفتي ٤ج ٢٤١مخ)

د مال په لېږ لورالېږلو باندې د زکوة حکم :

پوښتنه : زه له ښاره څخه مال راوړم او په کلي کې يې وړو سوداګرانو ته رسوم - دمال اخستلو به ماباندې (٣٠٠٠٠) روپۍ پاته دي ،اوپه

مال اخستونکو باندې زما (۸۰۰۰) روپۍ پور دي او له ما سره نږدې د (۸۰۰۰۰) روپو مال موجود دی ، نو تاسو راته دا ونښايئ چې زه څه ډول زکوة اداء کړم

ځواب : څومره ماليت چې له تاسره موجود دی هغه که نغدي روپۍ وي او که د تجارت مال او هغه روپۍ چې ستا په نورو باندې قرض دي ټولي سره راجمع کړه اوبيا له دغه ټوليز رقم څخه هغه پور چې د خلکو په تا باندې دي جلا کړه د هغه تر جلا کولو وروستو چې څومره شته پاتې شول د هغوزکوة اداء کړه په پورتني صورت کې نږدې.

(۲۸) زره روپۍ د زکوة په تا واجب دي. (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۷۱ مخ .

د قرضو په کاروبادباندې زکوة :

پوښتنه : زيد د قرضو په روپو باندې دوکان خلاص کړ. کله چې کال پوره شو دوکان ته حساب وکړنو له (۱۱۰۰۰۰) زره څخه د (۹۵۰۰۰) زرو روپو مال موجود ؤ او په دوکان باندې (۶۰۰۰۰) روپۍ پور نورهم ؤ او نغدي صرف دوه زره روپۍ وې ، نو د هغوزکوة شته او کنه ؟

ځواب: کوم سامان چې د پلورلو وړ دي د هغه له قيمت څخه د قرضو (هغه چې په دوکان دي) لرې کړه ، اوپاته روپو ته دې دغه دوه زره هم ورګډې کړي او بيا دې له ټولو څخه زکوة اداء کړي. (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۷۳ مخ)

د شيانو جوړپه جوړولوباندې زکوة

پوښتنه : د شيانو جوړلو په کوم سامان باندې زکوة شته ؟

ځواب : د شيانو جوړولو له کارګرسره دوه ډوله شيان ي ،يو هغه خا م مال وي چې ورنه د شيانو په جوړولو کې کار اخستل کېږي او يو تيار شوی مال وي؛ په دغه دواړه قسمه مالونو باندې زکوة شته ، خو په

ماشينونو او نوروهغو سامانونو باندې چې د مال په تيارولو کې د ونه کار اخستل کېږي زکوة نشته. (آپ کي مسائل ۳ ج ۳۷۲ مخ و کفايت المفتي ۴ ج ۱۴۲ مخ)

د شراکت د کاروبار زکوة :

پوښتنه : دؤو ورونړو په ګډه سره د کان خلاص کړ، روپۍ د يوه ورور دي او د دکان چلول په بل ورور دي او ګټه سره په نيمايي ده. آيا د دې زکوة به څوک اداء کوي ځکه دا خو د شراکت کاروبار دي ؟

ځواب: لومړی تاسو بايد په دې ځان پوه کړئ چې کله څوک د کاروبار لپاره روپۍ ورکړي او د هغه کاروبار په ګټه کې د روپۍ ورکونکي حصه وي هغه ته د شريعت په اصطلاح کي (مضاربت) ويل کېږي. چې نن سبا خلک ورته په عام ډول شراکت وايي، په دغه کاروبار کې يو اصل رقم وي او يو د هغو ګټه وي. د اصل رقم زکوة د هغه په مالک (ورکونکي) باندې واجب دي او دهغه چاچې په ګټه باندې کار کوي ک ګټه نصاب اندازې ته رسېدله نو په هغه باندې هم د خپلې حصې زکوة واجب دي ،او کومه ځمکه چې د دکان جوړولو لپاره اخستله شوې ده په هغې باندې زکوة نشته.(آپ کي مسائل ۳ ج ۳۵۰ مخ)

مسئله : د دغو روپو زکوة په زيد باندې لازم دي. او په هغه چاچې په ګټه کار کوي هم د خپلې ګټې د حصې چې حد دنصاب ته رسېدلې وي او پوره کال ورباندې تېر شي زکوة لازم د ي.

(فتاوی دارالعلوم ۶ ج ۱۵۵ مخ بحواله ردالمحتار ۲ ج ۳۱ مخ)

قرضدار تاجر ته زکوة ورکول څنګه دي : ؟

پوښتنه : يو تاجر سخت قرضدار شو او د خزانې (ساتل شوې روپۍ) ورنه ټولې ختمې شوې ، ايا هغه ته په داسې حال کې چې په کورکې ورسره د لسو زرو روپو په قيمت ګېڼه وي زکوة ورکول کېدای شي اوکنه ؟

ځواب : په کور کې چې کومه ګڼه ده هغه خو دهغه د مېرمنې ده او قرض خو د تاجر په ذمه دي ، نو ځکه هغه د زکوة اخستلو مستحق دي .(فتاوی محمودیه ۳ج ۲۱مخ)

مسئله : هغه قرض دارته چې ورسره موجودي (۱۰زره) روپۍ وي اوقرض وربانديږ (۱۲زره) وي (يعنې موجودي تر قرضوکمې وي) زکوة ورکول صحيح دي. (امدادمسائل زکوة ۷۸مخ)

مسئله : که يو چادرته وويل چې په ماباندې د خلکو دومره قرض دي ، ماته زکاکوة راکړه چې زه وربانديږ هغه اداء کړم ، نو بايد له هغه څخه ددغو قرضوثبوت طلب کړل شي. (معارف القرآن ۴ج ۴۱۲مخ بحواله قرطبي)

د جائيداد او د تجارت د سامان زکوة :

پوښتنه : د يو چا جايداد دي چې د يو کال ګټه يې پنځوس زره ده ،اودتجارت سامان ورسره د شلو زرو دي چې ګټه يې په کال کې دوه نيم زره ده او هغه نفر کله د شپږو مياشتو لپاره دبرش زره روپۍ قرض هم اخلي .او دهغه په ذمه باندې مهر (ولور) هم دي نو په دغو ټولو صورتو کې دهغه لپاره دزکوة حکم په څه ډول دي ؟

ځواب : د جايداد په قيمت زکوة نشته ، او د تجارت سامان چې دمثال په ډول د شلو زرو دي په هغه ټول باندې زکوة واجب دي .څلويښتمه حصه يا دهغې قيمت ، هر کال بايد دهغه زکوة وايستل شي .(ردالمحتار ۲ج ۱۰مخ ، ۲ج ۴۲مخ)

د هغوچې څومره ګټه ووزي او ونه لګېږي او پوره کال وربانديږ تېر شي ، نو بياوربانديږ زکوة واجب دي ،اوکه د کال په پای کې دزکوة اداء کولوپروخت په هغه باندې قرض اخستل شوې دبرش زره روپۍ پاته وي نو هغه دې له هغه مال څخه جلاکړي د کوم چې زکوة اداء کوي

ځواب : په کور کې چې کومه ګېڼه ده هغه خو دهغه د مېرمنې ده او قرض خو د تاجر په ذمه دي ، نو ځکه هغه د زکوٰة اخستلو مستحق دي .(فتاوی محمودیه ٣ج ٢١مخ)

مسئله : هغه قرض دارته چې ورسره موجودي (١٠زره) روپۍ وي اوقرض ورباندې (١٢زره) وي (يعنې موجودي تر قرضوکمې وي) زکوٰة ورکول صحيح دي. (امدادمسائل زکوٰة ٧٨مخ)

مسئله : که يو چا درته وويل چې په ماباندې د خلکو دومره قرض دي ، ماته زکاکوٰة راکړه چې زه ورباندې هغه اداء کړم ، نو بايد له هغه څخه ددغو قرضوثبوت طلب کړل شي. (معارف القرآن ٤ج ٤١٢مخ بحواله قرطبي)

د جائيداد او د تجارت د سامان زکوٰة :

پوښتنه : د يو چا جايداد دي چې د يو کال ګټه يې پنځوس زره ده ،اودتجارت سامان ورسره د شلو زرو دي چې ګټه يې په کال کې دوه نيم زره ده او هغه نفر کله د شپږو مياشتو لپاره دېرش زره روپۍ قرض هم اخلي .او دهغه په ذمه باندې مهر (ولور) هم دي نو په دغو ټولو صورتو کې دهغه لپاره دزکوٰة حکم په څه ډول دي؟

ځواب : د جايداد په قيمت زکوٰة نشته ، او د تجارت سامان چې دمثال په ډول د شلو زرو دي په هغه ټول باندې زکوٰة واجب دي .څلويښتمه حصه يا دهغې قيمت ، هر کال بايد دهغه زکوٰة وايستل شي. (ردالمحتار ٢ج ١٠مخ ، ٢ج ٤٢مخ)

د هغوچې څومره ګټه ووزي او ونه لګېږي او پوره کال ورباندې تېر شي ، نو بياورباندې زکوٰة واجب دي ،اوکه د کال په پای کې دزکوٰة اداء کولوپروخت په هغه باندې قرض اخستل شوي دېرش زره روپۍ پاته وي نو هغه دې له هغه مال څخه جلاکړي د کوم چې زکوٰة اداء کوي

او د پاتې مال دې زکوة وباسي – او ورسره دې د نغدو روپو، ګېڼو او نورو هم زکوة اداء کړي. (ردالمحتار ۲ج ۹مخ)

د زکوة په اداء کولوکې د تاجر لپاره یوه اسانتیا:

پوښتنه: زید یو دوکان جوړ کړ چې اته (۸) زره روپۍ یې پکې بندې کړې، له هغو څخه درې زره روپۍ خلکو ته پور ورکړشوا ود پنځو زرو روپو مال په دوکان کې پاته شو، اوس په هغه باندې د موجوده مال زکوة لازم دي او که د پورهم؟ او د پور روپۍ په کلني ډول ورته ټولې نه رسېدلې بلکه لږ لږ وصول کېدلې او بیا همدغه جریان روان ؤ.

ځواب: د پور زکوة اداء کول خو هغه وخت واجبېږي چې د پور روپۍ وصول شي او تردغه وخت څخه د پخوا زمانې زکوة ورکول هم لازم دي، نو ډېره ښه خبره داده چې موجود مال او هغه مال یا روپو ته چې قرض ورکړل شوي دي په یو ځای حساب وشي او کله چې کال پوره شو نو د ټولو زکوة اداء کړل شي ترڅو په وار وار د وصول کېدلو په وخت د پور په حسابولو کې تکلیف او سختي پېښه نشي.

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۵۳مخ بحواله ردالمحتار ۲ج باب زکوة المال)

ایا په دوکان کې په استعمالېدونکو شیانو زکوة شته؟

مسئله: په دوکان کې چې کومې الماری، شوکېسونه او نور د سامان د ساتلو لپاره ښودل شوي وي په هغو باندې زکوة نشته همدارنګه په هغو سامانونو (لکه مېز چوکی او نورو) چې هلته کارول کېږي هم زکوة نشته ځکه چې هغه د تجارت لپاره نه دي. خو که هغه د تجارت لپاره اخستل شوي یا جوړ کړل شوي ؤ بیا ورباندې زکوة شته.

(امدادمسائل زکوة ۵۲بحواله ردالمحتار)

د ورځنۍ امدني خاوند باید څه ډول زکوٰة اداء کړي ؟

پوښتنه : يو څوک دی چې آمدني (ګټه وټه) يې د روزانې په ډول ده او هغه په بېنک کې جمع کوي د مثال په ډول له اول د جنوري څخه بيا تر آخير د دسمبر پورې ،ايادهغه حساب به څنګه کوي ځکه چې په څه امدني باندې يوولس مياشتې تېرې شوې دي . په څه باندې اته او داسې نور دغه آمدني په مصارفو کې هم لګوله کېدله خوسره له هغه د کال په پای د زکوٰة وړده ، د زکوٰة ايستلو طريقه يې څه ده ؟

ځواب : کوم وخت چې دغه ذخيره اندازې د نصاب ته رسېدلې ده له هغې نېټې څخه يې کال پيل شوی دی او ددغه کال د ختم پروخت چې څومره شتمني له هغه سره موجوده وه (په دې شرط چې نصاب پوره وي) په هغه ټوله باندې زکوٰة واجب دي . که څه هم په هره برخه يې پوره کال نه وي تېر شوی او د کال په مينځ کې د نصاب تر اندازې کمه شوې وي. (امدادالفتاوی۲ج۱۲مخ)

د تجارت په الاتوباندې د زکوٰة حکم :

پوښتنه : د تجار په آلاتو باندې زکوٰة شته اوکنه د مثال په ډول چې تراکتور په کرايه چلول کېږي ؟

ځواب : که پخپله دغه آلات د خرڅولو لپاره وي ،نو زکوٰة ورباندې واجب دی ، او که د هغوپه ذريعه کرونده کرله کېږي يا ورباندې ژرنده کېږي اوخرڅېږي نه ، نو بياورباندې زکوٰة نشته.

(فتاوی محموديه ۳ج ۵۳مخ بحواله درمختار۲ج ۹مخ)

مسئله : د تجارت له آلاتو څخه مراد کشتۍ ، جهاز ، دغوايي کاډۍ د اوبن ګاډۍ او داسې نور دي چې له دوکاندار سره د دې لپاره وي چې

د تجارت مال له یوځای څخه بل ځای ته نقل کړي په دغو تړلو باندې زکوة واجب نه دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۸مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۱۱مخ و فتاوی محمودیه ۱۳ج ۹۵مخ)

ایا د کرایې په لوښو زکوة فرض دی ؟

مسئله: که یو چالوښي، مېزونه او څوکۍ یا سائکل او نور شیان د دې لپاره واخستل چې خلکوته به یې په کرایه ورکوي، نو په دغو شیانو باندې هم زکوة نشته ځکه چې د کرایې لپاره اخستل شوی مال د تجارت مال نه دی او زکوة هم ورباندې نشته. خو له هغو څخه تر لاسه شوي د کرایې روپۍ چې اندازې د نصاب ته ورسېږي او پوره کال ورباندې تېر شي، نو بیا ورباندې زکوة واجب دي.
(امداد مسائل زکوة ۵۷مخ بحواله قاضي خان)

د چاپ په ماشین او کارخانو باندې زکوة:

او کارخانو کې چې کوم ماشینونه لګول شوی دي؛ هغه هم د تجارت مال نه دی نو ځکه خو ورباندې زکوة هم فرض نه دي د درزیانو د کالو جوړولو ماشین او پر ہمنځلو او وچه ولو او نورو هر ډول ماشینونو حکم همدا دي، خو که دغه ماشینونه د تجارت په نیت اخستل شوي ؤچې بیا به یې خرڅوي، نو بیا زکوة واجب دي. (مسائل زکوة ۵۲مخ

مسئله: د کارخانو، میلونو او نورو په مشینونو زکوة فرض نه دي مګر په هغو باندې چې کوم شیان جوړېږي په هغو باندې زکوة فرض دي. دغه رنګه په هغه خام مال باندې چې په مل کې د سامان تیارولو لپاره ایښي وي په هغه باندې هم زکوة فرض دي. د خام او تیار دواړه ډوله مال قیمت دې معلوم کړي او بیا دې ورنه دوه نیم فیصده په زکوة کې ورکړي (امداد مسائل زکوة ۴۹مخ آپ کي مسائل ۳۰۔۳۴مخ

د صنعتي شيانو دوه ډولونه اوپه هغودزکوة حکم :

مسئله : صنعتي سامان په دوه ډوله دي. يو هغه دي چې د کوم کار لپاره استعمالېږي اودهغه اثر په هغه شي کې نه پاته کېږي. دوهم ډول هغه دي چې بعينه په هغه کې لګېږي. د مثال په ډول د سائکل په برابرولو کې بعضې سامانونه داسې دي چې مقصد ورڅخه دادي چې په هغه باندې شيان سم کړل شي او کارګر ورڅخه په هغې اندازه کاراخلي ، په لويولويو کارخانو کې چې کوم ماشينونه دي هغه په دغه ډول دي. او بعض سامانونه بيا داسې دي چې د ضرورت پروخت په سائکل کې لګول کېږي .له دغو دواړو قسموڅخه په اول يې زکوة نشته په دې کې دکړۍ ساز ،ترکاڼ ، پښ ، موترسائيکل جوړونکي ، کښت کونکي اود نورو صنعتي سامانونه داخل دي .اوپه دوهم ډول يې زکوة واجب دي ، په دې کې د راديو ،ګړۍ،موترسايکل اوداسې نورو دخرڅېدلو وړ پرزې داخلې دي. اوفقهاؤ ددغوسامانونولومړی ډول ته (ضرورت اصليه) ويلي دي،اوپه دوهم ډول يې زکوةفرض بللی دي. (جديد فقهي مسائل ۱۲۲مخ بحواله فتاوی هنديه ۱ج ۸۸مخ)

د ټيکسي چلولو د کرايې زکوة :

پوښتنه : له يو چاسره يو لاکه روپۍ وې چې هغه ورباندې يوه ټکسي واخستله او يوکال وروستومعلومه شوه چې په کرايه کې يې څلوېښت زره روپۍ ګټلې دي.نو هغه به اوس د څومره روپوزکوة اداء کوي

ځواب : که ټيکسي د بېرته خرڅولو په نيت نه،بلکه په کرايې د چلولو په نيت اخسله شوې وه ، نوبيا به يوکال وروستو صرف د ګټې (يعنې

کرایې چې څلوېښت زره روپۍ وي) زکوة باسي ځکه چې ټیکسي د روپو ګټلو ذریعه ده نو ځکه وربانديې زکوة نشته

مسئله : له ګاډیو څخه چې کومه ګټه تر لاسه شي اودومره وي چې نصاب ورنه پوره شي اوبیا وربانديې پوره یو کال تېر شي ،نوبیا وربانديې زکوة واجب دي. او په ګاډیوبانديې زکوة ځکه نشته چې دا دګټې د لاسته راوړلو آله ده ؛ مګر هر څوک باید په دې ښه ځان پوه کړي چې داسې خلک شته چې په دې نیت بانديې موټر یا ټکسي اخلي چې کله ورته د خرڅولو او ډېرو روپو ګټلو ښه موقع په لاس ورغله بیا یې خرڅوي او دايې باقاعده د ځان لپاره کار وبار ګرزولی وي نو دغه ګاډی په حقیقت کې د تجارت مال ګڼل کېږي اوپه قیمت یې زکوة واجب دی. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۲مخ ، احسن الفتاوی ۴ج ۴۸۷مخ بحواله طحطاوي۱ج ۳۹۲مخ)

په کرایه چلېدونکي سامان بانديې د زکوة حکم :

مسئله : د وخت په حساب چې دوپنځس نیمو تولو سپینو زرو د قیمت په اندازه روپۍ له چاسره وي ،نوپه هغه بانديې زکوة فرض دی - همدارنګه که تجارت مال لکه سایکل او داسې بل کوم شی وي او قیمت یې پورتنۍ اندازې ته رسېدلی وي نو په هغه بانديې هم زکوة واجب دي. اوکه چاسایکل یا د دوکان نور سامان چاته په کرایه ورکړی ؤ ،نو بیایې په آمدني (کرایه) بانديې زکوة شته اوپه مالیت یې زکوة نشته. (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۴۹مخ)

مسئله : په هر هغه ماشین چې د تجارت لپاره نه وي زکوة نشته بلکه په هغه څه یې زکوة لازم دي چې له هغه څخه تر لاسه کېږي. او د ژوندانه

د ضرورتونو (ضرورت اصليه) له پوره کولو بغير اندازې د نصاب ته ورسېږي او بيا ورباندې پوره يو کال هم تېر شي. (فتاوی رحيميه ۳ج ۱۱۲مخ)

مسئله : موټر ، جهاز اونور که د شخصي استعمال لپاره وي نو بيا ورباندې زکوة نشته. او که د کرايې اخستلو لپاره ځانګړي کړی شوي وؤ ، نو زکوة ورباندې هغه وخت لازم دي چې وروستو له يو کال څخه دهغه لاس ته راوړنه نصاب برابر شي ، اوياله بل څه سره په ګډه حد دنصاب ته ورسېږي. (فقه الزکوة ۱ج ۲۰۰مخ)

کوم مال چې څه وخت وروستو واپس پلورونکي ته ورول کېږي

پوښتنه : کوم مال چې سودګرانود ګټې په اخستلو سره ورکول کېږی او روپۍ يې کله يو کال وروستو کله دوه کاله يا يونيم کال وروستووصول کېږي دهغه زکوة به سره له ګټې ايستل کېږي اوکه بغير له ګټې - اوکله خولاداسې هم کېږي چې يو کال وروستو سوداګر مال واپس راوړي او روپۍ اخستل هم ورنه ډېر مشکل کيږي.

ځواب : کوم مال چې سوداګرانو ته ورکول کېږي دهغه چې څومره قيمت اوګټه ټاکل شوې دي په هغه باندې وروستو له ترلاسه کولو د زکوة اداء لازمېږي - کومې روپۍ چې څوخونکی ته رسېږي له هغه څخه دې زکوة اداء کوي او کومې چې ورته رسېدلې نه دی دهغوزکوة هېڅ لازم نه دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۵۵مخ ردالمحتار ۲ج ۴۷مخ)

د استېشنري دزکوة حکم :

پوښتنه : زه د کتابو ، اوقلمانو ، پنسيلانو کتابچو او دعلم خط د هر ډول سامانونو دکان (استېشنري) لرم. د مال اندازه پکې د دولسو

اوڅوارلسو زرو تر مینځ ده او دوکان مې ورته په کرایه نیولی دي نوایازماد دکان سامان د زکوة اداء کولو وړدي اوکنه ؟

ځواب : په دوکان کې چې هر ډول مال پلورل کېږي چې مالیت یې دنصاب له اندازې (یعنې دوه پنځوست نیموتولوسپینو زرو له قیمت سره سم وي) نو په هغه مال باندې زکوة لازم دی .(آپ کي مسائل ۳ج ۳۸۷مخ)

د عطرو اوتېلود زکوة حکم :

پوښتنه : که د مثال په ډول ووایم ، د عطرو تېلو او داسې بل شي دیوې تولې خرڅ شپږ روپۍ دي -او خرڅول کېږي په اته روپۍ ،نوزکوة به د شپږ روپو له قراره ورکول کېږي اوکه د اتو روپو له قراره څخه ؟

ځواب : کله چې دعطرو یا تېلو قیمت د نصاب تر اندازې ورسېږي ،نو زکوة ورباندې واجب دي او زکوة به دهغه حساب له قراره څخه ورکوي چې په بازار کې دي ، او مراد له بازار څخه هغه بازار دي په کوم کې چې مال موجود دي -(شامي ۲ج ۳۰مخ.

په کوم حساب چې هلته پلورل کېږي په هغه حساب دي دعطراو تېلوقیمت ولګوي. که د قیمت په وکولو کې تاواني کېدو ،نو بیایې ښه لاره دا ده چې پخپله عطر یاتېل په زکوة کې ورکړي . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۸۱مخ)

په دواګانو باندې د زکوة حکم :

پوښتنه : آیا په دوکان (دواخانه) کې پرتې دواباندې هم زکوة لازم دي اوکه صرف په ګټه یې زکوة لازم د ي؟

ځواب : د دواګانو په قیمت باندې هم زکوة لازم دي. (آپ کي مسائل ۳ج ۳۷۳مخ)

د کتابخاني د زکوة ايستلو طريقه

په زکوة ورکولو کې يوه غلطي دا ده چې زکوة د هغه حساب له قراره اداء کوي چې د هغه په نزد مناسب وګڼل شي مګر په واقع کې هغه غلط وي د مثال په ډول د تجارت په مال کې داخستلو له قيمت نه کار اخلي. که فرض کړو چې يو چاد تجارت په قيمت (چې د ټير وخت تر عام قيمت ټيټ وي) کتابونه واخستل ياېې په خپله چاپخانه کې چاپه کړل او هغه ته په زرو روپۍ تمام شول مګر په بازار کې يې قيمت دوه زره روپۍ ؤ، نو زکوة به د دوؤ زرو روپو له قراره څخه باسي او که هغه ته دا سخت ښکاريږي چې له دوو زرو څخه پنځوس روپۍ په زکوة کې ورکړي ،نو بيا دې د هغو کتابو څلويښتم کتاب په زکوة کي ورکړي دمثال په ډول که څلويښت هدايې وي نويوه دي له هغوڅخه په زکوة کې ورکړي يادي د هغه په بدل کې بل داسې کتاب ورکړي چې قيمت يې د هدايې له قيمت سره سم وي .(امدادمسائل زکوة ۳۳ شامي ۲ ج ۳۰ مخ

د پرچون زکوة:

پوښتنه: زيد د پنساري دوکان لري چې پکې په سلګونو ډوله سامانونه پلورل کېږي ، نوڅکه دکال په پای کې نشي کېدای چې وتلل شي ، نو که هغه ورته اندازه لګوي اوبيا زکوة اداء کوي زکوة يې اداء کېږي اوکنه ؟

ځواب: د اندازې لګولو په وخت اندازه لګونکی بايد تر څوچې کېدای شي دزياتې اندازې لګولو کوشش وکړي تر څو په زکوة کې کموالی رانشي. ځکه چې که اندازه تر حقيقت کمه وخېژي نو د پاته زکوة اداء ورباندې واجب ده. (فتاوی دارالعلوم ٦ ج ۱۴۰ مخ بحواله عالمګيري ۱ ج ۱۷۸ مخ)

د دواخانې زکوة :

پوښتنه : زید دواخانه لري چې په زرګونو ډوله دوا پکې موجوده ده چې د خرڅولو په جریان کې کله یوه او کله دوه میاشتې اخستل شوي وي د کومې چې پوره اوسم حساب کول ډېر مشکل دي ،نو هغه باید په څه ډول د دغو دواګانو زکوة ورکړي ؟

ځواب : د زکوة لپاره د مال حسابل ضروري دي ،نو داچې د ټولو دواګانو سم قیمت معلومول او حساب ورته کول ګران دي ،نو داسې دې وکړي چې د کلنی موجود څخه چې څومره اندازه د خرڅولو شوې وي هغه دې ورڅخه جلا کړي لنډه داچې د موجود مال اندازه لګول له ضرویاتو څخه دي.(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۱۴۲مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۴۲مخ)

د کوم دوکان چې حساب نه وی شوی دهغه دزکوة حکم

پوښتنه : له کله څخه چې زید دوکان ایښی دي له هغه وخته یې ورته حساب نه دي کړی چې له مخې یې د مال سمه اندازه ولګوله شي ، نوایا هغه د زکوة اداء څرنګه وکړي ؟

ځواب : حساب به ورته کوي او بیابه زکوة اداء کوي او ورسره به د تېرو کلونو زکوة هم اداء کوي.(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۱۴۸مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۴۱مخ)

د دوکان پرېښودلو په صورت کې دزکوة حکم :

پوښتنه : په تجارت کې که وروستو له اداء د قرضو څخه دمثال په ډول د پنځوسو زرو روپو مال په دوکان کې وو ،نو په هغوپنځوسو زرو روپو بانديې زکوة واجب دي . مګر د دوکانداري سامان هر وخت داسې وي چې که هغه د ددکان پرېښودلو (ختمولو) په غرض خرڅېږي نو د یوې روپۍ سامان ببرته په یوه روپۍ نه خرڅېږي، دهغه

د زکوة اداء به د هغه قیمت له قراره کېږي کوم چې دا وخت په بازار کې دی ؛ او که له هغه قراره چې دا وخت ورباندې ددکان ختمولو پرغرض سامان خرڅېږي ؟

ځواب : د دوامي قرضو تر اداء کولو وروستو که دمثال په ډول پنځوس زره روپۍ بچت شوې نو په تېربدلو د کال سره دهغو زکوة اداء کول واجب دي. او د موجود مال د قیمت زکوة به د موجوده نرخ په حساب اداء کوي د دوکان پرېښودلو په وجه چې د مال په قیمت کوم اثر لوېږي هغه د اعتبار ورنه دي بلکه د مال د هغه قیمت له قراره به زکوة اداء کوي کوم چې په بازار کې دي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۵۱مخ بحواله عالمگیري مصري ۱ج ۱۷۸مخ)

ولې په څارويو زکوة فرض دي ؟

پاک خدای ﷻ په خپل کامل قدرت سره په زرګونواو لاکهونو حیوانان (ځناور) په دنیاکې پیداکړي دي چې دهغو له جملې څخه ډېر کم (ځناور) دي چې انسانانوته ورنه ګټه رسېږي او په هغوکې هم ګټور ځناور هغه دي چې ورته به عربي ژبه کې انعام (څړکونکي) ویل کېږي. اوهغه اوښ ، غویې ، مېښه ،وزه ،مږ دي پاک خدای ﷻ په قرآن کریم کې د دغو څارویو یادونه پخپلو بندګانو د یو احسان په ډول کړې ده او څوځایه یې د هغه ګټې هم بیان کړېدي ، ددې لپاره چې د هغوشکر اداء شي پاک خداي ﷻ په هغوکې زکوة فرض ګرزولی دي ، د زکا ت لپاره یې اندازې اونصاب مقرر کړی دي اوسیدالمرسلین (صلي الله علیه وسلم) سره د ترلي ټینګ نظام په صورت کې یې نافذکړي دي. په هر حال څرنګه چې عربانو ته څاروي اوپه خاص ډول اوښ ډېر ګټور او ټول ګټ ؤ ، نو ځکه حضور صلي

الله علیه وسلم هم د هغه نصاب او دهغه اندازې په تفصیل سره فرمایلې دي او تر نن پورې د نړۍ په ډېرو هیوادوکې حیواني شتمني د مالي امدني مهمه ذریعه بلله کېږي او په لکونو حیوانان ساتل کېږي. (فقه الزکوة.۱ج ۲۸۸مخ)

په شریعت کې د خارویو د زکوة اهمیت:

په اصل کې زکوة په هغه سرمایه باندې دي چې د انسان تر بنیادي ضرورتونو زیاته وي. د اسلام د دین او انبیاؤ (علیهم السلام) د راتګ مقصد د اخیرت تیاري او د ددنیا اصلاح او سمون دي. د اخېرت د تیاري لپاره درې عبادتونه خاص شوي دي کوم چې انسان خدای ﷻ ته نژدې کوي او په هغه کې د آخرت شعور اوبراه راست له اخروي ژوندسره محبت او دهغه د راتلو لپاره ناقراري رامېنځته کوي .چې هغه درې عبادتونه لمونځ ، روژه او خج دي - او د دوؤ عبادتونو جهاد او زکوة د حدودو ، سزاګانو او نورواخلاقو او معاملاتو اول تړاوله دنیاسره دي - که د سموټاکل شوؤ هدایاتواو اسلامیت په رڼاکې کوم شخص یاډله هغه تړ سره کړي ،نو په دنیا کې به ارامي ، امن او انصاف رامنځته شي ، نو ځکه خو خدای ﷻ (چې د انسان پیداکونکی او د هغه له کمزوریو څخه په پوره ډول خبردي) له سرمایې (رووپواومال) سره د محبت او تړاو د حدودو دورپېژندلو لپاره پابندیانې فرمایلې دي. د زکوة دغه اهمیت د همېشه لپاره په قرار کې پاته شو. د لمانځه څخه وروستو د زکوة حکمونه بیانېږي تر څوچې له الله ﷻ سره له تړاو ساتلو وروستو له بندګانو سره اړیکې ټینګې شي څرنګه چې عربستان په بنیادي ډول

نه زراعتي هيواد ؤ او نه صنعتي ، بلکه د هغو له نغدو روپو څخه وروستو همدا څاروي وؤ نو ځکه د زکوة په احکاماتو او بيانو کې د څارويو په لوري زيات فهم اړول شوي دي

سائمه څاروي

مسئله : سائمه جانور هغوته ويل کېږي چې په صحرا ياځنګل کې د څړ لپاره د خاص مقصد له مخې پرېښودل کېږي – او هغه مقصد که ورنه شيدي تر لاسه کول وي، که د هغو دنسل زياتول وی او ياپخپله په روزلو او مزي کولو سره غواړي د هغه قيمت لوړ کړي ، او هغه څاروي چې د نسل د زياتوالی او شيدو روکولو په ځای د سوربېدلو يابار وړلو لپاره په صحراګانو يا ځنګلوکې څړکوي په هغوباندې زکوة نشته – سائمه څاروي که نارينه طبقه وي او که ښځينه ، او که ګډوډوي په داسې ډول چې که خاص د تجارت په مقصد په ځنګلوکې پرېښودل شوي وي نوپه هغوباندې زکوة واجب دي مګر دتجارت په حساب واجب دي د سائموپه حساب به يې نه اداء کوي خو که يې دغوښو خوړلو لپاره څاروي ساتل او په ځنګل کې يې پريښودي ؤ نو په هغو باندې بيا زکوة واجب نه دي (له دې څخه دافکر مه اخلئ چې هغه څاروي چې هره ورځ حلالېږي او په خوراک کې ورنه کار اخستل کېږي که په ځنګل (صحرا) کې په دغه مقصد وساتل شي ،نو هغه به له زکوة څخه خلاص وی) مطلب دا دي چې په دغه ډول څارويو باندې زکوة د سائمه څارويو په څېرنه ، بلکه په تجارتي ډول لازم دي – البته که يو څاد خپل ذاتي استعمال لپاره ،او خاص په دې نيت چې پخپله يې غوښې وخوري غويي ، مېښه مړ

یاداسې بل شي په ځنګل کې د ځرلو لپاره پرېښود ،نو په هغه باندې بیاهېڅ ډول زکوة هم نشته (رفعت قاسمي)

مسئله : که څاروي د تجارت وي او شپږمیاشتي یاځه زیات وخت په ځنګل یا صحراکې څروکړي ،نو په دې سره دوی سائمه نشي ګرزېدای ، تر څوچې مالک د هغو د سائمه کولو نیت ونه کړي. اوکه د سایمې د خاوند دا اراده وه چې هغه به ورنه کار اخلي یابه هغه ته ددې په ځای چې په ځنکل کې خوشي کړي پروړ یارشقه وراچوي. مګر هغه ټول کال د خپلې اداري سره سم عمل ونه کړاو کال پوره شو ،نو په هغه د سائمې زکوة واجب شو.

مسئله : که چا څاروي د تجارت په نیت واخست خو بیایې ورځخه سائمه جوړ کړ،نود نصاب کال به له هغه وخته څخه پیل کوي چې څه وخت یې هغه سائم ګرزولی دي . (فتاوی عالمګیري۴ج۷۱مخ کتاب الفقه۱ج۹۷۰مخ)

سائمه څاروي هغه دي چې دغه درې شیان پکې موجود وي:

۱- د کال ډېره برخه پخپله خوله باندې څرکوي .یعنې په صحرا چراګاه او ځنګل کې بغیر له قېمت ورکولو څر کوي او په کور کې بیاورته هېڅ هم نه ورکول کېږي. که نیم کال پخپله خوله څر کوي او نیم کال ورته په کور کې د خوراک لپاره څه اچول کېږي نو هغه سائم نشي بلل کېداي دغه رنګه که هغه که په قېمت سره وي اوکه بې قېمته وي ،نو بیاهم سائم نه دي-

۲-په کوم کې چې هغه څرکوي په هغه کې به یې د څر کولو لپاره د هېڅ یو چاله خوامانعت نه وي- که په داسې ځای کې هغه څر کوي چې هلته یې څرکول منعه دي ،نو بیا هم هغه سائم نه دي-

۳. سائم څاروی به د شیدولپاره او یادنسل زیاتولو په نیت وي ، خو که د غو ښو ورنه جوړولو یا سواري لپاره ؤ بیاهم سائم نه بلل کېږي.
(عالمګیري ۴ج ۷مخ)

کوم څاروي چې د کال په مینځ کې ترلاسه شوی وی :

کوم څاروي چې په د کال مېنځ کې تر لاسه شوی وی که داخستلو له لارې وي که د زېږېدلو که د وراثت که د هبې او که له دغه رنګه بلې لارې وي د خپل هم جنس له نصاب سره به ګډ ېږي اوله هغه سره په ګډه به یې زکوة ورکول کېږي. دمثال په ډول د کال په پیل کې (۲۵) اوښان وؤ اوپه کال کې ورنه (۲۵) بچیان وزېږېدل ،نو د کال په پای کې به دهغوبچوزکوة هم له اوښانو سره په ګډه اداء کوي او د ټولو په زکوة کې به یو شپږکلني اوښ ورکوي - که څه هم په بچیانو خویې لاپوره کال تېر شوي نه دي - خو که دهغه مال زکوة په همهغه کال کې یو ځل اداء شوي ؤ نو بیابه یې نه ورګډوي د مثال په ډول یو چاد خپل مال زکوة ایسلی دی له هغه وروستو هغه زکوة ورکونکي په روپو ځانديې کوم څاروی واخست نو هغه به دخپل همجنسو نصاب ته نه ورګډه وي کنه نو د هغه د زکوة ورکولو به دوهم وار شي. دغه رنګه که یو چاد څارویو زکوة ورکړی ؤ او وروستو له هغه یې څاروی خرڅ کړل ، نو دهغود قیمت روپۍ به دروپور په نصاب کې نه ګډه وي. (علم الفقه ۴ج ۳۰مخ)

په زکوة کې باید څنګه څاروی ورکړل شي ؟

مسئله : کله چې زکوة اداء کونکی زکوة باسي او زکوة قبلونکی یې ورڅخه رانیسي ،نو په هغه وخت کې باید د څارویو دغه ځانګړني په نظرکې ونیول شي:

کوم څاوی چې په زکوة کې ورکول کېږي په هغه کې باید هېڅ ډول عیب موجودنه وي. یعنې هغه به ناروغ نه وي نه به یې کوم ځای لکه پښه او داسې نور اندانونه مات او یاغوړونه کاټ شوي وي. نه به داسې زوړ وي چې غاښونه یې وتلي وي. لنډه داچې د زکوة په پسه کې به هېڅ داسې عیب نه وي چې په هغه سره په ګټه او قېمت کې کم والی راولي

مسئله:مګر په یو صورت کې کېدای شي چې عیب لرونکی څاروی په زکوة کې ورکړل شي هغه دا چې که ټول څاروي زاړه ، یاټول ناروغان او یاټول عیب لرونکي وي نو زکوة اخستونکی دې له هغو څخه کوم څاروی قبول کړی او خاوند باید دېته مجبور نکړي چې روغ اوبې عیبه څاروی ورته واخلي ،ځکه چې زکوة له هغه مال څخه اداء کول پکار دي کوم چې ورباندې زکوة واجب شوی دي.

مسئله : اصل خبره دا ده چې که په زکوة کې تر ټولو ښه څاروي ورکړل شي ،نو په دې کې د زکوة ورکونکو نقصان دي ، او که خراب (بې ارزښته) څاروي ورکړل شي دا بیا د مستحقینو (فقیران) د حق ضائع کېدل دي نو ځکه خو د انصاف او عدل غوښتنه دا ده چې میانه او متوسط څاروی باید په زکوة کې ورکړل شي .(فقه الزکوة۱ج ۹۰مخ - اللهم اغفرلکاتبه ولمن سعی فیه)

و عزیز ، او قیوم خدای جلا په خاص احسان سره و عید الفطر

(وړوکي اختر) و اولي شپې و ماخستن په ۱۹ / ۸ بجې عید و خبر وراتلو په وخت پر وغه

ځای وورېدم

اختر

دلته د مـــــــرمیو قافلې را غلــــــې دي... کورکلي زمونږ ته جنازې راغلـــــې دي.

اختره ګوره رانشــــې په مونږ ه غــــــــریبانو ... زمونږ په ژړاګانو سترګې سرې راغلـــې دي

زمونږ مغروري پېغلې له نیکریځـو څخه بدوړي... په څوانو څوانو زړوکې اند ښنې راغلې دي

مونږ پرېږده په سلګو کې چې لېږ وژاړو تېږ ربرو ... په وینو دي **اختره** بدرګې راغلـــــې دي

اختره خدائته گوره .زماله کلـــــي لري تېرشه... حصیف ته د شهید جانان ګیلې راغلې دي.
بس ته د مجروح او د ملګرومبـــــــارک شه... په مخ د عاجز اوښکې مېلمنې راغـلې دي
حرره عبدالملک (حصیف عاجز)

د مشترکه څارویو د زکوة حکم

مسئله : د يو چاله (۸۰) نفرو سره په (۸۰) وزوکې په نیمایي نیمایي شراکت ؤ. یعنې د هرې وزې به یوه برخه د هغه اوبله برخه د بل چاوي ،نو داسې ويل کېدای شي چې هغه به په مجوعي ډول (۴۰) وزې ولری ،نو دامام ابوحنیفه رضی الله عنه او امام محمد رضی الله عنه په نزد وربانديې زکوة واجب نه د ي ،او هغه وخت هم داحکم دي چې (د مثال په ډول) شپیته(۶۰) غوایان له بل چاسره په شراکت کې وي

مسئله : د دووشریکانو له مشترک (ګډ) ماله څخه چې زکوة و ایستل شي ،نو په دغه صورت کې دي هر شریک (ګډون وال) له يو او بل سره د خپلې برخې سره سم حساب وکړي.

مسئله : که د دووسړو سره د اوښانو یوه ګله وه او له (۶۱) اوښانو څخه جوړه وه ، چې د يو په برخه کې (۳۶) او د بل (۲۵) اوښان راتلل ، نوزکوة اخستونکی به له يو څخه (۵) کلني او بل څخه (۳) کلني اوښ په زکوة کې رانیسي - نو د کوم شریک له حصې څخه چې څومره زیات په زکوة کې تللي دي هغه به په دغه اندازه له دغه بل شریک څخه اخلي - (فتاوي عالمګیري ۴ج ۲۲مخ)

مسئله : د څرونکو (څارویو) د زکوة واجبېدلو ځای هغه دې چرته چې هغوی وي - .خوپه دې شرط چې هلته زکوة اخستونکي موجودوي. او که محصل هلته نه ؤ ،نو بیابايد هلته ورکړل شي چرته چې مالک وي (کتاب الفقه ۱ج ۱۰۱۸مخ

کوم څناورچې ګارول کېږي :

مسئله : د سوربېدلو په آس او د کروندې کولو په غوایانو زکوة نشته.
(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۲۲مخ بحواله هدایه۱ج ۱۲۹مخ)

مسئله : غوایان د کښت ، آسان د سوارلی او غواګانې د شیدو لپاره دي ، نو په هغوباندې زکوة نشته(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۰۲مخ بحواله هدایه۱ج ۱۷۹مخ

مسئله :د کروندې کولولپاره چې کوم څاروي ساتل شوي وي که څه هم سائم وي ، په هغوکې زکوة واجب نه دي .اوکوم څاروی چې د شیدو ترلاسه کولو او یانسل زیاتولو لپاره وساتل شي او هغه سائم وي ، نو زکوة ورباندې واجب ي ؛ خوپه دې شرط چې اندازې د نصاب ته به رسېدلی وي. (فتاوی دارالعلوم ۲ج ۱۰۵مخ بحواله ردالمحتار ۱ج ۲۰مخ)

مسئله :که له یوچاسره دبیلابیلوحیواناتوڅونصابونه ؤ. اوهغه د بعضوزکوة وارله مخه اداء کړي ، مګر هغه حیوانان چې زکوة یې ورکړل شوي ؤ ختم شول ،نو د هغه ایستل شوي زکوة به دژوند ولپاره کافي نه ګرزوي. (عالمګیري ۴ج ۱۵مخ)

په کومو څناوروباندې زکوة واجب نه دی ؟

مسئله : هغه قول چې فتوی ورباندې شوې ده هغه دا ده چې په آسانو زکوة نشته. خو که د تجارت لپاره وي ،نو بیاورباندې د تجارت په ډول زکوة واجب دي - (یعنې که دوي د تجارت لپاره وي ، نو دهغوحیثیت) د تجارت د سامان په ډول دي) هرکله چې د هغوي قیمت د نصاب تر اندازې ورسېږي ، نو هغه وخت به زکوة ورڅخه اخستل کېږي ، هغه که په ځنګلو کې څرکوي اوکه په کور کې وابنه

یادانه خوري په خره . کچر ، ساتل شوي زمري او سپي باندې هغه وخت زکوة واجبېږي کله چې د وي د تجارت لپاره وي. (فقه الزکوة ١ج ٢٩٩مخ)

مسئله : د تجارت له آسانو په تولیز قیمت باندې څلورویښتمه حصه دامام ابوحنیفه دوروستني ویناسره سم دوزې ،اوښ اوغوایي په بچیانوباندې زکوة نشته. که ورځخه یوهم دنصاب عمر ته ورسېږي ،نو نور بچي به هم د هغه په تابع ګرزولوسره په نصاب کې شمارل کېږي. مګر په زکوة کې به دغه وړوکي بچیان نه ورکول کېږي. بلکه پوره پسه یاد هغه قیمت به ورکول کېږي دغه واړه دنصاب د پوره والي ذریعه ګرزي ،خو زکوة اداء کول ورباندې صحیح نه دي.

مسئله : که له یو چاسره دپسونو (وزو) (٣٩) بچې ؤ او پکې یوه داسې وزه وه چې پوره اوغټه وه ،نو بیا به له هغوڅخه یو میانه پسه په زکوة کې ورکوي. که دغه یوه (د پوره عمر لرونکې وزه) د منځنۍ د رجې لرونکې یاله هغې څخه څه کمه وه ، نو هغه دې په زکوة کې ورکړي.

مسئله : اوکه تر کال پوره کېدلو وروستو دغه وزه پاته نشوه ، نو د صاحبینو په نزد زکوة ساقطېږي – دغه رنګه که د اوښ پنځوس بچیان وي اوپکي د منځنۍ درجې یو اوښ وي نو دهغه په زکوة کې ورکول واجب دی – که نیم بچي ضائع شي ، نو د سم اوښ په اندازه زکوة هم د مالک له ذمې څخه ساقطېږي ، او د نیم اوښ زکوة واجب دي . په زکوة کې د بچي ورکول روانه دي. (فتاوی عالمګیري ٤ج ١٩مخ)

مسئله : په باروړونکو ، استعمالېدونکي اوکورني خوراک کونکي ځناوروباندې زکوة نشته. ځکه چې دغه هم د انسان لپاره دکار کولو د آلو په څېر دي - چې له یو څخه د کروندې ؛ د بل څخه د باروړلو په مقصد کار اخستل کېږي. په دغه درې ډوله ځناورانو باندې زکوة نه

واجبېږي. مګر په کهول کې د خوراک څښناک کونکې که په تجارتي نوعیت سره وي بیا وربانديې تجارتي زکوة واجب دي .(فتاوی عالمګیري ۴ج ۱۹مخ)

مسئله : د وقف په څارویو بانديې زکوة فرض نه دي. (امدادمسائل زکوة ۵۱مخ)

د مخلوط النسل څارویو زکوة :

د سائمه څارویو دزکوة لپاره داشرط دي چې ځنګلي به نوي ؛په ځنګلي څارویو بانديې زکوة فرض نه دي. کوم څاروي چې له کورني او ځنګلي څاروي څخه په ګډه پیداشي نو که دهغه مور د هر طرف وي د هغه حکم هم هغه دي - مثال په ډول که له وزې اوهوسی (نر) څخه کوم بل شی پیداشي هغه د پخواپه حکم کې دي.

مسئله : کوم څاروی چې سائم وي او د کال په مېنځ کې دهغه د تجارت نیت و شي ،نو هغه کال به یې زکوة نه اداء کوي اوکله چې یې هغه د تجارت نیت کړي دي له هغه وخت څخه یې د تجارت کال پیل شو.
(امدادمسائل زکوة ۵۱مخ)

د وقف په څارویو د زکوة حکم :

مسئله : د وقف په څارویو او هغو آسانو بانديې چې د دیني جهاد کولو لپاره ساتل شوي وي زکوة فرض نه دي په نوروآسانو بانديې که سائمه وي اوکه غیر سائمه او خرواو کچروبانديې په دې شرط زکوة واجب نه دي چې د تجارت لپاره به نه وي. (امدادمسائل زکوة ۵۱مخ)

د اوښانو د زکوة دنصاب تفصیل :

یادونه :په.۶.شپږم.۷.اووم.۸.اتم او .۹.نهم کې هم یو ، یو کلنۍ وزه یااوزګوری واجبېږي دغه رنګه په لاندې لیکل شوي حساب بانديې ځان پوه کړئ.

پوښتنه: په زکوة کې د اوښانو نصاب او په هغوباندې د زکوة حساب ډېر مشکل دې آیا نشي کېدای چې په یوه داسې اسانه طریقه یې ولیکئ چې په اساني سره ورباندې هرڅوک پوه شي؟

ځواب: په لاندني ډول یو څوک کولای شي په اسان ډول ځان پوه کړي چې له یو څخه تر څلورو اوښانو پورې له زکوة څخه معاف دې. او تر هغه وروستو ورباندې په لاندني ډول زکوة فرض دې:

٥ څخه تر ٩ پورې .... یو، یو کلنې اوزګوړې یا وزه.
١٠ – څخه تر ١٤ پورې .... وزه اوزکوړې یا دوه وزې.
١٥ – څخه تر ١٩ پورې .... درې اوزګوړې یا درې وزې.
٢٠ – څخه تر ٢٤ پورې .... څلور اوزګوړې یا څلور وزې.
٢٥ – څخه تر ٣٥ پورې .... یو کلنې اوښه (بنت مخاض).
٣٦ – څخه تر ٤٥ پورې .... دوه کلنې اوښې (بنت لبون).
٤٦ – څخه تر ٦٠ پورې .... درې کلنې اوښه (حقه).
٦١ – څخه تر ٧٥ پورې .... څلور کلنې اوښې (جذعه).
٧٦ – څخه تر ٩٠ پورې .... دوه دوه کلنې اوښې.
٩١ – څخه تر ١٢٤ پورې .... درې کلنې دوه اوښې.
١٢٥ څخه تر ١٢٩ پورې .... درې کلنې دوه اوښې یوه وزه.
١٣٠ – څخه تر ١٣٤ پورې .... درې کلنې دوه اوښې دوه وزې.
١٣٥ – څخه تر ١٣٩ پورې .... درې کلنې دوه اوښې او درې وزې.
١٤٠ – څخه تر ١٤٤ پورې .... درې کلنې دوه اوښې او څلور وزې.
١٤٥ – څخه تر ١٤٩ پورې .... درې کلنې دوه اوښې، بل یو کلنې اوښه
١٥٠ – څخه تر ١٥٤ پورې .... درې کلنې درې اوښې دوه وزې.
١٥٥ – څخه تر ١٥٩ پورې .... درې کلنې درې اوښې یوه وزه.
١٦٠ – څخه تر ١٦٩ پورې .... درې کلنې درې اوښان ددوه وزې.
١٦٥ – څخه تر ١٦٩ پورې .... درې کلنې درې اوښې درې وزې.

۱۷۰ – څخه تر ۱۷۴ پورې .... درې کلنې درې اوښې څلور وزې.
۱۷۵ – څخه تر ۱۸۵ پورې .... درې کلنې درې اوښې اوبل یو کلنې اوښه.
۱۸۲ څخه تر ۱۹۵ پورې........................درې کلنې درې اوښې او نوردوه یو کلنې اوښې
۱۹۲ څخه تر ۲۰۴ پورې......... درې کلنې څلور اوښې اویا دوه کلنې پنځه اوښې.
۲۰۵ – څخه تر ۲۰۹ پورې........................ درې کلنې څلور اوښې او یوه وزه.
۲۱۰ – څخه تر ۲۱۴ پورې .... درې کلنې څلور اوښان اودوه وزې.
۲۱۵ – څخه تر ۲۱۹ پورې .... درې کنلې څلور اوښې او درې وزې.
۲۲۰ – څخه تر ۲۲۴ پورې .... درې کلنې څلور اوښې او څلور وزې.
۲۲۵ – څخه تر ۲۳۵ پورې .... درې کلنې څلور اوښې اویوبل یو کلنې اوښې
۲۳۲ – څخه تر ۲۴۵ پورې .... درې کلنې څلور اوښې اویوبل یو کلنې اوښې.
۲۴۲ څخه تر ۲۵۴ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې.
۲۵۵ – څخه تر ۲۵۹ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې او یوه وزه.
۲۶۰ – څخه تر ۲۶۴ پورې........................ درې کلنې پنځه اوښې او دوه وزې.
۲۶۵ – څخه تر ۲۶۹ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې اودرې وزې.
۲۷۰ – څخه تر ۲۷۴ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې او څلور وزې.
۲۷۵ – څخه تر ۲۸۵ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې او بل یو کلنې اوښې.
۲۸۲ – څخه تر ۲۹۵ پورې .... درې کلنې پنځه اوښې اوبل دوه کلنې اوښه.
۲۹۲ – څخه تر ۳۰۴ پورې .... درې کلنې شپږ اوښې.

هدایات :

۱. چیرته چې وزه واجب وه د هغې لپاره د یو کال دعمر پوره والی لازم دې او په تذکر او تانیث (یعنې په نروالي اوښځو والي کې د زکوة ورکونکي اختیار دي) مگر اوښه به مونثه وي او د نر اوښ ورکول جوازنه لري – که اوښه په قیمت کړي اوبیا هغه له هغې سره سم یاتر هغې زیات قیمت لرونکی اوښ ورکړي ، نو بیا صحیح دي –

۲. چیرته چې درې کلنې څلور اوښې واجب دي هلته اختیار دي ، یعنې هغه کولای شي د هغو پر ځای پنځه دوه کلنې اوښې ورکړي

۳. د زکوة لپاره پورتني حساب هغه وخت دي چې دغه اوښان د تجارت لپاره نه وي او د هغوډېره گذاره په بهر څرلووي په کور کې ورته واښه نه ورکول کېږي. او يا دبهر څر کولو په نسبت په کور کې د خوراک اندازه کمه وي. او که په کور کې يې تر بهر ډېرخوراک کاؤ يايې دواړه ځايه خوراک يې له بل سره برابر ؤ ،نو بيا ورباندې زکوة نشته.

۴. که اوښان د تجارت لپاره ؤو ،نو بياورباندې د پوتني حساب سره سمي وزې او اوښي واجب نه دي بلکه د تجارت د نورمال په څېر دهغه په قيمت باندې زکوة فرض دي. هغه که په بهر کې څر کوي او که ورته په کور کې خواړه ورکول کېږي. د تجارت کېدلو څخه مطلب دا دي چې د اخستلو په وخت يې د هغه د خرڅولونيت وي. او که يې له اخستلو څخه وروستو دبياخرڅولونيت وکړ يايې اصل پخپل ځای وساتو او د هغه د بچيانو د پلورلو اراده يې ولرله ؛که د اصل د اخستلو په و خت يې هم دغه نيت وي او که وروستو دغه نيت وکړي ، نو په ټولو صورتو کې دا دتجارت مال گڼل کېږي.

۵. هغه اوښان چې د سوارلي يابار وړلو لپاره وي په هغوباندې هېڅ ډول زکوة نشته. والله اعلم (احسن الفتاوي ۴ ج له ۲۷۲ څخه تر ۲۷۵ و هدايه ۱ ج ۱۸۸)

د غوايانو او مېښو د زکوة نصاب:

غوايان اومېښې دواړه له يوقسم څخه دي او نصاب يې هم يودي .اوکه د دواړو په گډولوسره نصاب پوره کېدو ،نو بيا به دواړه سره گډوي. د مثال په ډول که شل غواگانې وې او لس مېښې وې ، نو دواړه به سره گډوي او د دېرشونصاب به پوره کوي مگر زکوة به له هغه څخه ورکوي چې شمېريې زيات وي يعنې که غوايان زيات وي ، نوغويي به په زکوة کې ورکوي او که مېښې زياتې وي نوبيا به مېښه

په دېرشو غوايانو اويامېښو باندې يو سخوندر يا دمېښې بچې چې پوره د يوكال وي لازم دي او په تر ديرشو كموكې هېڅ هم نشته . او له دېرشو څخه تر (۳۹) پورې هم بغير له يوكلن سخوندر ياد مېښې له بچي څخه بل هېڅ شى نشته . په څلوېښتو غوايانو يامېښو كې د پوره دوو كلويو بچى لازم دي تر (۵۹) پورې همدغه سلسله ده او كله چې شپېته پوره شو نو بيا به د يو ،يوكال دوه بچي وركوي .بيا چې كله تر (۲۰) هم زيات شي ،نو په هرو دېرشو كې يو ،يو كلن سخوندر يا دمېښې بچى او په هروڅلوېښتو كې دوه كلن سخوندر ياد مېښې بچى د مثال په ډول كه اويا (۷۰) پوره شي نويوبه د يوكال بچي وركوي او يو به د دوؤ كلونو . څكه چې په اويا(۷۰) كې يو د دېرشو نصاب دى او يو د څلوېښتو او كله چې (۸۰) پوره شي ،نو بيادوه ،د دؤو كلونو بچيان لازم دي څكه چې په هغه كې د څلوېښتو دوه نصابونه دي. او په نوي(۹۰) كې د يو يوكال درې بچي لازم دي ، څكه چې په نوي كې د دېرشو درې نصابونه دي. او په سلو (۱۰۰) كې دوه د يو،يو كال او يو د دووكلو نو بچي لازم دي ، څكه چې په سلوكي دوه نصابونه د دېرشو دي.خو كه چېري د دواړه ډلونصابو نه سره برابرګرزي لكه په (۱۲۰) كې چې دوه نصابونه د دېرشو دي او درې نصابونه د څلوېښتو ، نو به دغه رنګه حالت كې زكوة وركونكى اختيار لري د هغه خوښه ده چې هر يو معتبر ګرزوي –

(علم الفقه ۴ج ۲۵مخ احسن الفتاوى ۴ج ۲۷۱مخ عالمكيري ۴ج ۱۸مخ)

يادونه : د غوايانو او مېښو په نصاب كې د نراو ښځې لكه غويي ، سخوندر ، د مېښې نارينه يا ښځينه بچي هم همدغه حكم دي .

(محمد رفعت قاسمي)

د وزو او میږو د زکوة نصاب

پوښتنه : هغه وزې چې په بهر کې څرکوي او د تجارت لپاره نه وي د هغود زکوة حساب څنګه دي ؟ په څومره وزوباندې يوه وزه واجبه ده او د وزو او میږو حکم يو دي او که تر منځ يې فرق شته ؟

ځواب : په څلوښتو وزوباندې يواو زګوړې يايوه وزه واجبه ده او بیاتر يو سل لس پورې همدغه يو دي. بیاله يو سلويو ويشت څخه تر اووسوو پورې دوه دي بیاله (۲۰۱) څخه تر (۳۹۹) پورې درې وزې يا اوزګوړې او په څلور سوه باندې څلور دي . تردې وروستو په هره لسمه باندې يوه وزه يااوزګوړی واجب دي د میږو هم دغه حکم دي او مږان هم همداسې دي. که وزې او میږې سره ګډې وې هم دغه نصاب دي .مګر د زکوة په اداء کولو کې يې دافرق شته چې د کومو شمېرزيات وي هغه به په زکوة کې ورکوي او که دواړه دولونه سره برابر ؤ نوبیاد زکوة ورکونکي اختيار دي (احسن الفتاوی ۴ ج ۲۸۲ مخ بحر الدرة المختار ۲۰ مخ وفقه الزکوة ۱ ج ۲۲۷ مخ)

که څاروی د کال په منځ کې مړشو ؟

مسئله : يو چاد دووسوودرهم د قیمت په اندازه يوه دوزو رمه لرله. ناڅاپه هغه ټولی د پوره کال تېرېدوله مخه مړې شوې او هغه ورڅخه وړی راوشوکولې او بیايې ورنګولې او د هغه وړيو قیمت له شرعي نصاب سره برابر شو او وروستو د مړوشوو وزو د نصاب کال پوره شو نوداوخت په دغورنګول شو وړيوباندې زکوة واجب دي.

مسئله : د يوچاسره د کاروباري مقصد لپاره دانګورو د شيرې ذخېره وه او تر کال پوره کېدو له مخه په شرابوبدله شوه اوله هغه وروستو دهغه سرکه جوړه شوه چې قیمت يې حد دنصاب ته رسېدلی ؤ او

ورسره د شپږو دنصاب پیل شوی کال هم پوره شو ؛ نو داوخت په هغه سرکه باندې زکوة واجب نه دي .فقهاؤ یې وجه دا ویلې ده چې په لومړي مسئله کې خود وزې یامېږې وریو خپل قېمت لرلو او هغه (وزې یامېږې له مرګه وروستو هم) پخپل ځای پاته دي – اوپه دغه مسئله کې خوټول مال (چې دانګوردشیرې په شکل وه) له منځه لاړه اوبل شی ورځخه جوړشو .نوځکه وربانديې دکال پوره کېدلو حکم پاته نشوه (فتاوی قاضي خان وعالمګیري ۴ج ۱۴مغ)

مسئله : د جانوروپه بچیانو باندې هغه وخت زکوة فرض نه دي چې هغوی تنها وي یعنې بل لوی د پوره عمر لرونکی شې پکې نه وي . او که په هغو کې یو لوی څاروی هم ؤ ،نوبیاورباندې زکوة فرض دي.که څه هم لویڅاروی یووي اوپه زکوة کې به هم بیا دغه څاروی ورکوي. اوکه تر کال پوره کېدلو وروستو هغه څاروی مړشو نو ورسره زکوة هم ساقط شو . (امدادمسائل زکوة ۱۵مغ و درمختار)

د وزو په بچیانو (سیرلو) باندې د زکوة حکم :

مسئله : که صرف سېرلې (دوزوبچیان) ؤونو زکوة وربانديې فرض نه دي .او که ورسره د یوکال یاتردې زیات عمر لرونکی پسه هم ؤو ، بیابه بچې دنصاب په پوره کولو کې معتبر ګڼل کېږي .اوهغه وخت چې ټول سره ترځلوېښتو ورسېږي .نو بیاورباندې یو لوي پسه لازم دي. (احسن الفتاوی ۲۳۲)

هغه چارپایان چې په صحراګانو کې هم څرکوي اوپه کورکې هم

پوښتنه : غوایان ، مېښې اونور په ځنګل کې هم څر کوي اوپه کور

کې هم د خوراک لپاره حتماً ورته څه اچول کېږي ایا په داسې حال کې چې نصاب ورنه پوره دي په هغو باندې زکوة فرض دي اوکنه؟

ځواب: د خوراک غالب والي معتبر دي، که د ځنګل خوراک يې د کور تر خوراک ډېر ؤ، نو زکوة ورباندې فرض دی او که د کور خوراک ورباندې ډېر ؤ، او يادواړه سره برابر ؤ، نو بيا ورباندې زکوة فرض نه دي. او که د تجارت لپاره ؤ بيا ورباندې د تجارت د مال زکوة فرض دي.

د تجارتي څارويو د زکوة حکم:

پوښتنه: زه د وزو (پسونو) تجارت کوم چې څلويښت، پنځوس يې همېشه راسره موجود وي پوره کال نه پاته کېږي او دغه مال په ځنګل کې څر کوي - ايا د دوي د زکوة طريقه څنګه ده؟

ځواب: د دغو پسونو (وزو) د زکوة په اداء کولو کې د پسه ورکول واجب نه دي بلکه د تجارت د نورمال په څېر به د هغو قيمت معلوموئ او بيا به له قيمت څخه څلوېښتمه برخه په زکوة کې ورکوئ.

(احسن الفتاوي ۴ج ۲۷۷مخ بحواله رد المحتار ۲ج ۷۱مخ)

د هغو مېښو حکم چې د شيدو خرڅولو په نيت ساتلې شوې وي:

کومې مېښې چې په ځنګل ياصحراکې څرنه کوي بلکه پخپله په کورکې خوراک کوي، نوزکوة ورباندې فرض نه دي خو که دغه مېښې د تجارت لپاره وي يعنې د اخستلو پروخت يې د اخستونکي سره د شيدو خرڅولو تر څنګ د هغې د پلورلو نيت هم وي، نو په دغه رنګه مېښو باندې زکوة فرض دي. (احسن الفتاوی ۴ج ۲۷۷

د کښت په سرمایه باندې زکوة :

په انسان باندې د پاک خداي ﷻ یو لوی احسان او بهترین نعمت د ځمکې تخلیق دی چې د پاک خداي ﷻ په امر ورڅخه هر ډول نباتات او راز راز ګلونه او میوې رازرغونېږي .او د انسان لپاره په نوي ،نوي رنګ څرګندېږي. تر دې چې د لوېدیځ اقتصاد پوهانو دا نظر ورکړی دی چې په کرهنیځه ځمکه دې ځانګړې ټیکس ولګول شي ځکه چې ځمکه د انساني معیشت حقیقي سرچینه ده . رښتیا خو داده چې د فکر خاوندان به پوهېدلی شي چې دا صرف او صرف د پاک خداي ﷻ مهرباني ده چې ځمکه یې د انسان تابع ګرزولې ده او په هغې کې د دوی لپاره روزي پټه کړې ده .او هغې ته په برکت ورکولو سره یې د ټولو انسانانو لپاره د ټاکل شوې روزي ذخیره ګرزولې ده همدا رنګه که مونږ په دې لږ څه فکر وکړو چې له یوې دانې څخه دلوبیې میوه داري ونې جوړېدل تر څومره مرحلو تېرېږي او پاک خداي ﷻ د هغې دودې او زیادت لپاره څومره قوانین فرمایلي دي نو مونږ به پاک خداي ﷻ ته د شکر د سجدې سرټیټ کړو !د هر شنه کېدونکی د پاینت او لویوالي لپاره او به هم یوله لوازمو څخه دي. او د دې لپاره بیا مهربان خداي ﷻ له اوریځو څخه د اوبو راورېدلو او له غرونو ، څخه د چینو د بهېدلو یو داسې منظم او د لچسپت نظام رامینځته کړی دی چې انساني اوحشي مخلوقاتو ته ورنه هېڅ ډول خطر او نقصان متوجه نه وي.همدا رنګه شنه کېدونکي خامو ګاز ونو ته هم ضرورت لري چې پاک خداي ﷻ ورته په کافي تناسب د دوی د ضرورت اندازه په هوا کې پیدا کړي دي. او بیایې نباتاتو ته امر کړی

دی چې د انسانانو او حیوانانو له خولو څخه راوتونکي ګاز (کاربن اکسایډ) خپل ځانته جذب کړي او وروستو له ښه صفا کولو یې بېرته د دوی د کاروني لپاره هواته خوشي کړي د نباتاتو دوديې لپاره د ګرمي او رڼا هم یو مناسبه اندازه پکار ده چې که وربانديې د ګرمایښت اندازه زیاته شي نو وابنه سوځي او که کمه شي نو مړاوي کېږي. او که تود وخه نه وي نو په کائیناتو کې به یو ژوندي هم پاتې نشي. دا هر څه زمونږ د لوی خدای ﷻ په اراده سره شوي دی چې د دې انساني او دټولو مخلوقاتو د ضرورت د رفع کولو لپاره یې لمر پیدا کړ او بیا یې هغه له ځمکې څخه په دومره فاصله کې پورته کړ چې که تر دې نژدې وای ،نو هر ذي روح به یې سوځلی او له مېنځه وړی وای. او که تر دې لرې وای نو هر موجود به د یخ او کنګل یرغمل وای په ذړی (بیج) کې د لویشت ، پر مختیا ، زیادت مېوې او ګل کولو وړ تیاچا ایښې ده ؟ چا د خورماپشان کلک ذړی د آسمان لورته دوني په شکل کې پورته کړي دی ؟ څوک دي چې د تازه میوؤ او ګلانو لوړی ، لوړي وني ئي درولې دی. څوک دی چې د غنم له یوې دانې څخه اووه وږي راشنه کوي او هر وږی د (١٠٠) دانو لرونکی وي - ښکاره خبره ده چې دا هر څه پاک خدای ﷻ کړي دي دې ټولو ته په ترتیب ورکولو سره یې د تخلیق عاجزي څرګندوه کړه همدا وجه ده چې پاک خدای ﷻ په خپلو بندګانو د احسان کولو په ترڅ کې فرمایي. (أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ٦٣ أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ ٦٤ سورة واقعه)

ترجمه : بېشکه چې د ځمکې نه هر څه ترلاسه کېږي هغه د لوی خدای ﷻ احسان او فضل دی او په رښتیا سره د هر څه پیدا کونکی الله ﷻ دی.

مونږ له هغې څخه يوډکي شاني څه هم رازغونولی نشو مونږ ته په دې باندې شکر اداء کول پکار، دې چې پاک خدای ﷻ راته له دې خږوخاورو څخه دارنگه خوندور او طاقتور شيان راشنه کړي دي – د دې شکر د څرگندويي طريقه دا ده چې د ځمکې له پيداوار څخه زکوة (عشر اونصف ،عشر او ماليه) اداء کړوتر څو د محتاجانو ضرورتونه پوره شي – اوله دې لارې څخه د الله ﷻ د دين مرسته او کومک وشي (فقه الزکوة ۱ ۴۵۱ مخ څخه تر ۴۵۵ پوري)

د عشرواجبېدلو دليل :

د کښت او مېؤود عشر (يعنې د پيداوار لسمې برخې) ثبوت په قرآن او سنت سره هم شوی دي د پاک خدای ﷻ ارشاد مبارک دي:

﴿ وَآتُواْ حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ۱۴۱ ﴾

يعنې د کښت رېبلو پروخت د پاک خدای ﷻ حق اداء کړئ همدارنگه حضور صلي الله عليه وسلم فرمايي: کوم کښت چې په باران او ببږي په هغه باندې لسمه واجب ده اوکوم چې په څرخ ، او ببږي په هغه باندې شلمه واجب دي . په دغه حديث شريف کې د هغه څه تفصيل دي کوم چې مخته په ايت شريف کې په اجمالي ډول ورڅخه يادونه وشوه . کتاب الفقه (ج ۱ ۱۰۳ مخ)

د عشر مفهوم څه دی ؟

د عشر د لفظ اصلي معنې (لسمه) ده مگر په حديث شريف کې چې حضور صلي الله عليه وسلم د شرعي واجباتو کوم تفصيل فرمايلی دي په هغه کې يې د عشر ځمکه په دوه ډوله کړېده – په يو ډول کې يې لسمه برخه د پيداوار په زکوة کې ورکول واجب دي او په بل ډول کې

شلمه برخه په زکوة کې ورکول واجب دي – مګر د فقهې د علماؤ په اصطلاح کې د دواړوولو زکوة ته عشر ويل کيږي. (امدادمسائل زکوة ۸۱مخ – عشر وخراج کې احکام. ۲۳۷مخ)

د عشر نصاب کوم دي ؟

مسئله: د امام ابوحنيفه رح په نزد د عشر لپاره نصاب نشته په هر لږ او ډېر باندې عشر واجب دي. (فقه الزکوة ۱ج ۲۰۲ مخ) پيداوار چې هرځومره وي، کم وي که ډېروي عشر ورځخه ايستل واجب دي. نو ځکه پکې د زکوة په څېر تاکل شوی نصاب نشته. او وجه يې د قرآن کريم او احاديثو د الفاظو څرګندوالی دي:

(وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ)سورة بقره (جواهر الفقه ۱۷۴مخ – فتاوی دارالعلوم ۲ج ۷۲مخ)

ا ياپه قرضدار با ندي عشرواجب دی ؟

مسئله: که له عشرسره سره قرض هم لازم وي نو په کوم ځای کې چې عشرلازم دی هلته دعشر دواجبيدلو دپاره قرض مانع نه واقع کيږي او چيرته چې عشرواجب نه دی هلته ئي هم په ورکولو کې کومه منعه نشته. (فتاوی دارالعلوم ۷ جلد ۱۲۲مخ)

دعشردوجوب شرطونه:

(۱) هغه څوک چې عشرورباندې لازميږي هغه به مسلمان وي، ځکه چې عشريوخاص عبادت دی اوکافردعبادت اهل نه دی. (بدائع)

(۲) په عشري ځمکه باندې عشرواجب دی. اوپر خرابه ځمکه عشر نشته.

(۳) له ځمکې ځخه دپيداوارترلاسه کول. که دځه بې اختياري ياغفلت په وجه پيداوارترلاسه شو، نوپه هرحال عشرورځخه ساقط دی.

(۴) داسې پيداواربه وي چې له کرل شوي ځخه به ترلاسه شوی وي ،په هغو ونوباندي چې پخپل سرشنه شوي وي عشرواجب نه دی.

(امدادمسائل زکوة ۸۵مخ)

مسئله : په عام ډول په شرعي احکامو کي عقل او بلوغ هم شرطونه دي ، مګر دځمکي دعشر په وجوب کي داد وه شرطونه نشته ،ځکه چي دعشرواجبيدلو دپاره دځمکي دخاوند عقل او بلوغ ضروري نه دی. دځمي خاوند که ماشوم (نابالغ) وي او که ليونی وي خوله ځمکي څخه يي حاصل ترلاسه کيږي ،نوپه هغه کي عشرواجب دی او دهغه (نابالغ يا ليوني) په سرپرستانو باندي يي اداء کول فرض دی. اوزکوة چي دی ، هغه په ماشوم اوليوني باندي نشته. (بدائع)

مسئله :دعشرواجبيدلو دپاره دا شرط نه دی چي پيدا وار اخيستونکی به دځمکي خاوند وي بلکه دوقف دځمکي په پيداوارکي هم عشرواجب دی. دغه رنګه که يو چاله بل چا څخه په اجازه ،ياخواست ياکرايه باندي ځمکه واخيستله او په هغي ئي کښت وکړ،نودهغه دپيداوارعشر هم په محصول اخيستونکي باندي لازم دی ،په مالک دځمکي هيڅ هم نشته.

مسئله : دعشردواجبيدلو دپاره پوره کال تيريدل هم شرط نه دی. څوواره چي په کال کي له ځمکي څخه پيداوار ترلاسه کيږي اوراالوئيږي هغومره واري عشرهم واجب دی.

مسئله : که دچاپه ذمه باندي قرض وي هم عشرلازم او که نه وي هم لازم دی. اودزکوة په اداء کولو کي به قرض ورڅخه نه جلاکوي.
(عشروخراج کی احکام۲۷۲مخ ، جواهرالفقه۲ جلد۲۷۱مخ احسن الفتاوی۴ جلد۳۴۵مخ)

مسئله : دزکوة دواجب کيدلو دپاره داضروري ده چي في الواقع (عين حال) کي به په ځمکه باندي کښت شوی وي ، چي داله خراج سره په ټکرکي دی ځکه چي خراج (ماليه) هغه وخت واجبيږي چي کله په ځمکه کي دکرهني ورتياپيداشي. دغه رنګه ضروري ده چي دځمکي

خاوندبه دکښت کولو قابل وي. نو که یو څوک په ځمکه دکښت کرلو قدرت لري، خو کښت ئي ورباندي کړی نه وی، نو په هغه باندي عشر واجب نه دی، مګر مالیه ورباندي په هرحال واجبه ده ځکه چي په هغې ځمکه کي دزیادت کولو (حاصل ورکولو) ورتیاشته. (کتاب الفقه ۱جلد ۴ ۱۰۰مخ)

دعشراوخراج (مالیې) حکمونه :

دعشراوخراج داسلامي شریعت دوه اصطلاحي لفظونه دي چي په دواړو کي په ګډه داخبره شته چي داسلامي حکومت له طرفه په ځمکوداچول شوي ټیکس حیثیت موجوددی. خوفرق پکښي دادی چي عشرصرف ټیکس نه، بلکه یو عبادت هم دی، نوله دي امله ورته (زکوة الارض) دځمکي زکوة ویل کیږي اوخراج مالیه خالص ټیکس دی اوله عبادت څخه نه شمیرل کیږي. نوځکه عشرد مسلمانانو له ځمکوسره خاص دی اوعملي فرق پکښي دادی چي عشر خود ځمکي لاس ته راوړنه ده که ځمکه ونه کرله شي (که څه هم دنه کرلو سبب یې دځښتن بې غوري وي چي دکروندي ورتیالرونکي ځمکه یې بې کرهنې پرې ایښې ده) نوهم ورباندي عشرلازم نه دی، ځکه چي عشرد ځمکي دپیداوار دیوي برخي نوم دی. اومالیه چي ده هغه په هره هغه ځمکه باندي شته چي دکرهنې وړوي که څه هم دخاونددبې غوري په وجه ورباندي کښت هم نه وي شوی البته دمالیې د اخیستلو دپاره په ځمکه کي دکښت کیدلو ورتیاشرط ده. په هغه ځمکه باندي (چي دکرهنې ورتیاپکښې نه وي، یاله اوبو څخه دومره لیري وي چي اوبه ورته نشي رسیدای، اوباران هم دومره نه وي چي ورباندي له ځمکي څخه کښت رازرغون شي) مالیه نشته. (جواهرالفقه ۲ جلد ۳۴۷)

مسئله : په هرپیداوارکي چي مقصدورڅخه دحاصل لاس ته راوړل

وي عشرواجب دی هغه که غله وي او که ميوي همدا رنګه په کښت او باغ باندي هم عشرواجب دی.(امدادالفتاوی۲جلد ۲۹)

د عشراو زکوة ترمينځ فرق :

په عملي ډول په عشراوزکوة کي دافرق شته چي د تجارت مال، سپين زر، سره زراونورکه پوره يو کال ايښی وي چي ورځخه ګټه خونه اخيستله کيږي بلکه تاوان پکښي کيږي ، نوکه د نقصان په کولو سره بياهم ترحد د نصاب کم نشو ،نوهم دهغومالوزکوة اداء کول فرض دی،خوعشربيا داسي دی چي که دځمکي پيداوارؤنوعشرهم واجب دی اوکه پيداواريي نه ؤبياهيڅ هم واجب نه دي.(جواهرالفقه۲جلد۲۴۷مخ)

مسئله : حکومت چي کومه ماليه اخلي هغه عشرنه دی.(فتاوی محمودیه۱۱جلد۱۳۸مخ)

ايا د هندوستان په ځمکوعشرواجب دی ؟

مسئله : په هندوستان کي چي کومي ځمکي دمسلمانانوتر ملکيت لاندي دي هغه عشري ځمکي دي ځکه د عشراداء کول دمسلمانانواصلي وظيفه ده،نودداسي شک په بنابه چي ډيراحتياط پکښي وي ورځخه عشراداءکوي.

مسئله : د هندوستان د ټولو ځمکو د پاره يو حکم نه دی، هغه ځمکي چي دمسلمانانوپه ملکيت کي دي په هغوکي عشرواجب دی اومسلمان بايدعشراداءکړي. (جواهرالفقه۲۲۱مخ)

مسئله : کله چي عشرپه منزله دزکوة کي دی نوځنګه چي زکوة په هرځای اوهرښارکي (اسلامی وي که غيراسلامي) واجب دی همداغه رنګه عشرهم په هرځای کي لازم دی ، اوکه له عشري ځمکي ځخه ماليه واخيستله شي ،نوهغه عندالله ئي عشرله ذمي ځخه ساقط

شوی نه دی ،نو ځکه دځمکي خاوند ته پکاردی چې عشرفقيرانو ته په ورکولو سره اداء کړي. لنډه داچې ډيراحتياط داده چې مسلمان دي دخپلو ځمکو دپيداوارعشراداء کړي (فتاوی دارالعلوم۲جلد ۱۸۹مخ)

مسئله: احتياط پـه دي کـي دی چـې دخيراوبرکـت دحصـول پـه خاطر ،ترکومـه چـې کيـدای شـي هروخـت دعشراونصـف عشـر اداء کولو ته دوام ورکړئ. (نظام الفتاوی۱جلد ۳۵۷مخ)

د ساتل شو و شيا نو حکمو نه:

مسئله: دفصلونو په پيداواراوميووباندي دکال پـه تيريـدلو سـره بيازکوة نه لازميږي يعني کله چي يوځلي دفصلونوله پيداوارڅخه عشرايستل شـوی وي بياکـه ډيرکلونـه لـه خاونـد سـره وي هـم زکـوة ورباندي نشته ،ځکه چي دزکوة هرکلني وجوب صرف پـه زيـادت قبلونکوشيانوباندي دی. (فقه الزکوة۱جلد ۱۹۲مخ)

مسئله: عشـر(يعنـي دپيداوارلسـمه) چـي چرتـه واجب ده هغـه پـه ټـول پيداوارباندي واجب دی اوکله چي غله پيدا شوه هغه وخت سمدستي واجبيږي دپوره کال تيريدلوقيد پکښي نشته (فتاوی دارالعلوم۲جلد ۱۲۵مخ)

عشر په چا لا ز م دی ؟

(۱) پوښتنه: دعشرتعريف(پيژندنه) څه ده ؟
(۲) پوښتنه: آيادزکوة په څيرهغه هم دنصاب لرونکی دی ؟
(۳) پوښتنه: آياپه ټولوځمکه لرونکوباندي عشرشته؟
(۴) پوښتنه: عشرکوموخلکوته په ورکولوسره اداء کيږي ؟
(۵) پوښتنه: که يوڅوک له خپل مال څخه زکوة اداء کړي آياهغه به هم عشراداء کوي ؟

(۶) پوښتنه: آیاعشرپه کال کي بایدیوځلي اداءشي که له هرتوي فصل څخه ؟
(۷) پوښتنه: آیادخارویودپاره په کرل شوي کښت باندي هم عشرواجب دی ؟
(۱) ځواب: عشردځمکي دپیداوارزکوة دی، که ځمکه باراني وي اودباران په اوبوسره اوبیږي (یعني دللمي کښت وي) نوله ترلاسه کولوسره سم ئي لسمه برخه دالله جل جلاله په لاره کي ورکول واجب دی. اوکه داسي ځمکه وه چي لـه واټرپمپ، کوهي، یاداسي بـل شي څخه اوبـه ورتـه ورکیدلي نودهغه بیاشلمه برخه صدقه کول واجب دی
(۲) ځواب: زمونږدامام (امام ابوحنیفه رحمة الله علیه) په نزددعشردپاره کوم ټاکلي نصاب نشته، بلکه په هرکم او زیات پیداوارباندي عشرواجب دی.
(۳) ځواب: بلي ! هرڅوک چي له ځمکي څخه حاصلات اخلي په هغه باندي عشرواجب دی.
(۴) ځواب: مستحقین دعشرهغه څوک دي چي دکوة مستحقین بلل کیږي
(۵) ځواب: عشـردپیداوارزکوة دی، نوځکه لـه نوروماـلونو څخه دزکوة ایستلوباوجودپه پیداوارباندي عشرواجب دی
(۶) ځواب: په کال کي چي هرڅوځله نوی نوی فصل ثمر(میوي) تـه رسیږي هغو ټولوواري ورباندي عشرواجب دی.
(۷) ځواب: بلي ! دامام صاحب رحمة الله علیه پـه نزدپـه هغـه فصل باندي هم عشرواجب دی چي دخارویودخوراک دپاره کرل شوي وي.
(آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۰۰مخ وفتاوی محمودیه ۳جلد ۱۰۰مخ هدایه ۱جلد ۱۸۱مخ)
دامـام ابوحنیفـه رحمـة الله علیـه پـه نزدپـه میوو، سـبزو، ترکـاریو اودخارویودپاره پـه کرل شـویوباندي هم عشرواجب دی د کښت څخه پـه هرلاس تـه راتلونکي کي زکوة نه بلکه عشر واجب دی.
(آپ کي مسائل ۳جلد ۴۰۹ مخ وفتاوی محمودیه ۳جلد ۱۰۱مخ)

د څړ ځای د ځمکې حکم:

مسئله: په هغه کښت کی چي د څارويو په څړ ځای کي کرل شوی وي او غله پکښي پيدا شوي وي هم عشر واجب دی.

مسئله: که کښت مخکي تر ثمري نيولو (ميوي پخيدلو) وريبل شو او څارويو ته واچول شو، نو عشر پکښي نشته. (يعني که چا د غلي د ترلاسه کولو د پاره کښت وکړ مګر وروته ئي اراده بدله شوه او کښت ئي ترپخيدلو له مخه وشکاوه او څارويو ته ئي ورڅخه د خوراک ذخيره جوړه کړه نو عشر ورباندي واجب نه دی) (رفعت قاسمي غفرله) (فتاوي دارالعلوم ۲ جلد ۱۸۲ مخ)

تر پخيدلو له مخه د کښت خرڅولو په صورت کي د عشر حکم:

مسئله: که ولاړ کښت تر تيار يدلو (پخيدلو) له مخه وپلورل شو نو عشر يي په اخيستونکي باندي واجب دی او که تر داني (ثمري) پخيدلو وروسته وپلورل شو نو بيائي عشر په پلورونکي واجب دی.

مسئله: د ميوه لرونکو ونو زکوة هغه وخت واجبيږي کله چي په هغو کي ميوه پيدا شوه او د خرابيدلو ويره ئي له مينځه لاړه؛ په دي ډول چي هغه داسي شي چي کاورڅخه اخيستل کيدای شي او بيا چي څو مره څه په هغي باندي واجب دي هغه به د شکولو پروخت باسي. خو د غلو د عشر وخت هغه دی کله چي هغه واړه اوصاف کرل شي. که د خاوند د خپل عمل بغير، ترلاسه شوی مال (پخپله) له مينځه لاړ (ضائع) شي نو عشر ئي هم ساقطيږي او دا حکم په هغه صورت کي دی چي د هغو وړول سخت (يا بي امکانه) شي. (کتاب الفقه ۱۰۰۵ مخ)

د ناکافي پيداوار حکم:

پوښتنه : ډيرځله داسي هم کيږي چي له کروندي څخه دومره څه هم نشي ترلاسه چي هغه لګښت ورڅخه پوره کړای شي کوم چي ورباندي لګيدلي دي. په دغه صورت کي په څه ډول بايد عشراداء شي ؟

ځواب: څومره څه چي ورڅخه لاسته شي له هغو څخه بايد عشروايستل شي دمثال په ډول که (۱۰۰) منه ورڅخه ترلاسه شي نوبايدلس منه په عشرکي ورکړي اوکه لس منه ورڅخه ترلاسه شي نوبايديومن ورکړي اوڅومره لګښت چي ورباندي شوی دی هغه به ورڅخه نه جلاکوي. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۷۲مخ)

د څو برخو لرونکي ځمکي عشر څه ډول دی؟

پوښتنه: زه ديوزميندارځمکه کرم، سږکال دټول کښت حاصل لس زره منه شو، نوآيادټولو(لس زره منه) عشربه زه اداءکوم اوکه به صرف دخپلي برخي؟

ځواب: تـه دخپلـي برخـي دپيداوارعشراداء کـړه ،ځکـه چـي اصـل پکښـي دادی چـي دځمکـي پيـداوارچي دهرچاوي ،نوعشـرئي هـم ده هغـه پـه ذمـه دی،دکرونـدګر(کښـي) پـه حصـه کـي چـي څـومره مـال دځمکـي لـه پيداوارڅخـه ورغـي دهغـه عشـردکرونګرپه ذمـه دی ؛ اوڅومره چي دځمکي دخاوندپه حصه کي ورغي دهغـه عشـردځمکي دخاوندپه ذمه دی (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۲۱مخ وفتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۵۹ بحواله درمختار ۲جلد ۷۵مخ)

ايا له پيداوار څخه به په کرونده با ندي شوی مصرف جلاکوي اوکنه ؟

پوښتنه : نن سبادتراکتورپه ذريعه ځمکـه پـه يواوبل مـخ اړول کيږي اوکيمياوي سره (يوريا) ورکوله کيږي اوپه دي ډول دکرونـدي دپـاره

تیاریږي، نو آیا د غه لګښت به د فصل له پیداوار څخه باسي بیا به عشر اداء کوي او که به ټي له ټول پیداوار څخه اداء کوي ؟

ځواب: شریعت په اخراجاتو باندي عشر (لسمه حصه) لازمه کړي ده نو ځکه باید پیداوار څخه اخراجات جلا نکړل شي بلکه له ټول پیداوار څخه عشر ورکړل شي. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۱۲ مخ)

مسئله: تخم هم په اخراجاتو کي دی، چي له پیداوار څخه به ټي نه جلا کوي. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۱۱۴ مخ)

د ریبلو لګښت او عشر:

پوښتنه: دوه جریبه ځمکه وه چي ور څخه سل منه غنم ترلاسه شول. ددوئ په ریبلو کي پنځه منه غنم ورکړل شول. او نژدي پنځلس منه غنم تهریشرته په وړولو ورکړل شوي چي ماته اتیا منه غنم پاته شول، نو آیا عشر به د سلو منو ورکول کیږي او که د اتیا منو ؟

ځواب: عشر به د سلو منو ورکول کیږي. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۱۲ مخ)

مسئله: په عشر کي د کارګر (مزدور) مزدوري او نور ګښتونه نه شمارل کیږي، یعني د مزدور د مزدوري له وجي به په عشر کي کمی نه کیږي، لهذا باید د پیداوار لسمه په عشر کي ورکړله شي. (ردالمحتار ۲ جلد ۲۹ مخ)

مسئله: عشر به له ټول پیداوار څخه اداء کوي، د کرلو، ریبلو، ساتلو، مزدورانو او نورو لګښت باید د عشر له ایستلو څخه وروسته ورکړي. (امدادمسائل زکوة ۸۹ مخ و کتاب الفقه ۱ جلد ۱۰۰۴ مخ)

آیا د ګښت په قیمت با ندي زکوة شته ؟

مسئله: د ګښت په قیمت باندي زکوة نشته هر څومره قیمت چي ولري. که ځمکه عشري وي نو څومره څه چي ور څخه ترلاسه کیږي په

هغو باندي عشر (لسمه واجب ده) او كه ځمكه عشري نه وه بياو رباندي هيڅ هم واجب نه دی (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۵۷ عالمگیري مصري۱ جلد ۱۸۵مخ)

مسئله : دپوره كال تيريدل دكښت او ميوو ځخه بغير دنورو شيانو دپاره شرط دی ،خودكښت او ميوو دپاره دا شرط نه دی (بلكه په كال كې چي هرځو ځله فصل په ثمر سيږي، نو بايد عشريي اداء كړل شي).(كتاب الفقه ۱جلد ۹۲۴)

ا يا ددولتي ټيكس په ادا كو لو سره عشر ادا ء كيږ ي؟

مسئله : دځمكي دحاصلاتو لسمه حصه وركول دزكوة په څيريو مالي عبادت او دلګښت ځايونه ئي هم هغه دي كوم چي دزكوة دپاره ټاكل شوي دي. كه كوم مسلمان ياغير مسلمان حكومت له ځمكي لرونكو ځخه سركاري ټيكس اخلي،نو دهغه ټيكس په اداء كولو سره عشرنه اداء كيږي ،بلكه په هغو مسلمانانو چي ځمكي لري واجب دي چي هغوئ پخپله عشروباسي او په مناسبو لګښت ځايونو كي ئي ولګوي.(جواهر الفقه ۲جلد ۲۷۲مخ وامداد الفتاوی ۲ جلد ۱۹مخ)

د كو مي غلي ځخه چي عشر نه و ي ايستل شوی هغه حلا له ده او كه حرامه ؟

مسئله : كه يو چا دخپلي غلي (هرهغه څه چي عشرپري لازم وي) ځخه عشراداء نكړ،نو هغه حلال دی، مگر دعشرنه اداء كونكي دعشرنه وركولو له امله گنهكار او فاسق دی .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۰مخ ومحمودیه ۳ جلد ۵۱مخ)

په كو مو شيا نو كي عشرواجب دی ؟

مسئله : دغنمو ،وربشو ،وريځو ،تركاريو ،ميوو ، گلانو او نوروټولودپاره دغه حكم يعني عشردی.

مسئله : په عشري ځمکه ، غرونو ، یاځنګل کي که شهد پیدا شول ، نوهم پکښي عشرواجب دی .(درمختار)

مسئله : په هرډول ترکاریو او نورو کي دحضرت امام صاحب په نزدعشرلازم دی لکه په
ختکو، هندوانو، بادرنګو، پیازو، کدوګانو، سنګتره اوداسي نوروکي .(درمختار)

الغرض: کوم شیان چي له ځمکي څخه دپیداوارپه نتیجه کي ترلاسه کیږي لکه وربشي غنم ، چني، وریځي، جواري اوداسي نوراوهرډول دانواوترکاریو، سبزیانو، میوو، لمدو خورماګانو، ګنواوداسي نوروشیانوباندي عشرواجب دی، دافرق نه کوي چي دهغو میوي باقي پاته کیږي اوکنه.

مسئله : دالسي په زړنو(تخم)باندي هم عشرواجب دی، دغه رنګه په چارمغزو، بادامو، زیره اودنیاباندي هم عشرواجب دی.

مسئله : له عشري ځمکي څخه چي هرڅه ترلاسه کیږي ، غله دانه وي که ګنی وي، که خشخاش یاتمباکووي اوکه دواګاني یاګلان وي چي دګټي اخیستلوپه غرض کرل شوي وي په دي ټولوکي عشرواجب دی . دغه رنګه زکوة ته عشرویل کیږي. (امداد مسائل زکوة ۲جلد ۲۹مخ)

مسئله : دغه عشرپه هرډول ځمکني پیداوارباندي واجب دی لکه غنم ، وربشي، جواریاوداسینورودانولرونکوباندي، اوسبزیو، خوشبودار وګلانو، ګنیو، ختکو، زعفرانوخورماؤ، انګورواونورومیووباندي، هغه که لږه وي اوکه ډیره. دهغودپاره دپوره کال تیریدلواونصاب شرطونه نشته .

مسئله : کله چي ميوه داطمنان وړوګرزي نوله هغه وخته ئي عشرواجب دی.

مسئله : ترتياريدلوله مخه چي څومره خرڅه وکړي ،نودهغو ټولوحساب دي په يادکي ساتي ځکه چي دهغوبه هم عشراداء کوي.
(کتاب الفقه ۱جلد ۴ ۱۰۰مخ)

مسئله : په داسي دانوباندي چي دکرهني دپاره نه پکار کيږي عشرنشته.

د عشر څوضروري مسئلي :

ترکرلوله مخه دځمکي عشراداء کول صحيح نه دی. همدارنګه ئي له کرلووروسته ترشنه کيدلوله مخه هم عشراداکول صحيح نه دی. اوميووعشـر دهغوترظاهريدلو لـه مخـه اداء کـول هـم روانـه دی. اوميووترښکاره کيدلو ورسته ئي اداء کول روادی.

مسئله : که يو چاخپله ځمکه دنغدوروپوپه عوض کي په کرايه ياټيکه ورکړه ،نوعشرئي دټيکه لرونکي په ذمه دی (يعني دهغه چاچي کرونده پري کوي اوحاصل ئي ترلاسه کوي)

مسئله : که ځمکه بل چاته په مزارعت (کښت کولو)ورکړله شوه چي دحاصل څخه نيمايي يادوهمه برخه دځمکي دخاونداوپاتي برخه ئي دکروندګروه ،نوپه دغـه رنګـه صورت کـي پـه دواړوباندي دخپلي خپلي حصي عشرلازم دی.

مسئله : که يو چادتجارت په نيت ځمکه واخيستله اوله ځمکي څخه پيداوارترلاسه شو ،نوپه هغه باندي عشرواجب دی ، دتجارت زکوة ورباندي واجب نه دی.

مسئله : کـه دوخت مشـريادهغه نائب دعشـري ځمکـي عشـريوچاته معاف کړي،نونه ئي هغه ته معاف کول دشريعت له نظره جائزدی اونه

دځمکي دخاوند دپاره دعشردمال خوړل اويا پخپله کته کي مصرف کول جائزدی. بلکه دمال دخاوند په ذمه لازم دی چي پخپله دخپل پيداوارعشرواخلي اومسکينانوته ئي ورکړي.

مسئله : که دکروندي ځمکه (کښت) څه دکوهي په اوبو اوڅه په باران اوڅه په نورڅه سره اوبيدو ،نواعتبارپکښي دېروالي ته دی.دمثال په ډول که د اوبيدلوډېرکاريي دباران له لاري څخه کيدونوله هغه کښت څخه به لسمه حصه ،اوکه ئي دکوهي،ماشين يابل څه له لاري کيدوبيابه يي شلمه برخه په عشرکي ورکوي. اوکه دواړه لاري له يواوبل سره برابري وي،نوبيابه دنيمايي پيداوارلسمه ،اودنيمايي پيداوارشلمه په عشرکي ورکوي.

مسئله : که دچاپه ذمه دتيري زماني عشرپاته ؤاواداء کړی ئي نه ؤ ،نوهغه ورڅخه ساقطيږي نه ،بلکه اداء کول ئي واجب دی. دمرګ پيښيدلوپه صورت کي ئي بايدوصيت لازماً وکړي.

مسئله دعشرتراداء کولوله مخه چي کومه غله په اجرت يابي اجرته چاته ورکوي يائي پخپله استعمالوي،نودعشرضامن به ئي هغه ورکونکی يااستعمالونکی وي.

مسئله : دعشراوزکوة چي دڅومره حصي اداء کول واجب وي،نوکه دهغه قيمت ورکړل شي هم اداء کيږي . (شامي)

مسئله : دافيونو(طرياقو) په عشرکي دهغودقيمت ورکول هم روادی

مسئله : دعشري ځمکي دپاره چي کوم څه دټيکس په څيرټاکل شوي وي دهغوپه اداء کولوسره عشرنه اداء کيږي لکه څنګه چي دانکم ټيکس په ورکولوسره زکوة نه اداء کيږي .

(امدادمسائل زکوة ۸۹مخ وفتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۸۹مخ وبدائع ۲جلد ۵۲مخ)

مسئله: افیون (طریاق) له مال متقدم څخه ګڼل کیږي، نو څکه عشرورباندې واجب دی. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۷۸مخ)

مسئله: که یو چاپخپله عشري ځمکه کي تمباکو وکرل، نوهم په پیداوارکي ئي عشرواجب دی.

مسئله: که داستوګني کورپه مستقل ډول په باغ باندي بدل کړشو، نوهم عشریامالیهورباندې واجب دی که عشري ځمکه ترهغه زیاته ورته نژدې وي، نوعشرپرې لازم دی او خراجي ځمکه نژدې وي نوبیاخراج ورباندې لازم دی.عشرواجب دی.

مسئله: اوکه کورداستوګني دپاره ؤخوپه دائره (چار دیوالي) کي ئي وني ولګولي شوي نوپه هغوباندي عشراو خراج نشته. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۵۷مخ)

مسئله: په ناچمتو کفا، غنمو، وربشو، سبزیو، ترکاریواو نوروپه ډول پیداواباندي عشرشته مګرپه پړوړه یعني هغه څه باندي نشته چي غنم اووربشي ورڅخه ترلاسه شوي دي. (احسن الفتاوی ۲جلد ۳۴۴مخ)

مسئله: دباغ په میووباندي عشرواجب دی خوداوربلولوپه لرګوباندي نشته. (هدایه۱جلد ۱۸۳مخ)

که ځمکه و پلورله (خرڅه) شوه نو عشر او ما لیه ئي د چاپه ذمه دي ؟

مسئله: که فصل لرونکی ځمکه په داسي وخت کي وپلورله چي دکال پای ته رسیدلو ته دري میاشتي یاتردي زیات وخت پاته ؤاوپلورونکي په دغه کال له دغي ځمکي څخه بل فصل نه ؤ اخیستی، نودهغه خراج په اخیستونکي باندي دی. اوکه پلورونکي مخته تردي هم له دغي ځمکي څخه فصل اخیستی ؤبیامالیه په اخیستونکي باندي ده، په دي شرط چي خرڅونکي ورڅخه په دغه

کال کې بل فصل نه وي اخیستی او که دفصل له تیاریدلو(پخیدلو) ورسته خرڅ کړل شو نو بیائې تفصیل په هغه ډول دی کوم چې د فارغې (خلاصې) ځمکې دخرڅولو په اړوند دی. (احسن الفتاوی ۴جلد ۴۵۹مخ)

مسئله: که یو چا عشري ځمکه دهغې له تیار فصل سره خرڅه کړه ،او یائې صرف فصل خرڅ کړنو عشرئې په خرڅونکي باندې واجب دی . او که لا فصل تر داوخته پوخ شوی نه وو چې ځمکه ئې خرڅه کړه شوه او هغه وخت ورځخه ځمکې اخیستونکي دفصل پیدا او ارلیري کړ ،نو عشر ئې په خرڅونکي باندې اجب دی،او که اخیستونکي سمدستي ورځخه فصل لیرې نکړبلکه په هغه حالت ئې پریښوداو په ځمکه ئې سره دهغې له پیدا او اره قبضه وکړه،نو بیائې عشر په اخیستونکي باندې واجب دی. (کتاب الفقه ۱جلد ۱۰۰۴مخ)

دلاندینیوشیانو پر پیدا وار عشر واجب نه دی:

مسئله: دځمکې په هغه پیداوارچې مالیت ئې مقصود نه وي لکه بې ارزښته لرګي او پخپله راشنه شوي وابښه، پرووړه،دخورما پاڼې،خاشې،دکفاخالي ډنډر،دختکي او هندواني زړي اوددواګانو پاڼې او دغه رنګه نورو کې عشر نشته،ځکه چې دهغو مقصود مالیت نه دی او که مالیت ورځخه مقصود ؤلکه نن سبا چې ځمکه لرونکي لاتې او ترسل ډیرپه ښه ډول ذخیره کوي او دادوئ په نزد دخپلې ځمکې پیداوار ګڼل کیږي ،نو بیا پکښې عشر واجب دی.

مسئله : لـه پـروري ځخـه چـي دانـه وايسـتله شـي نوبياوربانـدي عشرنشته ځکه چي مقصودي پيداوارغنم دی،پروره له کبنت ځخه مقصدنه وه. (شامي)

مسئله : کوم وابنه چي په کبنت کي راشنه شي اودفصل (کبنت) تابع وي،له هغو ځخه مقصود دځه شي ترلاسه کول نه دي،نوځکه وربانـدي عشرهم لازم نه دی.

مسئله : که دچاپه کورکي ميوه لرونکي ونې وي،نوپه هغوبانـدي عشرواجب نـه دی،کـه ځـه هـم هغـه بـاغ دکورباغچـه وي. ځکه چي دادکورتابع دی . (شامي)

مسئله : هرپيداوارچي دځمکي مقصودي لاس تـه راوړنه نه وي لکه لرگي،وابنه،لوخي ،انځراوداسي نوروربانـدي هم عشرواجب نه دی. اوکــه دچامقصــود ددغوشـيانوله کرلوځخــه آمــدني ترلاســه کــول وونوبيادقاعدي له مخي په هغوباندي هم عشرفرض دی. (محمدرفعت قاسمي غفرله له)

مسئله : که يوچاپخپل کورکي ترکاري وکرله اوبيائي پکښـي ميوه لرونکي ونه وکرله اوهغي ميوه ونيولـه، نو عشـروربانـدي واجب نـه دی ،(امدادمسائل زکوة ۸۵مخ بحواله اسلامي حکومت کامالياني نظام ۵۱مخ)

مسئله : دباغ پـه ميـووکي عشرواجب دی،خوپـه لرگـود سوځولوکي عشرنشتـه . (فتاوی دار العلوم ۲جلد ۱۹۳مخ)

ايا د عشر په رويو با ند ي زکوة شته او کنه ؟

پوښتنه : يوچادباغ تر خرخولويوه مياشت وروستـه خپل کلنـی زکوة اداء کړ،نوآيا باغ په روپو(چي عشرورځخه ايستل شوي دی) زکوة لازم دی اوکنه؟

ځواب: له هغو روپو څخه به هم زکوة اداء کوي، کله چي د نورو (کال پوره شو) زکوة اداء کوي نو له هغه سره دي د دوئ زکوة هم اداء کړي (آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۰۹ مخ)

یادونه: حکومت چي په بعض ځایو کي دیوایکړ له حسابه عشر اخلي داصحیح نه دی، پکاردی چي د پیداوار له ترلاسه کولو وروسته د هغو لسمه یاشلمه واخلي، دتولي علاقي د پاره په پوره یوایکړ قیمت مقرر ول غلط دی. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۹۰ مخ)

د عشر له اداء کولو وروسته دغلي خرڅول :

پوښتنه: له فصل څخه په خپل وخت غله (حاصل) ترلاسه شول، بیاپوره یو کال غله ایښي وه، نه پخپله ور څخه کار واخیستل شو اونه خرڅه کړله شوه، نوآیاد کال له پوره کیدلو وروسته به بیاد هغو عشر اداء کوي او کنه ؟

ځواب: له یو ځلي عشر اداء کولو وروسته بیاتر هغه وخته پوري چي خرڅه شوي نه وي نه پکښي دوباره عشر شته او نه پکښي زکوة شته او کله چي دعشر له اداء کولو وروسته غله خرڅه کړله شوه، نو بیاپه ور څخه ترلاسه شوو روپو باندي هغه وخت زکوة واجب دی چي پوره یو کال ور باندي تیر شي او که دغه سړي تر دي له مخه د نصاب خاوند وي، نو بیابه ئي هغه وخت اداء کوي کله چي دهغه بل نصاب کال پوره شي که څه هم څو ورځي وروسته وي (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۹۰ مخ وفتاوی محمودیه ۳ جلد ۱۰۰ مخ)

که باغ خرڅ شي نوعشر به ئي څوک اداء کوي؟

پوښتنه: که یو چا وروسته له هغه څخه خپل باغ خرڅ کړچي میوه ئي تیاره شوه، نوآیاعشر به ئي خرڅونکی اداء کوي او که اخیستونکی؟

ځواب: په دغه صورت کې په اخيستونکي باندې عشر نشته، بلکه عشر په باغ خرڅونکي باندې لازم دی. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۱۱مخ)

هغه صورتونه چې عشر پکښې سا قطيږي:

مسئله: که پيداوار د ځمکې د خاوند له اختيار څخه بغير هلاک شي، نو عشر هم ساقطيږي او که څه بخره ئې هلاک شي، نو د هلاک شوي برخې عشر ساقط دی او د پاتې برخې عشر اداء کول واجب دي. (بحرالرائق)

مسئله: که مالک پخپله پيداوار هلاک کړ، نو پخپله دې د هلاک شوي پيداوار عشر اداء کول وضامن دی، او هغه ئې په ذمه باندې قرض دی، او که بل چا دغه مال هلاک کړ، نو هر کله چې مالک له هغه څخه ضامن واخيست له هغه څخه دې عشر اداء کړي

مسئله: که د چا په ذمه عشر لازم ؤ، نو د هغه په مړينه سره نه بخښل کيږي، بلکه له هغه څخه چې کوم غله پاتې شوې ده له هغې څخه به ايستل کيږي. (شامي)

مسئله: که د يو چا د کښت کولو قدرت هم ؤ خو وئې نه کړ، نو عشرور باندې واجب نه دی. (امداد مسائل زکوة، فتاوی عالمگيري ۴ جلد ۳۴ مخ)

مسئله: عشر او خراج کله هم نه سره يو ځای کيږي، که له عشري ځمکې څخه د وخت حاکمانو خراج واخيست، نو (مابينه وبين الله) هغه چاته پکار دي چې عشر اداء کړي. دا د احتياط لاره او امر محقق دی.
(فتاوی دارالعلوم ۲ جلد ۱۷۱مخ)

مسئله: که د عشري ځمکې فصل تر ريبلو يا ميوې راټولو وروسته ضائع شو يا غله پرې برابر شول، نو عشر ئې ساقط شو. (احسن الفتاوی ۴ جلد ۲۵۴مخ)
او ځو مره فصل چې پاتې شو د هغه به عشر اداء کوي. (محمد رفعت قاسمي غفرله)

دپاره دحد تاکل یوازي اویوازي دشارع علیه السلام حق دی، نوکله چي داندازو پـه تـاکلوکي قیـاس بـي اثـره دی، نوبیـا ځوک اوځنګـه کیـدای شـي چـي پـه نـص (دپـاک خـدای جـل جلالـه څرګنـد حکم) اواجماع سره ثابتي شوي اندازي دي په قیاس سره بدلي کړای شي ؟

(۵) په کوم شي کي چي زیادت کیدای شي په هغه کي کموالی هم کیدای شي اوبالکل له منځه هم ورل کیدای شي، نوکه کوم قوم ته دډیروشتو اومالداري دوره ورشي، یا حکومت ته ددولت دتر لاسه کیدلو ګټوري لاري پیدا شي، نو آیا په دغه صورت کي هغه ځوک چي نن دزیاتوالي غوښتنه کوي هغه به سبا دزکوة په شرح کي دکموالي یابالکل له مینځه ورلو غوښتنه ونه کړي ؟

اوپه دي ډول به دزکوة معنویت، حقیقت اودهغه هغه حیثیت چي دبدلون نه قبلونکی دی اودهمیشني اسلامي شعار کیدلو کیفیت پـه پوره ډول ترپښولاندي شوی وي، اوزکوة به (چي یو سپیځلی عبادت دی) دوخت دحکمرانانو دلوبو کولو یوشی ګرزیدلی وي.

(۲) که یو ځلي اسلامي ارګانو ته دبدلیدلو رابدلیدلو دروازه پرانستله شي اودشرعي احکامو پـه بدلولو رابـدلولو پیل وشي، نو په دي سـره بـه داسـلام پـه ټولوارکـانوکي دتغیرلـړۍ پیـل شـي . اوترکومـه چـي دعمري، اجتمـاعي ضـرورتونو له پوره والي سره اودنوي دورد حکومت داړتیاؤله پوره والي سره تړلي ده. نودهغو دپاره په زکوة سربیره ټیکس هم یوه دخل لاره ګڼل کیدای شي. (فقه الزکوة ۱جلد له ۳۲۹ مخ څخه تر ۳۳۱ مخ پوري)

ایا د نصاب اندازه د تل د پاره ده ؟

دنصاب اند. ازه : پـاک خـدای جـل جلالـه پـه نزد معلومـه او تـاکلي ده، داسي نه ده چي ځوک پخپله خوښه ځنګه او څه وخت څه غواړي

هغسي وکړي او پخپله خوښه په زکوة کې زيادت يا کموالی وکړي، پاک خدای جل جلاله ددغه ټاکلي حق داندازي ښولو کارهم حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته سپارلی دی چي حضور صلی الله عليه وسلم ورباندي دومره ټينګار کړی دی چي اصحابانو ته ئي صرف په وينا سره نه دي ښوولي بلکه دهغه په اړوندئي تفصيلي فرمان وليکي او حضرت عمرفاروق رضی الله تعلی عنه او عمرو ابن حزام رضی الله تعلی عنه ته ئي وسپاری چي له هغه څخه په ثرګند ډول دا ثابته شوه چي دزکوة نصاب، او په له هرنصاب څخه دزکوة اندازة (چي دتل دپاره به همدغه ډول وي) پاک خدای جل جلاله دخپل استاذي په واسطه ټاکلي او مونږته راښوولي دي. په دي کي په هيڅ يوه زمانه او هيڅ يو هيواد کي دهيڅ ډول کمولو اوزياتولو حق هيڅ يو چاته حاصل نه دی. (معارف القرآن ۴ جلد ۳۹۴ مخ)

د شريعت اصل مقصد څه دي؟

په شريعت کي چي دشتو خاوندانو ته دخرڅ کولو ترغيب ورکړل شوی دی، په هغه کي هيڅ ډول تهديد نشته بلکه دشريعت اصل مقصد دادی چي هغه مال چي دشتمن ترضرورتونو زيات وي او کارئي ورپوري معطل نه وي هغه بايد ټول په مسکينانو او غريبانو باندي تقسيم کړي، خو لکه څنګه چي هرڅوک په هيڅي دومره همت هرچانشوای کولای، نوځکه داسي کول شريعت لازم ونه ګرزول بلکه صرف انسانانو ته ئي داورخوښه کړه او دي ته ئي تشويق کړل چي هرڅو مره مال ستاسو ترضرورتو زيات وي هغه ټول دخپل خدای جل جلاله په لاره کي ولګوئ. ﴿وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ﴾ (سورة بقره، ۲۱۹ آيت)

له دي څخه معلومه شوه چي دزکوة په اندازه ،تاکلو او نورڅه کي هيڅ ډول بدلون امکان نه لري او دامت اجماع هم په ذي سره ده.
او که څوک دزيادت ورکولو ارزو لري هغه دی په دغه آيت باندي عمل وکړي (هغه څه چي دهغه ترضرورت اصليه زيات وي هغه دي تول دپاک خدای جل جلاله په لاره کي ورکړي، چي پاک خدای جل جلاله ئي په بدله کي ورته اجراو ثواب ورکړي. *(محمد رفعت قاسمي غفرله)*

آيا خدمت کونکي (يا فلاحي) داري ته زکوة ورکول څنگه دی؟

پوښتنه: کومي خدمتي اداري ،(مرستندويه تولني) يابي عوضه مرستي کونکي اداري ته دزکوة دروپيو په ورکولو سره زکوة اداء کيږي او کنه؟

ځواب: مرستندوي تولني (اداري) چي دزکوة مال يا روپۍ جمع کوي، نودوئ دزکوة دمالونو يا روپو مالکانۍ نه بلکه دزکوة ورکونکو وکيلاني يا نمائندګاني دي ترڅو چي دزکوة مال يا روپۍ له هغو سره وي ،نو داسي دي لکه له خپلو مالکانو سره چي وي؛ که دغه اداري دزکوة روپۍ په مناسبو ځايو ولګوي نو دزکوة ورکونکو زکوة اداء شوي دي او که ئي په سمو ځايو کي ونه لګوي نو بيا زکوة نه دی اداء شوی. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۰۲ مخ)

مسئله: دکومو ادارو او تولنو په اړه چي ددي پوره اطمنان موجود وي چي دزکوة روپۍ يا مال په سم ډول او مناسب ځای کي مصرفوي، هغو ته زکوة بايد وسپارل شي. ،ود کومو په اړوند چي دغه اطمنان موجود نه وي نو هغه دزکوة په ورکولو سره زکوة نه اداء کيږي او زکوة ورکونکي ته پکار ده چي دوهم ځل خپل زکوة اداء کړي. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۰۳ مخ)

مسئله: دغو ادارو ته دورسپارل شوي زکوة په مال يا روپو کي دمالک په څير دتصرف کولو حق نشته بلکه صرف تر

محتاجانو او مسکینانو دورسولو او ویشلو حق له دوئ سره دي خو که دخاوندانو له خوا ورته دتصرف اجازه شوي وي بیائي تصرف کول حق دی. (آپ کي مسائل ۴ جلد ۴۰۷ مخ)

د ديني مدرسو ته دزکوة ورکول څنګه دي؟

مسئله: دیني یاعربي مدرسوته زکوة ورکول نه یوداچي جائزدی بلکه ډیربهتردی؛ ځکه چي پکښي دغریبانوسره دمرستي کولوترڅنګ له دیني علمونوسره هم یوه مرسته او دهغوسرپرستي ده.
(آپ کي مسائل ۳ جلد ۴۰۴ مخ وفتاوی محمودیه ۳ جلد ۴۰ مخ)

ا نجمنو یاتنظیموته زکوة ورکول څنګه دي؟

مسئله: دزکوة په مال یاروپوکي داضروري دی چي مسکین یامحتاج به دهغه مالک ګرزول کیږي بغیرله دي زکوة نه اداء کیږي؛ نوکه په انجمن کي طالبان محتاجان وي نودزکوة ورکول روادی. اودانجمن ملازمینواوواعظینوته په تنخواه کي دزکوة روپۍ ورکول روانه دی په دي کي بایدډیراحتیاط وشي. دزکوة مال بایدمحتاجانوته بلاعوض په ملک کي ورکړل شي. دانجمن په بیلابیلو اخراجاتوکي دزکوة دمال په لګولوسره زکوة نه اداء کیږي او اسلامي مدرسوته چي کومي دزکاتونوروپۍ یا مالونه راځي هغه هم خاص دطالبانواومسکینانودخوراک اوڅښاک دلګښت دپاره وي،استاد،ملازمانوته په تخواه کي ورکول ،اوبیائي په ودانیواونورڅه کي لګول روانه دی. (فتاوی دارالعلوم ۷جلد بحواله ردالمحتار۲جلد ۷۵مخ)

مسئله: داسي اداره(انجمن) جوړول چي دزکاتونو مالونه اوروپۍ په مسکینانوویشي روادی.

دغير مسلم په لاس د زکوة ويشل :

مسئله : دزکوة ويشلو کارغيرمسلم ته سپارل روانه دی ، ځکه چي حتماً دهغه له امله دمسلمانانو سپکاوی او په مسلمانانو باندي دکافرمشري رامنځته کيږي په دغه ډول دزکوة ورکونکي زکوة نه دی اداء شوی اوذمه ئي دانجمن جوړونکو په غاړه ده . په دغه کارباندي بايد کافريافاسق يادزکوة په مسائلوناخبرونه ټاکل شي . (فتاوی رحيميه ۵جلد ۱۸۵مخ)

په زکوة کي بايد مال ورکړل شي او که دهغه قيمت؟

مسئله : دزکوة په ورکولوکي دزکوة ورکونکي اختياردی ،يعني هغه شي په زکوة کي ورکوي چي زکوة وربانديږ واجب شوی دی اوکه دهغه قيمت ورکوي اوقيمت دهغي زماني داعتباروړدی په کومه کي چي زکوة ورکول کيږي که څه هم دوجوب دزماني په اعتبارهغه وخت دشي قيمت پورته شوی يارالويدلی وي ؛ دمثال په ډول دکال په اخيرکي چي زکوة فرض کيدی ديوي وزي قيمت دري سوه روپۍ ؤخوهغه وخت چي زکوة ايستل کيدی دهغي قيمت څلورسوه ته پورته شويادووسوته راټيټ شو ،نوزکوة ورکونکي به څلور،يادوه سوه روپۍ په زکوة کي ورکوي . (علم الفقه ۴جلد ۲۹مخ)

په زکوة کي څنګه مال بايد ورکړل شي؟

مسئله : که ټول عمده مال وي ،نوپه زکوة کي هم بايد عمده مال ورکړل شي . اوکه ټول مال خراب وي نوپه زکوة کي هم بايد خراب مال ورکړل شي؛اوکه نيمايي مال عمده وي اونيمايي خراب وي ،نوپه زکوة کي بايدمتوسط (ميانه) مال ورکړل شي . که ئي دکمي درجي مال ورکړچي کموالي پکښي وو ،نودهغه کموالي په بدله کي دي دهغه

قیمت ورکړي اوکه ئي دلوېي درجې مال ورکړنوبیادي دزیادت قیمت ورڅخه بیرته واخلي. په دغه صورت کي دزیادت اخیستل او دکمبود پوره کول په قیمت سره روادی. (علم الفقه ۴جلد ۳۰مخ)

ایا حکومت کولای شي چي زکوة کاټ کړي؟

مسئله: له بانکونو څخه دحکومت له خوا دزکوة کاټولو په کړنلاره باندي بایدله سره غوروشي. دزکوة ورکونکو دزکوة اداء کیدل په هغه ډول چي دوئ ئي کوي ډیرزیات ترشک لاندي دي، نوددي دپاره چي دمحترموزکوة ورکونکو په یقیني ډول زکوة اداء شوی وي، نوباید دوئ پخپل لاس خپل زکاتونه اداء کړي. (امدادمسائل زکوة ۹۰مخ)

استعمال شوی شی په زکوة کي ورکول څنګه دی؟

پوښتنه: یوچایوشی شپږمیاشتي کارؤوروسته ئي پخپله خوښه دزکوة په نیت په نیمایي قیمت مسکین ته ورکړ، خو هغه ته ئي داونه ویل چي زه دغه شی په زکوة کي درکوم نو په دي ډول ئي زکوة اداء شوی دی اوکنه؟

ځواب: که په بازارکي هم دغه شی په دغومره قیمت (چي دشي مالک ورته ټاکلی دی) پلورل کیدای شوای، نوبیا ورباندي زکوة اداء شوی دی. (آپ کی مسائل ۳جلد ۳۸۲مخ)

د نه خرڅید و نکي شي په زکوة کي ورکول څنګه دی؟

پوښتنه: له یودکاندارسره داسي شی ؤچي نه خرڅیدی آیا هغه کولای شي دغه شی په زکوة کي ورکړي؟

بي ارزښته اودریدلی (کوته) شی په زکوة کي ورکول داخلاص خلاف دی. نوځومره قیمت چي دهغه شي په بازارکي وي په هغه قیمت ئي په زکوة کي ورکول صحیح دی. خودابه ډیره نامردي وي.

خرا ب شي په زكوة كي وركول څنګه دي؟

مسئله: بعض خلک په زکوة کي داسي شيان ورکوي چي (ردشوي اوله کاره لويدلي وي ،دمثال په ډول دکتابو تجاران داسي کتابونه په زکوة کي ورکوي چي دخرڅولو وړتيانه لري دکپړو خرڅونکي زړي او څيري شوي کپړي په زکوة کي ورکوي غله خرڅونکي ترخه ،زاړه اوټپ شوي اوړه ورکوي دغه رنګه نور تجارت کونکي. نو هغه حساب چي دوئ دغه شي ته لګولی دی که په بازار(مارکيټ) کي په دغه قيمت نشواى پلورل کيداى نو بيا زکوة هم نه دی ورباندي اداء شوی. څومره چي تردغه لګول شوي قيمت دبازار قيمت کم دی هغومره دزکوة ورکونکي په ذمه پاته دی مګرزکوة ورکونکي بايد داياد ولري چي څومره دهغوپه کارکي د اخلاص کمي وي هغومره به ئي دقبليدلو هم کمي وي.(امدادمسائل زکوة ۴۲ کتاب الفقه اجلد ۹۷۳مخ)

د زكوة د روپو پخپله استعما لول

پوښتنه: که يو چادزکوة روپۍ له نوروڅخه جلا کړي،مګرتر جلاکولو وروسته ئي ورته ضرورت پيدا شو،نوآياهغه کولای شي دزکوة روپۍ قرض ورواخلي؟

ځواب: دزکوة روپۍ خوترهغه وخته پوري چي چاته ئي ورکړي نه وي دهغه ملک دی نوځکه ئي استعمال هم ورته روا دی.

(آپ کي مسائل ۳جلد ۴۱۴مخ وفتاوی محمود يه ۱۱جلد۱۴۲مخ)

مسئله: ترهغه وخته پوري چي دزکوة دپاره جلا کړل شوي روپۍ مسکينانو ته نه وي ورکړل شوي،نوترهغه وخته پوري ئي مالک دنصاب خاوند دی. (فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۲۱۸مخ شامي ۲جلد ۱۴مخ)

د سود له روپو څخه زکوة اداء کول څنګه دي؟

مسئله: که د سود روپۍ باید د صدقي او ثواب په نیت چاته ورنکړلی شي بلکه بغیرله د غونیتونو څخه محتاجانو او مسکینانو ته ورکړلی شي. د سود په روپو باندي زکوة نه اداء کیږي. (اپ کی مسائل ۲جلد ۳۴۲مخ احسن الفتاوی ۴جلد ۲۸۲مخ)

په زکوة کي کومه کرنسۍ (نوټ) داعتبا ر وړدی؟

پوښتنه: یو له وطنه څخه لیري څوک (مهاجر) غواړي خپلو وطنوالو مسکینانوته د زکوة روپۍ وروليږي. مګر د دي ځای او هغه ځای روپۍ (سکې) سره فرق لري د مثال په ډول که له دي ځایه څخه (۵۰/۰۰۰) روپۍ وليږي نو هلته (۴۰/۰۰۰) روپۍ رسیږي. نو تاسو راته داوښائي چي زکوة د (۵/۰۰۰) زرو روپو اداء شوي دي او که د څلويښتو زرو؟ دغه رنګه که مونږ په خپل هیواد کي د هیوادبلي داسي برخي ته چي کرنسۍ ئي له مونږ سره فرق لري د زکوة روپۍ ليږو، نو زکوة به مو په څه ډول اداء شوي وي؟

ځواب: زکوة ورکونکي چي د کوم هیواد له کرنسۍ څخه زکوة اداء کړی دی هغه کرنسۍ د اعتبار وړده، د هغه هیواد په کرنسۍ سره ئي چي د هرڅو مره مال زکوة اداء کړ د هغو مره مال زکوة اداء شوی دی. د هغه بل هیواد کرنسۍ که تري کمه وي او که زیاته. (آپ کي مسائل ۳جلد ۴۱۳مخ)

په غير ملکي سکې سره د زکوة اداء کولو طريقه:

مسئله: په زکوة اداء کولو کي داضروري ده چي د زکوة اجبه اندازه به مستحقینو (مسکینانو) ته ورکوي او د هغوی په وررسولو چي کوم لګښت کیږي هغه به د زکوة اداء کونکي په غاړه وي، هغه لګښت د زکوة له روپو څخه پوره کول روانه دی. ځکه چي په دي سره په

واجب شوي اندازه کي کموالی راځي اوزکوة په پوره ډول نه اداء کيږي. (فتاوی محمودیه ۱۲جلد ۱۴۱مخ)

تر وارله مخه زکوة اداء کول:

مسئله: دنصاب ترخاوند کیدلو وروسته او دکال ترپوره کیدلو له مخه دزکوة اداء کول روادی مګر دنصاب ترخاوند کیدلو له مخه روانه دی.

دتروخت له مخه زکوة ورکولو دپاره ددریو شرطونو خیال ساتل ضروري دی. لومړی داچي دوار له مخه زکوة ایستلو په وخت به دنصاب کال پیل شوی وي دوهم داچي دکوم نصاب زکوة چي هغه تروخت له مخه اداء کوي هغه به دکال ترپایه له مینځه نه ځي او دریم شرط دادی چي اصلي نصاب به دکال په مینځ کي نه ضائع کیږي.

ددي صورت دادی: چي له یو چاسره دسپینو یا سروزرو یادتجارت دمال ترنصاب لږکم څه موجودؤاو هغه ئي ترپوره کیدلو له مخه زکوة اداء کړاوترزکوة اداء کولو وروسته نصاب پوره شو؛یا داسي ؤ چي له چاسره دوه سوه درهمه یاددووسوو درهمو تجارت مال ؤ،هغه دزکوة پنځه درهمه اداء کړل اودهغو پنځودرهمو په لیري کیدلو سره نصاب پوره نشواو په ناپوره نصاب باندي ټول کال تیرشو.(طحاوي)

په څه ډول چي دیونصاب زکوة تروخت له مخه ورکول روادی همدغه رنګه دزیاتونصابونوزکاتونه تروخت له مخه ورکول هم رواد ی. (فتاوی قاضي خان)

مسئله: له یو چاسره دوه سوه درهمه ؤمګرهغه تروخت له مخه دزرودرهموزکوة چاته ورکړ،نو که په دغه کال کي دننه ورته نورمال راغی یائي په دغه سرمایه باندي دومره روپی وګټلي چي دنصاب دکال پوره کیدلو پروخت ورسره زر درهمه موجودؤ،نو تروخت له مخه

ایستلي زکوة ئي اداء شوي دي اوله ذمي څخه ئي دزرودرهموزکوة ساقط شوي دي او که داسي وشول چي دتروخت له مخه زکوة ورکولو وروسته کال پوره شو خوزرد درهمه لاموجود شوي نه ؤاوتر کال پوره کیدلوورسته زرد درهمه پوره شول اویادغومره قیمت مال ئي ترلاسه کړ،نوداوخت بیاهغه تروخت له مخه زکوة دبل کال دمال دپاره کافي نه دی. دنوي مال یاروپوله ترلاسه کولوورو سته چي کله بیادنصاب کال پوره شي ،نوزکوة وربانديواجب دی. (بحرالرائق)

مسئله : که له یوچاسره زرروپی موجودي وي خوهغه پـه دي نیت ددووزرورو پوزکوة ورکړچي که په دغه روان کال کي ماتـه زرنوري راشي نودابـه دهغوتروخـت لـه مخـه (پیشـکي) زکـوة شـي،اوکه رانغلي،نوبیـادراروان کـال دزرورو پوزکـوة دی ،نودغـه نیـت ئـي صحیح کیږي.

مسئله : له یوچاسره څلورسوه درهمه ؤاودهغه داخیال شوچي پنځه سوه درهمه دي ادپنځـه سوودرهموزکوة ئي اداء کړ،وروسـته ورتـه معلومه شوه،نودهغه دپاره ددي چانس شته چي پـه زکوة کي زیـاتي ورکړل شوي روپی دراتلونکي کال په زکوة کي ولګوي.

(محیط السرخسي وفتاوی عالمګیري ۴جلد ۱۵مخ)

مسئله : که یوڅوک دخپل مال زکوة ترکال پوره کیدلوله مخه ورکړي اویادڅوکلونوزکوة تروخت له مخه اداء کوي،نودا ورته روادی. [illegible]

که یو غریب ته تروخت له مخه زکوة ورکړل شواوبیا هغه مالدار یامړشو؟

مسئله: که کوم محتاج ته تروخت له مخه (پیشکي) زکوة ورکړل شوی ؤاوتر کال پوره کیدلو له مخه هغه محتاج سړي غني (شتمن او یامړشواویا (نعوذبالله) له اسلامه څخه بهرشو، نوهغه زکوة چي هغه ته ورکړل شوی ؤ هغه صحیح دی اواداء شوی دی. (عالمګیری۴جلد۵امخ)

مسئله: ځکه چي دزکوة یاعشرپه ورکولو کي هغه وخت داعتبارو ړدی چي فقیرته ورکول کیږي؛ اوداچي په راتلونکي کي څه پیښیږي هغوته اعتبارنشته. که دزکوة ورکولوپروخت هغه مسکین ؤ، نوبیادزکوة په اداء کي هیڅ شک نشته. (عالمګیري۲جلد ۴۸مخ)

دزکوة له روپو څخه قرض ورکول:

پوښتنه: زه هره میاشت دزکوة روپۍ له خپل مال څخه جلاکوم او درمضان المبارک په میاشت کي ئي مسکینانوته ورکوم، که یوڅوک راڅخه قرض وغواړي، نوزه کولای شم چي دزکوة له روپوڅخه ئي ورکړم؟

ځواب: ترڅوپوري چي دزکوة روپۍ له تاسره وي ترهغه وخته ستاپه ملکیت کی دي، نوته چي ورباندي هرڅه کول وغواړي هغسي کولای شي. (آپ کي مسائل ۳جلد۳۸۰مخ)

له موجود وروپوڅخه به زکوة ورکوي اوکه له نوروڅخه؟

پوښتنه: له زید سره دوه سوه روپۍ دي، نوآیاله دغودوو سووڅخه به پنځه روپۍ په زکوة کي ورکوي اوکه به هغه دوه سوه روپۍ پوره له

ځان سره ایږدي او دزکوة دپاره به له کوم بل ځای څخه په قرض یا بل ډول روپۍ راپیدا کوي او بیا به ئي په زکوة کي ورکوي؟

ځواب: دادزید خوښه ده چي دهغو (دوو سوو) روپو څخه دزکوة پنځه روپۍ ورکوي او که له بل ځایه ئي ورته پیدا کوي، او که له هغه سره تردوه سوه نوري زیاتي وي نو دهغو په ورکولو سره هم زکوة اداء کیږي، دزکوة دپاره دقرض اخیستلو ضرورت نشته.

(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۹۵مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۴۱مخ)

یادونه: که ددوو سوو روپو لرونکي دبل نصاب خاوند نه وي نه صرف په دوو سوو روپو باندي ترهغه وخته زکوة نشته ترڅو چي ورباندي دوه پنځوس نیمي تولي سپین زرنشي اخیستل کیدای. (محمدرفعت قاسمي غفرله)

که چاته دزکوة په ورکیدلو او نه ورکید لوکي شک پیداشي:

مسئله: که یو چاته دزکوة په اداء کولو او نه اداء کولو کي (چي اداء کړي به مي وي او که نه) شک پیدا شو نو احتیاطاً باید دوهم وار زکوة وباسي. (فتاوی عالمگیري ۴جلد ۲۴مخ و علم الفقه ۴جلد ۳۱مخ)

په فِي سَبِيلِ الله کي کوم، کوم خلک داخل دي؟

پوښتنه: په (فِي سَبِيلِ الله) کي دلګښت کولو کوم، کوم ځایونه داخل دي؟ آیاد تبلیغ او اسلام ساتونکو تنخوا او دخوراک او سفر مصارف په هغو کي داخل دي؟

ځواب: بي له شکه چي په فِي سَبِيلِ الله کي دبدائع نومي کتاب دلیکوال رحمة الله علیه له تفسیر سره سم دخیرد لګښت ټول ځایونه داخل دي مګر کوم شرطونه چي دزکوة داداء دپاره دي دهغو ټولو لحاظ ساتل ضروري دی هغه دادی چي بلاعوض به دزکوة دمال دمحتاج ملک ګرزول کیږي. نو ځکه باید لومړي ورته دتملیک حیله

جوړه شي، ترڅو له هغه وروسته ئي په تبليغ، د کار کونکو په تنخواه اونورو کي لګښت رواشي. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۲مخ په حواله ردالمختار باب المصرف ۱جلد ۸۳مخ)

مسئله: په زکوة کي چي داشرط دی چي د زکوة مال به بلا عوض دمسکين ملک ګرزول کيږي داپه هيڅ وخت اوهيڅ ډول پريښودل کيدای نشي (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۹۰مخ)

دفی سبيل الله دلفظ لفظي معنی ډيره عامه ده. کوم کارچي دپاک خدای جل جلاله درضاترلاسه کولو دپاره کيږي هغه ټول دغه مفهوم له مخي په في سبيل الله کی داخل دي هغو خلکو (چی درسول الله صلی الله عليه وسلم دتفسير او بيان اوداماما نو دتفسير څخه بغير د قرآن کريم په صرف لفظي ترجمه پوهيږي) دلته غلطي کړي او کومي ئي چی دفي سبيل الله دلفظ په ليدو سره دزکوة په لګښت ځايونو کي هغه ټول شيان ورګډ کړي اوګڼوي چي له يو نه يو حيثيت څخه نيکي يا عبادت وي. لکه دمسجدونو، مدرسو، شفاخانو، مسافرخانو اوداسي نورو رغول. دڅوروڅاګانو، پلونو اوسړکونو جوړول چي دا ټول سراسر غلط او داجماع امت په تکرکي دي. اوکومو علماء کرامو (دفقهي پوهانو) چي طالبان (داسلامي علوم زده کونکي) يانوردنيکو کارو کونکي په دي کي ورګډ کړي دي، نوهغه په دي شرط چی مسکينان او محتاجان به وي اوداښکاره خبره ده چی محتاج اوفقير خود زکوة دلګښت ځايونو ترټولو لومړی ځای دی، هغه که دفي سبيل الله په مفهوم کي ورګډ نکړای شي هم دزکوة مستحق دی. که په يوه خبره باندي ژورفکروشي نوهغه به په دي مسئلي دپوره پوهاوي دپاره کافي شي هغه داده چي که دزکوة په مسئله کی دومره عاموالي

پروخت وي چي په ټولو عبادتو اوهرډول نیکیو کي خرڅ کول په هغه کی داخل وي، نوبیاپه قرآن کریم کي داتو (۸) لګښت ځایونو بیان (معاذالله) بي ځایه او چټي کیږي. اودرسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد چي مخته هم ذکرشوی دی سپارلي، بلکه پخپله ئي ورته (۸) ځایونه ټاکلي دي، نوکه دفي سبیل الله په مفهوم کي ټول طاعات او عبادات اونیکئ داخلي شي اوپه هریوه کي دزکوة مال لګول کیدای شي، نو(معاذالله) دحضورصلی الله علیه وسلم دغه ارشادمبارک خوبیا بالکل غلط شو. نواوس په ډیره اسانئ سره کولای شودا معلومه کړوچي دفي سبیل الله له لفظ څخه چي ناخبرو خلکو ذهن ته عاموالي ورځی داالله جل جلاله مرادنه دی، بلکه مرادهغه دی چي دحضورصلی الله علیه وسلم له بیان اودصحابه کرامو له تصریحاتو څخه ثابت دی. (دلا نه تفصیل دپاره دتفسیر معارف القرآن ۴ جلد ۴۰۸ مخ وګوری)

د لګښت ځایونو قدرتي ترتیب :

دزکوة دپاره چي دلګښت اته (۸) ځایونه په ترتیب سره بیان شوي دي دکم فکرکولوروسته کولای شئ معلومه کړئ چي داقدرتي ترتیب دی. ترټولوله مخه ددووهغوټولیو یادونه شوي ده چي په استحقاق کی ترټولوزیات رومبی دی یعني، فقیران اومسکینان، ځکه چي دزکوة لومړی مقصدله هغوسره مرسته کول دی.

دریيم وارد هغه ځایادونه شوي ده چي دهغوله موجودګي څخه بغیردزکوة نظام پخپل حال نشي پاته کیدای یعني (العاملین علیها) په څلورمه درجه کي (المؤلفة قلوبهم) راغلي دي چي دهغوروزنه لاس ته راوړل، دایمان دتقویت اودحق د خیراودي دپاره

ضــروري ؤ. پــه پنځمــه او شــپږمه درجــه د غلامــانو ازادول او قرضداراتو ته لـه قرضـوڅخه اوږي ورسپکول يادشوي دي چي نسبت مختنيو ته موقت او محدود ؤ.
په اووم قدم کی که د مستحقينو پورته ذکرشوی مال اندازه ډيره زياته شو يوي، نود هغه وخت او حال د پاره د(في سبيل الله) يادونه شوي ده چي يوه جامع او حاوي دروازه ده. پـه اخيرکـي د(ابن السّبيل) ذکرشوی دی ځکه چي په پخواکي داتړلو کم، او داندازي لـه لحاظه ډيرمحدود د پيښيدونکی لګښت ځای ؤ. (حقيقت زکوة ۲۵مخ)

ايا دزکوة مال به په دغو ټولو لګښت ځايونو ويشل کيږي ؟

پوښتنه: دلګښت ځايونوله بيان څخه مقصد دادی چي وجوباً بايد دزکوة مال په دغو ټولو لګښت ځايونوو ويشل شي، اوکه دا چي په دغوځايونوکي کولای شئ دزکوة مال ولګوئ؟

ځواب: په دې اړوند دفقهاؤ اختلاف دی، مګرد جمهورو مذهب دادی چي په يو وخت ئي پـه ټولو باندي ويشـل ضروري نه دی، ځنګه چي وخت، حالت اوضـرورت وي لـه هغوسره سم بايـد ولګول شي او دغـه مذهب د قرآن مجيد او حديث شريف لـه تصريحاتو او روحيي سره برابر دی ، په ځلورو امامانو کي صرف د امام شافعي رحمة الله عليه قـول لـه دي څخه بدل دی (حقيقة الزکوة ۲۴مخ، کتاب الفقه علی مذهب الاربعه۱جلد ۱۰۱۳مخ وعلم الفقه ۴جلد ۴۴مخ)

دزکوة وصولو نکواصول اوفضا ئل :

د اسلامي حکومت لـه طرفه چي دزکوة راټولو د پاره کوم خلـک ټيـږل کيږي، دهغود پاره حضور صلی الله عليـه وسلم ډيرهدايات فرمايلي دي پــه هغــو کي ډيــري هــدايات دهغــه چادپــاره هــم دي چــي

دمسلمانانو کوم نمائنده تنظیم یا کومې اسلامي اداري (مدرسو یا مکاتبو) ته دزکوة راټولولو دپاره سفرونه کوي که هغه خلک په سم ډول خپله ذمه واري اداء کړي نو په لاندینیو احادیثو شریفو کي ورته مختلفي خوشخبرئ اوزیري ورکړل شوی دی او څوک چي په دی کارکي بي پروایي کوي اودشریعت دحدودو خیال نه ساتي، نودهغو دپاره وعیدونه بیان شوي دي.

دحضرت دافع بن خدیج رحمة الله علیه څخه روایت دی چي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل «دصدقاتو راټولونکي چي په سم ډول دپاک خدای جل جلاله دپاره خپل کارپه مخ بوزي نو ترڅو چي واپس خپل کورته نه وي راګرزیدلي ترهغو دپاک خدای جل جلاله په لاره کي دجهاد کونکو په څیر دي. له حضرت ابوهریره رضی الله تعلی عنه څخه روایت دی چي رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «بهترینه ګټه دعامل ده په دي شرط چي هغه په خیرخواهي او سم ډول کار وکړي.

تشریح: په کوم کارکي چي دانسان دنه ختلو امکان او ځاېو نه ډیروي له هغه څخه که انسان سم اوبي داغه راووزي نو دهغه په اجراو ثواب برسیره ددغه آزمایښت څخه دسلامت راوتلو له امله هم ورته دقدرېيه سترګه کتل کیږي، تردي چي دانسان لاس ته ډیرمالونه رشته ورځي او که دهغه په زړه کي دالله جل جلاله ویره نه وي، نو په هرقدم کي ورته ستونځي مخ ته راځي. په دغه رنګه مراحلو کي که انسان په تقوی او پرهیزګاري باندي تکیه وکړي او دپاک خدای جل جلاله دحکمونو خیال وساتي، نو په یقین سره دغه دنفس په خلاف یولوی جهاد دی... (الترغیب والترهیب ۲ جلد ۱۹۴ مخ)

آیا زکوة راټولونکي هدیه قبلولای شي؟

حضرت عبدالله بن بریده رضی الله تعلی عنه دخپل پلارپه حواله نقل کوي چي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي مایوڅوک په څه کارباندي مقررکړاوهغه ته مي تنخواهم ورکړه ،ترهغه وروسته چي بیاهغه نورڅه اخلي،داخیانت دی.

په راټلونکي حدیث شریف کي دپورتني حدیث شریف لازیات وضاحت شوی دی: حضرت ابوحمید ساعدي رضی الله تعلی عنه فرمائي چي: حضور صلی الله علیه وسلم دازددقبیلي یو سړی (لتیبه) دزکوة راټولولودپاره ولیږو ،کله چي بیرته راغی نوحضور صلی الله علیه وسلم ته ئي دمال ورسپارلوپروخت وویل ،دغه ستامال دی اودغه ماته په هدیه کي راکړل شوی دی رسول صلی الله علیه وسلم دخپلي حکیمانه طریقي له مخه سمدستي هغه ته څه ونه ویل بلکه خطبي ته ولاړشواودحمد اوثناء ویلووروسته ئي وفرمائل:

زه له تاسوڅخه یوڅوک له دغوکاروڅخه دیوه دپاره ټاکم دکوموچي پاک خدای جل جلاله زه ذمه وارګرزولی یم اوبیاهغه راځي اوماته وائي چي داستادي،اوداهغه څه دي چي ماته په هدیه کي راکړل شوی دی ؛ هغه له خپل موراوپلارسره په کورکي ولي نه کښینست ،ترڅوکه هغه رښتیاسچه وای نودهغه هدیه به هغه ته کورته راتلای ،زمادي په خدای قسم وي چي له تاسوڅخه هرڅوک په ناحقه څه شی اخلي نوخامخابه دقیامت په ورځ په داسي حال کي راشي چي هغه به یي په شاوي ،نوداسي دي نه وي چي زه له تاسوڅخه یوڅوک دقیامت په ورځ په داسي حال وپیژنم چي هغه خدای جل جلاله سره

په داسي حال کي مخ کيږي چي غږمبيدونکي اوبښ يارمباري
وهونکي غويي او داسي نورئي پښا اخيستي وي له هغه څخه
وروسته حضور صلی الله عليه وسلم خپل دواړه لاسونه پورته کړل
تردي چي حضور صلی الله عليه وسلم دبغلو سپينوالی
ترستر ګو کيدو اوفرمائل ئي: ای الله جل جلاله ! آياماستا پيغام
بندګانو ته ورساؤ. (ترغيب ۱۷۹مخ)

تشريح: کله چي يو څوک په حکومتي يا بله محکمه کي وي چي ورسره
دعامه خلکو کاروباروي هغه ته هم چي تحفي ورکولي کيږي ډيري
دهغودي دپاره وي چي شايد کله به مي له دغه څوکئ لرونکي سره
کارپيدا شي. (ترغيب ۱۷۹مخ)

مطلب دادی چي زکوة راټولونکي ته چي هديي او تحفي ورکولي
کيږي هغه دده دذات په وجه نه بلکه دهغه دڅوکئ په وجه ورکولي
کيږي. که هغه دزکوة راټولولو په څوکئ نه وای ناکل شوی او پخپل
کورکي ناست وای، نوآيا هغه ته به چا تحفي ورکړي وای؟ له دي څخه
معلومه شوه چي که زکوة راټولونکي ته دهغه کوم خپل يادوست
تحفه ورکړي، نو بايد دينه وکتل شي چي که دغه تحفه هغه ته د هغه
دڅوکئ (وظيفي) له وجي نه، بلکه دخپل پخواني نزديکت او
مراسمو په وجه ده او يا داد هغو هميشني معمول دی، نو دغه تحفه
دهغه دپاره رواده. او که دتحفي ورکول صرف دهغه دڅوکئ يا وظيفي
له خاطره وي، نو ددغه رنګه تحفي اخيستل کله هم هغه ته روانه ده.
(مظاهرحق مديد ۲جلد ۴۹۲مخ)

عاملین څوک دي ؟

له عاملینو څخه مراد هغه خلک دي چې د اسلامي حکومت له خوا ددې د پاره ټاکل شوي وي چې له خلکو څخه صدقي، زکاتونه، عشر او نور را ټول کړي او بیا یې بیت المال ته وسپاري، څنګه چې دغه خلک خپل ټول وخت په دغه خدمت کې تیروي، نو څکه د هغو د ضرور تو ذمه واري د اسلامي حکومت په غاړه ده. د قرآن کریم په دي آیت شریف (العاملینَ عَلیها) سره دوئ یو له اتو لګښت ځایو نو د زکوة څخه ګرزول شوی دی او ویل شوي دي چي د دوئ د خدمت حق به د دغه زکوة له مال څخه ورکول کیږي.

په دي کي اصل دادی چي پاک خدای جل جلاله له مسلمانانو څخه د زکوة او صدقو را ټولو لو (اخیستلو) فریضه براه راست حضور صلی الله علیه وسلم ته سپارلیي ده، چي ذکر یي د دغه سورة په یو آیت شریف (خذ من اموالهم صدقة) کي راغلي دي چي معنی ئي ده ، واخله ته صدقه ای محمد صلی الله علیه وسلم له مالونو د مسلمانانو څخه ، ، د دغه آیت له مخي د مسلمانو په امیر باندی دغه فریضه اچوله کیږي چي هغه باید زکاتونه او صدقي را ټولي کړي. او بیا داهم څرګنده خبره ده چي امیر نشي کولای په ټول هیواد کي بغیر له نورو مرسته کونکو دغه چاره ترسره کړي، نو څکه د هغه د مدد کارانو ذکر په (والعاملین علیها) سره شوی ده. د دغه آیت شریف په عملي کولو سره حضور صلی الله علیه وسلم ډیر اصحابان رضی الله تعلی عنهم د زکوة را ټولولو د پاره ټاکلي ؤ او بیا یي د هیواد و نو هري برخي ته لیږلي ؤ او د آیت له لارښوونی سره سم ئي

دهغو دخدمت حق دزکوة له راټول شوي مال (روپو) څخه ورکړی ؤ په دوئ کي هغه اصحابان رضی الله تعلی عنهم هم شامل ؤ چي غنیان ؤ یواځي زکوة راټولونکوته دکارپه بدل کي دزکوة مال ورکول روا دی. ځکه چي دا په آیت شریف سره ثابت دی بل هیڅ یو چاته په هیڅ یو وخت او هیڅ یو ډول دکارپه بدل کي دزکوة مال نشي ورکول کیدای.

ددوو پوښتنو ځواب :

دلته دوه پوښتني پیدا کیږي لومړئ دا چي ولي یا په څه ډول دزکوة مال دخدمت په بدل کي ورکړشو ؟

دوهم دا چي ولي یا په څه ډول شتمنو (غنیانو) ته دزکوة مال ورکړشو ؟ ددغو دواړو پوښتنو ځواب یو دی چي دعاملینو حیثیت باید وپیژندل شي. هغه دا دی چي دوئ دفقیرانو وکیلان دي او په دي خوتول پوهیږو چي دوکیل قبضه د اصل (مؤکل) د قبضي په حکم کي دی. که یو څوک دخپلو قرضود اخیستلو دپاره وکیل وټاکي او قرضدار هغه قرض وکیل ته ورکړي نو هغه دوکیل ترقبضي لاندي شول قرضدار ور څخه خلاص دی. نو کله چي دصدقو او زکاتو راټولونکي دفقیرانو وکالت دحیثیت په لرلو سره زکاتونه او صدقي راټولوي، نو دورکونکوئي زکوة اداء شوی دی؛ دا وخت داټول شته دهغو فقیرانو ملک دی چي دوکیلانو له طرفه ورته راټول کړل شوي دي ،نو هغه روپۍ چي عاملینو ته ورکولي کیږي هغه دمالدارانو له طرفه نه، بلکه دفقیرانو له طرفه ورته ورکولي کیږي او فقیرانو ته په دغه راټول شوي مال کي دهرډول تصرف اختیار شته.

عاملين چا دفقيرانو وكيلان كړي دي؟

پاته شوه داپوښتنه چي دغه عاملين څه ډول دفقراؤ وكيلان شول ؟ ددي ځواب دادی چي دا سلامي حكومت مشر په قدرتي ډول دالله جل جلاله له طرفه دټول هيوادد فقيرانو او محتاجانو وكيل وي ځكه چي دهغو دټولو ضرورتونو ذمواري د اسلامي حكمت دمشر په غاړه ده ،نو هغه چي كوم كوم خلك دزكوة اوصدقوراټولولو دپاره ټاكي هغه دمشر دنائب دحيثيت په لرلو سره دفقيرانو وكيلان ګرزي.

ا يا د مدرسو سفيران (استاذي) په عاملينو كي داخل دي؟

نن سباچي دا سلامي مدرسو او انجمنو مهتميمين او يادهغو استاذي دمدرسو او انجمنو دپاره زكاتونه اوصدقي راټولوي. دهغو داحكم نه دی كوم چي دصدقي دعاملينو په اړوند په آيت شريف كي راغلي دي چي دزكوة له روپو څخه دهغو تنخواه وركوله كيدای شي ،بلكه دهغو دپاره لازماً بايد دمدرسو يا انجمنو له خواځانګړي تنخواه وټاكله شي. دزكوة له مال يا روپو څخه دهغو تنخواه نشي وركوله كيدای وجه ئي داده چي دغه خلك (مهتمم وي كه دهغه استازی) دفقيرانو وكيلان نه ،بلكه دزكوة وركونكو وكيلان دي ،دهغوله طرفه دوئ ته دزكوة دمال په مناسب ځای لګولو اختيار وركړي شوي دي. نوله دي امله دهغو تر قبضي لاندي راتللو وروسته هم زكوة ترهغه وخته پوري نه اداء كيږي ترڅو چي دوئ هغه مسكينانو يا محتاجانو ته ورنكړي. دوئ دفقيرانو وكيلان ځكه نه دي چي په حقيقي ډول خو دوئ فقيرانو وكيل نه دي ګرزولي او دمؤمنانو اميرته چي دعامه مشري په وجه كوم وكالت

دفقيرانو خودبخوده حاصليږي هم دوئ ته حاصل نه دي، نوله دي امله كوم مال دزكوة چي دوئ ته وركول كيږي داسي دي لكه د مال له اصلي خاوند سره چي وي. په دغه كاركي په عام ډول له بي پروايئ څخه كارا خيستل كيږي، ډير خلك مهتميمين يانوردخلكو زكاتونه راټولوي او بيا په كلوكلو ورسره ايښي وي، اوزكوة وركونكي دافكر كوي چي زكوة مي اداء كړ، حال دادي چي دهغوئ زكوة به هغه وخت اداء كيږي چي دزكوة مال ئي په مناسب لګښت ځاى كي ولګيږي. (معارف القرآن ۴جلد ۳۹۹مخ)

په ښکاره ډول دزكوة اداء كول

مسئله: په دي نيت چي خلك دزكوة اداء كولو ته تشويق كړي دزكوة په ښكاره ډول اداء كول روادي، مګردرياكاري اوځان ښكارولو په نيت دهغه تشهيرروانه دی، بلكه په دي سره ثواب ضائع كيږي.

مسئله: فقهاء رحمة الله عليهم فرمايي چي كله څوك زكوة اداء كوي، نوپه ډاګه ياښكاره ډول اداء كول ئي بهتردی اونفلي صدقي اوخيراتونه په پټه اداء كول ډيرثواب لري. (فتاوى عالمګيري ۴جلد ۴مخ)

دلته هم درياكاري څخه ځان ساتل پكښي ضروري دی. (قاسمي غفرله الله)

بل ښارته دزكوة ليږل څنګه دي؟

پوښتنه: زيدخپل زكوة اوسرسايه (قدقة الفطر) دخپل ښار غريبانوته نه وركوي بلكه چيرته ليږي دبل ښارمسكينانوته ئي ليږي. آيا داسي كاركول په شريعت كي روادی؟

ځواب: بل ښارته دزكوة ليږل مكروه تنزيهي دی، خوكه هلته دليږونكي له خپلوانو څخه څوك مسكين وي، يادد غه ښارتر

مسکینانو هلته زیات مستحقین موجودڅ ،یا هغه څوک چي زکوة ورلیږل کیږي نیک یا د دیني علوموزده کونکی وي. او یا د زکوة بل ځای ته په لیږلو کي د عامومیسلمانانو ډیري ګټې وي،نو بیامکروه نه دی،بلکه د اهل او قرابت حق د خپل ښار تر مسکینانو زیات دی.
(احسن الفتاوی ۴جلد ۲۴۹مخ فقه الزکوة ۲جلد ۳۵۳مخ)

مسئله: کله چي د بل ځای خلک غریب او محتاج وي یا عزیزان او قریبان وي او ضرورت مند وي،یا د هغه ځای خلک په دیني تعلیم باندي مشغول وي،نو د اسي خلکو ته د روپو په ورلیږلو کي هیڅ منعه نشته،بلکه په بعض ځایو کي ورباندي زیات ثواب حاصلیږي.
(فتاوی رحیمیه ۵ جلد ۱۵۵مخ بحواله هدایه ۱جلد ۱۸۸مخ و معارف القرآن ۴جلد ۴۱۱مخ)

مسئله: د زکوة روپۍ د غیر اسلامي ممالکو غریبانو مسلمانانو ته ورکول هم روا دی،مګر شرط پکښي دا دی چي هرچاته ورکول کیږي هغه باید د نصاب خاوند نه وي او د زکوة د مال مالک وګرزول شي.
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۷۷مخ)

مسئله: غرض دا ده چي د ټولو خیال باید وساتل شي،که د زکوة په روپو کي ګنجایش ځنو هر حاجت لرونکي او قریب ته دي ورکړای شي او که ګنجایش کم ځي یا دي لومړی قریبانو ته ورکړل شي بیا نورو مسکینانو ته. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۲۲مخ بحواله الدرالمختار ۲جلد ۹۳مخ)

دمستحق دنه موجودیت په صورت کي د زکوة څنګولوحکم:

پوښتنه: کله د اسي کیږي چي مستحق نه وي او د زکوة روپۍ تر بل رمضان المبارک پوري اینبي وي نو د تیر کال روپۍ د راروان کال له روپو سره تقسیمول څنګه دي؟

ځواب: ټول د زکوة مال له وجوب څخه سمدستي وروسته تقسيمول ضروري نه دي، بلکه په لږلږ ويشلو سره هم زکوة اداء کيږي خودورکولو پروخت ئې نيت لرل ضروري دي او زر اداء کول ئې ډير بهتر او زيات احتياط دي، او ځنډ کول پکښې مناسب نه دي بلکه بغير له عذره ئې ځنډول مکروه دي. (فتاوى محموديه بحواله ردالمحتار۲جلد ۲۷مخ).

دزکوة له روپو څخه غريبانو ته تجارت برابرول:

پوښتنه: دلته د (خدمتګارانو د ټولني) په نوم يوه اداره ده. ددې دپاره ځوانانو چنده راغونډه کړي ده چي ډيري روپۍ ئې دزکوة دي؛ اوس دوئ هغه روپۍ غريبانو ته قرض ورکوي ترڅو هغوئ ورباندي يو کاروبار برابر کړي او له ګټې کولو څخه وروسته د قرض وخپل سر بغير له سود څخه بيرته هغې اداري ته ورکړي، غريب ته د غه روپۍ ورکول شرعاً څنګه دي؟

ځواب: دزکوة روپۍ دي دزکوة په لګښت ځايونو کي ورکړي غريب ته د قرض ورکولو اجازه ئې نشته. که دزکوة ورکونکي له طرفه اجازه ورته وي هم جائز نه دي ترڅو چي محتاج دزکوة د مال مالک و نه ګرزول شي ترهغه وخته پوري زکوة نه اداء کيږي، لهذا دزکوة حقدار ته دي قرض نه بلکه ملکاً ورکړلي شي. (فتاوى رحيميه۳جلد ۲۰۳مخ دارالعلوم۲جلد ۱۹۵مخ)

دزکوة په نيت د خرڅونکي شي قيمت کمول:

پوښتنه: دنصاب خاوند په يو غريب باندي څه شي خرڅاؤ، چي قيمت ئې دري سوه روپۍ ؤ غريب ورڅخه وغوښتل چي دخداى جل جلاله دپاره دهغه قيمت ټيټ کړه، خرڅونکي دالله جل جلاله دپاره سل روپۍ پرېښودلي. آيا هغه کولای شي دغه روپۍ په زکوة کي شمار کړي؟

ځواب: دغه ډول روپۍ په زکوة کي شمارل روانه دي. خو دارنګه کيدای شي چي هغه شی دوه برخي کړي يوه برخه دي په دوه سوه روپۍ ورباندي وپلوري اويوه برخه چي قيمت ئي سل روپۍ دی هغه دي په زکوة کي ورکړي. يادي هغه شی ورباندي په دري سوه روپۍ خرڅ کړي روپۍ دي ورڅخه واخلي اوبيادي سل روپۍ ورته بيرته ورکړي. (فتاوی محمودیه ۳جلد ۳۵مخ بحواله شامي ۲جلد ۱۲مخ)

دزکوة روپۍ د فقيرانودګټي دپاره لګول

مسئله: جمهورفقهاء په دي متفق دي چي دزکوة په اتو(۸) تاکل شوولګښت ځايونو کي هم دهغه داداء دپاره داشرط دی چي محتاج به دهغه مال ياروپو بلاعوض مالک ګرزول کيږي. بغيرله دي چي يوله فقيرانو يادږ ير ددوئ ددغه مال مالکان وګرزول شي که دغه مال ددوئ دګټي دپاره ولګول شي،نوزکوة نه دی اداء شوی؛ ځکه دامت جمهورفقهاء په دي خبره هم غږي دي چي دزکوة روپۍ دمساجدو،يتيم خانو، شفاخانواومدارسوپه بيارغونه اودهغوپه نورو ضروورياتو کي لګول روانه دي ،که څه هم دهغوګټه فقيرانواونورو هغو خلکوته رسيږي کوم چي زکوة اخيستلومستحق وي. (معارف القرآن ۴جلد ۴۰۹مخ)

چا ته دزکو ة ورکول اواخيستل روادی ؟

مسئله : له چاسره چي ترضرورت اصليه زيات ديونصاب په اندازه مال نه وي هغه ته زکوة ورکول کيدای شي ،اودغه رنګه خلکوته زکوة اخيستل هم روادی. اوپه ضروريات اصليه ؤکي داستوګني کور،دکارولولوښي اوکپړي اوميزاوکرسئ وغيره ټول داخل دي

نصاب یعني اوه نیمي تولي سره زر ۸۷ گرامه ۴۷۹ ملي گرامه. یادوه پنځوس نیمي تولي سپین زر چي ۶۱۲ گرامه او ۳۵ ملي گرامه کیږي یادهغه قیمت چي له چاسره وي. او هغه قرضدار هم نه وي، نو هغه ته دزکوة ورکول روانه دی. دغه رنګه که له یو چاسره څه نغدي روپۍ وي او څه سره یاسپین زروي. که یو لوته حساب وکړل شي د(۵۲ ۱/۲) تولو سپینو زرو قیمت ور څخه جوړیږي، نو داهم دنصاب خاوند دی اوزکوة ورکول او اخیستل ورته روانه دی. (معارف الرقرآن ۴ جلد ۳۹۲ مخ)

ا یا د مستحق د حال خیړل ضروري دي؟

پوښتنه: که یو څوک خپل ځان په په ظاهره په وینا او عمل سره دزکوة مستحق ښکاره کړي او دصدقي یابل څه سوال وکړي نو آیا صدقی اوزکوة ورکونکو ته ضروري ده چي دهغه داصلي حالاتو څیړنه وکړي اوبغیرله هغه زکوة ورنکړي؟

ځواب: ددي په اړوند داحادیثو روایات او دفقهاؤ اقوال دادی چي داضروري نه دی، بلکه که په ظاهر حالت باندي داغالب ګمان شو چي رښتنی فقیر دی، نو هغه ته زکوة ورکول کیدای شي. څنګه چي په حدیث شریف کي هم راغلي دي چي دحضور صلی الله علیه وسلم په مخ کي څوډیر بدحال لرونکي خلک حاضر شول، نو حضور صلی الله علیه وسلم د هغو دپاره له خلکو څخه دصدقو او نورو دراټولو امرورکړ، ډیر شته راټول شول او هغو خلکو ته ورکړل شول. حضور صلی الله علیه وسلم داضروري ونه ګڼله چي دهغو دحقیقي حال پوښتنه وکړي. (معارف القرآن ۴ جلد ۴۱۲ مخ)

دزكوة زيا تي حقداري مدرسي دي اوكه پوهنتونونه ؟

پوښتنه: زه د زكوة روپۍ خپلو قريبانو او ديني مدرسوته وركوم خوزما يو دوست وائي چي د عربي مدرسو پرځاى د متوسطو ښوونځايو او پوهنتونونو زده كونكو ته وركول زيات ثواب لري آيا زما د دوست دغه لارښوونه او عمل صحيح دى؟

ځواب: هر مسلمان ته ډيرښه پوهيږي چي ديني او مذهبي تعليم ترهرڅه بهتر او له حد څخه زيات ضروري دى.

چه نسبت خا ك . با عالم پاك

قصه داده چي د ديني زده كونكو په ړومبي والي كي د شريعت رواج كول او خپرول دى ځكه چي د شريعت مبلغين او حاملين همدغه زده كونكي (طالبان) دي د مصطفى صلى الله عليه و سلم امت د دوئ په ذريعه ظهور فرمادى ، دقيامت په ورځ به هم د شريعت پوښتنه وي، جنت ته تلل او له دوزخ څخه ځان ساتل په شريعت باندي له عمل كولو سره تړلي دي تولو نبيانو عليهم السلام چي په تولو كائيناتو كي بهترين مخلوق دي د شريعت رسول ؤ ترخلكو پوري. نو ترټولو لوى خيرات دادى چي د شريعت په خپراوي كي كوشش و شي.

ضروري يادونه :

يو د ډيره فكر او غور كولو وړ خبره داهم ده چي هرځاى كي چي تاسو وګورئ له مكاتبو (اسكولونو) او پوهنتونو سره د هغه هيواد د حكومت له خوا مرستي كيږي او حمايه كيږي، خو برعكس د هغو ديني مدرسو سره چي د خير خواهو او حق پرستو مسلمانانو په مرستو چليږي نورهيڅ هم نشته : نوله دي څخه وروسته د ډير كم عقل

انسان هم دافیصله کولای شي چي له کوم ځای او څاسره په مرسته کونکي به اجراو ثواب ډېروي ؟ لنډه دا چي له ديني مدرسو سره چي په حقيقت کي دا سلام قلعه ګاني دي دهغو د تل پاتــه والي، پرمختيا او ټينګښت د پــاره ستاسو په څير دیندار او غيرتمند و لس قرباني او مالي مرستي ترحد زياته ضروري ده لهذا : ستا کړ نلاره او د فکر طريقه ډېر په ځای، سمه او په زړه پوري ده ؛ او ستا دوست چي در ته څه ويلي دهغه لار ښوونه غلطه او ګمراهي کونکي ده دحجة الاسلام امام غزالي رحمة الله عليه په اثر (احياء العلوم) نومي کتاب کي ليکل شوي دي چي دزکوة او نورو دور کولو د پاره د داسي چا په لټه کي شئ چي د دنيا طمع او طلب ئي پري ايښي وي او د آخرت په تجارت کي مشغول وي. دکائيناتو سردار (صلی الله عليه وسلم) فرمايي چي ،، تاسو پاک خواړه وخورئ او په پاکو انسانانو ئي وخورئ ،، دغه رنګه ئي يو بل ارشاد دی ، چي دخير کار کونکو ته خپل خواړه ورو خورئ ! چي دوئ د الله جل جلاله طرفته متوجه دي. کله چي دوئ تنګ لاسي شي نو توجه ئي نورو طرفو ته اوړي. نو هرڅوک په وهيږي چي يو سړی الله جل جلاله ته متوجه کول ډېر بهتر دی تر هغو زرګونو خلکو ته ترور کولو د کوم چي توجه او فکر دنيا به لوري وي. حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه به همیشه خپل خيراتونه او زکاتونه دعلم خاوندانو ته ورکول او ويل به ئي چي زه د نبوت صلی الله عليه وسلم له درجي څخه وروسته دعلماؤ رحمة الله عليهم تر درجي بهتره بله درجه نه وينم ، ځکه چي که دعلم خاوندان تنګ لاسي شي نو د دين د پاره خدمت نشي کولای چي له دي امله په ديني امورو کي

نیمګړتیارامینځته کیږي،نوځکه داسلامي مدرسوزده کونکي په خپلومرستو،زکاتونواوصدقوسره علمي خدمت ته فارغول ترهرڅه بهتردی. (دخواب خلاصه فتاوی رحیمیه۲جلد۵مخ)

خرا بو عقیدو لرونکوته دزکٰوة ورکول څنګه دي؟

پوښتنه: دلته داسي محتاجان اوغریبان دي چي شرک، بدعت، تعزیه پرستي اونوربدکارونه کوي، لمونځ نه کوي روژه نه نیسي، له درواغو، زنااوغلاچخه نه یوداچي ځان نه ساتي بلکه بدکارني هم نه بولي. په دغه حالت کي دغوخلکوته زکوة ورکول څنګه دی که رواوي خوخیر، اوکه روانه وي نوزماپلاررغواړي چي دبل ځای محتاجانوته ئي ولیږي.

ځواب: ستاد کلي دغوخلکوته چي تاني حال لیکلی دی زکوة ورکول صحیح دی ځکه چي دښارغریبان هم حق لري، بلکه زیات. اودبل ځای مظلومین که څه هم حق لري هغوته په زکوة لیږلوکي اورسیدلوکي دبي احتیاطي ویره ده چي له امله ئي شایددزکوة اداء کیدل له شک سره مخ شي. ځکه چي دزکوة په مال کي داشرط دی چي محتاج به دهغومالک ګرزول کیږي. نودامعلومه نه ده چي تاسوچاته دزکوة مال ورلیږئ هغه پکښي دغه شرطونه پوره کړي اوکنه؟ اوهغه دزکوة په لګښت ځایونوپوهیږي اوکنه؟ ستاسودښارخلک دکوموحال چي تالیکلی دی که څه هم دهغودعقیدواوعملوخرابي خوښکاره ده مګرداهم څرګنده ده چي دوئ کلمه وایي اوداسلام دعوی لري، نوددي باوجودچي اعمال اوعقائدئي سم نه دي خوعموماً په دوئ باندي دکفرحکم نشي کیدای. خوکه له یوچاڅخه دکفرکلمه واوریدله شوه، یادهغه دحال له تحقیق څخه معلومه شوه چي دهغه عقیده دکفرده، نوپه هغه باندي بیادکفرحکم لګول کیږي. نوداچي

وربانديز په عام ډول د کفر حکم نشي لګول کيداى .نوله دي خاطره چي محتاج او غريب دي او له ګاونډيانو ياله ښاريانو څخه دي .نو څکه زکوة ورکول هم ورته صحيح دى. تردي زيات سپناوى او کش وګيرته ضرورت نشته. (فتاوى دار العلوم ۲ جلد ۲۳۲ مخ بحواله رد المختار ۹۲ مخ)

اندازاً زکوة ورکول څنګه دي؟

مسئله : اول بايد په سم ډول هغه څه ته حساب وشي چي زکوة وربانديز لازم دى بيائي بايد زکوة اداء کړل شي. که اندازه کمه ولګوله شوه نو د زکوة فرض د هغه په ذمه پاته دى که په پوره ډول حساب کول ممکن نه ؤ ،نو بيا بايد زياته اندازه ولګوله شي .(آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۷۳ مخ)

بي حسا به زکوة ورکول څنګه دي؟

پوښتنه : که يو څوک په کلني ډول زکوة نه باسي بلکه هره مياشت څه ناڅه غريبانو ته ورکوي او د ورکونکو شيانو حساب هم ورسره نه وي،نو آيا دا به په زکوة کي شمارل کيږي او که نه ؟

ځواب : د زکوة په نيت چي هر څومره مال محتاجانو ته ورکړل شي هغه په زکوة کي شمارل کيږي مګر دا به څنګه معلوموي چي زما زکوة پوره شوى دى او کنه ؟

نو څکه حساب کول ضروري دى او بيا د ادزکوة اداء کونکي خوښه ده چي ټول زکوة په يو ځاى اداء کوي او که لږلږ ،مګر حساب ئي بايد له ځان سره وساتل شي او د زکوة ورکولو په وخت لازمًا بايد د زکوة نيت وشي. کوم شى چي د زکوة له نيت څخه بغير ورکړل شي هغه په زکوة کي نه شمارل کيږى همدا راز که د زکوة مال يارو پيء جلا کښيو دلي

شي او بیا وخت په وخت مسکینانو ته ورکړل شي ،نو هم زکوة اداء کیږي .(آپ کی مسائل ۳جلد ۳۷۹مخ)

دزکوة دروپو ورکولودپاره د میاشتي ټاکل

پوښتنه : په ماچي څومره زکوة اداء کول لازم ؤهغه روپۍ مي ټولي له نوروروپو څخه جلا ایښي دي،دوه کورونه دي چې زه غواړم زکوة ورکړم،نوله دغوروپو څخه لږلږاخلم اوورکوم ئې څګه که ټولي ورکړم نوله هغو څخه لګیږي آیاداصحیح ده؟

ځواب : ستاسو دغه کارصحیح دی چې دزکوة روپۍ دي له نوروڅخه جلاکړي دي اوکله چې داداء مناسب وخت اوځای راورسیږی بیائي اداء کوي . (آپ کي مسائل ۳جلد۳۸۰مخ)

لږ، لږ زکوة ورکول څنګه دی؟

مسئله : که یوڅوک داغواړي چې دکال په اخیرکي دیوځای زکوة اداء کولوپه ځای هره هره میاشت څه روپۍ په زکوة کي ورکړي،نوداصحیح ده.

مسئله : که دټول کال په لږلږورکولوسره زکوة اداء کړل شي،نوهم زکوة اداء کیږي؛ اوکه دکال له پیل څخه ترپای پوري لږلږزکوة ورکوي داهم صحیح دی. (آپ کي مسائل ۳جلد ۳۷۹مخ وفتاوی محمودیه ۳جلد ۳۲مخ - ۱۱جلد ۱۲۸مخ)

مسئله : که یوچامسکین ته دزکوة له روپوڅخه په میاشتني ډول څه مقررکړل نوزکوة ئي اداء کیږي . (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۳۳۷مخ بحواله ردالمختار ۲جلد ۱۲مخ)

ترواجب شوي زکوة زیات ورکول څنګه دی؟

پوښتنه: که په یوچاباندي دري سوه روپۍ دزکوة واجب وي خوهغه دوه سوه زیاتي ورکړي،نوآیازکوة ئي ورباندي خرابیږي؟

ځواب : په دغه صورت کی ثواب زيات شوی دی؛ زکوة هم اداء شوا ودد وو سوو روپو نوروهم ثواب وشو. (فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۷۱مخ)

ا يا زکوة ورکونکي کولای شي زيات ورکړل شوي روپۍ د راروان کال په زکوة کي لګوي؟

پوښتنه : دزکوة چی دخومره روپو اداء کول واجب وي که ترهغوزياتي ورکړلي شي نوهغه زياتي دراتلونکي کال په زکوة کي شميرلي کيدلای شي کنه؟

ځواب : که دغه زيات مال دزکوة په نيت ورکړشو. نوبياهغه دراتلونکي کال په زکوة کي حسابيدلای شي. (فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۹۳مخبحواله ردالمختار۲جلد ۳۶مخ)

مسئله : که يو چارخت په زکوة کي ورکړ، اودورکولو په وخت ئي ورته (۸) روپۍ قيمت ولګاؤ، خوله ورکولو څخه وروسته معلومه شوه چی هغي قيمت (۱۲) روپۍ ؤ، نودغه رخت ياورکړل شوی بل شی که لاترهغه وخته له هغه چاسره موجودؤچي ورکړل شوی دی نوبيازکوة ورکونکی کولای شي هغه په دولس روپۍ شمارکړي. (فتاوی دارالعلوم)

په زکوة کي وکيل جوړول څنګه دی؟

مسئله : تاسو کولای شئ بل چاياداري ته روپۍ ورکړئ اودخپل ځان دپاره ئي وکيل کړئ چی هغه ستاسوله طرفه دزکوة مال دزکوة په سم لګښت ځای کی ولګوي، مګر ددووخبروخيال بايد پکښي وساتل شي:

لومړی: داچي په هغه وکيل به موددي پوره باوروي چی دزکوة روپۍ به صرف په حقدارانودزکوة باندي تقسيم کړي. اوپه نوروځايونودخيرات کي به ئي نه لګوي.

دوهم: داچی ترکومه وخته پوري چی دزکوة مال دوکيل په قبضه کي وي داسي ده لکه له تاسوسره چي وي. زکوة به هغه وخت اداء شي

چي كله دغه سړي يا اداره دزكوة مال هغه چاته وركړي چي دزكوة اخيستلو حقدار وي. ډيري اداري دزكوة روپۍ جمعه كوي او په كلونو كلونوئي له ځان سره ساتي. لګوي ئي نه دا يوه لويه بې احتياطي ده. (امداد و مسائل زكوة ۷۰مخ وفقه الزكوة ۲جلد ۳۹۴مخ)

په شرط سره دوكيل نيول

پوښتنه: زيد عمر په دي شرط وكيل كړ چي خاص حقدار د زكوة ته به زكوة وركوي كه هغه ټاكل شوى حقدار ته زكوة نه بلكه بل مستحق ته وركړي، نو د زيد زكوة اداء شوى دى؟

ځواب: په شامي نومي كتاب كي راځي چي په دي كي دوه خبري دي: يوه دا چي زكوة اداء كيږي دوهمه دا چي نه اداء كيږي. او وكيل ضامن دى. نو احتياط په دي كي دى چي بل مستحق ته زكوة ورنه كړي بلكه هغه ته ئي وركړي كوم چي زكوة اداء كونكى ورته ښوولي دى. (فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۵مخ بحواله ردالمختار ۲جلد ۱۵مخ)

مسئله: كه يو چاتاته روپۍ دركړي نه وي خودائي درته وويل چي زماله طرفه زكوة اداء كړه. تردي ويلو روسته تا د هغه له طرفه زكوة اداء كړ، نو د هغه زكوة اداء شو او ته بيا هغه روپۍ له زكوة اداء كونكي څخه واخله. (فتاوى شامي ۲جلد ۱۴مخ بهشتي زيور ۳جلد ۲۹مخ)

ا يا وكيل كولاى شي نائب ونيسي؟

مسئله: تا يو چاته د خپل زكوة دوه سوه روپۍ وركړي نو دا بيا د هغه خوښه ده چي پخپله ئي كوم غريب ته وركوي او كه ئي خپل نائب ته سپاري چي هغه ئي كوم غريب ته وركړي. د اصلي زكوة وركونكي د نوم اخيستل ضروري نه دى او هغه كه هغه سړي ته خپل

موریاپلار غریبان ښکاره شول نوهم ورکول ئې ورته صحیح دي، مګرکه پخپله غریب ؤنودخپل ځان دپاره ورګرزول ئي هغه وخت صحیح نه دي که تادانه ورته ویلي چې هرڅه ئې کوي هغسې ئي کړه. اوچاته چي ئي ورکوي هغه ته ئي ورکړه. اوکه داسې دي ورته ویلي ؤبیائي ورګرزول ورته روادي. (امداد مسائل زکوٰة ۱۲مخ بحواله فتاوی قاضی خان)

وکیل ته د زکوٰة په روپو کي اړول راړول څنګه دي؟

پوښتنه: یوچابل چاته ددي دپاره دزکوٰة روپۍ ورکړي چي په مسکینانوئي وویشي، خوهغه دغه روپۍ بدلي کړي یعني دلسو، لسو، لس لوټونه ئي ورڅخه له ځان سره کینښود اودهغوپه ځای ئې پکښې یو دسلوروپونوټ کینښود. نو آیا وکیل ته داسې کول روادي اوکنه؟

ځواب: په هرحال چي وي زکوٰة اداء کیږي خودادلون بدلون رواوالی په دي پوري تړلی دی چي دمؤکل له خواورته صراحةً یادلالةً دبدلولو اجازه ورکړله شوي ده اوکنه؟ نوصراحةً اجازه اخیستل بهتردی. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۰مخ)

مسئله: وکیل ته داروانه دی چي دبل چادزکوٰة روپۍ له خپلوروپوسره ګډي کړي اودزکوٰة ورکونکي زکوٰة هغه وخت اداء کیږي چي دزکوٰة مال ئي په شرعي لګښت ځای کی ولګیږي. که وکیل په خپلوروپوکي دمؤکل دزکوٰة روپۍ ګډي کړی اودوکیل ورته اجازه دګډولووه، نوبیاچي هروخت دزکوٰة روپۍ له نوروڅخه جلاکړي اودزکوٰة په نیت ئي فقیرته ورکړي، نوهغه وخت دزکوٰة اداء کونکي (مؤکل) زکوٰة اداء شواوکه وکیل دغه کاربغیرله اجازي دمؤکل (هغه څوک چي دی ئي وکیل کړی دی) وکړ، نودزکوٰة

ورکونکي (مؤکل) زکوة نه اداء کیږي؛ او کوم څه چي وکیل فقیرانو ته ورکوي نو هغه دوکیل له طرفه هغوئ ته هدیه یا صدقه ده.
(فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۳مخ بحواله ردالمختار۲جلد ۱۴مخ)

مسئله: تاخپل نمائنده یا وکیل ته دزکوة روپی ددي دپاره ورکړي چي مسکین ته ئي ورکړی مگرهغه بعینه هغه روپی چي تاورته ورکړي وي فقیرته ورنکړي بلکه هغه ئي له خپل ځانه په دي خیال دغومره روپی ورکړي چي هغه نوري به بیا زه راواخلم، نو هم ستازکوة اداء شو؛ خو په دي شرط چي هغه ستاروپی له هغه سره موجودي وي او دنورو روپو له ورکولو روسته ستا وکیل هغه ستا اصلي روپی ورواخلي. او که ئي ستاروپی تردي له مخه لګولي وي او بیائي دهغو پر ځای نوري مسکین ته ورکولي، نو بیا زکوة نه اداء کیږي؛
همدارنګه ئي ستاروپی هم ورسره اینبي وي خو دنورود ورکولو پروخت ئي دانیت نه ؤچي هغه روپی به زه رااخلم، نو بیا هم زکوة نه اداء کیږی. او بیا به په زکوة کي دغه روپی ورکوي.

آیا وکیل کولای شي دبل چادزکوة په روپو دځان دپاره څه واخلي؟

پوښتنه: آیا وکیل کولای شي دزکوة په روپو دځان دپاره غله جامي، میوه او داسي نور واخلي؟

ځواب: داهم دهغه چا په اجازه پوري تړلي ده چاچي دی وکیل کړی دی؛ که هغه ورته پری دڅه اخیستلو اجازه ورکړي وه، نو بیا ورته روادی او که نه ئي وه ورکړي بیا نه دی روا. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۰مخ)

آیا وکیل کولای شي خپلو ذي رحموته زکوة ورکړي؟

مسئله: که چادزکوة اداء کولو دپاره وکیل و نیوی، نو هغه وکیل کولای شي را اخیستل شوی زکوة خپلو ذي رحموته (چي وکیل ورته خپل

شخصي زکوة نشوای ورکولای) ددي له خاطره چي دی دبل چاوکیل دی ورکړي .(احسن الفتاوی ۲۹۸مخ ۴جلد)

مسئله : که یو چاوکیل ته دزکوة روپۍ دزکوة اداء کولو د پاره ورکړي، وکیل هغه خپل لوی یا وړوکی بچي یا خپلي میرمني ته ورکړي، نوصحیح دی خو په دی شرط چی دزکوة اخیستونکي به غریب وي : (درمختار ۱ جلد ۱۳۰مخ وفتاوی عالمگیري ۴جلد ۴۰مخ)

مسئله : زید عمر ته دزکوة روپۍ ددي د پاره ورکړي چي په محتاجانوئي وويشي . عمر پخپله دنصاب خاوند دی خو میرمن ئي مسکینه ده ، نوعمر کولای شي دزید دزکوة روپۍ خپلي میرمني ته ورکړي .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۹۲مخ)

ا یا وکیل پخپله زکوة وراخیستی شي؟

پوښتنه : زید عمر د خپل زکوة د پاره وکیل کړچي لس زره روپۍ زماله طرفه مستحقینو ته ورکړه . عمر دوکالت اخیستلو په وخت کي شتمن ؤ ، خو په ناڅاپي ډول مسکین شو نو هغه دزید زکوة پخپله وراخیستلای شي او کنه ؟

ځواب : وکیل ته دا روانه ده چي د خپل مؤکل (وکالت ورکونکی) زکوة پخپلو لګښتونو ولګوي او یا یي له ځان سره وساتي . مګر کله چي هغه ته داویل شوي دي چي هر چیري ستاخوښه وي دغه دزکوة مال تقسیم کړه ، نو که تر هغه وروسته عمر مسکین شو نو بیا هغه کولای شي دزید زکوة خپل ځان ته وروګرزوي .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۷مخ)

ایا وکیل زکوة پخپل ځان لګولای شي؟

پوښتنه: زید دیو مسجد امام دی چي د کلي یا کوځي خلک ورته نفلي یا واجبي صدقي ورکوي او ورته وائي چي مدرسي ته ئي ورکړه، زید هغه مدرسي ته ورکوي. او څوک چي ورته وائي چي طالب ته ئي ورکړه، نو هغه ئي طالب ته ورکوي. کله خولا څوک ورته داسي هم وائي چي څنګه چي ته ئي مناسب بولي هلته ئي ولګوه. کله ناکله خولا زید چاته دا هم وائي او تصحیح وربانديكوي چي كه هر څوک مستحق وُ هغه ته دغه ستا مال ورکړم؟ صدقه ورکونکي ورته وائي چي هو! همداسي وکړه کله خلکو ته دا هم وائي چي تاسو ماته روپۍ راکوئ زه به ئي انشاء الله په سمو او مناسبو ځایو کي لګوم؛ کله چي خلک په پورتنيو ډولو نو هغه ته روپۍ یا مالونه سپاري، نو هغه ورڅخه یو څه په سمو لګښت ځایونو کي لګوي، او یو څه د خپلي مجبوریٔ، خواریٔ او قرضداریٔ په وجه پخپله استعمالوي. زید له بل چا څخه اوریدلي وُ چي که د صدقي ورکونکي وکیل ته ووائي چي چاته چي ستا خوښه وي هغه ته ئي ورکړه، نو په داسي حال کي چي وکیل پخپله مستحق (مسکین) وي نو هغه کولای شي دغه مال ځان ته وروګرزوي څه وخت وروسته زید ته معلومه شوه چي د شامي نومي کتاب له الفاظو څخه مفهوم دغه نه دی، نو ځکه د او وخت زید ډیر غمجن او په فکر کي دی چي دامي څومره غلط کار کړی دی، نه او س له هغه سره حساب شته چي څومره پیسي مي پخپله لګولي دي او څومره مي په مناسب ځای لګولي دي. او نه ورسره روپۍ شته او نه هغه روپۍ ورکونکي له دي څخه خبرولای شي. دا د زید د پاره ډیره شرمونکي ده

ځکه چي خلکو هغه ډیربنه سړی بللی ؤ ،نو اوس زید څه وکړي او د حل لاره څه ده؟

ځواب : په دغه صورت کی زکوة نه اداء کیږي دشامي نومي کتاب له الفاظو (ضعها حیث شئت)

ژباړه : (چیري چي ستاخوښه وي هلته ئي ولګوه) ده اوداد تملیک جمله ده ،اوداچي (چاته چي ته غواړي هغه ته ئي ورکړه) توکیل دی. په عام عرف کي بهشتي زیور دوهمي جملي ته داولی جملي فرعیت ویلی دی. یعني له تملیک وروسته ستاخوښه شي چي پخپل مصرف کي ئي لګوي او که بل چاته ئي ورکوي.دتیردجبران خوماته هم دسمون کوم صورت په نظرنه راځي ،داصرف یو تدبیر کیدای شي چي زید هغو خلکو ته چي دي ئي دزکوة دپاره وکیل ګرزولی ؤوائي چي دنه علم اونه پوهاوي په وجه له ماڅخه ستاسو دزکاتو نورو پی په نامناسبو ځایو نوکي ولګیدلي چي ضمانت ئي زماپه غاړه ؤ ،خوداوخت زه سخت غریب یم او دومره قدرت نه لرم چي ستاسو دغه قرض اداء کړم ،نو تاسو ماته دغو مره روپی دزکوة په نیت راکړئ زه به بیرته تاسو ته هغه ستاسو په قرضو کي درکړم. (والله اعلم) (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۸مخ)

که له وکیل څخه دزکوة روپی ضائع شوي :

پوښتنه : زید خالد ته ددي دپاره دزکوة روپی ورکړي چي په مسکینانوئي وویشي له خاله څخه هغه روپی ضائع شوي، نو په غه صورت کی دزید زکوة اداء شوی دی او کنه.اوآیا په خالد باندي زید ته ددغو روپو ورکول واجب دی او کنه؟

ځواب: په دغه صورت کي د زيد زکوة نه دی اداء شوی؛ او که خاله د د غورو په ساتنه کی بي پروايي نه وه کړي، نو بيائي په خاله باندي اداء لازمه نه ده. (احسن الفتاوی ۴ جلد ۲۸۹ مخ)

په زکوة کي حيله جوړول څنګه دی؟

پوښتنه: مدرسو ته د چندي روپی د ير کمی ورکولي کيږی خو د نفلي او واجبو صدقو لکه د روژي کفاره، د عيد د قربانيو پوستو کی او د اسي نورد ير زيات جمعه کيږي نو دا چي د چندي له روپو څخه د استاذانو تنخواه ورکوي آيا د دوی د غه عمل په ځای دی ؟

ځواب: دغه حيله سمه ده او د دي حيلي تر جوړولو وروسته هغه روپی د او ستاذانو په تنخواه کي ورکول روا دی او د څو مره روپو د پاره چي دوی حيله جوړول غواړي هغه پول دي په يو وخت و کړي څکه په دي کي د نصاب د اندازي شرط لازمي نه دی، فرق ئي صرف په اولی والي او غير اولی والي کي دی، او د حيله جوړونکو او د حيلي منونکو په دي کي هيڅ گناه نشته؛ بلکه د نيک نيت په وجه ئي د ثواب اميد هم شته. (فتاوی دارالعلوم ۲ جلد ۱۰۴ مخ)

په حيله کی شرط لګول څنګه دی؟

پوښتنه: غريب ته د زکوة روپی ورو سته له دی وينا څخه ورکړلي شوی چي يو ځلي ته د غه قبولي کړه او بيائي فلانئ مدرسی ته ورکړه، نو په دی ډول زکوة اداء کيږي او کنه ؟

ځواب: اصل خبره د نيت ده، که نيت سم وي نو زکوة هم اداء شوی دی، او که نيت ناسم ؤ، نو زکوة هم نه دی اداء شوی. په پورتني صورت کي په اداء شک شته که د چاد پاره بغير له حيلي جوړولو بله لاره نه

وه، نو هغه دي بغيرله څه ويلو دزكوة مال دزكوة حقدارته وركړي، او بيا دي هغه وهڅه وي او ترغيب دي وركړي چې دغه مال يا روپۍ بيرته مدرسې يا كوم بل څه ته وركړي. نو كه مستحق په خپله خوښه هغه روپۍ وركړي خو ډيره ښه ده او كه ورپسې نكړي نو په زوريا بل څه ئي ورڅخه څوک نشي اخيستلای ځكه چې دا وخت هغه (مستحق) دزكوة دمال مالک شوی دی. ددي پوزه تراود نيت او دكارله طريقې سره دی كه دوئ سم وي نو زكوة هم اداء شوی دی. دتمليک (دمسكين دملک) گرزولو دپاره ظاهري وركول او بيرته تري اخيستل كافي نه دی. (فتاوی رحيميه ۲ جلد ۹ مخ ومحموديه ۳ جلد ۵۵ مخ)

كه په حيله كی تمليک مقصود نه وي :

پوښتنه: بعض خلک دزكوة روپۍ دتبليغ دپاره وركوي او داورته وائي چې حيله ورته جوړه كړئ نو كله چې په تمليک كې اخيستونكی او وركونكي دواړه پوهيږي چې تمليک مقصود نه دی، آيا په دغه رنگه حيله جوړولو سره هم زكوة اداء كيږي؟ او په دې سره هغه روپۍ دټاكل شوي هدف دپاره روا كيږي او كنه؟

ځواب: حيله په شريعت كې روا ده او فقهاؤ هم ليكلې ده، او دهغو خيالاتو باوجود چې تاسو وايئ (چې په حيله كی دمال وركونكي او اخيستونكي دواړه پوهيږي چې تمليک مقصود نه دی) حيله صحيح ده او كول ئې ضروري دی. ترڅو دزكوة وركونكي زكوة سمدستي اداء شي. وروسته بيا خبره دمهتمم او نورو چارواكو خوښې ته پاته كيږي چې په هر ځای كې ئې لگښت مناسب وبولي هلته دي ولگوي. (فتاوی دارالعلوم ۳ جلد ۱۹۹ مخ)

مسئله: په زکوة کي دا شرط دی چي فقیر به دزکوة د مال مالک گرزول کیږي کـه دا سي نـه وي ،نوزکوة نـه اداء کیږي، نو کـه دزکوة لـه مـال یارو پو بغیر د چندي دزکوة د مال مالـک داسي یو څوک و گرزول شي چي دنصاب خاوند نه وي،بیائي هغه له خپله طرفـه پـه جلسـه ،انجمن اوبـل څـه کـي لگـوي. ددي صـورت پـه کـارولو کي پـه سـم ډول سـرتـه ورسیږي. پـه دي بیان دلا ښـه پوهاوي دپـاره لـه یو عـالم څخـه زبـاني تفصیلات وغواړئ. ترڅو موهغه په پوره اوسم ډول وپوهوي.
کـه حیلـي څخـه مقصـد بغیرلـه څـه وجـی اولـوی ضـرورتـه دشـریعت دیو حکم بـي معنـی کـول اودخپلو غو ښتنو پوره کول، اود گټو ترلاسـه کـول وي، نو ښکاره خبره ده چي دا یو ناروا کاردی او دپـاک خـدای جل جلاله لـه خوا بـه ئي لـه عامـل څخـه پوښتنـه هـم وشـي. او کـه یو څوک د کـوم دیني مصلحت دمخـتـه راتلولـه امله ناچاره شـي ،نو بیاحیلـه جوړول ورتـه روا دي. (محمد رفعت قاسمي رحمة الله علیه)

د مسجد د پاره د تملیک حیله جوړول څنگه دی؟

پوښتنه: پـه یو مسـجد کي د پنکوضـرورت ؤ او د مسـجد سـاتونکي (خـــدمتکار) پخپلـــه مســـکین ؤ ،مـــا څو پنکي واخیســـتلي او دمسجدخاوندته مي دزکوة پـه نیت ورکړي او هغـه دغـه پنکي لـه خپل طرفه په مسجد کي ولگولي. آیازمازکوة اداء شوی دی او کنه؟
ځـواب: کـه تاسو دمسجد خادم ددوئ مالـک (هغـه کـه دمسجد تـه ورکولو په شرط او که بغیرله شرطه وي) گرزولي وي او که څه هـم هغـه ستاله شرمه بغیرله پوره اخلاصه دزړه مسجدته ورکړي وي په هرحال ستازکوة اداء شوی دی. مگرپه شرط لگولو او غیرت ته په اړکولو کي

ستاګناه ده، او دغه پنکي بیا په مسجد کي لګول روانه دی. او که بغیر له غیرته ارکولو او په اخلاص دزړه دغه کار وشو بیا روا دی. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۲مخ)

مسئله: دزکوة په روپو باندي دمسجد دپاره جرناتور نشي اخیستل کیدای .خو داسي کیدای شي چي یو غریب قرض روپی واخلي او بیا و رباندي جرناتور واخلي او مسجد ته ئي ورکړي او دزکوة روپی بیا غریب ته دقرض اداء کولو دپاره ورکړلي شي.(آپ کی مسائل ۳جلد ۳۸۵مخ)

دحیلي په ذریعه هدیري دپاره ځمکه وقف کول:

پوښتنه: یو څوک غواړي دزکوة په روپو باندي دهدیري (قبرستان) دپاره ځمکه واخلي آیا په دي ډول چي دزکوة روپی یو غریب ته ورکړي او هغه ورباندی ځمکه واخلي او بیائي دهدیري دپاره وقف کړي دزکوة ورکونکي زکوة اداء کیږي او کنه ؟ اوثواب به ئي دمحتاج وي او که به دزکوة ورکونکی هم وي؟

ځواب: په پورتني ډول زکوة اداء کیږي. لومړی دي غریب ته دزکوة روپی ورکړي، هغه دي ددغو روپو مالک وګرزوي ،او بیا دي ورته مشوره ورکړي چي په دغو روپو باندي دهدیري دپاره ځمکه واخله. مګر وروسته له دی چي غریب دزکوة دروپو مالک شي د هغه خوښه ده چي دهدیري دپاره ځمکه اخلي او کنه، نو که وائي خلي نو ثواب ئي ددواړو سره ګډ دی. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۷مخ لحواله ردالمحتار ۲جلد ۱۲مخ وفتاوی محمودیه ۱۳جلد ۹۹مخ)

دزکوة په روپوسره په هدیره باندي قبضه کول:

پوښتنه: زمونږ په سیمه کی څو مساجد او هدیري دغیر مسلمو په قبضه کی ورغلي دي او یکښي ترحدزیاته بي ادبي کیږي، نو آیا دهغو دبیرته ترلاسه کولو دپاره دزکوة له روپو څخه کار اخیستل کیدای شي او کنه ؟

ځواب: دزکوة په روپوباندي ددي کارکول روانه دی. ځکه چي دزکوة په اداء کولوکي داضروري ده چي هغه مال به یو محتاج یاڅومحتاجانوته بلاعوض ملک ګرزول کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۲۲۲مخ بحواله زدالمحتار ۲جلد ۸۵مخ وفتاوی محمودیه ۱۳جلد ۹۹مخ)

په هد یره کی دزکوة روپی لګول څنګه دی؟

پوښتنه: په یوه هدیره کی مسجدهم شته اوترڅنګ ئي تالاب هم شته، نوکه یوڅوک دهدیری په ساتلوکي دزکوة روپی ولګوي نوزکوة ئي اداء کیږي اوکنه؟

ځواب: دمسجداوهدیري دواړوپه رغونه (بازسازي) کي دزکوة روپی لګول روانه دی. (فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۲۱۳مخ)

په مقدمه یا عدالت کي دزکوة روپی ورکول:

مسئله: که یوچاله بل چاسره په حکومت کي مقدمه لرله اودزکوة روپی ورته ورکړلي شوي، نوکه دغه مقدمه چلونکي مسکین ؤاوپه دغوروپوئي پوره قبضه وکړه اوورسته له هغه ئي دمقدمي په جریان کي ولګولي، نوزکوة اداء شوی دی. اوکه مقدمه چلونکي ته ورنکړای شوي بلکه نورچاله خلکوڅخه راټولي اوپه مقدمه یامحکمه کي ئي ورکړي، نوزکوة نه دی اداء شوی. (فتاوی محمودیه ۳جلد ۲مخ)

د شیا نو په ډول دزکوة ورکول څنګه دی؟

مسئله: که دزکوة به روپوباندي مستحق ته جامي جوړي کړلي شي اوهغه ته ورکړلي شی نوهم زکوة اداء کیږي. (فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۱۹۲مخ)

مسئله: که یوڅوک دزکوة په روپوو ریخي واخلي اوټول کال ئي په غریبانوویشي، نوهم زکوة ئي اداء شوی دی.
(فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۲۳۳مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۲۹مخ)

مسئله: كـه ستاسـو عزيز(خپـل) (چـي دزكـوة مسـتحق وي) پـه دي شرميدي چي دزكوة روپۍ واخلي، نوپه دارنگه ويلو سره چي (دغه روپۍ دروا خله او خپلو بچيانو ته ورباندي زماله طرفه جامي جوړي كړه) دزكوة وركول صحيح دی، په زړه كي ورته دزكوة نيول شوی نيت كافي دی. چاته چي دزكوة مال وركول كيږي هغه ته ئي دښكاره ويلو ضرورت نشته .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۹۷مخ بحواله ردالمحتار ۱جلد ۱۷مخ)

مسئله : كه دزكوة په روپو باندي دمستحقينو دپاره څه پاخه او هغوته وروخوړل شي (يعني هغوته وركړل شي او هغه ئي مالك وګرزول شي) اوياڅه شی واخيستل شي اوبيافقيرته وركړل شي، نوزكوة اداء شوی دی. (فتاوی دالالعلوم ۲جلد ۲۰۵مخ وفتاوي محموديه ۱۳جلد ۱۱۴مخ)

مسئله : مدرسوته چي دزكوة كومي روپۍ راځي دهغودغه اختيارلـه مهـتمم سـره دي چـي پـه نغـدي ډول ئـي طالبانوتـه وركوي، جـامي اوداغو ستوكالي وروكړي اوكه كتابونه ورته په اخلي اودوئ ته ئي وركوي. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۱۵مخ)

مسئله: كـه يو چـادزكوة غلـه خرڅـه كـړه اومسـكين تـه ئـي ورباندی دخوراک څه واخيستل يائي جامي ورته پري جوړي كړي او هغه ته ئي وركړل ،نوزكوة اداء شوی دی.

مسئله: داسمه ده چـي مسـكين تـه دشيانو(لكـه سامان او نـورو) پـه مشكل كي زكوة وركړل روا دی مګرددي خيال بايدلازمي وساتل شي چي خراب قسم شيان ورنكړل شي .(آپ كي مسائل ۲جلد ۳۸۲مخ)

دزکوة روپۍ په روژه ماتي یا پیشلمي کي لګول :

مسئله : درمضان المبارک په روژه ماتي اوپیشلمي کی دزکوة دروپولګښت په دي ډول روادی چي روژه ماتونکی یاپیشلمي کونکی مسکین وي اوپه داسي ډول ورته خوراک وویشل شي چي هریو دخپلي برخي مالک وګرزول شي. اوکه په خوړنکوکي غني (شتمن) وُ، نوبیاداسي کول روانه دی. (کفایت المفتي ۴جلد ۱۵۸مخ)

دزکوة په روپودديني کتابونواوقران کريم اخيستل اوويشل :

پوښتنه: یو چاديني کتاب چاپ کړاوپه تاجرانه قیمت ئي دزکوة حقداړانوته ورکړکله چي دزکوة دروپوپه اندازه کتابونه په مستحقینوو ویشل شوی، پاته کتابونه هغو مولوي صاحبانوته چي مستحقین نه ؤدهدیي په ډول ورکړل شول آیاپه دغه صورت کی خوبه دشریعت له نظره دزکوة په اداء کیدلوکي څه بدي نه وی؟

ځواب : په پوتني ډول ئي له شکه بغیرله څه بدي زکوة اداء کیږي بلکه داديني کتابونودخپراوي یوه ډیره ګټوره لاره ده. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۸۳مخ)

مسئله : په زکوة کي هرشي په رواجي قیمت سره ورکول کیدای شي خوپه دي شرط چي په تملیکي ډول به محتاج ته ورکول کیږي. که مدرسي ته وقف کړل شي اویاطالبانوته عاریهٔ دمطالعه کولودپاره ورکړل شي (یعني په داسي ډول چي بیرته ورڅخه غوښتل کیږي) ،نوبیازکوة نه اداء کیږي (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۲مخ)

مسئله : که یوچاډیرقرآنونه دزکوة په روپوباندي واخیستل اوغریبانوکوچنیانویالویانوته وویشل نوپه دي سره زکوة اداء کیږي.

اوکه ئي له هغو څخه کوم قرآن کريم شتمن ته ورکړ،نو دغو مره اندازه زکوة ئي نه دی اداء شوی،هغه به بيا اداء کوي.(رد المحتار۲جلد ۷۱مخ)

مسئله: که دزکوة په روپو سره ديني کتابونه چاپ يا واخيستل شي اومستحقينو علماؤ اوطالبانو ته ورکړل شي،يادزکوة په روپو باندی ديني کتابونه چاپ کړل شي او په تاجرانه قيمت لګولو سره دعلم خاوندانو ته ورکړل شي،نو دواړه لاري ئي دثواب دي.(فتاوی دارالعلوم۲جلد۱۶۵مخ)

دزکوة په روپو دکتابونو اخيستل او وقف کول:

پوښتنه: که يو چا دمدرسي دکتابخاني دپاره کتابونه دزکوة په روپو واخيستل او هغي ته ئي وقف کړل،نو صحيح دی او کنه؟

ځواب: په زکوة کی دا شرط دی چي دزکوة مال به دمحتاج ملک ګرزول کيږي.نو که دغه کتابونه دمحتاجو(مسکينو) طالبانو ملک ونه ګرزول شي،نو کتابخاني(لائبريري) ته په وقف کولو سره ئي زکوة نه اداء کيږي. (فتاوی دارالعلوم۲جلد۱۹۸مخ)

دزکوة په روپو اخيستل شوي کتابونه د مطالعي د پاره ايښودل:

مسئله: که يو چادزکوة په روپو باندی ديني کتابونه واخيستل او له ځان سره ئي ددي دپاره وساتل چي کله دمطالعي (کتني) ضرورت پيښ شي نو مطالعه کوي به ئي مګر چاته دداسي وراخيستلو اجازه نه وه چي دځان ملک ئي وګرزوي،نو په دغه صورت کي زکوة نه اداء کيږي.(فتاوی دارالعلوم۲جلد ۱۹۸مخ)

دزکوة په روپو دا سکول سامان اخيستل مسئله: يو څوک غواړي دخپل زکوة په روپو دسکول دماشومانو دپاره چوکئ،ميزونه اوداسي نورشيان واخلي،نو هغه په څه ډول دغه روپۍ ولګوي؟

ځواب: دزکوة داداء کیدلو دپاره تملیک شرط دی. او دا حقیقت دی چې په سکول او مدرسه جوړولو او سامان اخیستلو کی دغه شی نشته، نوځکه وربانديز کوة نه اداء کیږی. خوکه مستحق بلا عوض ددغه مال مالک وګرزول شو او بیائي پخپله خوښه هغه روپی دسکول په رغونه او سامان کي ورکړي، نو بیا زکوة اداء کیږي او هغه ته هم وربانډي ثواب ورکول کیږي. (فتاوی رحیمیه ۲جلد ۱۱مخ)

دزکوة په روپودرسالي جاري کول څنګه د ی؟

پوښتنه: یو چادزکوة روپی درسالي په اداره کی وزکړي، او خیال ئي داؤ چي تول کال به رسالي کوم نادار (مسکین) یا طالب ته رسږي، نو آیازکوة ئي اداء کیږی او کنه ؟

ځواب: دځومره قیمت په اندازه چي رسالي مسکین ته رسیږی دغومره زکوة اداء کیږي.

دزکوة په روپودکارخانې جوړول:

پوښتنه: آیادزکوة له روپو سره په ګډه په نوروروپو باندي ځوک کولای شي کارخانه جوړه کړي ترڅو دهغي له لاري له غریبانو او مستحقینو سره په مستقل ډول مرسته وشي؟

ځواب: داچي دزکوة اداء کیدلو دپاره فقیر دزکوة دمال مالک ګرزول شرط دی، نو ځکه دصنعتي کارخاني په جوړولو سره زکوة نه اداء کیږي؛ خوکه موکارخانه جوړه کړه او دیو یا څو فقیرانو مالیت موو ګرزوله، نو بیا دومره اندازه زکوة اداء شو ځومره چي ددغي کارخاني مالیت د ی. (آپ کي مسائل ۳جلد ۲۸۳مخ)

مسئله: دزکوة مال که دغریب پوره ملکیت ونه ګرزول شي، نوزکوة نه اداء کیږی اوو روسته له دي چی هغه ددغه رقم مالک وګرزول شي بیا که دهغه په اجازه اوو کالت ورباندی دکاروبارجوړولو تیاری وشي، نوروادی. (آپ کي مسائل ۴جل ۲۸۳مخ)

دزکوة په روپو د مکا ن جوړو ل ا و بیا ئي غر یب ته سپارل :

مسئله: یو چادزکوة روپی له خپلوروپو څخه بیلي نکړي بلکه په ټولوروپو په ګډولوئي په ذاتي ډول مکان جوړکړ، کومي روپی چي پري لګیدلي وي هغو ته ئي حساب وکړاوبیائي هغه کوردزکوة په نیت یو بي کوره غریب ته ورکړاوفقیرپه راجسترکي دخپل نوم په لیکلو سره په هغه باندي قبضه وکړه اوجوړونکي له دغه کورسره هرډول تړاواوحق خواهي ختمه کړه، نودغه رنګه مکان جوړول باکراهیت روادی ځکه دهغه په مالک کیدلو سره فقیردنصاب خاوندنه ګرزي بلکه دضرورت ځای ورته ورکړل شوی دی.

مسئله: که یو چادزکوة روپی له خپلوذاتي روپو څخه جلا اینښي وي، اوبیائي په خپلوروپوباندي کورجوړکړاو فقیر ته ئي ورکړي دکورجوړیدلو لګښت ته ئي حساب وکړهر څومره چي ئي ؤهغه ئي له جلاکړل شوؤروپو څخه بیرته واخیست، نو په دغه ډول هم زکوة بلاکراهیت اداء شوی دی.

مسئله: که یو چادقسط په ډول فقیرته دومره روپی په وار، واروورکولي چي هغه ورباندي دنصاب خاوندنه کیدی او فقیربیا هغه په کورجوړولو لګولي(که فقیرخپله ځمکه نه لرله، نواول دي ځمکه واخلي اوبیادي دفقیرملک وګرزوي) اوله هغه وروسته دترنصاب

کمورو پوپه ورکولو اولګولو سره کورجوړشو ،نو په دي ډول زکوة اداء کول هم روا دي .(ایضاح المسائل: ۱۱۵مخ واحسن الفتاوی ۴جلد ۴۹مخ)

د زکوة په روپو سره داجتماع په ذريعه مکان جوړول :

مسئله : که يوي کميټي يا دخلکو يوي شورى ته (لکه چي نن سبا رواج هم ده) دزکوة روپي ورکړلي شوي اوهغوئ په دغو روپو باندي کورجوړکړاو فقيرته ئي ورکړ ،په دغه ډول زکوة خو اداء کيږي خو داخرابي پکښي شته چي دغه روپي مختته تردي چي فقيرئي مالک وګرزل شي دکورجوړولو په سامان اخيستلو کی لګيږي اودکوة اصل رقم فقيرته نه رسيږي،نو که څه هم زکوة خواداء کيږي خوداامرممنوع دی. ددي صورت ډيرښه حل داکيدای شي چی لومړی کميټي ته له خپل ټول اصلي رقم څخه دکورجوړولووکيل ونيسي او کله چي کورتيارشي،نوهغه کوردي دزکوة په نيت مسکين ته ورکړي اودتل دپاره دي هغه ددغه کورپوره مالک وګرزوي،نوهغه وخت دي بيادکورجوړيدلولګښت ته حساب وکړي اوله زکوة ورکونکي څخه دي رااخلي؛نودا صورت بلاکراهت ددوئ دپاره جوازلرلای شي.
په پورتنيو څلوروصورتونو کي که دنصاب خاوند په هرڅه او هرډول (لکه دخبروکول) زوراچاؤيائي هغه ته يونه يوډول تکليف ورکاؤنوټول ثواب ئي بربادیږي اودفقيرپه ملکيت کي هيڅ ډول تاوان نه راځي .(ایضاح المسائل ۱۱۲مخ وفتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۲۱مخ)

دزکوة په روپو جوړشووکورونوويشل له شرائطو سره :

پوښتنه: که په لاندينيو شرطونو سره مستحقينو ته دزکوة په روپو جوړشوي کورونه ورکړل شي،نودزکوة ورکونکوزکوة

اداء شوی دی او کنه ؟
(۱) تـه بـه دغـه کورترپنځو کلونو پوري پـه بـل چانـه خرڅوي، دزيـاتي مدي دپاره حدنشته.
(۲) دغـه کورستادکاروني دپاره درکـول کيږی،دابـه کرايـه دار تـه نـه ورکوي او بـل چاتـه بـه ئي داستعمالولودپاره نـه ورکوي.
(۳) کـه دي دغـه کورپـه کرايـه ورکړيادي بـل چاتـه داستعمال دپاره ورکړ،اوبيا کمیټـه خبـره شـوه،نوددي کوردا ستعمال حق درڅخـه اخيستل کيږي.
(۴) پـه کوربانـدي چي کمیټي پـه میاشتني ډول څومره روپۍ تـاکلي دي هره میاشت هغه اداء کړئ اورسيدئي ترلاسه کړئ
(۵) دغـه کوربـه پـه کوم بـل کورنـه بدلوئ.
(٦) ددي کورچت (بام) بـه دکمیټي پـه قبضه کي وي.
(۷) پـه راتلونکي کي بـه دکورخرڅولو اوپريښـودلوپه صـورت کي لـه کمیټي څخه دنوي مخصوص کارت پـه اخيستلو سره.خپل کارمخته بوزئ
(۸) پـه پورتنيو شرائطو برسيره بـه دکمیټـي لـه خواوخـت وخـت راتلونکي حکمونه او شرائط هم منئ او پـه هغوبـه عمل کوئ.
ځواب: زرګيه ! زکوة خو هغه وخت اداء کيږي کله چي محتاج دزکوة دمـال مالـک وګرزول شي اودزکوة ورکونکي تراوورسره پـه کـافي اوپوره ډول ختم شي.هغـه دشرطونو لړی چي تاسوفرمائلي ده هغـه دعاريت (پـه عـارضي ډول چا تـه دڅه شي ورکولو) شرطونـه دي.
لهذا: کـه يو چاتـه پـه دغو شرطودزکوة پـه روپو جوړشوی کورورکړل شو ،نوزکوة ورباندي نـه دی اداء شوی. دزکوة اداء کيدلو شکل دادی چي هرچاتـه چي دغـه کورونـه ورکـول کيږي هغـه دي ددوئ مالکـان

وګرزول شي او د قانوني ملکيت کاغذونه (ټيکټونه) دي داسي ورته جوړکړل شي چي هغه پخپله کورکي دهړوول تجاوزاو بدلون پوره حق ولري او له هره اړخه وربانډي دکميټي پابندي ختمه شي که داسي ونه شي ،نو په زکوة ورکونکو لازمه ده چي خپل زکوة دوهم ځل وباسي.
(آپ کي مسائل ۳جلد ۳۸۹مخ)

د زکو ة په روپو جوړوشوو کورونو با ندي کمه کرايه اخيستل :

پوښتنه: مونږ(۲) جريبه ځمکه په کرايه واخيستله،اوس اراده لرو چي کورونه وربانــدي جوړکړواو بيــائي غريبانوتــه پــه کمــه کرايــه ورکړواو دغــه کورونــه دزکــوة پــه روپو جــوړيږي؛اود ځمکــي کرايــه مونږورکوو ،نوآيا ددغه رنګه کورونوپــه جوړلو کــي دزکــوة دروپوپــه لګولو سره زکوة اداء کيږي او کنه؟

ځواب: پــه پــورتني صــورت کــي دزکــوة پــه روپــو دځمکي اخيســتل يا کورونــه جــوړول روانــه دي او دزکــوة ورکــونکــو زکــوة نــه اداء کيــږي ځکــه چي دزکــوة داداء دپاره داشرط دي چي دزکــوة حقداربــه ئي مالــک ګرزول کيږي. او داشرط دلته نشي ترسره کيداى.(فتاوى رحيميه ۵جلد ۱۵۱مخ)

غريب ته په زکوة کي بغير له کرايي کوروركول :

مسئله: غريــب دمــال ديوي برخــي مالــک ګرزولوتــه زکــوة ويــل کيــږي نفعه په زکوة کي نه ګڼله کيږي.

لهذا: که څوک يو کوربغيرله دي چي کرايه واخلي پوره يو کـال غريـب ته دزکوة په نيت ورکړي،نو دهغــه زکــوة وربانــدي نــه اداء کيــږي ځکــه چي په دغه صورت کي دکوروال دنفع مالــک ګــرزول شــوي دي. دمـال مالک نه دى (يعني فقيرته دکرايي روپۍ ورکړلي شوي دي کور دهغه نه ى) او دغه ګټه (چي کرايه ده مادي شي نه دى) (فقه الزکوة ۱جلد ۱۲۸مخ)

دزکوة په روپودغريب دکوروغونه :

مسئله : کـه مسـتحق تـه دزکـوة روپـۍ ورنـه کـړي شـوي بلکـه دهغـه دکورپه بيارغونه کی ولګول شوي .نوزکوة نه دي اداءشوی .ځکه چي داضروري ده چي دزکوة روپۍ به غريب ته ورکولي کيږي اوهغه به ئي په قطعي ډول مالـک ګرزول کيږي .بيادهغـه خوښـه ده چي کورورباندي جوړوي او که زوړکورپري بيرته له سره رغوي .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۴۱مخ)

له حکومت سره تړليومدرسوته دزکوة ورکول :

پوښتنه : کـومي مدرسـي چـي لـه حکومـت سـره تړلـي وي هغـو تـه دسرسايي ،زکوة اودقربانئ دپوستکي ورکول څنګه دي . پـه داسـي حـال کـي چـي لـه مونږسره ددي ويره ده چي کـه نـن تـه وي نوسبادغه مدرسي زمونږله لاسه وزي اوحکومت وربانديقبضه کوي .

ځــــواب : کــــه پــــه دغومدرســـوکي دزکـــوة دروپومســــتحقين موجودؤ ،نوبلاکراهيت ورته دزکوة روپۍ ورکول روادي . (نظام الفتاوی ۱جلد ۳۲مخ)

مســئله : کلـه چـي دمدرسـي ضـرورتونه لـه بلـي خواڅخـه پـوره کيږي ،نوبيابايد ددی دپاره حيله جوړه نکړله شي چي خامخادزکوة روپۍ پـه هغـي ولګـولي شـي ،نوداچي ستاسـو لـه پوښـتني څخـه څرګنـديږي چـی دغـه مدرسـه نيمـه حکـومتي ده نوځکـه غريبـان اوطالبان ترهغي زيات دزکوة حقداردي .(فتاوی محموديه ۳جلد ۱۱۰مخ)

دا تکلي مدرسي په نوم زکوة راټولول :

پوښتنه : يوچادصدقو ،زکاتو اودقربانيو دپوستوکوروپۍ راټـولي کـړي چي فلانـی ځـای بـه مدرسـه جوړوم ،خوهغسـي ونشـول (يعنـي

مدرسه ئي جوړه نکړه) نو آباد غه روپۍ په بله مدرسه کي لګول کيدای شي، او که وئي نه لګوي نو خدای به ئي پري نيسي او کنه؟

ځواب: اول خو بايد کوشش وکړي چي دغه راټولي شوي روپۍ پخپل ځای ولګوي، خو که مدرسه ورباندي جوړه نکړله شوه، نو بلي مدرسي ته ئي هم ورکولای شي او بهترين ځای دلګښت ئي د ديني علم زدکونکي (طالبان) دي. او دروپو راټولونکي که دغه روپۍ په هغو نه لګوي نو خدای جل جلاله ئي ورځخه پوښتنه کوی او پري نيسي ئي. هغه هيڅ حق نه لري چي دپخپل شخصي ژوند په کاروکي ئي ولګوي. (فتاوی دار لعلوم ۲جلد ۲۸۳مخ بحواله رد المحتار۲جلد ۱۴مخ)

په دي اميد چنده کول چي مستحق طالبان به راشي:

پوښتنه: مولوي صاحب مدرسه جوړه کړيده چي په خاص ډول صرف دعربي او فارسي علمونه پکښي ښودل کيږي او هغه ورته دهرډول چنده راټولوي او وائي چي که روپۍ جمعه شي نو دلته به ورباندي دخوراک بندوبست کوي، آيا په دغه اميد دهرډول چندي اخيستل روادي او کنه؟

ځواب: که دفي الحال مستحقو طالبانو دپاره راټولي شوي روپۍ کفايت نه کوي او له دي وجي دخوراک بندوبست نه وي او مولوي صاحب په دي کوشش کي وي چي ددي بندوبست وکړي، او دهغه غالب اميد ؤ نو بيا دغه روپۍ هم وراخيستلای شي، مګر هغه ديته بايد پوره فهم ولري چي کومي روپۍ دي له خلکو ځخه دځه دپاره رااخلي نو حتماً بايد په هغه کي ولګيږي. دبعضي مدرسو او مرستندويه ادارو دناکامي لومړني سبب هم داوي چي دوئ

داپه نظرکي نه نیسي چي دچندوپه ذریعه راټوله شوي سرمایه کی څومره حرام مال ګډدی. دوئ په غصبي روپو سره دمدرسي دبنسټ ډېره ایږدي چي بیاهغه دمدرسي دخرابئ ګډوډئ اوناکامئ سبب ګرزي اوددوئ په نزدیکت چي حرام خوړونکو شتمنوته ئي کوي ددي امت رښتوني علماء بي قدره کیږي اوپه مبارکونوموئي تورداغ ایښودل کیږي. (حاشیه فقه الزکوة ۲جلد۴۲۵مخ)

د مدرسي مشر د طالبانو وکیل دی که د ورکونکو؟

مسئله: دمدرسي مشر(مهتمم) دمال خاوندانوپه صراحت سره وکیل کړی دی ځکه چي هغوئ روپی ددي دپاره ورکوي چي په مناسب ځای ئي ولګوه. همدارنګه: دغریبانووکیل هم دی ځکه چي کله طالبانو د هغه مشري(مهتمم) منلي دی نوګویادائي ویلي دي چي ته زمونږ دپاره له شتمنوڅخه مالونه راټولوه اوزمونږ ضروریات(لکه خوراک څښاک جامي) اوداسي نورورباندي پوره کوه. (فتاوی محمودیه ۳جلد۴۸مخ و۱۲جلد۳۲۰مخ)

مسئله: که دمدرسي خاوندان دطالبانوپه وکالت ومنل شي نوبیاداشک (چي دزکوة روپی به ناوخته یاسوکه. سوکه مصرفیږي) له مینځه ځي ځکه چي ددوئ قبضه دطالبانو قبضه ده. اوکه دوئ دمالونودخاوندانووکیلان وبلل شي. نوبیااصل دادي چي زکوة هغه وخت اداء کیږي کله چي په غریبانو(طالبانو) باندي وویشل شي. نوکه ترویشلوله مخه اضطراري ضائع کیدل رامینځته شونوضمانت ئي دمدرسي په مشرانونه دی اودزکوة ورکونکوزکوة اداء شوي دی. (فتاوی محمودیه ۳جلد۴۱مخ)

آيا غريب مهتمم کولای شي مدرسي ته ورکړل شوی زکوة استعمال کړي؟

پوښتنه: دمدرسي مهتمم صاحب مجبوردی او قرضدار دی آیا کیدای شي چي د زکوة له هغو مالونه څخه چي د مدرسي د طالبانو د پاره راټول شوي دي د هغه اولادته ورکړل شي؟

ځواب: مهتمم صاحب د زکوة او صدقو ورکوونکو وکیل وي هغه ته داحق نشته چي د زکوة او صدقو ورکوونکوله شرط څخه خلاف هغه ولګوي. د هغو شیانو (چي خلک ئي مهتمم ته خاص د دي د پاره ورکوي چي په طالبانوئي ولګوه) د هغه لګول په او ستاذانو او مهتمم ته پخپله روا نه دي. (کفایت المفتي ۴جلد ۱۵۵مخ)

آيا مهتمم ته د زکوة د روپو په ورسپارلو سره زکوة اداء کیږي؟

پوښتنه: کله چي کومي مدرسي یا انجمن ته روپی ورکولي کیږي هغه د هیڅ مسکین ترقبضه لاندی نه راواستلي کیږي بلکه د هغو مهتممینو ته ورکولی کیږي هغه هم مسکینان نه وي، نو آیا په دغه صورت کي زکوة اداء کیږي او کنه؟

ځواب: مدرسو ته چي د زکاتونو کومي روپی راځي نو مهتمم ته پکاردی چي په داسي لګښت ځای کي ئي ولګوي چي د زکوة ورکونکي د زکوة اداء له هیڅ شک سره مخامخ نشي. هغه دا چي دوئ باید ترهرڅه لومړی د غه مال د زکوة په یو مسکین باندي قبض کړي او د هغه ملک ئي وګرزوي او بیا دي هغه بیرته پخپله خوښه د مدرسي مهتمم د مدرسي د مصارفو د پوره کولو د پاه ورکړي. دا چي د زکوة د پاره دا شرط دی چي د غریب ملکیت به ګرزول کیږي، نو ځکه باید ترلګښت او هرڅه اول دا طریقه جوړه کړله شي. برسیره پردي طالبان

او مسکینان د زکوٰة یو بل لگښت ځای دی. د هغو په خوراک څښاک او پوښاک کي د زکوٰة د روپو لگښت بي له شکه روا دی او په مدرسو کی زکاتونو روپی په طالبانو او غریبانو باندي لگول کیږي په هرحال زکوٰة او صدقو ورکونکو ورونو ا تاسو په دي اړوند هیڅ شک زړه ته مه اچوئ په ډاډه زړه خپل زکاتونه او صدقي مدرسو ته ورکړئ او په دي کي به انشاء الله ستاسو ډېل اجر او ثواب دی.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۸۲مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۱۲مخ)

مسئله: زکوٰة هغه وخت اداء کیږي چي په طالبانو باندي دغه روپی په یونه یو ډول وویشلي شي یعني یا وزته خوراک پري برابر کړشي یاجامي ورته پري جوړي کړلی شي او یا په نغدي ډول ورته وویشلي شي. او په مدرسو کی اکثرآ دا رنگه کارصورت نیسي چي د مدرسي مهتمم او نورکار کونکي اول د زکوٰة روپي د چا(غریب) ملک گرزوي او بیائي د مدرسي خزانې ته ځي او بیا د لگښت تروختـه هلتـه ساتلي وي.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۸۹مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۱۵مخ)

د مختلفو ډولونو روپی یو ځای جمعه کول:

پوښتنه: یوه مدرسه ده چي ورته په بیلا بیلو نومونو روپی ورکولي کیږي لکه د زکاتونو، د مسجد جوړولو، خیراتــو او داسي نورو، د مدرسي مهتمم هغه ټولي را جمع کوي او یو ځای ئي ساتي هغه چي جمع شوي دي او هغه چي داوخت راځي سره جلاکوي د لگښت په وخت چي هر ډول روپی د څه د پاره وي هغه په خپل ځای لگولي کیږي نو آیا په دغه طریقه زکوٰة اداء کیږي او کنه؟ څکه چي هغه روپی چي یو چاد مسجد جوړولو د پاره ورکړي دي د مسجد په جوړولو کي ولگولي شي او کنه؟

ځواب: که رواج داسي وچي مهتمم دغه بیلابیل مالونه سره ګډول نوبیاددي کارکول مهتمم ته روادی اوضمانت ئي د هغه په غاړه نه دی په دي شرط چي د هرځه دپاره دروپو ورکونکي هم په دي خبروي اوکه رواج داسي نه وُنوبیاد مهتمم دپاره له دی طریقي څخه کاراخیستل ناروادی او ضمانت ئي دهغه له غاړي دی اوددغه جوازپه صورت کی دي د هرمالک دروپوپه اندازه دمؤکل له ګډوروپوڅخه واخلي اوپه ټاکلي مصرف دي ولګوي .نوپه دي ډول به دزکوة ورکونکوزکوة اداء شي اودمسجددوداني جوړونکي له طرفه به دمسجدوداني جوړه شي. اوکه مهتمم دزکوة له روپوسره بي پروائي کوي اوپه داسي ځای ئي لګوي چي مناسب نه وي اوزکوة ورکونکي ورڅخه خبرنه وي،نودهغواُخروي مسئولیت اومحاسبه به له مهتمم سره وي. مګردزکوة ورکونکي زکوة اداء کیږي اوکه زکوة ورکونکي خبرشي نوحق نه لري چي تلف شوي روپي له مهتمم څخه واخلي اوبیازکوة اداء کړي.

(۲) فقهاؤ رحمة الله علیهم داحکم ورکړی دی چي هغه وخت چي ګډوي جمعه شوي روپي په خپل خپل ځای ولګولي شي اوګډون درواج لرلوله وجي دمالکانوله طرفه دلالةً اجازه خط واخیستل شي،نوپه دي سره به هم دزکوة ورکونکي دزکوة اداء له شکه خلاصه شي اوهم به دمهتمم په ذمه نه ګناه وي اونه څه ضمانت.(کفایت المفتي ۴جلد ۲۲۲مخ)

د مدرسي دروپو حکم:

مسئله: دمدرسي روپي دهغي له مشر(مهتمم) سره امانت دي. دمهتمم دپاره داروانه ده چي دمدرسي روپي پخپلو کاروکي

ولګوي. او که ئي ولګوي نو بيرته اداء کول (مدرسي ته ورکول) ئي واجب دي. (فتاوی محموديه ۳جلد ۱۱۰مخ)

په مدرسو کي دزکوة دروپود لګښت يوه بله طريقه:

پوښتنه: دلته يو مکتب دی چي قرآن کريم، پښتو او دنيات پکښي لوستل کيږي د مدرسي لګښت د چندي له روپو څخه (چي اته زره دی) او دفيس له روپو څخه (چي دوه زره دي) نه پوره کيږي بلکه مياشتنی لګښت ئي (۱۸) زره روپۍ دی، نو که مونږئي پاتي لګښت دزکوة په روپو پوره کړو نو زکوة اداء کيږي او کنه؟

ځواب: دزکوة په روپو د مدرسي جوړول او د استاذانو په تنخواه کي ورکول روانه دی او زکوة هم نه اداء کيږي او د جواز صورت ئي دا دی چي فيس دی لوړ کړي او دزکوة روپۍ دي په مياشتني ډول د مدرستي په څير غريبانو طالبانو ته ورکړي او بيا دي بيرته ورڅخه په فيس کي واخلي، نو په دي ډول به زکوة اداء شي او بيا دي ورو سته هغه د استاذانو په تنخواه يا د مدرسي په نور لګښت کي ورکړي.
(فتاوی رحيميه ۵جلد ۱۵۰مخ)

دزکوة د روپو دا وستاذانو په تنخواکي ورکولو يوه لاره:

مسئله: دزکوة اصلي حقداران فقيران او مسکينان دي، مدارسو ته بايد خاص د پاک خدای جل جلاله د پاره روپۍ ورکړلي شي. اصلاً بهتري په دي کي ده چي زکوة غريبو طالبانو ته ورکړل شي خو ډير خلک خپل زکاتونه مدرسو ته ورکوي، که د مدرسي مهتمم ئي ورڅخه نه رانيسي نو د مدرسي چلول او د استاذانو تنخواه ګاني پوره کول بغير له هغه ګران کار دی، نو څکه د دغي مجبوزئ په صورت کي د

ضرورت په اندازه دزکوة دروپود پاره حیلي جوړولوا وله هغي څخه داوستاذانو دتنخواګانو پوره کولو ګنجایش شته. دمدرسي دتعمیرپه اړه بنه خبره داده چي یکښي ونه لګولي شي او دهغه دپاره دله خلکو څخه خاصي روپۍ راټولي کړلي شي. (فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۵۴مخ وفتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۱۱مخ)

دزکوة په روپود مدرسي دپاره ودانۍ اوځای اخیستل:

مسئله: دزکوة په روپو باندي دمسجداومدرسي جوړول روانه دی، ځکه چي په زکوة کي تملیک دفقیرانو شرط دی. ترهغو پوري چي فقیردزکوة دمال مالک نه وي ګرزول شوی زکوة نه اداء کیږي. (فتاوی دارالعلوم)

مسئله: زکاتونه، عشراوتولي واجبي صدقي لکه سرسایه اوکفاري په تنخواه ګانو اومدرسي یامسجدپه جوړولو کي لګول روانه دی، بلکه په غریبانو اوطالبانو به ئي لګوي. (فتاوی دارالعلوم۶جلد ۲۰۷مخ)

دزکوة روپۍ غریب ا وستاذته ورکول:

پوښتنه: دمکتب ښوونکي ته دیوې اداري له خواڅه تنخواراتله اوڅه بیاورته دچندی له لاري پوره کیدله مګراوس هغه لاري وتړل شوي خومکتب ته یو چادرزکوة روپۍ ورکړي دي ایاموږکولای شوهغه دښوونکي په تنخواکي ورکړو؟

ځواب: که یوڅوک غریب اوستادته دزکوة روپۍ دزکوة ورکونکي په اجازه په میاشت کي لږلږ دمرستي په ډول ورکوي نودارواديي، په دې صورت کي زکوة هم اداء کیږي، اوله ښوونکي سره هم مرسته کیږي -خوله دغوروپودزکوة څخه دتنخوا جوړول روانه دي، اوکه ئي په تنخواکي ورکولي بیادي لومړي بغیر له قیداوشرطه دیوغریب ملک وګرزوي اوبیادي هغه تشویق کړي چي زمونږ دکلي مدرسه ډیره

مسکینه ده ، که ته دغه روپۍ دپاک خدای جل جلاله درضالپاره دغي مدرسي ته ورکړي ، نودابه دي ډیر لوی احسان اواجروي مونږبه له دي څخه استادته تنخواورکړو ، نوکه غریب ددوي دغه غوښتنه ومنله اوروپۍ ئي واپس دوي ته ورکړي نوبیادوي کولاي شي له هغوڅخه اوستادته تنخواه ورکړي.(فتاوي رحیمیه ۵جلد ۱۵۷مخ

دزکوة روپۍ خپل اوستادته ورکول

پوښتنه: یونفر دمدرسي زده کونکوته ډوډۍ ،چاي اوترکاري پخوي بل نفر دهغوي لپاره دال غوړي ،مالګه ، مصاله اونورسامان راوړي ،نواياهغوته په اجرت(مزدوري) کي دزکوة روپۍ لګول روادي اوکنه ؟ دغه رنګه دمدرسي داستازي په لګښتونو کي دزکوة روپۍ لګول روادي اوکنه ؟ دغه رنګه دزکوة په روپوزده کونکواودبرق ، اوبواوځاي کرایه دزکوة له روپوورکول روادي اوکنه ؟

ځواب : دکوم کار په بدله کي دزکوة روپۍ ورکول روانه دي ،په مزدوري اوکرایه خوارک کي هم دزکوة روپۍ نشي ورکول کیداي ،همدارنګه داستازي په لګښتونواوخوراک کي هم دزکوة دروپولګول روانه دي دزکوة روپۍ به مسکین ته بلاعوض ورکولي کیږي ،دزکوة په روپو دکتابخاني لپاره کتابونه اخیستل هم روانه دي اوپه ځاي ، برق ،اواوبوکي په ورکولوکي یي هم زکوة نه اداء کیږي . دزکوة روپۍ دي طالبانوته ورکړي ، ترڅوهغوي پخپله دځان لپاره کتابونه واخلي ، اودبیرته واپس کیدلو شرط پکي نه وي فتاوی رحیمیه ۵ جلد ۱۲۳مخ

پوښتنه : طالب العلم ته دزکوة ورکول روادي اوکنه؟

ځواب: له (ردالمحتاردوهم جلد ۸۱مخ باب المصرف) څخه معلومیږي چي شتمن(غني) طالب ته زکوة ورکول روانه دي .دهغه

دعلمي بوختياله امله صرف دااجازه ورته شته چي په کارلگياکيدل ورته ضروري نه دی که غريب شي نوبياکولای شي زکوة واخلي.
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد۲۴۴مخ واحسن الفتاوی ۴جلد ۲۵۲مخ وفقه الزکوة ۲جلد ۳۲مخ)

مسئله : څه په (في سبيل الله) کي طالب العلم هم داخل دی، خودزکوة وررولو د پاره غربت پکښې شرط دی. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد۲۵۲مخ)

مسئله : هغه طالب العلم ته چي غني وي او مسافرنه وي د زکوة ورکول او اخيستل دواړه حرام دي، اودزکوة ورکونکي زکوة نه اداء کيږي
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۲۳مخ)

مسئله : علامه شامي رحمة الله عليه هم پورتنی قول چي غني(صاحب نصاب) طالب العلم ته دزکوة ورکول حرام دی راجح او غوره گڼلی دی
.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد۰۲۸مخ بحواله رد المحتار۲جلد۸۱مخ)

کوم زده کونکي چي ددیني علم ترڅنگ د شيا نو جوړول اونورکسبو نه هم زده کوي :

مسئله : دزکوة روپی دطالبانو او مسکينانو په خوراک او پوښاک کي لگول کيدای شي که څه هم هغوئ دصنعت ، کسبونو او ديني علم ترڅنگ دانگريزي ژبه هم دژبي پنو هيدني په غرض زده کوي.
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد۲۵۱مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۸۵مخ وفتاوی محموديه ۳جلد۲۰مخ)

دمدرسي دقوانينوڅخه نه مراعت کونکوطالبانوته دزکوة ورکول

پوښتنه : دمدرسي هغه ضروري قوانين چي په زده کونکو ئي پوره کول لازمي وي که يوزده کونکی پوره نه کړي، نو هغه زکوة به چي هغه ته ورکول کيږي اداء شوی وي اوکنه؟

ځـواب: دمدرسـودايوه عامـه قاعـده ده چـي دزکـوة مـال لـومړی ديو غريب ملک گرزوي بيائي هغه غريب بيرتـه دمدرسي دلگښت

پوره کولو دپاره دهغي مشريا كاركونكوته وركوي .نوځكه په دي سره دزكوة په اداء اونه اداء كي هيڅ فرق نه راځي. دزكوة اداء هغه وخت وشوه كله چي په لومړي ځل دغريب ملك وګرزول شو.(فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۱۷مخ)

هغو طالبانو (ديني زده كونكو) ته چي دائي معلوم نه وي چي غريب دى اوكه شتمن دزكوة وركول :

پوښتنه: كه دمدرسي مشر(مهتمم) ته دامعلومه نه وه چي د طالب موراوپلار ياسرپرست دنصاب خاوندديا وكنه، نو په دغه صورت كي له طالب العلم سره دزكوة په روپو مرسته كول روا دي كنه؟

ځواب: ددي معلومول ضروري دي؛خوكه طالب پخپله ووائي چي زه غريب يم اوزماموروپلارهم غريبان دي،نو دهغه له وينا سره سم دزكوة وركول روادي.(فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۲۰مخ عالمگيري مصري ۱جلد ۱۹۰مخ)

مسئله: مستحقو طالبانو(ددينـي علـم زده كونكوتـه) دزكـوة لـه روپو څخه وظائف(هغه روپۍ چي زده كونكي ته لازيات تعليم حاصلولو دپاره دمرستي په ډول وركولي كيږي) وركول هم روا دي.

استازي ته دزكوة دروپو بدلون :

پوښتنه: زيددمدرسي دپاره چنده كوي اوخلك ورته دچندي په لړكي دزكوة اوسرسايي روپۍ هم وركوي.داوخت زيدد مدرسي دپاره پنځوس زره روپۍ ټولي كړي دي.نوكه هغه خپل وروړته ليك وليږي چي دلته له ماسره دمدرسي پنځوس زره روپۍ موجودي دي،نوته مدرسي ته زماله طرفه پنځوس زره روپۍ وركړه.نودغه رنګه كول روادي اوكنه؟

ځواب: دمدرسي په چنده کي چي کومي دزکوة روپۍ دي دهغو مدرسي ته دورلیږلو په ځای که یو څوک وروریابل چاته ولیکي چي دغومره روپۍ څومره چي له ماسره دي مدرسي ته ورکړه دارو ادی. دمدرسي مشران چي هرکله دزکوة روپۍ دزکوة دلګښت په مناسب ځای کي ولګوي هغه وخت به زکوة اداء شي.

یادونه: مدرسي ته دروپوورکولوورو سته که دمدرسي روپۍ په خپل ذاتي لګښت کي لګوي نولګولای ئي شي، خو مدرسي ته ترورکولوله مخه ئي داستعمال اجازه ورته نشته. (فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۷۰مخ)

استازي ته دزکوة دروپو استعمال:

پوښتنه: بعض له هغو خلکو څخه چي مدرسو ته چندي راټولوي شتمن وي، نوکله چي هغوته دچندي ټولو په سفر کي خپلي ذاتي روپۍ ورختمي شي، نودزکاتوله هغوروپو څخه کاراخلي چي خلکودمدرسي دپاره په زکوة کي ورکړي دي خوبیا چي کورته راورسیږي نوبیرته هغومره روپۍ مدرسي ته ورکوي. آیاداسي کول دوئ ته روادي اوکنه؟

ځواب: دوئ ته دزکاتونودروپو لګول روانه دي، یاخوئي بایدله کوره څخه وروغواړي اویادي له چاڅخه قرض واخلي.

(فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۷۴مخ وفتاوی محمودیه ۱۲جلد ۲۲۴مخ)

که له استازي څخه دزکوة روپۍ ضائع شوې:

مسئله: که دمدرسي له استازي(نمائنده) یامهتمم څخه د زکوة روپۍ غلواخیستلي اویاپه بل ډول ورڅخه ضائع شوي اودوئ دهغوله حفاظت څخه هیڅ قدرت سپمولي نه وُ، نوتاوان ورکول ئي وربا ندي

لازم نه دی، اودزکوة ورکونکي زکوة اداء شوی دی. ځکه چي دغه خلک (استازي يامهتممين) عملاً هم اوعرفاً هم دمستحقو طالبانو وکيلان دي اودوکيل قبضه داسي ده لکه دفقير قبضه. اوکه دوئ ئي په ساتلو کي بي غوري کړي وه، يائي دزکوة په روپي بدلي کړي وي اويائي له خپلو شخصي روپوسره ګډي کړي وي نوپه دوئ ئي دتاوان پري کول واجب دی اوپري لازمه ده چي له خپل جيب څخه دغومره روپی مسکينانوته ورکړي.(درمختار۲جلد۲۷۹مخ وامدادالفتاوی۲جلد۱۴مخ ومحموديه۳جلد۴۹مخ)

طالب العلم ته زکوة ورکول څنګه دی؟

مسئله: که يوڅوک دخوراک اوڅښاک دومره سامان راواخلي څومره چي وربانديزکوة واجب دی اوپاخه ئي کړي او مستحق طالب يابل چاته ئي په داسي ډول ورکړي چي په پوره ډول دهغه ملکيت وګرزي (دميلمستياپه ډول نه) نوهم زکوة اداء کيږي.(فتاوی محموديه۷جلد۲۵۵مخ ودرمختار۲جلد۲۵۷مخ)

بغير له ملکيت له پخنځي څخه خوراک ورکول:

پوښتنه: که دمدرسي مهتمم دزکوة په روپوباندي پخلنځای جوړکړي اوبلاملکيت ئي دمدرسي طالبانوته خوراک ورکاوْ، نوپه دغه صورت کي زکوة اداء کيږي اوکنه؟

کله چي طالب داواک ونه لري چي که خوراک هرډول کوي هغسي ئي کولای شي، نوکوم داسي صورت به وي چي دزکوة روپی پکښي ولګولي شي؟

ځواب: په زکوة کي داضروري ده چي هغه به دغريب ملک ګرزول کيږي. اودطالبانودخوراک دغه صورت چي تاليکلی دی تمليک (دغريب دملک ګرزيدلو) صورت نه دی اوپه دغه ډول زکوة هم نه

اداء کيږي. ددي سمه طريقه داده چي اول دي دزکوة مال (روپۍ وي اوکه بل شی) دکوم مسکين ملک وګرزوي اوبيادي دمدرسي په داخل کي دطالبانوپه خوراک قبلونکي له خپل طرفه ولګوي.
(فتوی دارالعلوم ۲جلد ۲۳۴مخ بحوالهٔ ردالمحتار۲جلد ۱۲مخ)

دمدرسو چلونکي بايد په کلکه ددي خيال وساتي چي دزکاتوروپۍ کومي چي دوئ له خلکوراټولوي که په بالغانولګولي کيږي نوهغه به پخپله په دنصاب خاوندان نه وي اوکه په نابالغولګولي کيږي نودهغوبه پلرونه ياسرپرستان دنصاب خاوندان نه وي. اونه بايد دزکوة روپۍ چاته په اجرت کي ورکړي (محمدرفعت قاسمي رحمة الله عليه)

ا يا دمدرسي اوستاذان کولای شي د مدرسي له پخلنځای څخه خوراک وکړي؟

پوښتنه: بعض مدرسي دي چي استاذانوته ئي ورکيدونکي خوراک هم ورشميرل کيږي، يعني دهغه دټاکلي مياشتنئ تنخواه يوه برخه ورڅخه په خوراک کي دمدرسي له طرفه کاټيږي نودهغومالونوخوړل چي مدرسي ته دزکوة اوصدقو په ډول مدرسي ته ورکول کيږي استاذانوته روادی اوکنه؟ په داسي حال کي چي استاذان دخوراک قيمت اداء کوي.

ځواب: څومره اندازه چي استاذان جزواً تنخواه په طور خوري هغومره اندازه زکوة نه دی اداء شوی. ددي حساب کول ضروري دی. دغه رنګه حال د نوروملازمينو او مستحقينو دلګښت هم دی.
(فتاوی محموديه ۱۲جلد ۲۲۳مخ)

د خاصو طالبانو اشپزته دزکوة له روپو څخه اجرت ورکول

مسئله : کوم اشپز(پخونکی) چي خاص طالبانو ته خوراک تیاروي هغه ته اجرت(تنخواه) دعشراوزکوة له روپو څخه ورکول کیدای شي (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۲مخ)

دلته له طالبانو څخه هغه طالبان مرادي چي مستحقین وي. مګر د طالبانو له عامه پخلنځای څخه مستحق او غیر مستحق لکه استاذان هم خوراک کوي، نو ځکه په دغه مسئله کي ډیراحتیاط کول پکاردی .(محمد رفعت قاسمي صاحب)

شتمنو(نابالغو) زده کونکوته دزکوة له مال څخه دوظیفي ورکول ناروادی. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۹مخ بحواله عالمګیري۱جلد ۱۷۷مخ)

د دیني علم زده کونکي ته د سوال کول څنګه دی؟

مسئله : دفقهي شریفي دعلم پوهانو(رحمة الله علیهم) مسکین دیني زده کونکي ته دسوال کولو اجازه ورکړي ده، مګرداهغي زماني خبره ده چي په عوامو کي له دیني علم څخه کرکه او نفرت نه ؤ ،په ننني زمانه کي چي ددیني علم له زده کونکو سره اودهغو دعلم په وړاندي نفرت موجود دی طالب العلم ته دسوال کول جوازنه لري.ځکه چي په دي کي ددین تحقیراوتذلیل دی.دوئ بایدله شتمنواو بډایانو څخه بې پرواواوسي اوپه خپل خدای جل جلاله توکل وکړي.(احسن الفتاوی ۴جلد ۲۵۸مخ)

ایادزکوة ورکولودپاره دطالب العلم دحال څیړنه ضروري ده؟

مسئله : په طالبانو کي بل قیدداهم دی چي هغه به دزکوة له لګښت ځایونو څخه وي یعني دنصاب خاوندبه نه وي،سیّد به نه وي اوکه هغه طالبان چي زکوة ورکول کیږي نابالغ وي،

نودهغو موراوپلارياسرپرست بـه دنصـاب خاوندتـه ي. او بـالغ فقير طالب ته دموراوپلاريابل سرپرست بدا ينه (شتمنوتوب) دزكوة اخيســتلواوورکولومانع نــه دی. او طالباتوتــه دزکــوة پــه روپودجامواوکتابواخيستل هغه وخت روادی چي دوئ لويان پخپله دنصاب خاوندان نه ي اود کوچنيانوئي موراوپلار دنصاب خاوندان نه وي ددي د معلومولودپاره بايد کوشش اوتحقيق وشي.
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۹مخ ردالمحتار ۲جلد ۸۸مخ)

که خوراک پوخ کړل شي او په غريبانووخوړل شي نوزکوة اداء کيږي؟

مسئله: دزکوة اداء کيدلودپاره داشرط دی چي هغه به دغريب ملک گرزول کيږي. طالبانوته دخوراک پخولواو پري خوړلوسره تمليک صورت نه نيسي. دوئ بايد دخوراک مالکان وگرزول شي. نودېره سمه طريقه داده چي لومړی دي غريبو طالبانوته دزکوة روپۍ ورکړي بيادي ورتـه ووائـي چي دخوراک اوځنبـاک فـيس راکړئ، کله چي طالبـان بيرتـه هغـه روپۍ ورتـه ورکړي نوبيادي هغـه پـه خوراکوکي ولگوي په دي ډول به هم زکو اداء شوي وي اوهم به طالبانو ته دوډئ رسيدلي وي. اويـادي ددارالعلوم ديوبندپـه څير طالبـان دخوراک پوره بي شرطه مالکان وگرزول شي. (فتاوی رحيميه ۵جلد ۱۲۲مخ ومحمودیه ۳جلد ۸۸مخ)

مسئله: کـه خـوراک پـه داسـي ډول غريبانوتـه ورکړشـي چـي د غورزولو، خوړلواوبـل تـه ورکولـو هرډول اختيـارئي لـه غريـب سـره وي، نوځومره قيمت چي دخوراک وي هغومره زکوة هم اداء شو، اوکه پورتنۍ واک ئي له غريب سره نه وي بلکه خوراک ورته په نژدي داسي

ډول ورکول کیږي لکه میلمستیا، نوزکوة وربانديي نه اداء کیږي ځکه چي په میلمستیا(دعوت) کي ملکیت نه وي.

مسئله: دغه رنګه که پوخ شوی خوراک یاګنډل شوی جامي ددومره قیمت نه وي څومره چي زکوة واجب دی، دمثال په ډول جامي یاخوراک خراب شوی ؤ، نوځومره قیمت چي دخرابي په وجه کم شوی دي هغومره زکوة به نورباسي .(امدادمسائل زکوة ۴۳مخ وفتاوی محمودیه ۳جلد ۵۲مخ)

مسافرته دزکوة ورکول او اخیستل څنګه دی؟

مسئله: مسافرته دزکوة اخیستل روادی خوهغه وخت چي هغه دلته دنصاب خاوندنه وي، که څه هم دهغه په کورکي وي. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۳مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۸۸مخ)

مسئله: یوڅوک دی چي په خپل کورکي ډیرشتمن دی مګرپه سفرتللی ؤچي هلته اتفاقاً ورسره مال ختم شو، ټول شته ورڅخه چاغلاکړل یادارنګه بله پیښه وشوه. اوس هغه داسي مجبورؤچي ترکوره ئي ځان نشوای رسولای، نوهغه ته هم زکوة ورکول روادی؛ همدارنګه که داسي حاجي ته چي په کورکي ډیرمالداردی دحج په لاره کي خرڅ ورختم شونوهغه ته هم زکوة ورکول روای .(امدادمسائل زکوة ۷۳مخ وعالمکیری ۱جلد ۱۸۲مخ)

دمسافر قرض له زکوة څخه اداء کول:

مسئله: که دغه مسافرخاوند دنصاب نه ؤاوسید هم نه ؤ، نوهغه ته زکوة اودومره روپۍ دزکوة ورکول چي وربانديي دهغه قرض اداء شي روادی ځکه چي دقرآن کریم دتوبي سورة په دغه آیت مبارک کي راغلي دي (اِنَّمَا الصَّدَقَاتُ ـ الایة)(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۱مخ بحواله هدایه ۱جلد ۱۸۸مخ)

مسافر ته دروپوورکولوپه ځای ټیکټ (کرایه ورکول) وراخیستل

پوښتنه: یومالداره سړی زکوة په داسي ډول اداء کوي چي کله

يو مسافر پيدا اکړي نو خپل نفر ترادي پورې ورسره ليږي او هلته ورته د تلو د پاره ټيکټ کوي ،نغدي روپۍ ورته په لاس نه ورکوي نو که مسافر ځه عذر په وجه لاړنشي او ټيکټ برباد شي نو د دغه سړي زکوة به اداء شوی وي او کنه؟

ځواب: که دغه شتمن د مسکين مسافر په اجازه سره هغه ته ټيکټ اخلي ،نو له مسافر سره تلونکي سړي د مسکين وکيل په قبض کولو او ټيکټ اخيستلو کي کيدای شي .ځکه چې د شتمن وکيل دی نو ځکه د مالداره سړي زکوة که په پورتني صورت سره وي ،نو اداء شوی دی ،او که هغه مسافر بيا له څه وجي معطل شو او ټيکټ ئي له کاره ولويدی هم د مالداره سړي زکوة اداء شوی دی .(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۹۷مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۱۴مخ)

پوښتنه: که ديو چاد خوراک پخلو خدمتګار غريب وي ،نو هغه کولای شي زکوة يا سرسايه ورکړي؟

ځواب: که څوک خپل د خوراک پخولو خدمتګار يا خدمتګاري ته په دي نيت زکوة يا سرسايه ورکوي چي هغه مسکين دی؛نو روا ده او که په تنخواه کي ئي ورکوي بيا روا نه دی .که هغه مسکين وي نو په تنخواه بر سيره چي هر څه ورکول غواړي هغه دي ورکړي.

(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۴۵مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۸۹مخ)

مسئله: خپل غلام او مينځي ته زکوة ورکول روا نه دی. خو هغه خلک چي شرعي غلامان يا مينځي نه وي لکه نن سبا چي په هندوستان کي په کورو کی او سيدونکي خادمان او خادماني دي هغه غلامان نه دي هغو ته د زکوة او سرسايي ورکول روا دي که غريبان وي ،مګر له زکوة او سرسايي څخه به ورته تنخواه نه جوړوي.

(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۵۵مخ بحرالرائق ۲جلد ۲۴۴مخ عالمګيري ۱جلد ۱۹مخ)

اذان ويونكي اوامام ته دعشر اوزكوة وركول څنګه دی:

مسئله: دعشر دلګښت ځايونه هم هغه دي کوم چي دزکوة دپاره تاکل شوي دي، نو څنګه چي زکوة دامامت په تنخواه کي ورکول ناروا دي هماغسي دعشر، اوسرسايي ورکول هم دامامت په تنخواه کي ناروادي. دورکيدو په صورت کي سرسايه، زکوة اوعشر او نوري واجبي صدقي نه اداء کيږي. اوپه نه جوازئي ټول فقهاء رحمة الله عليهم هم رغيد لي دي. (فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۷۲مخ بحوانه ردالمحتار۲جلد ۷۹مخ)

مسئله: صرف په دي سره څوک مستحق نشي ګرزيدای چي دمسجد امام دی؛ داجرت په ډول هيڅ يو امام ته زکوة ورکول روانه دی. (فتاوى محموديه ۷جلد ۲۲۲مخ)

درواج له مخي اما م ته زکوة ورکول څنګه دی؟

پوښتنه: زمونږ په علاقه کي يو ډول رواج دی چي دمسجد امام ته هيڅ ډول تنخواه نه ټاکي بلکي صرف زکوة ورکوي. دامام دټاکلو پروخت داخبره نه سره خلاصوي چي زه ستاسو امامت کوم اوتاسو ماته زکوة راکوئ، نو څکه امام ته هم معلومه وي چي قوم به زکوة ماته راکوي اوقوم ته هم؛ نوآيا دغه ډول زکوة اداء کيږي اوکنه؟

ځواب: که څه دمسجد له امام سره دغه فيصله نه وي شوي چي دزکوة له روپو څخه به تنخواه ورکوي خود (المعروف کالمشروط) داصل مطابق کوم شی چي له پخوا څخه په ذهن کي فيصله شوي وي هغه داسي دی لکه چي شرط ئي لګول شوی وي. څنګه چي تروخت له مخه دامام اوزکوة ورکونکو په ذهنو کي داخبره شته چي امام ته ټاکل شوي تنخواه نه ده ورکړله شوي هغه ته به زکاتونه ورکول کيږي

،نو څکه ویلای شو چي دزکوة له روپو امام ته تنخواه (یا په بل ډول دامامت اجرت (ورکول روانه دي څوکه داسي وکړي چي دامامت اجرت ئي جلاوکړی اوبیا دهغه دغربت په وجه زکوة هم ورته ورکړي نو دا روادی .(آپ کي مسائل ۳ جلد۲ ۴۰۲مخ)

دزکوة له روپو څخه مبلغینو ته امتیاز یا تنخواه ورکول:

پوښتنه: دزکوة له روپو څخه مبلغینو ،او طالبانو ته هغه ځانګړي مرسته چي یا دهغو دښه کار کرده ګـي له خاطره ورکول کیږي یا دلازیات کار کولو له خاطره ورکوله کیږي روادی او کنه؟

ځواب: طالبانو او مسکینانو ته وظیفه دزکوة له روپو څخه ورکول روادی ،او دمبلغینو په تنخواه ورکولو کي دتملیک حیله جوړول ورته شرط دی .بغیر له حیلي جوړولو وژته روانه دي څکه چي په زکوة کي تملیک شرط دی .(فتاوی دارالعلوم ۲ جلد ۲۷۵ مخ بحواله رد المحتار ۲ جلد ۷۹ مخ)

دتبلیغي جماعت په غړیو دزکوة لګول:

مسئله: که دتبلیغي جماعت غړي غریبان وي نو زکوة ورکول کیدای شي مګر صحیح نه ده چي دوئ دزکوة صحیح لګښت ځای وبلل شي (یعني صحت ورپوري انحصار شي)

یادونه: بعض خلک له زکوة څخه ددنیوي مقاصدو دپاره ګټه اخلي چي دا دشریعت له خلوص او روحیي سره په ټکر کي دي دمثال په ډول خلک خپلو هغو مزدورانو ته چي مستحق دزکوة هم وي په دي خیال زکوة ورکوي چي دوئ په دي سره نور هم زما په طرف راټول شي او ددغه احسان په وجه په ښه ډول زما کارونه سرته ورسوي داسي خلک هم شته چي کله ددوئ په کار کي خرابي ووینی نو په خپله ژبه

ورته وائي چي دازه خوپه تنخواه برسيره له تاسره دمرستي په خاطر زکوة هم درکوم مګرتـه احسان هيرونکـي ئـي اوداسـي نور، نوکـه دمسئلي له نظره ورته ورکورونوزکوة ئي اداء شوي دي خودمقبوليت پوښتنه ئي مه کوه ! ځکه چي په عظيم الشان قرآن کي دي چي (قَولٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى وَاللّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ۲۶۳)
دبقري سورة) (محمدرفعت قاسمي غفرله الله)

نوکر ته دزياتي تنخواه غوښتنه په زکوة ورپوره کول :

پوښتنه: زمايو مزدوردی چي دتنخواه دزيات توالي غوښتنه ئي کوله،نومادزکوة پـه نيـت دهغـه تنخـواه زياتـه کړه،نـواوس هغـه دافکرکوي چي زماپه تنخواه کي زيادت شوی ی آياپه دغه ډول زکوة ورکول صحيح دی اوکنه؟

ځواب: دملازم تنخواه خودهغه دکاربدله ده،نوکله چي تادتنخواه دزياتوالي په نوم زيادت وکړنوهغه هم دکاربدله ده،نوځکه په دغه ډول زکوة نه اداء کيږي کومه تنخواه چي تاکلي شوي دهغي له اداء، کولوورو ستـه کـه مـزدور محتـاج اوغريـب وُ،اوبيـازکوة ورکـړل شو ،نوزکوة اداء شوی دی.(آپ کي مسائل ۳جلد ۳۸۴مخ)

خادم ته دوخت ترمخه دزکوة په نيت دروپوورپرېښودل :

مسئله: ماخپل مزدورته تروخت له مخه روپۍ دبيرته راکولو په شرط ورکړي دي ،خواوس زه ښه پوهيږم چي هغه به ئي اداء نکړای شي ،نوکه زه دغه روپۍ دزکوة په نيت پسي ورپرېږدم نوزمازکوة به اداء شوی وي اوکنه؟

ځواب: دزکوة دورکولو په وخت دزکوة نیت کول ضروري دی، هغه نیت چي له ورکولو وروسته ئي ته کوي هغه داعتبار ورنه دی نوځکه ته نشي کولای هغه دزکوة په نیت ورپریږدي. البته داکولای شئ چي دغو مره روپۍ هغه ته دزکوة په نیت ورکړئ اوبیائي بیرته ورڅخه په خپلو قرضو کی واخلئ. (آپ کی مسائل ۳جلد ۳۸۴مخ)

خادمي ته دزکوة په روپوګینه وراخیستل :

پوښتنه: له زید سره یوه یتیمه نجلئ خدمت کوي چي صرف خوراک څښاک اوجامي ورته ورکولي کیږي نوزید کولای شي دزکوة په روپو هغي ته ګینه، جامي اونورڅه واخلي اوکنه؟

(۲) اوکومه ښځه چي فکرکوي چي زکوة راته دخدمت په بدل کي راکول کیږي هغي ته دزکوة ورکول څنګه دی؟

ځواب: یتیمي نجلئ ته چي تنخواه ورته مقرره نه ده صرف داورته مقرردي چي ډوډئ اوجامي به ورکولي کیږي دزکوة په روپو ګینوورجوړول روادی، اوداهم سمه ده چي دزکوة روپۍ په نغدي ډول ورکړي. خوورته مقرري شوي جامي به دزکوة په روپوورته نه جوړوي

(۲) اوهغی ښځي ته چي داپخپله فکرکوي چي زکوة راته دکارپه بدل کی راکول کیږي دزکوة ورکول روانه دی. (فتاوی دارالعلوم۲جلد ۱۱۱مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۷۹مخ)

هیڅ یوچاته هم دکارپه بدل کي دزکوة ورکول روانه دی اوپه دي ډول زکوة هم نه اداء کیږي *(محمدرفعت قاسمی)*

دغریبي انجلۍ په واده کي دزکوة روپۍ ورکول :

مسئله : دانجلۍ موراوپلارته چي دزکوة مستحق وي که دزکوة روپۍ ددي دپاره ورکړلي شي چي دلورپه نکاح (واده) کي ئي ولګوي، نوروادی، اوداهم سمه ده چي دزکوة په روپولوښي، ګیڼې اونورڅه واخیستل شي اوانجلۍ ته ورکړل شي.

مسئله : که هغي انجلۍ ته تر واده له مخه یاوروسته دزکوة روپۍ په نغدي ډول ورکړلي شي هم روادی، خوپه دي شرط چي دنصاب خاونده نه وي .(فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۴۷مخ ردالمحتار۲جلد ۷۹مخ)

مسئله: مګرددی خیال ساتل ضروري دي چي دزکوة دورکیدلو اندازه دومره نه وي چي ترنصاب زیاته شي؛ اوکه کوم غریب ته دنصاب برابرزکوة ورکړل شویایوشمیرخلکو ته دلږ، لږزکوة په ورکولوسره دنصاب اندازه پوره اویاتري زیات شو ،نوبیاله دي خاطره دوئ ته دنورزکوة ورکول روانه دی چي دوئ داوخت مستحقین نه دی.

(ایضاح المسائل ۱۱۷مخ بحواله درمختارکراچي ۲جلد ۳۵۳مخ)

دزکوة له روپو څخه دمړي تجیزاوتکفین کول څنګه دی؟

مسئله : دزکوة په روپوباندي دمړي تجهیزاوتکفین کول روانه دي؛خودضرورت پروخت داسي کیدای شي چي که دمړي ولي غریب وي نوهغه ته دزکوة روپۍ ورکړلي شي چي هغه بیاورباندی دتجهیزاوتکفین کارونه پوره کړي .(احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۳مخ ردالمحتار۲جلد ۲۸مخ فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۲۲مخ)

ا یا مړي ته دکفن و رکو لو ثوا ب به د زکو ة ورکو نکي هم وي؟

مسئله : که دزکوة مستحق (غریب) له خپل طرف څخه دمړي دکفن ،دمسجددجوړولواوداسي. نوروکارکوي نوثواب ئي ددواړو(مستحق اوزکوة ورکونکي) ته رسیږي. په شامي نومي

کتاب کي داسي ليکل شوي دي چي زکوة ورکونکي ته دزکوة ورکولواوغريب ته دمړي دکفن ورکولوثواب رسيږي. اوداهم ويل شوي دي چي دزکوة ورکونکي په کفن ورکولو کي هم ثواب شته ځکه چي په حديث شريف کي دي چي (الدال على الخير کفاعله)
(ردالمحتار۲جلد ۱۲مخ)
په جامع الصغير کي روايت رانقل شوی دی چي وائي «صدقه که ترسلګونو لاسونو تيره شي هم ،نو هريوه صدقه کونکي ته به ئي دومره ثواب ورکول کيږي لکه لومړني صدقه کونکي ته؛ بغيرله دي چي دلومړي په ثواب کي کمی راشي.
ترسلګونولاسونودتيريدلومطلب دادی چي يو صدقه کونکی دوهم ته صدقه ورکړي دوهم ئي دريم ،دريم ئي څلورم اوهمدارنګه ترسلوپوري سلسله ورسيږي.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۲۷مخ)
بعض ځايونه خلک دبي وارث مړي دتجهيزاوتکفين دپاره چنده کوی،نوپه هغه کي دزکوة دروپوپه ورکولوسره زکوة نه اداء کيږي. که وارث لرونکی مړی وي هم په دغه ډول زکوة نه اداء کيږي ځکه په مړي کي داوړتيانشته چي زکوة ئي ملک وګرزول شي. خودارنګه کيدای شي چي دزکوة روپی دمړي وارث ته (چي غريب وي) ورکړلي شي اوبيائي هغه له خپل طرفه دمړي په تجهيزاوتکفين کي ولګوي.
(محمدرفعت قاسمي غفرله الله)

دزکوة په روپودمړي قرض اداء کول:

مسئله: که دمړي په ذمه باندي قرض پاته ؤنوزکوة ورکونکی نشي کولای براه راست هغه په زکوة کی اداء کړي ، البته داسي کولای شي چي لومړی دهغه يو غريب وارث ته دزکوة مال په داسي ډول ورکړي

چي هغه ئي په پوره ډول مالک وګرزي بیا هغه پخپله خوښه دغه مال دمړي په قرضو کي ورکړي.(معارف القرآن ۴جلد ۴۰۸مخ)
ځکه چي په مړي کي د مالک ګرزیدلو وړتیا نشته چي دغه دزکوة اداء کیدلو لومړنی شرط دی. (محمد رفعت قاسمي رحمة الله علیه)

دزکوة روپۍ په دي نیت غریب ته ورکول چي مړي ته ئي ثواب ورسیږي:

مسئله: دزکوة روپۍ په داسي ډول مړي ته ورکول روانه دي چي دهغه له طرفه وربانـدي خیـرات وکـړل شـي داغوستو کـالي واخیسـتل شـي اومحتاجانو ته ورکړلي شي. له خپل طرفه باید دزکوة په نیت محتاجانو ته ورکړل شي دهغه ثواب مړي ته باید ونه بخښـل شي.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۰۴مخ)

خپل غریب خاوند ته زکوة ورکول:

(۱) **پوښتنه:** په عـام ډول خـود میرمني ټـول کفالـت دخاوند په غـاړه وي، کـه خـدای مـه کـړه خاوند غریب شـي او میـرمن ئـي شـتمنه وي، نو شریعت دهغې په ذمه دخاوند کوم حقوق وراچوي؟
(۲) **پوښتنه** که دغه خاوند له میرمني څخه دزکوة روپۍ وروا خلي او خوراک پري واخلي نو دا صحیح دی او کنه؟
(۱) **ځـواب:** پـه میرمنـي چـي دخاونـد کـوم حقونـه دي هغـه پـه غربـت اومالـدارئ دواړو کـي یو شـان دي. کلـه چـي خاونـد غریـب شـي نو میرمني ته په کارده چي ورڅخه دومره څه وغواړي څومره چي هغه ئي دراوړلو قدرت لري. خود اخلاقو تقاضا داده چي میرمن باید پـه خپـل مـال لـه خاوند سـره دکور دلګښـتونو په پـوره کولـو کي مرسـته وکـړي، اویاخاونـد تـه ددي واک ورکـړي چـي دهغـي پـه مـال بانـدي تجارت وکړي. نو څنګه چي دخاوند او میرمني ګټې عـادةً سره ګډي وي او پـه عـام ډول دوئ دیوا وبـل لـه شیانو څخه کـار اخیسـتلای. او

اخلي، نو ځکه د میرمني زکوة خاوند ته او د خاوند زکوة میرمني ته ورکول روانه دی. (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۵۹ مخ وفتاوی دارالعلوم ۲۹۲ مخ بحواله شامي ۳ جلد ۸۲ مخ)

د شتمني میرمني غریب خاوند ته د زکوة ورکول:

پوښتنه: د زید له میرمني سره د څلورو زرو روپو سره او سپین زر دي، مګر پخپله زید ډیر غریب او قرضدار دی، نو آیا زید کولای شي زکوة واخلي؟

ځواب: زید د بل چا زکوة وراخیستی شي مګر خپله ښځه ورته زکوة نشي ورکولای، په هر حال که خاوند پخپله غریب وي نو د زکوة اخیستلو حقدار دی د میرمني د شتمنتوب په وجه هغه مالدار نشي بلل کیدای. (آپ کي مسائل: ۳ جلد ۳۹۵ مخ)

واده شوي میرمني ته زکوة ورکول:

پوښتنه: یوه میرمن ده چي خاوند ئې ژوندی دی او خواري او مزدوري کوي نو آیا هغي ته زکوة ورکول روادي او کنه؟

ځواب: که هغه غریبه او د زکوة مستحقه وي نو بیا زکوة ورکول روادي (آپ کي مسائل ۳ جلد ۳۹۵ مخ)

هغي کونډې ته د زکوة ورکول چي اولادونه ئې شتمن وي:

پوښتنه: یوه کونډه میرمن ده چي زامن ئې د اوخت د کاروبار خاوندان دي، نو که د هغي زامن ورسره مرسته نه کوي او یا ورسره دومره مرسته کوي چي د هغي د پاره ناکافي وي، نو د زکوة ورکول ورته روادي او کنه؟

ځواب: ددغي ميرمني تول لګښتونه دهغي داولادپه ذمه دي مګرکه هغه غريبه وي اوزامن ورسره دومره مرسته نه کوي چي دهغي دورځنيوضرورتونودپاره کافي شي نوزکوة ورکول رواى. (آپ کي مسائل ۳جلد ۲۹۳مخ)

بد حا له ميرمني ته دزكو ة وركول :

مسئله : هغي ميرمني ته چي کونده هم وي اوډژوند حال ئي هم خراب اوناسم وي مناسب ده چي خپل وروردورځنيو لګښتونودپوره کولودپاره څه ورکړي، اوکه هغه داسي کول نه يائي قدرت نه ؤ، اوله هغي کونډي سره هم دنصاب په اندازه سره زرسپين زرياروپۍ نه وي، نوښکاره خبره ده چي هغه بي کسه هم ده اوغريبه هم ده، نوځکه دزکوة ورکول ضروري دی. (آپ کي مسائل ۳جلد ۳۹۷مخ)

د بد كردارسړي ميرمني ته زكوة وركول :

مسئله: داسي دماشومانولرونکوميرمنوته چي دخپل خاوندد عيشي ژونداوشراب خوړلوله امله ډيره په تنګ شوي وي اوغريبه هم ي (يعني خاونده دنصاب نه وي) ته نه يوداچي زکوة ورکول صحيح دي بلکه دغه رنګه زوريدلو ښځوته دزکوة په ورکولو کي ډيرثواب دی (فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۲۳مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۰ ۸مخ)

بي روزګارته زكوة وركول :

مسئله : دكاروبارنه كونكي سړي کفالت دزکوة له مال څخه کول روادى اوزکوة ورباندي اداء کيږي. (آپ کي مسائل ۳جلد ۳۹۸مخ)

د معذ ورما شوم پلارته زکوة ورکول :

پوښتنه : یو ماشوم دی چې دماغي تکلیف لري، دهغه پلار مزدوري کوي او دهغه دژوند دټولو چارو واکدار دی، نوآیا پلارته ئې زکوة ورکول روا دی او کنه؟

ځواب : که ددغه ماشوم پلار هیڅ نه لرل نودزکوة مستحق دی بعض عیال دار داسي وي چې دنصاب خاوندان نه وي او ددوئ دکارلاس ته راوړنه هم دومره نه وي چې دهغودټولو لګښتنو نودپاره کافي شي دغه رنګه خلکوته زکوة ورکول روا دی.(آپ کي مسائل ۳جلد ۴۰۱مخ)

د زکوة روپۍ دغریبوا نجو نوپه تعلیم کي ورکول :

مسئله : په زکوة کي تملیک شرط دی یعني یوفقیربایدد هغه پوره مالک وګرزول شي، نوکه زده کونکو غریبوانجونو ته په نقدي ډول دزکوة روپۍ ورکړلي شي یاجامي ورته پري جوړي کړلي شي یاخوراک ورته په پوره ملکیت کي ورکړل شي نوصحیح دی. مګردښوونکویانوروکارګروتنخواه له زکوة څخه ورکول روانه دی.
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۰۵مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۸۵مخ)

دې یرعیا ل خاوندته دزکوة روپۍ ورکول :

پوښتنه: زه دمسجد امام یم، دمسجد په تنخواه دکورچلول ډیرګران دی عیال می هم ډیردی اوقرضدارهم یم، یو مالدار غواړي ماته ډیري روپۍ په زکوة کي راکړي نوزه هغه ورڅخه اخیستای شم او کنه؟

ځواب: مسئله داده چې غریب (دزکوة مستحق) ته باید دومره مال دزکوة ورکړل چې ترنصاب کم وي، دومره مال ورکول چې هغه پري دنصاب خاوند کیږي مکروه دی خو که یو څوک قرضداروي

او یاد یر عیالونه لري نو قرضدار کولا شئ چي دومره زکوة واخلي چي قرض ئي پوره ورباندي اداء شي او نور ترنصاب کم ورسره پاته شي. او د یر اولاد لرونکی کولای شي دومره زکوة واخلي چي که دهغه په ټول عیال تقسیم کړل شي نو هریوه ته ترنصاب کم ورسیږي. په دغو دواړو صورتو کی دزکوة اخیستل بی کراهته روادی. (طحطاوی علی مراقي الفلاح ۳۹۲مخ وکتاب الفقه۱جلد ۱۰۱۳مخ)

مسئله: که دیو چاسیاشتنئ آمدني له ضرورت سره برابره وي مگرپه ټول کال کي ورسره دومره نصاب نه جمع کیدو چي هغه پري دنصاب خاوند شي، نو هغه ته دزکوة او نفلي صدقي ورکول او اخیستل روادی (فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۳۳مخ بحواله عالمگیري بالامصرف۱جلد ۱۸۹مخ)

ا یا ما لدارضرورتمند ته د زکو ة و رکو ل روادی؟

مسئله: که یو چاخلکو ته روپی قرض ورکړي وي او دبیرته اخیستلو دپاره ئي خاصه نیته تاکلـه شوي وه او ددغي نیتي په بهیرکي هغه ته دکورني لګښت دپوره کولو ضرورت پیښ شو، نو دغه وخت هغه زکوة اخیستی شي، مگرپه دومره اندازه چي دقرض ترختلوورباندي ضرورتونه پوره کړي. او که دقرضو دختلو دپاره تاکلي نیته نه وه ځکه چي په دغه وخت کي هغه داسي دی لکه مسافر. او که قرض اخیستونکی شتمن وي او قرض اداء کوي، نو بیادزکوة اخیستل روانه دی، که دغه قرض اخیستونکی قرض نه اداء کوي او دقرضي ورکولو شاهد عادل وي نو هم پورتني حکم دی. او که شاهد عادل نه ي نو هغه ترهغه وخته پوري زکوة نشي اخیستلای ترڅو چي دعوی ئي قاضي ته نه وي وړاندي کړي او قاضي قرض اخیستونکي ته قسم نه وي ورکړی؛ خو هرکله چي قرض

اخیستونکی دانکارقسم وکړنوله هغه وروسته دی کولای شي زکوة واخلي. (فتاوی قاضي خان وعالمگیري ۴جلد ۴۰مخ)

بي لما نځه ته دزکوة ورکول:

مسئله: هغه چاته چي لمونځ نه کوي زکوة ورکول روادي، ځکه چي دحنفیانو رحمة الله علیهم په نزد دلمانځه پرېښودلو سره مسلمان نه کافرکیږي البته دلمانځه پرېښودل فسق اوکبیره گناه ده مگرکفرنه دي، نوځکه هغه چاته چي لمونځ نه کوي اومحتاج وي دزکوة ورکول روای اوزکوة ورباندي اداء کیږي اوډیرامامان په دي مذهب دي چي دلمونځ پرېښودونکی کافرنه دی. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۸۴مخ بحواله مراقي الفلاح)

دنشي عادت لرونکي ته دزکوة ورکول:

پوښتنه: یوڅوک ډیرزیات غریب دی خودبنگواوآفیونو نشه کوي ،آیاهغه ته دزکوة ورکول شرعاً جائزدي اوکنه؟

ځواب: داښکاره خبره ده چي دزکاتونواوصدقونیکانوخلکو ته ورکول ډیره بهتره ده څنگه چي وائي (وَلیأکل طعامُک الأبرار) یعني ستاسو خوراکونه دي نیکان وخوري. مگرفاسق، فاجراوشراب خورته (چي محتاج اوغریب وي) دزکوة ورکول روادي اوزکوة اداء کیږي که څه هم فاسق وي خودزکوة ښه اداپه دي کسي ده چي نیکانوفقیرانواومحتاجوته ورکړل شي. په هرحال دزکوة په اداء کي هیڅ خبره نشته؛ بهتري اونه بهتري جلاخبره ده. محتاج اوغریب که څه هم فاسق وي خودزکوة په ورکولو کي ثواب شته څنگه چي لیکي «هردروح لرونکي ته په څه ورکولو کي اجرشته» (فتاوی دارالعلوم ۷جلد ۲۳۵مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۷۹مخ)

خو کـه دیو چـاد اپوره یقـین شـو چي هغـه دغـه زمـادزکوة روپـی پـه شرابوورکوي،نوبیازکوة ورکول روانه دی ځکه چي پـاک خدای جل جلاله فرمائي:(وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) دمائدي سورة (محمد رفعت قاسمي)

غیرمسلموفقیرانوته زکوة ورکول :

پوښتنه: دزکوة ورکول کافرانوته روادی او کنه؟

ځواب : پـه درمختاراونوروکتـابوکي دزکـوة تعریف پـه دي ټکوکي شوی دی (تملیک جزء مـال عینه الشـارع مـن مسلم فقیـر ..الخ) چي مطلب ورڅخه دادی چي زکوة پـه شریعت کـي دیتـه وائي چي دخپل مال څخه هغه معلومه برخه چي حضور صلی الله علیه وسلم تـاکلي ده مسلمان محتاج ته ورکړه شي. نوله دي څخه معلومه شوه چي دزکوة داداء دپاره داشرط دی چي مسلمان فقیرتـه ورکـول کیږي اودتوبي دسورت له دغه آیت (انما الصدقت للفقراء والمسکین) څخه مرادپـه اجماع دامت سره مسلمان فقیران اومساکین دي.

خونفلي صدقي اهـل ذمـه ؤ(کـافرانو) تـه ورکـول کیـدای شـي.پـه درمختارکي داسي هم لیکل شوي دي چی لـه زکـوة ،عشراومالیې څخه علاوه نوري صدقي کافرانوته هم ورکولي کیدای شي.
(فتاوی دارالعلوم ۲ جلد ۲۷۷ مخ بحواله ردالمحتار ۲ جلد ۹۲ مخ وکـ۲ابت المفتي ۴ جلد ۴۲۳ مخ)

دغیر مسلموپه ښوونځای کي زکوة ورکول :

مسـئله : دغیرمسلمومدرسواوښـوونځیوته دزکـوة ورکـول روانـه دی،اوزکوة نه اداء کیږي.ضروراًباید مسلمان محتاج ته ورکړل شي.
(ردالمحتار ۲ جلد ۹۲ مخ)

ملحد اومرتدته دزکوة ورکول:

مسئله: هرهغه څوک چي له پاک خدای جل جلاله، نبوت اوآخرت څخه منکروي هغه کافراوداسلام دښمن دی. هغه ته هم دزکوة ورکول داسي دی لکه یوڅوک چي ددین له دښمن سره مرسته کوي اوڅوک چي مرتد شي اوداسلام له کړئ ووزي، نوهغه داسلام له نظره دژوند مستحق نه دی پریږده داخبره چي له هغه سره دي دزکوة په روپو مرسته وشي. هغه دومره لوی جرم اوله اسلام اومسلمانانو سره خیانت کړی دی چي په ټولنه کي ئي دژوند کولو حق بایللی دی لکه چي دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی = (هرمسلمان چي خپل دین (اسلام) په بل دین بدل کړي نوتاسو هغه ووژنئ) (فقه الزکوة۲جلد۲۰۹مخ)

مسکین چاته ویل کیږي ؟

مسئله: څوک چي خاوند دنصاب نه وي اومحتاج وي هغه ته مسکین یافقیرویل کیږي(فتاوی دارالعلوم۷جلد ۱۹۴مخ بحواله ردالمحتار۲جلد۸۰مخ)

دچاپه ملک کی چي هیڅ شی هم اویاوي خوترنصاب کم، نوهغه ته دشریعت په اصطلاح فقیراومسکین ویل کیږي. اودغه رنګه دزکوة اوسرسایي حقداران دي (فتاوی محمودیه ۱۳جلد۱۱۴مخ)

دفقیراومسکین ترمینځ یوفرق داهم دی چي فقیرته دسوال کول پیغورنه ګڼل کیږي مګرمسکین ته دهغه پاک نفسي دخواست، زاری کولواوځه غوښتلواجازه نه ورکوي. دصحیحینوپه یوحدیث شریف کي حضورصلی الله علیه وسلم دمسکین تعریف داسي کړی دی (الذي لایجد غني یغنیه ولایفطون فیصدّق علیه ولایقوم فیسأل الناس)

(۱) څوک چي د داسي څه لرونکی نه وي چي پرې شتمن شي
(۲) د چاچي غريبي داسي ښکاره نه وي چي خلک ورته خيرات ورکړي
(۳) څوک چي په خير، خيرات غوښتلو پسي روان شوی نه وي او چا ته ئي د سوال لاس اوږد کړی نه وي .(حقيقت زکوة ۲۱مخ مولانا ابوالکلام آزاد. کتاب الفقه على مذهب الاربعه احمد ۱۲ مخ)

يقيني مسکينان څوک دي؟

مسئله: ديو قوم ټول هغه وکړي چي دژوند تيرولو د وسائلو او اسبابو د نيستۍ له امله وربانديِ د معيشت دروازي تړلي وي (سره له دي چي دوئ پوره پوره کوشش کوي خو بيا هم نه ورته څه نوکري پيدا کيږي او نه کوم بل کار اوروزګار) يقيناً هغه په مسکينانو کي داخل دی او د زکوة حقداران دي، مګر د دي يوه ښه لاره داده چي د هغه احوال پرسي هم وشي او تر څنګ ئي ورته د کار پيدا کولو لپاره هم وشي ترڅو هغه د بې کاري عادت وانخلي، او د زکوة خوړلو په نيت نورو کارو ته سست نه شي .(حقيقت زکوة ۲۳مخ وعلم الفقه ۴جلد ۴۳مخ)

حکمي مسکينا ن څوک دي ؟

مسئله: هغه خلک چي د سم او ښه حال لرونکي ؤ مګر د کار د ګټوڼې له امله ياد کوم بل غم يا پيښې له امله خوارشول (که څه هم دوئ د مخکني حيثيت په وجه معذور بلل کيږي) حکماً په مسکينانو کي داخل دي، او ضروري ده چي په زکوة ايستلو کي دوئ له ياده ونه غورزول شي .(حقيقت زکوة ۲۳مخ)

کسب ګرو فقيرانو ته زکوة ورکول :

پوښتنه: داسي کارپوهو فقیرانو ته چي خواري مزدوري کولای شي زکوة ورکول روا دی او که نه؟ او آیا د مستحقو او غیر مستحقو فقیرانو ترمینځ هیڅ فرق هم نه وي؟

ځواب: که دغه فقیر یا مسکین په ظاهري دول محتاج ښکاري، نو هغه ته دزکوة په ورکولو سره زکوة اداء کیږي. که څه هم په حقیقت کي هغه مستحق نه وي، خو د(انما الاعمال بالنیات) دقاعدي له مخي دزکوة ورکونکي زکوة اداء او ثواب ئي ورته ورکول کیږي. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۲۹مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۹۵مخ)

مسئله: که هغه څوک چي زکوة ورکول کیدی په ظاهري دول فقیر او مسکین معلومیدی او یا له فقیرانو سره یو ځای راغی، او یا یي سوال وکړاو زکوة ورکونکي زکوة ورکړنو زکوة ئي اداء شوی دی، که څه هم ترزکوة ورکولو وروسته معلومه شوه چي هغه شتمن ؤ او دزکوة مستحق نه ؤ. (فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۲۸مخ وفتاوی محمودیه ۱۱جلد ۱۲۰مخ)

کوم فقیرچي روپی په ناروا کاروکي لګوي:

پوښتنه: د کوم غریبانو(مسکینانو) په ارونډ چي غالب ګمان داوي چي دوئ دزکاتو نوا و سرسایو روپی اخلي او بیا ئي په غلطو غلطو کاروکي لګوي، نو هغوته دزکوة ورکول روا دي او که نه؟

ځواب: که غالب ګمان همدغه وي، نو بیا بي شکه چي زکوة او خیرات ورکول ناروا او ګناه ده ځکه چي دغه له ګناه کولو سره مرسته ده او په ګناه کي له چا سره مرسته کول حرام دی. لکه چي پاک خدای جل جلاله فرمائي: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ ط (دمائیدي مبارکي سورة)

مسئله: که یو چادنه علم له امله غله یازناکارته زکوة ورکړ،نودزکوة اوصدقي اجرهم ورته ورکول کیږي اوزکوة هم اداء شوی دی ،خوکه دهغه له غلااوزناکارئ څخه خبرۇ نوبیائي هیڅکله بایدورنه کړي.
(فتاوی دارالعلوم۲جلد ۲۲۸مخ بحواله مشکوة ۱جلد ۱۲۵مخ)

شتمن فقیرته زکوة ورکول :

پوښتنه: دلته یوداسي فقیرنشته چي دزکوة اوسرسایي اخیستلوورتیالري څکه چي دغه ټول په نامه فقیران د نصاب خاوندان دي اوزکوة پري واجب دي؛نوآیامونږخپل زکاتونه دغوفقیرانوته ورکړواوکه ئي دیني مدرسوته ورکړو؟
ځواب: دغه رنګه په نامه فقیرانوته (چي شتمن اودنصاب خاوندان وي) بایدزکوة سرسایه اونوري واجبي صدقي ورنه کړي شي؛ تاسوخپلي سرسایي اوزکاتونه مدرسوته ورکړئ اوهلته ئي په غریبوطالبانوولګوئ.(فتاوی دارالعلوم۲جلد ۲۸۲مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۷۹مخ)
مسئله : داسي فقیرانوته دزکوة ورکول روانه دیچي خیرات ټولول خیرغوښتل ئي عادت ګرزیدلی وي اودامعلومه وي چي ډیري ددوئ شتمن دي. (فتاوی دارالعلوم۲جلد ۲۰۴مخ)

هغه فقیرته زکوة ورکول چي په څه ګټلوقادروي :

مسئله: دزکوة دمستحق کیدلوتراوله حاجت سره دی ،نو دغه اصل ته په کتوسره داپوښتنه پیداکیږي چي که یو څوک محتاج وی خوکارنه کي اودخلکوپه زکاتواو صدقو سره خپل ژوندتیروي اوله دي امله دټولني داوږوبار ګرزیدلی وی،اوحال دادی چي په جسماني لحاظ هغه دښه کارکولوورتیالري نوزکوة ورکول کیدای شي اوکنه؟

دحنفي مذهب د جمهور وفقهاؤ رحمة الله عليهم نظر داده چي كسب كريادكتي كولو قابل فقيرته دزكوة وركول او اخيستل خوروادى خوبهتره اوډيره ښه خبره داده چي ترڅوپوري چي له هغه سره دژوندي پاته كيدلو دپاره لږله ډيروڅه موجود وي، نوهغه دي زكوة نه اخلي.
(فقه الزكوة ۲جلد ۲۸مخ بحواله مجمع لانهار ۲۲۰مخ)

مسئله : هرهغه څوک چي ترنصاب دکموشتوخاوندوي هغه ته زكوة وركول روادى كه څه هم هغه روغ اودروزي ګټلووړتيا لرونكى وي ځكه چي هغه فقيردى اوفقيران دزكوة په لګښت ځايونو كي داخل دي. اوبل داچي دحقيقي احتياج پته لګول سخت كاردى نوځكه دنصاب نه لرل د حاجت مندي قائم مقام بلل كيږي. (فقه الزكوة ۲جلد ۲۰۷مخ)

يتيم خاني ته زكوة وركول څنګه دي؟

مسـئله : نابالغوتـه زكـوة وركـول صـحيح دى، نـو ديتيم خـاني دماشومانو دلګښت دپاره هم زكوة وركول صحيح دى.
(فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۵۷مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۷۹مخ)

مسئله: دنابالغ غريب يتيم سرپرست ته ديتيم دضرورتونو دپوره كولودپاره زكوة وركول روادى .(فتاوى دارالعلوم ۲جلد ۲۵۹مخ وفتاوى محموديه ۳جلد ۹۰مخ)

مسئله : په يتيم خانه كي كه يتيمانوته خوراک ،جامي اوداسي نورپه مالكانه ډول وركول كيږي نودغومره اندازه دزكوة روپۍ لګولي كيږي .(معارف القرآن ۴جلد ۴۰۹مخ)

مسئله : كه هغه يتيم چي زكوة ورته وركول كيږي پوهه ولري اوپه روپوباندي قبضه كولاى شي، نوهغه ته وركول ئي هم روادى؛ اوكه دزكوة دروپو دضائع كيدوويره وه، نو سرپرست كولاى شي دامانت په ډول هغـه ورڅخـه اخلـي اوورتـه وئـي سـاتي. اوكـه ماشـوم نـاپوه

ؤاوداویره وه چي هغه به ئي په غلط ځای کي ولګوي یابه په بلهٔ لاروور څخه ضائع شي، نو بیائي هغه ته ورکول روانه دی بلکه دهغه سرپرست (څوک چي ددغه ماشوم پالنه کوي) ته ددغه ماشوم دضرورتونودپوره کولودپاره ورکړلي شي. اوکه سرپرست هم بي باوره څوک ؤنوبیاباید دماشوم له خپلوانوڅخه کوم بل چالکه تره، نیکه، ورور، اونوروته په ماشوم دلګنښت دپاره ورکړلي شي.

مسئله: که ولي (سرپرست) دزکوة روپۍ دماشوم له طرفه پخپله قبضه کي واخیستلي نوهیڅ تاوان نه لري مګرهغه روپۍ چي ده اخیستی دی ترهغه وخته پوري چي دماشوم په تملیکي لګښتونو نه وي لګیدلي نوترهغه وخته زکوة نه اداء کیږي (فتاوی محمودیه ۳جلد ۹۰مخ)

د حضور صلی الله علیه وسلم د خا ندان نفروته زکوة ورکول:

پوښتنه: کوموکوموخلکوته زکوة ورکول روادی اوکومو کوموته ناروادی؟

ځواب: زکوة دحضور صلی الله علیه وسلم دکورنۍ خلکوته حلال نه دی. اودهغه مبارک صلی الله علیه وسلم له کورنۍ څخه مراددحضرت علی رضی الله تعالی عنه، عقیل رضی الله تعالی عنه، جعفر رضی الله تعالی عنه، عباس رضی الله تعالی عنه، اوحارث بن عبدالمطلب اولادي دي، نوهغه څوک چي ددوئ رضی الله تعالی عنهم له نسلوڅخه وي هغوته زکوة نشي ورکول کیدای. که له دوئ څخه څوک غریب وي نوپه بل ډول بایدورسره مرسته وشي. (آپ کي مسائل ۳جلد ۳۹۰مخ وعلم الفقه ۴جلد ۴۲مخ)

سیّداوهاشمي ته زکوة ورکول روادي اوکنه؟

پوښتنه: که چیري سید یاهاشمي ډیرزیات مسکین شو، نو زکوة ورکول روادی اوکنه؟

ځواب: سيداوهاشمي ته دزكوة په وركولو سره زكوة نه اداء كيږي،آيادكلي ياكوڅي په ګاونډيانوكي دومره غيرت نشته چي بغيرله زكوة وركولو دهغه احتياج پوره كړي؟ كه د يوچاپلاره يرزياث غريب شي،نوآياهغه ته به هم احتياجات دزكوة په روپوورپوره كوي؟ (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۷۹مخ بحواله رد المحتار ۲جلد ۷۲مخ)

مسئله: دحنفيانوپه نزددصحيح قول اوظاهر الرواية سره سم سيدته په هيڅ حال هم زكوة وركول صحيح نه دي.(فتاوی دار العلوم ۲جلد ۲۱۲مخ)

مسئله: هغه قول چي فتوی وربانديې شوي ده دادي چي ساداتو(سيدانو) ته په اوس وخت كي هم زكاتونه اوواجبي صدقي لكه دقرباني پوستوكي،سرسايه اونورورکول حرام دي اوزكوة اونورورباندي نه اداء كيږي؛ داخبره غلطه ده چي څوک وائي چي په بعض حالاتوكي ورته روادي. (فتاوی دار العلوم ۲جلد ۲۲۹مخ بحواله رد المحتار ۲جلد ۹۰مخ باب المصرف)

مسئله: سيدته دزكوة اوعشرغله اوروپۍ دواړه حرام دي،خوكه څوک ئي وروسته له حيلي جوړولو څخه وركوي، نوبياپكښي څه منع نشته،دحيلي صورت داكيداى شي چي لومړى داسي يوغريب ته چي سيدنه وي وويل شي چي مادغه خپل زكوة ياهرڅه چي وي فلاني ته وركاؤ،خوهغه سيددى اوزكوة ورته روانه ى،نوځكه اوس زه خپل زكوة تاته دركوم نوكه ته دغه تول يانيمايي په خپله خوښه هغه ته وركړي نودابه ډيره ښه وي. له دي وروسته كه بياهغه غريب دزكوة له مال څخه سيدته له خپله طرفه څه وركړي،نوبيا سيدته روادي.(كفايت المفتی ۴جلد ۲۷۲مخ)

د چاچي مورسيّده وي هغه ته زكوة وركول :

مسئله : كه ديو چاصرف مور سيّده وي او پلار ئي سيدنه وي، نو هغه ته زكوة وركول روادى ،ځكه چي نسب د پلار له لوري وي. د چاچي پلار سيدنه وي نو د مور په سيدوالي سره نه سيد كيږي. (احسن الفتاوى ۴جلد ۲۷۹مخ بحواله رد المحتار ۲جلد ۳۴۲مخ)

څوك چي دنسب شجره نه لري هغه ته زكوة وركول :

پوښتنه : زيد له خپل پلار او نيكو نو څخه اوريدلي دي چي زمونږ د نسب شجره حضرت علي كرم الله وجهه ته رسيدلي ده مگر له زيد سره پوره شجره نشته چي ور څخه دا معلومه شي چي هغه رښتيا هم سيّد دى او كنه، نو په دغه صورت كي په داسي حال كي چي زيد غريب دى هغه ته د زكوة اخيستل روادى او كنه؟

ځواب : د نسب د ثبوت د پاره عام شهرت كافي دى، دا ضروري نه ده چي خامخا به د نسب شجره وي، نو ځكه زيد ته زكوة اخيستل حرام دى.

(احسن الفتاوى ۴جلد ۲۷۹مخ وكفايت المفتى ۴جلد ۴۵۵مخ)

سيدانو ته د زكوة نه وركيد لو عقلي وجه :

مســئله : زكـوة د خلكو د مـالونو خيري دي او دا مناسـب نـه ؤ چـي د سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم اولاد دي پري ككړ شي؛ كه هغه محتاج شي نو له پاك مال څخه بايد ورسره مرسته وشي ،دغـه رنگه كه د سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم اولاد ته د زكوة اخيستلو حكم واى، نو ناپوهانو ته به دا وسوسه پيدا كيدله چي (معاذالله) شايد دغه ښكلي نظام ئي د خپل اولاد د پاره پـه لاره اچولى وي ا همدا رنگه ئي يو نفسياني اړخ دا هم دى چي كه د حضور صلى الله عليه وسلم اولاد ته د زكوة اخيستل روا واى نو خلكو به د خپلوي او نزديكت په بناء هغوئ

ته يرزکاتونه ورکول اوبغيرله هغوبه ئي بل چاته په ورکولوسره اطمنان نه کيدی، اودابه دنوروغريبانودسخت شکايت سبب گرزيدلی ؤ. (آپ کي مسائل ۳جلد ۳۹۱مخ وفقه الزکوة ۲جلد ۲۴۲مخ)

مسئله: سيدته په زکوة نه ورکولوکي يورازدادی چي سيد الثقلين صلی الله عليه وسلم به پخپله يعني پخپل لاس صدقي راټولولي ،نوکه هغه صلی الله عليه وسلم خپلو قريبانواوهغه چاته چي دهغوئ نفع دحضور صلی الله عليه وسلم نفع وه دزکوة خوړلوجوازفرمايلی وای،نوددي ويره به وه چي خلک په حضور صلی الله عليه وسلم باندي بدگمان شوی وای،اوبيابه ئي دسيد المرسلين صلی الله عليه وسلم په حق کي هغه خبري کولي چي بالکل به له حقيقت اوادب څخه ليري وای ،نوله دي امله حضور صلی الله عليه وسلم دغه دروازه دخپل اولادپه مخ وتړله اوو ئي فرمائل چي زکوة دذوئ له شتمنوڅخه واخلئ اوددوئ فقيرانوته ئي ورکړئ.(اسرارشريعت ۱جلد ۳۰۵مخ)

سيّد ته دزکوة نه ورکولونقلي وجوهات:

مسئله: دمجبوري په وخت کي هم سيدته دزکوة ورکولواو خيستلواجازه نشته اوفتوی هم په همدي قول ده په حديث شريف کي حضور صلی الله عليه وسلم زکوة ته (اوساخ الناس) دخلکوخيري ويلي ذی اوحضور صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي چي دغه صدقي محمد صلی الله عليه وسلم اود هغه صلی الله عليه وسلم اولادي ته حلالي نه دي.(مشکوة ۱جلد ۱۲۱مخ)

په دغه حديث شريف کي سيدانوته دزکوة دحرمت وجه دزکوة علت (چي دخلکودمالوخيري دي)بنودل شوي دي اوله نبيت امال څخه ئي

دهغو دپاره دخاصي مرستي مقرر ول نه دي فرمائلي اودغه علت تراوسه هم پخپل ځاى پاته دى، نوځکه دزکوة دحرمت حکم هم لاتراوسه په ځاى پاته دى اوپه دي كي احتياط هم دى اوسيدانو محترمينو احترام هم دى. په يو حديث شريف كي راځي چي يووخت حضرت حسن رضى الله تعلى عنه دصدقي يوه خورمايه خوله كي واچوله په داسي حال كي چي هغه لاماشوم ؤ، نوحضور صلى الله عليه وسلم هغه بيرته دده له خولي څخه راوايستله اوورته وئي فرمائل چي مونږصدقه نه خورو. (مشكوة۱جلد۱۲۱مخ)

په درمختاراوشامي كي راځي چي بني هاشموته زكوة نه دى روا، نوظاهرالمذهب هم دادى چي بني هاشموته زكوة مطلقاً نه دى رواهغه كه دبني هاشم له طرفه زكوة وركول اواخيستل منع دي، نوځكه دواك، شتمنئ اوثروت خاوندانوته لازمه ده چي دوئ له سيدانوسره په داسي بل څه مرسته وكړي چي هغه صرف دپاک خداى جل جلاله درضادپاره وي اوپه دي سره دوئ له تكليفواومشكلاتوڅخه خلاص كړي ځكه چي داهم ډيراجراوثواب كاردى اوهم له حضور صلى الله عليه وسلم سره ربنتنى محبت دى، ددغه كاردنه كولوپه صورت كي داويره شته چي پاک خداى جل جلاله دوئ ورباندي ونيسي. (فتاوى رحيميه ۵جلد ۱۲۸مخ وفتاوى محموديه ۷جلد ۲۵۵مخ)

سيّدته دسيّدزكوة وركول:

پوښتنه: آياشتمن(مالدار) سيدكولاى شي خپلوغريبو سيدانوته زكوة وركړي اوكنه؟

ځواب: صحيحه خبره داده چي ورته ناروادي. (فتاوى محموديه ۳جلد ۲۳مخ بحواله شامي ۱جلد ۲مخ)

دسیّدمیرمني ته زکوة ورکول :

پوښتنه : زمايو سيد ګاونډی دی چې په جسماني ډول بالکل معذوردی اوکه دخه ګټلو قدرت پکښې نشته، خودهغه میرمن چې سيده نه ده اودکورټولې چارې سمبالوي اودټول کورکفالت دهغې له غاړې دی، نوآیاسره له دې چې دهغې ماشومان اوخاوندسیدان دي هغې ته زکوة ورکول کیدای شي اوکنه ؟

ځواب : هغې میرمنې ته چې سیده نه وي اومستحقه وي زکوة ورکیدای شي، دزکوة له ملکیت وروسته که هغو وغواړي چې په خپلو بچویاخاوندئي ولګوي نوکولای شي .(آپ کي مسائل ۳جلد۳۹۲مخ)

مسئله : په دې وجه چې دیوې میرمنې خاوندسیددی او دا پخپله غریبه ده اوسیده نه ده هغې ته دزکوة ورکولوکي منعه نشته، بلکه زکوة وربانديې اداء کیږي اوخپل (رشته دار) غریب ته دزکوة ورکول زیات ثواب لري .(فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۲۳مخ)

دسیّدي میرمني اولادته زکوة ورکول :

مسئله : سیده میرمن چې غیرسیدته واده شي نوپیدا کیدونکي اولادونه ئي هم سیدان نه دي، نوځکه دسیدي کونډې اولادونو ته زکوة ورکول روادی اوداپخپله ددغو بچودپاره زکوة اخیستلای شي، خودځان دپاره نه .(آپ کي مسائل ۳جلد۳۹۲مخ)

دزکوة له مال څخه دسیّدقرض اداء کول :

پوښتنه : په یو سیدباندې دبل مسلمان قرض دی آیاهغه کولای شي غه قرض په زکوة اداء کړي ؟

ځواب : نه، هغه نشي کولای دزکوة په روپوهغه قرضه اداء کړي [illegible]

! یا په سخت حالت کې سیّدته زکوة ورکول کېدای شي اوکنه؟

مسئله : که سید په ډېر سخت ناارامي او خراب حال کې واقع ؤ، نو په بیا په دغه مجبورۍ کې دزکوة ورکول روادي ځکه چې دپاک خدای جل جلاله ارشاد مبارک دی (فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ)(۲سپاره) دحدیث شریف فتوی خوداده چې سید ته زکوة مه ورکوئ، که سید ته له یو خوا څخه رزق راځي نو دهغه بیا څه ضرورت دی چې زکوة اخلي؟ اوکه ورباندې سخت حالت ورغی دابیابله خبره ده .(اسرارشریعت۱جلد۳۰۷مخ)

که سیّدته په غلطي زکوة ورکړشو:

پوښتنه : زید هاشمي دی، یو چا هغه ته زکوة ورکړ، نو دزید دپاره شرعي حکم څه دی؟

ځواب: که دزکوة ورکونکی دزکوة وسم لګښت ځای دپوره فکر کولو وروسته هغه ته زکوة ورکړی ؤنو زکوة ئې اداء شوی دی، مګرزید چې په دی پوه شي چې داراته زکوة راکړل شوی دی نو پرې لازمه ده چې بیرته ئې هغه چاته ورسوي له چاڅخه چې ئې اخیستی دی.(احسن الفتاوی۴جلد۲۸۰مخ بحواله ردالمحتار۲جلد۷۴مخ)

شیعه اوقاد یا نې ته زکوة ورکول څنګه دی ؟

مسئله : شیعه او قیدیانې ته زکوة ورکول روادي او کنه؟ اوکه څوک ئې ورکړې نو زکوة ئې اداء کېږي اوکنه؟

ځواب: اوقیدیانیان اوځینې شیعه ګان کافران دي بلکه ترټولو کفاروهم بددي او کافرته زکوة ورکول روانه دی دوئ ته زکوة

ورکول سخته ګناه ده؛ نه یوداچي زکوة وربانديږنه اداء کیږي بلکه هیڅ ډول صدقه باید ورنه کړله شي .(احسن الفتاوی ۴جلد۴۸۱مخ بحواله ردالمحتار۲جلد ۲۳۳مخ)

مستحق به څه ډول پیژنو؟

پوښتنه: زماڅوخپلوان یادوستان دي چې په ظاهره ډیرغریبان او مستحق ښکاریږي، خو زه به داڅنګه معلوموم چې دوئ رښتیاهم غریبان یانصاب نه لرونکي دي او کنه؟

ځواب: ظاهرته اعتبارد ی، که له ظاهرحال سره سم ستاداخبره زړه واخیسته چې دوئ غریب دي ،نوهغوئ ته دزکوة په ورکولو سره زکوة اداء کیږي .(آپ کي مسائل ۳جلد ۲۹۳مخ)

وروریا بل خپل ته زکوة ورکول:

پوښتنه: زمایوورودی چې ډیرغریب اودتبي(T.B) په ناروغي اخته دی هغه نه داوخت دتداوي دپاره خرڅه لري او نه څه آمدني لري،نوآیازه کولای شم هغه ته ټول زکوة ورکړم؟

ځواب: هغه ته دزکوة په ورکولوکي ډیرزیات ثواب دی مګرپه یوواردومره زکوة مه ورکوئ چې غریب وربانديږ دنصاب خاوندشي .اول ورته ترنصاب کمي روپۍ ورکړئ کله چې هغه ولګیږي بیاورته نوري اودغه رنګه دغه ترهغه پوري چې زکوة ختم شي.
اوکه هغه عیالدارهم ؤ ،نوبیاپه یوه وارهغه ته دومره زکوة هم ورکول کیدای شي چې که په ټولو وویشلي شي نوهریوه ته ترنصاب کم رسیږي (احسن الفتاوی ۴جلد۲۹۲مخ بحواله ردالمحتار۲جلد۷۵مخ)

ترخپله وسه زکوة هغه چاته ورکوئ چې دزکوة اوخیر تړلونکی نه وي اودخپل عزت ساتلو په خاطرپه خپل کور کې ناست وي سره له دې چې مستحق هم وي. *(محمدرفعت قاسمي غفرله الله)*

دکمې ا مد نې لرونکې ته زکوة ورکول :

پوښتنه: زمایو دوست دی چې داسې کارکوي چې آمدني ئې ډیره کمه ده، آیاهغه ته زکوة ورکول کیدای شي اوکنه؟

ځواب: که هغه دزکوة مستحق وي(دنصاب خاوندنه وي) نو ضروري ده چې په زکوة ورسره مرسته وشي .(آپ کې مسائل ۳جلد ۲۹۳مخ)

په پلاردزکوة لګولوپاره دورورواسطه کول :

مسئله: ورورته هغه وخت زکوة ورکول روادی چې غریب وي مګرکله خلک داسې کوي چې له هغه څخه داغوښتنه کوي چې زه دغه زکوة تاته درکوم ته به ئې بل چالکه (پلار) ته ورکوي داکارغلط اوناسم دی ځکه چې کله ورورته زکوة ورکړشونورنوزیاتې دزکوة ورکونکې له ملکیت اوقبضې وتلې دي اودابیادورورخوښه ده چې په هرڅه ئې لګوي. اوکه مقصودورڅخه ورورته دزکوة ورکول نه، بلکه پلارته ورکول ؤاوورورهسې وکیل ؤ، نوبیاورورته په ورکولوسره زکوة نه اداء کیږي .(آپ کې مسائل ۳جلد ۳۹۴مخ)

ناسکه مور(مَیرِې) ته زکوة ورکول :

مسئله : ناسکه مورته (هغه چې ستاپلاردوهمه ښځه کړې وي) که غریبه وي (یعنې دنصاب خاونده نه وي) اوسیده هم نه وي زکوة ورکول روادی .(فتاوی محمودیه ۷جلد ۲۲۸مخ)

خپل ناروا اولاد ته زکوة ورکول:

مسئله: زناکار خپل هغه بچي ته زکوة نشي ورکولای چي له زنا څخه پیدا شوی وي،د غه رنګه ئي هغه بچي ته هم ورکول روا نه دي کوم څخه چي هغه انکار کړی وي. (درمختار۲جلد۱۰۷مخ)

مسئله: که تـرواده ورسـته ترشپږمیاشـتي لـه مخـه ماشـوم پیدا شـو ،نو هغه د شریعت لـه نظره حرام زاده دی،دغـه ماشـوم چي دهرچاله نظفي (منو) څخه پیدا شوی دی هغه نشـي کـولای هغـه تـه زکوة ورکړي،او که ئي ورهم کړي نوزکوة ئي نه دی اداء شوی.
(فتاوی رحیمیه۲جلد۱۴مخ بحواله شامي۲جلد۹۴مخ وعالمګیري۴جلد ۳۹مخ)

یادونه: په ماشوم او دهغه په موربانذي دومره لوی تهمت پـه نـاخبرۍ کـي ويـل نـه يـوداچي کبيـره ګنـاه ده بلکـه لـه دي څخـه دلويوفتنودراپورته کيدلوويره هم شته نوکه خدای مکړه داسي يوڅه پيښيږي،نوپه اړوندئي بايدډير احتياط وشي. (عبدالملک حصيف)

صرف د شيدوخوړونکي ته زکوة ورکول:

مسئله: کوم ماشوم تـه چي تاسوشيدي ورکړی دي هغـه تـه هم زکوة ورکول روادی او دچاشيدي چي تاسوپه وړوکوالي کي خوړلي دي هغوته هم زکوة ورکول روادی.(امدادمسائل زکوة۷۴مخ)

پـه وړوکـوالي کـي دشيدوخوړلوڅخه رضاعت حقيقـي مـوراو زوی کيـدلی نـه ګڼـل کيږي،نوځکـه زکـوة اخيسـتل اوورکـول روادی.
(محمدرفعت قاسمي غفرله الله)

دزکوة په روپوشفاخانه جوړول :

پوښتنه : مونږغواړو يــو ه دواخانــه جــوړه کړو چــي دزکــوة اودقربانيود پوسـتکو په روپو بـه ئـي چلوو ،اولـه هغـي څخـه بـه هرهرڅوک ته اخيستلای شي،دلته بلاله ناروغانو څخه لږروپۍ هم اخيستلي کيږي اوبيابه په ده دواخانه کي لگولي کيږي،نوآياهرڅوک کولای شي له دغه درملتون څخه ګټه واخلي اوکنه؟

ځـــواب: پـــه درملتـــون(دواخانـــه) کـــي دزکـــوة اودقربـــانـي د پوستوکودروپولگښت په دي ډول کيدای شي چي په دغو روپوباندي درمـل واخيسـتل شـي اوپـه مفت(بـي قيمتـه) ډول مسـکينانو ته ورکـړل شــي،له دغوروپوڅخــه ددرملتــون د ډاکټرانواونوروکــارکونکوتنخواه دځاي کرايــه نشــي ورکول کيدای همدارنگه بـه دغـه روپۍ درغـوني پـه کاراوميزونو څوکيواوداسي نوروسامانوباندي نه لگوي،اوکـه پـه دغـه رنگـه ځـايو کي ولگولي شوې نودزکوة ورکونکوزکوة نه دي اداء شـوی. ددغــه درملتــون ددرملوپــه بــدل کـي لـه غريبانو څخـه روپــۍ اخيسـتل ،اوشتمنو ته درمل ورکول دواړه روانه دي.

(احسن الفتاوی ۴جلد۲۸۱مخ بحواله ردالمحتار۲جلد۲۷۸مخ وفتاوی دارالعلوم ۱۴جلد ۱۴۴مخ)

مسئله : که په هسپتالونوکي غريبانوتـه درمـل پـه داسـي ډول ورکـول کيدل چي غريب ئي پـه پوره ډول مالـک وي،نود هغـو درملوقيمت دزکوة په روپوکي شميرل کيدای شي. (معارف القرآن ۴جلد ۴۰۹مخ)

مسئله : که يو غريب محتاج ناروغ وي اويوڅوک ورتـه درمـل واخلي يادخوراک پاره ورته څه واخلي اوورئي کړي،نوپـه دي ډول هم زکوة اداء کيږي.(مستفاداحسن الفتاوی ۴جلد۲۸۱مخ)

دزکوة اداء کیدلویو صورت:

پوښتنه: که یو چادزکوة روپۍ په جلاډول په کورکي ایښي وي خو په بهرکي له یوغریب سره مخ شواودجیب روپۍ ئي هغه ته په زکوة کي ورکړي،نوکه هغه دغومره روپۍ دزکوة له روپوڅخه ورواخلي نوزکوة به ئي اداء شوی وي اوکنه؟

ځواب: بلي: دهغه دهغه زکوة اداء شوی دی.(آپ کي مسائل ۳جلد ۳۷۸مخ)

سیلاب وهلیوته زکوة ورکول:

پوښتنه: سیلاب وهلیوته دزکوة له روپودپخوشوو خوراکونونغدوروپواویانورساماتونولیږل روادي اوکنه؟

ځواب: که غالب گمان داؤچي دغه خلک دزکوة مستحق دي یعني له دوئ سره دنصاب په اندازه شتمني(چي دزکوة اخیستلواوروکولومانع ده) نه وه،نوهغوته زکوة ورکول روا دی. په دي شرط چي دوئ به ددغوشیانویاروپومالکان گرزول کیږي،که ددؤئ ملک ونه گرزول شول بلکه دغسي وربانديولگول شول ،نوزکوة نه اداء کیږي همدارنگه که څه پاخه کړل شي اوپه دوئ وخوړل شي نوهم زکوة نه اداء کیږي دمسکین په ملکیت کي دپاخه شوي شي ورکول ضروري دي. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۴مخ)

دپیښنواوفسادوهلیوعلاقوکي بعض خلک دنصاب خاوندان وي؛ دمثال په ډول که دچادوکان یاکارخانه په سیلاب یابل آفت کي له مینځه تللي ده،نوپه بانک کي ساتلي شوي روپۍ ئي همداسي روغي پاته دي،اویائي بل ځای ،کور، ځمکه اویابل شی وي چي دنصاب اندازه ورڅخه پوره اویاتردي هم زیات وي؛ نودهغه رنگه

خلک شرعاً د زکوة مستحق نه دی ،اوزکوة ورباندي نه اداء کيږي.
همدارنګه ډيرځله په دغسي ځايو کي دزکوة روپۍ يامال اصل مستحق ته نه رسيږي بلکه غيرمستحقين ئي وراخلي.نو ځکه په دغه رنګه ځايو کي احتياط ډيرضروري دی.

قيد يانو ته د زکو ة له روپوخوراک ورکو ل څنګه دی؟

مسئله: نفلي صدقي قيديانو ته ورکول روادی خوپه زکوة کي تفصيل دادی چي که قيدي دنصاب خاوندنه وي اوهغه دخوراک پوره مالک وګرزول شي نوزکوة اداء کيږي؛ اوکه ئي اباحةً خوراک وکړياد خوراک مالک ونه ګرزول شونوبيازکوة نه اداء کيږي.ځکه چي په زکوة کي تمليک (دفقيرملک ګرزول) شرط دی.(احسن الفتاوی ۴جلد ۲۹۷مخ آپ کي مسائل ۳جلد ۴۰۲مخ)

فوجي ته زکوة ورکول څنګه د ی؟

مسئله: که په جګړه کي کوم مسلمان عسکر(يافوجي) زخمي شواوچاورته دهغه دضرورت سامان دزکوة په روپوواخيست،يائي دزکوة روپۍ په نغدي ډول ورکړي.نو بياچي هرکله ددغه عسکرداحال يقيني شوچي هغه دنصاب خاوندنه دی نوزکوة اداء شوی دی اوکه هغه دنصاب خاوندؤ بيانه دی اداء شوئ.ځکه چي دزکوة داداء دپاره شرط دی چي داسي يوڅوک به ئي مالک ګرزول کيږي چي دنصاب خاوندنه وي.(والله اعلم)
(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۲۴۳مخ بحواله رالمحتار ۲جلد ۸۵مخ واحسن الفتاوی ۴جلد ۲۸۹مخ)

ليږلوپه کرايه کي دزکوة روپۍ لګول:

مسئله: که څوک چرته يوڅه ليږي،نودهغه کرايه (دوړلو لګښت) دزکوة له روپوڅخه ورکول روانه دی،اوپه ورکولوسره ئي زکوة نه اداء کيږي؛ځکه چي دزکوةاداء دپاره داشرط دی چي فقيرته به

بلاعوض ورکول کیږي، نو دغه شرط په دغه صورت کي نشي پوره کیدای.(فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۵۰مخ)

د غو حضرا تو ته دزکوة و رکو لو سر ه زکوة اداء کیږي:

(۱) خپلنوحقیقي (هغه چي موراوپلاردواړه ئي سره کډوي)، علاتي(هغه چي پلارئي سره کډاومورګاني جلاجلاوی)، اخیافي(هغه چي مورئي سره یوه اوپلرونه جلاجلاوي)، او رضاعي (هغوته چي دیوي مورشیدي ئي سره خوړلي وي) ورورااوخوردواړوته زکوة ورکول روادی، همدغه رنګه دهغواولادوته هم دزکوة ورکول روادی.

(۲) خپل تره(دپلارورورياآکا) اوترور(دپلارخور) اودهغواولادونوته زکوة ورکول روادی.

(۳) خپل ماماااوګویاخالي(دمورخور) اودهغواولادونوته زکوة ورکول روادی.

(۴) خپل ناسکه پلار(پلندر) اوناسکه مور(میرې)اودهغو اولادونوته زکوة ورکول روادی.

(۵) خپلي خواښي اوخسراوددوئ اولادوته زکوة ورکول روادی.

(۶) دشتمن(بدای) پلاراومورته (چي دزکوة مستحق وي) زکوة ورکول روا دي.

(۷) دشتمن بالغ اولادته (چي دزکوة مستحق وي) زکوة ورکول روادی.

(۸) دشتمن میرمني ته (چي دزکوة مستحقه وي) زکوة ورکول روادی.

(۹) دشتمني میرمني خاوندته (چي دزکوة مستحق وي)زکوة ورکول روادی.

(۱۰) خپل زوم(دلورخاوند یامیره) او مرور(دزوي ښځي) ته (چي دزکوة مستحق وي) زکوة ورکول روادي.
(۱۱) شاگردخپل استاذ، او استاذان خپل شاگرد ته زکوة ورکولای شي، دشاگردو الي او استاذوالي تړاودزکوة ورکولو مانع نشي کیدای
(۱۲) خاوند(میره) دخپلي میرمني هغه اولاد ته زکوة ورکولای شي چي له بل خاوند څخه وي.
(۱۳) میرمن دخپل خاوندهغه اولادته زکوة ورکولای شي (که دزکوة مستحق وي) چي دهغه له پخوانئ میرمني څخه وي.
(۱۴) مسافرته زکوة ورکول هغه وخت روادي چي له هغه سره په سفرکي مال نه وي، که څه هم په کورکي ترنصاب زیات مال لري.
(۱۵) نابالغ ته دهغه وخت زکوة ورکول روادي چي پلارئي دنصاب خاوندنه وي؛ که څه هم مورئي دنصاب لرونکي وي
(۱۲) میرمن دخپل خاوندهغه اولادته چي له بلي میرمني څخه وي اودزکوة مستحق وي زکوة ورکولای شي.
(۱۷) دیوچاآمدنی سل روپی ده او کورهم لري خوتول لگښت ئي دري سوه روپی ده نوهغه ته زکوة ورکول کیدای شي، چي نورنصاب ونه لري.
(۱۸) دیوچاآمدني دلگښت دپاره کافی ده خوهغه ډیر قرضداردی اونشي کولای چي دآمدني روپی دقرضو اداءکولو اودکوردلگښت پوره کولو ته ورسوي، نوهغه ته هم زکوة ورکول کیدای شي ،
(۱۹) زکوة هرهغه چاته ورکول کیدای شي چي ورسره ترنصاب کم مال وي ؛ که څه هم هغه روغ جوړاودگټلو وړتیا لرونکی وي.

(پورته ذکرشوي تول که دزکوة مستحق وي نو دزکوة په روپو ورسره مرسته کیدای شي، اودوئ ته داویل هم ضروري نه ده چي زه دغه په زکوة کي درکوم، بلکه صرف پخپله دزکوة نیت کول ورته کافي دی)
(محمد رفعت قاسمي غفرله الله)

پورتنئ مسئلي لـه (۱) نمبرڅخـه بیـاتر (۱۹) نمبرپـوري لـه لاندنیو کتابوڅخه رااخیستلي شوي دي.

(امداد الفتاوی ۳جلد۱۲مخ)

(فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۲۳۷، ۲۳۸ مخ، ۱۹۲مخ ۲۴۵مخ ۲۴۲مخ ۲۹۲مخ، ۲۹۰مخ ۲۷۹مخ ۲۸۹مخ)

فتاوی محمودیه ۱۳جلد۹۵مخ ۱۰۲مخ)

(احسن الفتاوی ۴جلد ۱۲۹مخ)

(فتاوی عالمگیري ۴جلد ۳۹، ۴۰مخ)

(کتاب الفقه ۱جلد ۱۰۱۴مخ)

(طحطاوي ۴۱۹مخ)

(هدایه ۱جلد ۲۰۵مخ)

(آپ کي مسائل اور أن کاحل ۳جلد ۳۹۴مخ)

دغوحضراتوته دزکوة په ورکولوسره زکوة نه اداء کیږي؟

(۱) خپل پلاراوخپلي مورته دزکوة په ورکولوسره زکوة نه اداء کیږي. همدغه حکم دنیکه اوآناترهغوورپورته نیکه گانواوآناگانودی. هغه که دموړله خواوي که دپلار.

(۲) دخپـل حقیقـي زوی زوی(المسـی) اولـور(المسـی) او کړوسو او دهغواولادوته زکوة ورکول روانه ی.

(۳) خپلي مور، اودمورمور(آنا) اوپلار(نیکه) اودهغو پلرونوته تراخیره زکوة ورکول روانه دی.
(۴) دخپلي حقیقي لوراولادو(لمسواولمسیانو) اودهغو اولادوته بیاتراخیره زکوة ورکول روانه دی.
(۵) دخاوندزکوة میرمني ته، اودمیرني زکوة خاوندته ورکول روانه دی.
(۶) داسي مطلقي میرمني ته چي په عده کي وي، دهغي دخاونددپاره هغي ته زکوة ورکول ناروادی.
(۷) دشتمن نابالغومحتاجانوماشومانوته زکوة ورکول ناروادی.
(۸) دشتمني کونډي(چي دنصاب لرونکي وي) نابالغو ماشومانوته زکوة ورکول ناروادی.
(۹) دمدرسي اوستاذاودمسجدامام ته زکوة په تنخواه کي ورکول ناروادی.
(۱۰) دحضورصلی الله علیه وسلم کورنئ والو(سیدانو) ته زکوة ورکول روانه دی، که له دوئ څخه څوک غریب شي نوبایدله بلي لاري ورسره مرسته وشي.
(۱۱) شتمن(دنصاب خاوند) ته زکوة ورکول روانه دی.
(۱۲) دزکوة روپی دمدرسي، مسجد، عبادتخاني، مسافرخاني، یتیمخاني، ښوونځئ شاه راه په جوړولو، اود څاګانواوویالوپه کندلوکي لګول روانه دی.
(۱۳) دزکوة روپی دمړي په کفن لګول، اویادهدیري دپاره وربانديځمکه اخیستل روانه دی.
(۱۴) هغه ټول صورتونه چي پکښي زکوة دچاملک نه ګرزي دزکوة مصارف(لګښت ځایونه) نه دي په پورتنیو
۱۴ مسئلو کي ته لاندي کتابو څخه استفاده شوي ده:

(معارف القرآن ۴ جلد ۴۱۲ مخ)
(فتاوی دار العلوم ۶ جلد ۲۱۲ مخ ۲۱۳ مخ ۲۳۸ مخ ۲۹۲ مخ ۲۸۲ مخ ۳۹ مخ)
(احسن الفتاوی ۴ جلد ۳۲۹ مخ ۴۲۹ مخ)
(کتاب الفقه ۱ جلد ۱۰۱۴ مخ)
(درمختار ۱ جلد ۱۴۱ مخ)
(فتاوی محمودیه ۱۳ جلد ۸۷ مخ)
(آپ کي مسائل او ان کا حل: ۳ جلد ۵۰۴ مخ ۳۹۰ مخ)
(عالمگیري ۴ جلد ۳۹ مخ)
(امداد مسائل زکوة ۷۲ مخ ۷۲ مخ)

د قرضو په نوم زکوة ورکول څنګه دي؟

پوښتنه: یو مستحق ته زکوة ورکونکي په څه وجه وویل چي دغه روپۍ قرض درواخله، اوحال داؤچي دزکوة په نیت ئي ورکړي وي اودبیاغوښتلو امیدئي نه لاره نوآیازکوة به ئي اداء شوی وي اوکنه؟

ځواب: په پورتني صورت کي چي زکوة ورکونکي دزکوة په نیت دغه روپۍ مستحق ته ورکړي دي اوبیائي دعوی نه لري، خومستحق ته ئي دقرضو ویلي دي، دهغه زکوة اداء شوی ی. په فتاوی عالمګیري کي لیکلي دي چي که مسکین ته په زکوة کي ورکوم، نود په ډول هبه کړي اوخپل نیت ئي داؤچي دغه زه مسکین ته په زکوة کي ورکوم، نود هغه زکوة اداء شوی دی. (فتاوی رحیمیه ۳ جلد ۱۱۲ مخ بحواله عالمګیري ۱ جلد ۱۷۱ مخ)

مسئله: زید بکرته سل روپۍ دزکوة په نیت ورکړي، خوله دي امله ئي ورته دزکوة نوم یادنه کړي چي دزکوة اخیستل عیب ګڼل کیدی، اوورته وئي ویل چي ته په دغوروپو خپل کارکوه، هرکله چي

تاته خدای جل جلاله درکړي هغه وخت ئي بیاماته راکړه دوه کاله وروسته بکر بیرته هغه روپۍ زید ته ورکړي، نوزید ته دهغوروپواخیستل روانه دی ځکه چي زید خوپه زکوة کي ورکړي وي بلکه پري لازمه ده چي بیرته ئي بکرته ورکړي. که بکرته ئي دانشوای ویلای چي هغه خومازکوة درکړی ؤ .نوبیادي ورته ووائي چي ماقرض درته وبخښلی اویادي بیرته دتحفي یاهدیي په ډول ورکړي .(احسن الفتاوی ۴جلد ۲۷۴مخ وفقه الزکوة ۲جلد ۳۷۹مخ)

دزکوة روپۍ په کوم بل عنوان غریب ته ورکول:

پوښتنه: آیادزکوة ورکولوپروخت مستحق ته داویل چي دغه زکوة دي ضروري ده او کنه؟

ځواب: دزکوة ورکولوپه وخت داویل ضروري نه دی چي دا زکوة دی، صرف هغه نیت هم ورته کافي دی چي دزکوة ورکونکي په زړه کي دی، همدارنګه که مستحق ته داوویل شي چي دغه تحفه ده یاهدیه ده خونیت ئي دزکوة وي نوهم زکوة اداء کیږي .(فتاوی رحیمیه ۲جلد ۱۳مخ وعلم الفقه ۴جلد ۴۵مخ)

مسئله: دچاوروروغریب دی، دنصاب مالک نه دی(یعني اوه نیمي تولي سره زریادوه پنځوس نیمي تولي سپین زریاد هغوقیمته ورسره نشته) نو هغه کولای شي زکوة ورکړي (شامي ۲جلد)

مسئله: کولای شئ چي دزکوة روپۍ ورور، ورینداري او بچوته دتحفي، هبي، عیدمبارکي اوشاباسی په نمونو ورکړئ (په دي شرط چي مستحق وي اونیت مودزکوة وي) (فتاوی عالمګیري ۱جلد ۱۷۱مخ وفتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۵۳مخ)

مسئله: دزکوة مستحق هغه څوک دی چي ورسره ترحاجت اصلي اوضروري زیات دومره څه نه وي چي قیمت ئي له دوه پنځوس نیموتولوسپینوزروسره برابرشي. دغه رنګه څوک که دزکوة

ایستلو ته مجبور شو ،نو ایستی ئي شي. که زکوة ایستونکي ته داویل چي دا زکوة دی د حال او وخت په لحاظ مناسب نه ؤیا زکوة اخیستل بد ګڼل کیدل نو د تحفي او هديي په نوم موهم ورته ورکول کیدای شي .خو دهغه چا تحقیق چي دا یې معلومه نه وي چي زکوة حقدار دی او که نه باید په پټ ډول وشي.(فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۲۲مخ)

مسئله: خپلو خپلوانو او دهغو ماشومانو ،او یا بل هغه مستحق ته چي د خه شي د زیري خبرئي راوړی وي انعام او شاباسي په ډول زکوة ورکول روا دی (په دي شرط چي د زکوة په نیت ورکړل شي) دغه رنګه که دعید ،بني شپي او نورو ورځو د خوشحالي په مناسبت مستحقینو ته د زکوة په نیت څه ورکړل شي نو زکوة اداء کیږي. (فتاوی عالمګیري ۴جلد ۴۱مخ)

مسئله: که یو چا بل چا ته ظاهراً د انعام په نوم څه ورکړل، خو نیت ئي د زکوة ؤ پکښي ،نو هم زکوة ئي اداء شوی دی.(بهشتي زیور ۳جلد ۲۸مخ بحواله شرح التنویر ۱جلد ۱۴۲مخ)

مسئله: چا ته چي زکوة ورکول کیږي هغه ته د دي وربنوول ضروري نه دی چي دا زکوة دی، البته دا ضروري ده چي هغه باید د زکوة له لګښت ځایونو څخه وي.(فتاوی دارالعلوم ۲جلد ۹۰مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۱۲مخ)

مسئله: خپل عزیز غریب ته هم د زکوة په ورکولو کي دا ضروري نه ده چي ورته وښوول شي چي زه تا ته دغه په زکوة کي درکوم، بلکه د تحفي او هديي په نوم خپل زکاتونه او صدقي دوئ ته ورکړئ، تر څو شریفو او نیکانو خلقو ته د خپلي کهتری احساس ونشي (معارف القرآن ۴جلد ۴۱۲مخ آپ کي مسائل ۳جلد ۳۹۸مخ)

مسئله: دغه رنګه خپلوانو ته په زکوة ورکولو سره دوه ثوابونه ګټل کیږي یو د زکوة ورکولو بل د صله رحمي. (مشکوة شریف ۱جلد ۱۷۰مخ وفتاوی دارالعلوم ۲جلد ۱۳۲مخ ودرمختار ۲جلد ۲۵۲مخ)

شتمن ته د هغه شي استعمال چي دغريبي په زمانه کي په زکوة کي ورکړل شوی وي:

پوښتنه: له ما سره دزکوة او سود روپی دي اوزما یوزوم دی چي ډیرغریب او قرضدار دی نوآیازه دغه روپی هغه ته ورکولای شم اوکنه؟

اوکه هغه وروسته ترکورجوړولو شتمن شي، نوبیا ورته په دغه کورکي اوسیدل روادی اوکنه؟

ځواب: که ستا سوزوم (دلورمیړه) غریب وي، نوتاسو ورته خپل زکوة ورکولای شئ او هغه په دغوروپودکوربیارغونه هم کولای شي. اوکه هغه په نژدي راتلونکي کي یاډیروخت وروسته شتمن شي، نوهم ددغه کوراستعمال ورته روادی، ځکه چي همدا اوس (دزکوة اخیستلو په وخت) خو هغه غریب دی. (فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۷۱مخ)

ایا فقیرته په زکوة کي ورکړل شوی شی غني ته روادی؟

پوښتنه: که یوغریب ته څوک کتاب په زکوة کي ورکړي، نوغني (شتمن) ته دارواده چي له هغه څخه کاروا خلي اوکنه؟ دفتاوی رشیدیه له لاندنئ مسئلي څخه دهغه نه جوازڅرګندیږي.

طالبانوته چي له کوم ځای څخه خوراک مقررويي اوله هغه ځایه ورته راوړل کیږي دهغه خوړل دنصاب خاوندته دطالبانوله رغبت سره سم روادی اوکنه؟

ځواب: دطالبانو هغه خوراک چي ورته مقرردی که دواجب، لکه زکوة، کفاري، عشراونذرنه وي، نوغني هم کولای شي دطالبانو په اجازه هغه له دوئ سره وخوري، خوکه په هغوکي دیودپاره خوراک مقررويي، نوبیاکله چي هغه طالب العلم څوک دهغه مالک وګرزوي

هغه وخت بیا شتمن کولای شي هغه وخوري، په دغه خوراک کي له دوئ سره ګډېدل ورته صحیح نه دی. خود دي برعکس ځومدرسولکه دیوبند ، سهارنپور ، مدرسه امینسي (ډیلی) دجوازفتوی ورکړي ده ،نولطفاًمود خپل تحقیق څخه خبرکړئ.

ځواب : دفتاوی رشیدیي مسئله پرځای اوسمه ده ، که فقیر خپل دزکوة مال غني (شتمن) ته اباحةً یاعاریةً ورکړنو هغه ته حلال نه دی ، خو که دهغه ملکیت وګرزول شي بیا حلال دی دحضرت ابوهریره رضی الله تعلی عنه له څخه روایت شوی حدیث شریف څخه څرګندیږي چي حلالوالی په وجه دبدلون دملکیت سره ترلاسه کیږي ، نه په اباحت سره ، په دغو عباراتو سربیره په هدایه ، عنایه فتح القدیراو نورو رکتابو د فقهي شریفي کي دغه مسئله له پوره وضاحت سره راوړله شوي ده جوازورکونکو حضراتو د فتوی ورکولو پروخت دغو کتابو ته رجوع نه ده کړي. (احسن الفتاوی ۴جلد ۲۲۰مخ)

زکوة ورکونکي ته دزکوة اخیستونکي هدیه قبلول څنګه دي؟

مسئله : که یو څوک له خپلوانو څخه یوچاته چي فقیراو د نصاب خاوندنه وي زکوة ورکوي؛ او بیا زکوة اخیستونکي (فقیر)هغه زکوة ورکونکي ته څه شی په هدیه کي ورکوي، نوقبلول ئي روادی. (فتاوی محمودیه ۷جلد ۲۴۹مخ)

دزکوة روپی که غلوواخیستي

پوښتنه : یو چادزکوة روپی جلا په بټوه کي ایښي وي چي ترزکوة اداء کولو له مخه ورڅخه غلاشوي یا په بل ډول ضائع شوي نو دهغه زکوة اداء شوی دی او که به ئي بیا داء کوي؟

ځواب: په پورتني صورت کي نه زکوة اداء شوی دی او نه ساقط شوی. دوهم ځل به بیا زکوة اداء کوي. (فتاوی رحیمیه ۲جلد ۱۴مخ وفقه الزکوة ۲جلد ۳۷۴مخ)

مسئله: که هغه روپی له چاڅخه ورکي شوي، اویائي یو ځای ایښي وي او هغه ځای ورڅخه ورک شو یا غلو پټي کړي، نو دغو مره روپی به دهغو پر ځای په زکوة کي ورکوي. (فتاوی دار العلوم ۲جلد ۹۲مخ وفتاوی محمودیه ۱۱جلد ۱۴۸مخ)

دزکوة روپی دپوستخاني یابانک له لاري لیږل:

مسئله: دزکوة روپی دپوستخاني یادبانکي خاني (مسودي) له لاري هم لیږل کیدای شي، ځکه چي مجبوري ده ځکه چي نه دغه رنګه بدلون څخه په زکوة باندي هیڅ اثر نه لویږي، خود پوستخاني او بانک په لګښت کي دزکوة روپی نشي لګول کیدای. (فتاوی رحیمیه ۵جلد ۱۲۴مخ)

مسئله: مګر دډاکخاني اوبانګ لګښت به په جلاډول روکوي (فتاوی دار العلوم ۲جلد ۳۳۵مخ)

مسئله: دپوستې له لاري دزکوة په لیږلو کي هیڅ منعه نشته صَرف دمدرسي مهتمم صاحب ته ولیکئ چي دادزکوة روپی دي دي سره ستاسو زکوة اداء کیږي. (فتاوی دار العلوم ۲جلد ۱۰۱مخ وفتاوی محمودیه ۷جلد ۲۵۹مخ)

او که مو بل کوم مستحق ته زکوة لیږونو داورسره مه لیکئ چي دازکوة دي، ځکه چي دزکوة په لفظ سره مستحق دشرم احساس کوي. صرف پخپله ورته دزکوة نیت وکړئ بس همدغه نیت ورته کافي دی. مګر مدرسو او ښوونځایو ته ځکه خبرورکول ضروري دی چي دوئ پوه شي او دزکوة روپی په مناسب ځای ولګوي (مجمد رفعت قاسمي رحمة الله علیه)

که دپوستې له لاري لیږل شوی زکوة ونه رسیدی:

مسئله: که یو چاد پوستخاني له لاري چاته دزکوة روپی ولیږلي خو هغه ونه رسیدلي، نو دزکوة لیږونکي زکوة او فطري نه دی اداء

شوی، ځکه چي د اک خانه دلیږونکي وکیله ده، د هغه چا وکالت ورسره نشته چي زکوة ور لیږل کیږي. (کفایت المفتي ۴جلد ۲۷۹مخ)

مسئله: له رجسټرا ونورو څخه دنه ترلاسه کیدلو په صورت کي د زکوة د غومره برخه بیا اداء کول ضروري دي. (فتاوی دارالعلوم ۶جلد ۸۹مخ بحواله ردالمحتار ۲جلد ۵۸مخ)

په زکوة کي ورکړل شوی شی بیرته اخیستل:

مسئله: که یو چا د کتابو په زکوة کي مسکینانو ته کتابونه ورکړل او بیائي په تاجرانه قیمت د دوا روپه خوښنه ورڅخه بیرته واخیستل، نو دغه بیعه (خرڅول) بالکل صحیح دی او که له نبانو او علائمو څخه دا معلومیدله چي هغه (فقیر) زما په خاطر دغه قیمت قبول کړ نو بیائي په اخیستلو کي کراهت شته. (امداد الفتاوی ۲جلد ۵۷مخ)

مسئله: تا یو فقیر ته څه په زکوة کي ورکړل او هغه غوښتل چي وئي پلوري، نو بهتره داده چي ته هغه ورڅخه مه اخله، ځکه چي نبا یې هغه ستا مراعت ورکړي. (تعلیم الدین ۴۵مخ وفتاوی محمودیه ۷جلد ۲۵۱مخ بحواله ابوداؤد ۱جلد ۲۲۵مخ)

که غیرمستحق ته زکوة ورکړل شو:

مسئله: که یو چا بل چاته په دي خیال چي دغه ډیر غریب او د زکوة مستحق دی زکوة ورکړ، خو وروسته معلومه شوه چي هغه ئي شرعي غلام یا کافر دی، نو دهغه زکوة نه دی اداء شوي ځکه چي د غلام ملکیت خو د بادار (آقا) ملکیت دی، او کافر د زکوة د لګښت ځای نه دی، نو ځکه زکوة نه دی اداء شوی. او که د زکوة له ورکولو وروسته، میرمن، یا سید، هاشمي یا شتمن ؤ، نو بیا د زکوة بیا اداء کول ضروري نه دی، ځکه چي د زکوة روپی یا مال د هغه له ملکیت څخه

وتلى اود ثواب ځاى ته رسيدلى دى. اودلګښت ځاى په تاكلوكي چي غلطي شوي ده په هره وجه چي وي هغه ورته معاف دى.
(درمختار۲جلد ۹۲مخ معارف القرآن ۴جلد ۴۱۳مخ وفتاوى دارالعلوم ۷جلد ۲۳۷مخ)

مسئله: كه دزكوة وركولو پروخت دزكوة وركونكي غالب ګمان داؤچي دغه نفربه دزكوة مستحق وى، نوزكوة ئي اداء كيږي.(آپ كي مسائل ۳جلد ۳۹۸مخ)

مسئله: كه له يو چاسره داشک ؤچي فلاني ته زه زكوة وركوم خونه پوهيږم چي هغه به شتمن وي اوكه غريب، نو ترڅوچي ئي دهغه تحقيق نه وي كړى زكوة دي نه وركوي، اوكه ئي بې تحقيقه وركړ، نوبيادي خپل ګمان ته وګوري كه غالب ګمان داؤچي دغه نفرچي ما زكوة وركړى دى غريب دى نوزكوة ئي اداء شوى دى، اوكه غالب ګمان ئي داؤچي هغه مالداردى نوزكوة ئي نه دى اداء شوى ،بيابه ئي اداء كوي، اوكه له وركولووروسته معلومه شوه چي هغه غريب دى، نو بيائي دراګرزولو ضرورت نشته.(شامي، امداد مسائل زكوة ۷۴مخ)

****

اللهم اجعل هذالي زاد الآخرة واصبُب سجال عفوك على ذنوبي ومن على باصلاح عيوبي واختم بالخير اجلي واجعلني من الأخيار المرزوقين ط آمين ...

دلاس ته راوړلو ځایونه

- په خپله مکتبه رشیدیه کویټه
- مکتبة العرفان کانسي روډ کویټه
- مکتبه محمدیه کانسي روډ کویټه
- مکتبه نورالقرآن پښتون اباد خدایداد چوک کویټه
- اسلامي کتاب گهر ستلائټ ټاؤن گول مسجد
- کلیم استیشنرز مسلم باغ
- مکتبه نشر القرآن نعیم مارکیټ قلعه سیف الله
- مکتبه عبدالعزیز ژوب
- مکتبه شاه محمد ژوب
- جدید کتب خانه وانه
- الفریدي کتب خانه خانوزئي
- مکتبه محمودیه نزد ډاکټر نسیم کلینیک پښین
- مکتبه اسلامیه پښین
- مکتبه رشیدیه لورلائي
- مکتبه سراج الدین دکی
- طالب جنرل ستور دکی
- ضیاء القران کتب خانه بوغره روډ چمن
- مکتبه حقانیه بوغره روډ چمن
- اسلامي کتب خانه تاج میر روډ چمن
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن
- دار الاخلاص محله جنگي پیښور
- مکتبه غفاریه ارگ بازار قندهار
- مکتبه رشیدیه سنگین بازار هلمند

له اردو څخه پښتو ته دعبدالله ګل (ریان) پښتو ژباړه ترچاپ لاندي کتاب

د شرک او بدعت مسئلي

